# د انسان په بدن کي

## د قرآن کريم علمي معجزې



Ketabton.com

ليکوال: ډاکټر محمد راتب نابلسی

ژباړه او زياتوني: محمود حميدزى

F

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پېژند پاڼه

**نوم: دانسان په بدن کې دقرآن کريم علمي معجزې.**

**ليکوال: ډاکټرمحمد راتب نابلسي.**

**ژباړه اوزياتونې: محمود حميدزی.**

**ټايپ اوډزاين محمود حميدزی.**

**دکتاب دپوښتۍ،وقايې ډزاين:مسلم اڅکزی**

**دخپريدو نيټه:۱۴۰۳ه ش.**

## دژباړن خپاره سوې اثار

**۱{په سمندر کې دملغلرو لټون}**

**ټولنيزې ستونزې او دحل لارې يې**

**دفکرونوجوړښت اوهغوئ ته وده ورکول**

**۲{روڼ سيند}**

**لومړۍشعرې ټولګه**

**۳په کايناتو کې دقرآنکريم علمي معجزې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ذرو څخه درکهکشانونو د اللهﷻ مخلوقات

۴ دانسان په بدن کی دقرآن کریم علمی معجزې

دانسان دبن دحجرو څخه درنسجونو دنسجونو څخه درغړو دغړو څخه )

(دربدن پورې: هراړخیزطبی مالومات او دعقدې دلا کروړ کولو درسونه

۵{دالماسو پنډ}

دپښتومتلونو د ویلوځایونه اوعلتونه

۶{ژور اندونه}

دویمه شعرې ټولګه

۷ {په ژوند کی دبریالیتوب 50رازونه }

۸{څنګه ژوند وکړو }

دنړۍ دیوهانو او بریالیو وګړو دسلګونوویناوو ژباړه

۹{خوږې خبرې }

لنډکی شعرونه او ادبی ټوټې

۱۰{ننګوونکی پوښتنی اوځوابونه }

سلګونه طبی،ساینسی،جغرفیوې، بیولوژیکی،ذهنی او ټولنیزې پوښتنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دژباړن خبرې

**الحمدلله دالله جل جلاله ډېرشکر اداکوم چې دغه ستاسو په لاس کي کتاب (دانسان په بدن کي دقرآن کريم علمي معجزې) مې وژباړئ او ستاسو درنو لوستونکو پوري مې در ورسوئ.**

**زه ددې کتاب په اړه دومره درته وايم چې که تاسو په ربښتيا هم غواړئ دخپل بدن په اړه په لا ډېرو خبرو او رازونو باندي وپوهيږئ او دخپل بدن او روانې روغتيا په اړه لا ډېر څه زده کړئ نو دهمدې کتاب لوستنه په دقت سره وکړئ!**

**ددې کتاب په لوستلو به تاسو دخپل بدن دجوړښت،دندو، روانې او بدنې روغتيا په اړه په ډېرو هغو خبرو وپوهيږئ چې کيداى سي مخکي نه په پوهيدلاست، همدارنګه دقرآن کريم او درسوالله صلى الله عليه وسلم دحديثو شريفو په علمي معجزو باندي به خبر او وپوهيږئ: په دې سره به مو کروړه عقيده لانوره هم کروړه سي او وبه کولی سئ چې داسلام دمبارک دين،قرآن کريم او حديثو شريفو باندي دچټلو اعتراض کونکو ملحدينو،مشرکينو او نورو کافرانو داعتراض او مغرضانه پوښتنو او ويناوو لپاره ځوابونه او ويناوي لاس کي ولرئ.**

**ددې کتاب ژباړه او زيتونې مې ديؤه کال په شاوخوا کي بشپړې کړي او زما دفيسبوک پاڼې دلارې مې يې ځينې برخې د2023او2024کالونو په منځ کي خپرې کړي، که په دې کتاب کي دقرآن کريم په اياتونو کي کومه تيروتنه سوي وي ياني؛پيښ،زور،زير يې کم سوى وي دا ستونزه د کمفيوټري ټايپ ده الله جل جلاله دي ما نه په ګناهګا ره کوي، همدارنګه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ما دلته دحدیثو شریفو ټکي په ټکي ژباړه نه ده کړي بلکي مفهوم مې یې لیکلی دئ: که په مفهوم کي یې کوم تیروتنه سوي وي الله جل جلاله دي ما په هغه ګناه نه نېسي.**

**دیادولو وړ یې بولم چي دآ ایاتونو دژباړې او دکتاب دمتن ترمنځ دانښه راوړل سوې ده***څنګه چي هیڅ وګړی دتیروتني څخه خوندې نه دئ که په طبي مالوماتو کي کومه تیروتنه سوي وي زه دهغې تیروتنې بخښنه در څخه غواړم او هیله ده په اصلاح کي راسره مرسته وکړئ: البته علمي مالومات هرورځ نوي کیږي کیدای سي ځیني مالومات دلیکلو پروخت همداسي لیکل سوي سم وه او دپوهې په غوړیدا په هغه کي نوښت او بدلون راغلی وي چي دا طبیعي چار دئ.**

**زه ستاسو درنو لوستونکو څخه هیله کوم چي که غواړئ همدې کتاب ته ورته بل ګټور کتاب ولولئ (په کایناتو کي دقرآنکریم علمي معجزې) کتاب وموندئ او وي لولئ، ډاډه یم چي دپوهې په لا غوړیدا کي به ډېره مرسته درسره وکړي:یاد کتاب هم ډاکټرمحمد راتب نابلسي صاحب لیکلی او ما محمود دهغه دژباړې اوزیاتوونو سره خپورکړی دئ.**

**په اخر کي دالله جلاله څخه ډاکټر محمد راتب نابلسي ته دجنت الفروس غوښتنه کوم، او ستاسو درنو لوستونکو د دعا په هیله یم**

**سرلوړی دي وي لوی افغانستان،سرلوړي دي وي خوږې ژبې پښتو ته ویاړلي خدمت کوونکي!**

**یادونه:ددې کتاب دچاب حقوق دژباړن سره خوندي دي،دکتاب همدا پي ډي ایف بڼه بیله بدلونه هرڅوک خپرولی سي دچاپ اوبدلون حق یې څوک نه لري!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


۱آیا نړۍ یوه معجزه نه ده ۱

۲د انسان دبدن جوړښت ۷

۳انسان په ښکلی ځیېړی او دښو ځانګړنو لرونکی بدن سره پیداسوی ۱۱

۴د ښځو او نارینو دشمېر ترمنځ تعادل ۱۸

۵نردښځي سره برابر نه دئ ۲۰

۶دټولو مخلوقاتو په منځ کي تعادل ۲۳

د حجرو تعادل او دهغوئ عمر ۲۶

آیا دا هرڅه بیله کوم پیداکوونکی پیداسوي ۲۹

د انسان په بدن کي دخطر حساس زنګ ۳۲

دانسان په بدن کي ثبات او بدلونونه ۳۷

دانسان په بدن کي بیولوژیکی ساعت ۴۱

د انسان  دبدن دخنکوالي سیستم ۴۷

دانسان په بدن کي د خولي تولیدونکی سیستم ۵۰

دانسان دګوتو سرونه دانسان پیژند پاڼه او لاسلیک دئ. ۵۲

دانسان بدن څنګه دیخ سره مخ کیږي ۵۵

دغم او خوښۍ اغېزه دانسان پر روان باندي ۵۷

اسلامي اروایوهنه ۶۰

زرغون یا شین رنګ ۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخښنم یا خفګان اړیکه دروغتیا سره ۷۳
پروخت بیدېدل ۷۶
پر راسته اړخ بیدېدل ۷۹
اوږد یا پرلیسی خوب ۸۲
دلمانځه اړیکه دروغتیاسره ۸۴
دویټا مین ډي اړیکه دلمانځه سره ۸۷
داوداسه اړیکه دسترګو ددانو،تراخم( ټرېکوما) ناروغۍسره ۸۹
اودس اودهغه روغتیایي ګټې ۹۱
روژه د الله ﷻ عبادت او روغتیایي ګټې یې ۹۳
د ژنیتیک پوهه ۹۶
دجنین پوهنې دعلم اړیکه دنبوي احادیثو سره ۹۹
دهری نطفې څخه ماشوم منځته نه راځي ۱۰۲
انسان دځشي څخه پیداکیږي؟ ۱۰۴
دبلاربښت درې ګونې پراونه ۱۰۹
د امنیون مایع: دضربو مخه نیوونکې اوبه ۱۱۱
رواني،روحي فشار د بلاربښت په وخت کې دجنین داختلال لامل کیږي ۱۱۶
جنین او دهغه احساسات ۱۱۷
د مور شیدې ۱۱۹
په هډوکو کې اند وکړئ ۱۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانسان دبدن اسکلیټ ۱۲۶

په لاسونو کې هډوکي او بندونه ۱۲۹

عضلات ۱۳۱

ماغزه اودتمرکز سترنعمت ۱۳۴

دعصبي حجرو ثبات ۱۳۷

ماغزه داسې ماده ترشح کوي چې درد لمنځه وړي ۱۳۹

دانسان حافظه ۱۴۱

دسترګودلید و، نظرساتنه ۱۴۴

دغوږ پرده صماخ ۱۵۰

دسترګواوغوږونودنده ۱۵۹

بويايي حس اودهغه جوړښت ۱۶۳

په مغزو کې دخوند ځئکلو مرکز ۱۶۶

زړه ۱۶۸

دويني دوراني يا دګرځيدني سيستم ۱۷۲

شريانونه او وريدونه ۱۷۵

دويني جوړونکې مواد ۱۷۷

دهيپوفيز نخاميه ياملكه غده ۱۸۲

حربي پوهنتونThymus تايموس ۱۸۸

صنوبري غده ۱۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوازالمعده یانقراس ۱۹۶

طحال یا توری ۱۹۸

دنا‌ړو جوړښت او د هغوئ کار ۲۰۱

زامی،ژبه او هضمی سیستم ۲۰۴

اپی ګلوت یا کوچنۍ ژبه ۲۰۷

زرینه غشاء او د درد احساس ۲۱۰

معده ۲۱۳

اینه په تمامه مانا یؤصنعتی ښار دئ ۲۱۶

ښه خښل ۲۲۳

ارادي او غیري ارادي کارونه،تنفس ۲۲۵

سږي ۲۲۹

حنجره ۲۳۱

پښتورګي او د نعمت شکر یي ۲۳۵

پښتورګي او دبولو پاکول ۲۳۹

پښتورګي او دمالګي سره یي اړیکه ۲۴۱

مثانه ۲۴۴

دانسان درنګ بیلابیل والی او دهغه اړیکه دمیلانین مادي سره ۲۴۶

دوریښتانوسیپنید ل ۲۴۹

په پوست کي د احساس ځایونه ۲۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره کرویات ۲۵۵

بیله درملو روغتیا موندل ۲۵۸

په اسلامی نړۍ کی دطبابت علم،پوهه ۲۶۲

روانی طب ۲۶۶

دناروغیو څخه مخنیوئ کول ۲۷۰

هر درد درملنه او درمل لري ۲۷۸

عبادت دډېرو نارغیو درملنه کوي ۲۷۹

لمونځ اودروغتیا سره یې اړیکه ۲۸۴

حجامت، دویني کښل او ګټې یې ۲۸۹

دچاپیریال او د بدن دناپاکۍ،چټلۍ سره تړلي ناروغۍ ۲۹۴

روني نا ارامي ۲۹۷

دحبوباتو اومیووڅخه دپوستکو لیري کولو څخه پیښیدونکی ناروغۍ ۳۰۰

د ایډز ناروغی ۳۰۳

دایډزڅخه ورسته دانساني فسادڅخه رامنځته سوې بله خطرناکه ناروغی ۳۱۸

دتخت،بستر زخم ۳۲۰

سګریټ څکول په نړۍ کې خطرناکه ساري ناروغي ده ۲۲۳

پرمغزو باندې دسګریټو څکولو اغېزې ۳۲۶

پر تنفسی سیستم دسګریټو څکولو بدې اغېزې ۳۲۸

دویني پر دوراني سیستم دسګریټو څکولو منفي،بدې اغېزې ۳۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر تناسلي سیستم دسګریټ څکولو بدی اغېزی ۳۳۴

دسګریټ څکوونکی منفی اغېز پر شاوخوا وګړو ۳۴۲

پرزړه اورګونو دسګریټوڅکولوبدې اغېزې ۳۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آيا نړۍ يوه معجزه نه ده؟

عادي او غيري عادي شيان او هغه څه چي دعقل په مرسته يې شتون حِس کوو، يا هغه څه چي ځيني وګړي يې نه سي درک کولی:همدا ټول مخلوقات دالله جل جلاله په سيطره،واک کي دي،الله جل جلاله چي هرڅه وغواړي هغه (رامنځته،خلق کوي،لکه په قرآن کريم کي چي فرمايي:(سُوۡرَةُ الأنبيَاء : 69

(قُلْنَا يٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلٰمًا عَلٰىٓ إِبْرٰهِيمَ)

".موږ وويل: "اې اوره په ابراهيم باندي يخ شه او سلامتيا جوړ شه

*****

دالله جل جلاله د ارادې ښخه ماسيو اور سوځوونکی نه دئ:هرکله چي خدای جل جلاله وغواړي هغه سوځوونکی سي،که هغه ونه غواړي هغه سووځونکی نه وي،همدارنګه اوبه دالله جل جلاله په مرسته مايع،بهيدونکي دي،کله چي الله جل جلاله وغواړي دبهيدونکي حالت ښخه جامد حالت ته بدلون ورکوي،چي همداسي سوي هم دي:هغه څه چي الله جل جلاله دموسی عليهم السلام او دهغه دقوم لپاره وکړل:

(سُوۡرَةُ الشُّعَرَاء 61-63)

( فَلَمَّا تَرٰٓءَا الْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحٰبُ مُوسٰىٓ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ)

کله چي دواړه ډلي سره مخامخ شوې، نو د موسی(ع) ملګرو چيغه کړه چي موږ خو ونيول شو سُوۡرَةُ الشُّعَرَاء : 62

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( قَالَ كَلَّآ إِنَّ مَعِىَ رَ ِبى سَيَهْدِينِ )**

**موسى (ع) وويل: "هيڅکله نه، زما سره زما رب دى. هغه به هرومرو ما ته لارښوونه وکړي.**

**فَأَوْحَيْنَآ إِلَى مُوسَىٰٓ أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ۖ فَانفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ )**

**موږ موسى (ع) ته د وحيي په وسيله حکم وکړ چي: "سمندر په خپله لکړه ووهه!. نو په ناڅاپي ډول سمندر وچاوده او د هغه هره ټوټه د يو لوى غره په څير شوه.**

*********

**ښه نو کله چي دځاى او وخت پيدا کوونکى وغواړي،دځاى او وخت شرط ،لغوه،بې کاره کوي؛داسراء او معراج حکم هم دنورومعجزو دحکم په شان دئ.يو بل اړين ديادولو وړ ټکى دادئ چي عادي او غير عادي شيان دواړه يو معجزه ده:غوا ته وګورئ که دنړۍ ټول انسانان،کيميا پوهان سره راغونډ سي نه سي کولى دعادي وښو څخه دشيدو په ډول او دهغوئ په ځانګړونو درلودونکي شيدې جوړې کړې.**

**آيا غوا يؤه معجزه نه ده؟آيا دانسان پيدايښت يؤه معجزه نه ده؟ دوښو را زرغونيدل يؤه معحزه نه ده دباران اوريدل يؤه معجزه نه ده ؟**

**اند وکړئ تاسو دميليونونو معجزو په منځ کي ژوند کوئ مګر تاسو نه ياست خبر: آيا دا نړۍ يؤه معجزه نه ده؟دانړۍ ټوله معجزه ده!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دغه ماشوم دبي ارزښته او بو څخه پيداسوی دئ،دبې ارزښته نطفي څخه چي په سترګو نه ليدل کيږي.دانزال په وخت کي۴۰۰ ميليونه سپرمه دنرڅخه وځې او هريؤ يې دسر،بدن او لکۍ لرونکی وي چي حرکت کوي.**

**دسپرمو په سرکي اکروزوم داسي يؤ ماده چي نازک پوست لري ځای لري،اکروزم د ووم ښځينه تخمي ته په ننوتلو کي ددرو خنډونو څخه تيريږي،د ووم دېوال تجزيه کوي او هغه ته ننوزي!**

**ښه نو دانسان پيدايښت او جوړښت خپله ستره معجزه ده.**

**انسان ورسته درهغه چي نړۍ ته سترګې وغړوې:دهغه په مغز کي 140ميليارده عصبي حجرې، ژونکي شتون لري همدارنګه دهغه په بدن کي عصاب،هډوکي؛زړه،شيريانونه،وريدونه،معده،پښتورګي،اينه، ُکلمې،غوږونه،سترګې؛شونډي،ژبه،عضلې،وريښتان،پوست،درپوست لاندي کوچني سوري،دغوږو او خولې توليدونکي غدې،اونور ډېر جوړښتونه شتون لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دماشو پيدايښت دنطفې څخه يؤه لويه معجزه ده!

نباتات او دهغه پاڼه دنړی پرمخ هغه کارخونه ده:چي دهغې په ډول انسان دټولو پرمختګونو په شتون کي داسي کارخونه،فابريکه نه ده جوړه کړي. داسي بې ږغه کار خونه ده چي اوبه او معدنې مواد دمځکې څخه اخلې او دنبات لوړې برخې ته يې ليږدوې.

نباتات دکلروپلاسټ په درلودلو ورسته در کاربن ډای اوکسيډ،معدنې موادو اوبو او دلمر دوړنګو دترلاسه کولو خپل داړتيا وړ مواد او دټولو ژونديو موجودات داړتيا وړ مواد پوره کوې نبات داسي شيره جوړوې:چي دهغې څخه ښاخونه،بدنه،څانګې،

غوټۍ،ګلونه،ميوې؛جوړيږي،چا هغې ته داتوان او زده کړه ورکړي؟

څنګه الله جل جلاله داټولې ځانګړني په هغوئ او دهغوئ په تخمونو کي ايښي دي؟ نباتات او ژوي هريؤ يې معجزه ده!

په ميليونونو کبان په سمندرونو کي شتون لري:يؤ کب چي نوی پيژندل سوی وزن يې 180ټنو ته رسيږي،مګر کوچنۍ غوماشه چي الله جل جلاله دهغې يادونه کوي او فرمايي:سورت بقره ۲۶نمبرايات شريف

إِنَّ اللهَ لَا يَسْتَحْيِۦٓ أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا فَأَمَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ اللَّهُ بِهٰذَا مَثَلًا يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهْدِى بِهِۦ كَثِيرًا وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا الْفٰسِقِينَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو، الله له دې څخه هيڅ کله شرم نه کوي چي د ماشي يا له دې څخه هم د کوم زيات حقير شي مثال راوړي. کوم خلك چي د حقي خبري منونکي دي، هغوی د دې مثال په ليدو پوهيږي چي دا حق دی، چي د هغو د رب له خوا راغلی دی. او څوك چي کافران دي، نو هغوی د دې مثال په اوربدو وايي: "په داسي مثال راوړلو سره د الله اراده څه ده؟" په دې شان الله په همدې يوه خبره ډېر خلك په ګمراهۍ کښي اخته کوي او ډېرو ته سمه لار ښيي. او په ګمراهۍ کښي هغه کسان اخته کوي چي فاسقان دي.

*****

غوماشه د100سترګو،دريو زړونو،48غاښوونو،د رادارسيستم او نورو ځانګړونو لرونکي ده ښه نو:
غوماشه،پسه،غوا،چرګې،آس،اوښ؛انسانان،لمرونه،سپوږمیانې؛لويې آسمان ټولګې ټوله معجزې دي.

لمرچي زموږ څخه 156ميليونه کيلومتره ليري دئ:ددې سربيره موږ دهغه دنرمې تودوخې او رڼا څخه ګټه اخلو،که همدغه لمر مځکې ته نژدي سي :مځکه به لولپه او لمنځه ولاړه سې، ټول کاينات يوه معجزه ده! آيا الله جل جلاله ته داسخته ده چي دځايونو ليروالی او دوخت حرکت ودروې او حضرت محمد صلی الله عليه وسلم دمکې معظمې څخه بيت المقد س او دهغه ځايه هسکونو ته پورته کړې؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که نړۍ ته ژور اند وکړو وبه وینو چي نړۍ کي د هرڅه پیدا کیدل او جوړښت یې یؤه معجزه ده!**

**انسان باید دالله جل جلاله په خلقتونو کي اند وکړې او دهغه جل جلاله د حکمونو او اومرو څخه سرغړونه ونه کړې.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د انسان دبدن جوړښت

دهر انسان په ژوند کي معجزې او دالله جل جلاله دلويي او حکمتونو نښې دي چي دالله جل جلاله دعلم ښکارندوينه کوي.

زموږ بدن چي در بل هرشي موږ ته رانژدي دئ،داسي جوړښت لري:

دانسان پر سر د 300زرو په شاوخو کي وريښتان شتون لري چي هر وريښته:دريښې يا پياز،شيريان،وريد،عصب،وراثتي او دغوړو غدي لري. دسترګو شبکيه:دسترګو داخلي برخه ده چي 140ميليونه رڼا

نيوونکي،رڼا منوونکي لري داسي چي مخروطي شکله نيوونکي يې درنګونو دليدنې لپاره او سل ميليونه استوانه يې شکله نيوونکي دلږ رڼا په وخت کي دليدنې لپاره شتون لري! په غوږونو کي هم دسترګو دشبکيې په څير يو جوړښت شتون لري چي په هغه کي دټيټو،کرارو ږغونو داوريدلو لپاره دري لکه ژونکي،حجرې شتون لري چي

په مغزو کي دوخت،لوري دتوپير د اندازه کولو سيستم شتون لري،داسي چي که يوه ثانيه پر يو زرو شپږسوه برخو ووېشو ديوې برخې څخه په کم وخت کي دغږ لورى دانسان لپاره په نښه کوي.

دژبې پرمخ دخوږو،تروو او ترخو خوند پيژندونکي ژونکي،حجرې شتون لري چي يادې حجرې مغز ته خوند رسوې.هرخبره چي موږ کوو يا زموږ پر ژبه راځې دهغې په رامنځته کولو کي 17عضلې برخه اخلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څوک باور کولی سي چي زموږ دخولې دننه 500میلیونه حجرې شتون لري:چي په هرو پنځو دقیقو کي دهغې په دننه دېوال کي نیم میلیون حجري لمنځه ځې اونیم میلیون نوي حجرې دهغوئ ځای نیسي.**

**که دوینې سره کرویات،ذرې دځنځیر په ډول سره وتړل سي:دهغوئ اوږدوالی به دمځکې دمحیط شپږ برابره سي.**

**دوینې په هر ملي متر کي 5میلیونه سره ذرات شتون لري چي هره سره ذره په یوه ورځ کي په وینه کي 1500واره ګرځې او 150کیلومتره لار وهې.**

**دانسان زړه په منځني عمر کي په دومره پیاوړي ډول وینه پمپ کوي چي که دوینې یو شریان دیوې هسکې ماڼۍ سرته هم پورته کړو زړه دا توان لري چي وینه دماڼۍ سرته پورته کړې.**

**دانسان زړه په یوه دقیقه کي په نارمل ډول د60څخه در80 واري غورځي،په یوه ورځ کي په نارمل ډول 51840ځله غورځي چي په یادو غورځیدلو کي 1200ګیلنه وینه پمپ کوي:یوګیلن دپنځه لیټره سره برابر دئ. انسان په هرو دوو ثانیوو کي 120میلیونه حجرې،ژونکي مصرفوې.**

**دانسان مغز د14ملیاردو باندنۍ او 100ملیاردو بنسټیزو عصبي ژونکو درلودونکی دئ چي دهغوئ ددندو په اړه لاهم ډېر کم مالومات موږ په لاس کي نه لرو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مغز دانسان په بدن کي ترټولو پيچلی جوړښت لري، چي ددې هرڅه سربيره هم انسان دخپل حقيقت دپوهيدلو څخه عجزه دئ.دانسان حافظه 1ميلياردە جي بي ده چي دري ميليونه ساعته ويډيو ځايولو وړتيا لري چي ليدل يې د300کاله څخه ډيروخت غواړي.**

**دانسان په دوو سږو کي 700ميليونه هوايي کڅوړې دانګورو دواښکيو په ډول شتون لري:که چيري يې وغوړوو 200متره مکعبه ځای به ونيسې،سږي هره ورځ يؤيشت زره شپږسوه واره راټول او غوړيږي يا 120متره مکعبه هوا تنفس کوي.**

**په آينه،ځيګر کي 300ميلياردە حجري شتون لري چي په څلورو مياشتو کي ټولې نوي کيږي؛دآينې دنده دانسان لپاره ډيره اړينه ده بيله آينې انسان دري ساعته ژوندی نه سي پاته کيدلی.**

**دانسان دمعدې په ديوالونو کي ميلياردونه حجرې شتون لري:چي په ورځ ګي څو ليټره کلريک اسيد،دمعدې تېزاب توليدوي،در اوسه پوهان په دې راز نه دي پوهيدلي چي دمعدې تېزاب ولې خپله معده نه خرابوې يا تجزيه کوي. آيا دمعدې جوړښت خپله يؤه معجزه نه ده؟**

**په کلمو کي 3600ګوتې ته ورته جوړښتونه يا دکلمو وريښتان دخوړو دتجزيه کولو دپاره په هرسانتي متر مربع کي شتون لري.**

**ياد جوړښتونه په هر 48ساعتونو کي ټول نوي کيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| دانسان په بدن کي د قرآن کريم | علمي معجزې |
|---|---|

دانسان دبدن غټې کلمې يؤنيم متر او کوچنۍ کلمې يې 6متره اوږدوالی لري.

دانسان په پښتورګو،بډوډو کي دوه میليونه دوينې پاکوونکي جوړښتونه(ګلوميرولرونه)شتون لري چي اوږدوالی يې سل کيلومتروته رسيږي او هرورځ 5واري دټول بدن وينه ورڅخه تيريږي.

دپوستکي لاندي 15ميليونه دتودوخې تنظيموونکي شتون لري چي ټول يې خؤله توليدوونکي غدې دي :چي هره غده يې ديخوالي تنظيم او دتودوخي او لندبل دبدلون دنده لري. زموږ بدن: چي موږ په هغه ژوندکوو :موږته در هرشي ډېر رانبژدي دئ لوړليکل سوي. هغه واقعيتونه دي چي ډاکټرانو لسګونه کلونه مخکي موندلي وه.

الله جل جلاله فرمايي سُوۡرَةُ الذّاريَات : وَفِىٓ أَنفُسِكُمۡ‌ۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ)

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه یاست؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**انسان په ښکلي څيهري او دښو ځانګړنو لرونکي بدن سره پيداسوی**

**الله جل جلاله فرمايي:(سُوۡرَةُ التين : 4-6(لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ**

**په حقيقت کي موږ انسان په ډېره ښه بڼه پېداکړ**

**(ثُمَّ رَدَدْنٰهُ أَسْفَلَ سٰفِلِينَ)**

**بيا مو هغه په چپه را اړولو له ټولو لاندينېو څخه لاندي کړ،**

**(إِلَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ )**

**پرته له هغو کسانو څخه چي ايمان يې راوړ او ښه عملونه کوي، د هغو لپاره هيڅکله نه ختمېدونکی اجر دی.**

*********

**الله جل جلاله چي هرشی پيداکړی هغه ته يې کمال اوښکلا وربخښلي ده**

**(الَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا مَّا تَرٰى فِى خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِن تَفٰوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرٰى مِنّ فُطُورٍ) سورة الملک ۳)**

**هغه ذات چي لاندي باندي اوه اسمانونه يې پېدا کړل؛ (اې کتونکې) ته به د الرحمان په هستونه کښي هيڅ راز نااړوندي او توپير ونه مومې. بيا سترګي واړوه، وګوره، ايا کومه نيمګړتيا دي چيري تر سترګو کيږي؟!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله جل جلاله په لوړو او نورو اياتونو کي انسان په ښکلا او غوره کيافه مصوف کړی او فرمايي:

(سُوۡرَةُ الانفِطار : 8) ( فِىٓ أَىِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ )

او په هره بڼه يې چي خوښه شوه، ته يې ښلولی جوړ کړې؛

****

په لاندي ايات شريف کي دهغه دپيدايښت په اړه فرمايي:

(سُوۡرَةُ التين : 4) (لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِىٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٍ

په حقيقت کي موږ انسان په ډېره ښه بڼه پېداکړ.

***

او همداډول بيا فرمايي: (سُوۡرَةُ الانفِطار٧ : (ٱلَّذِى خَلَقَكَ فَسَوَّٮٰكَ فَعَدَلَكَ )

هغه چي ته يې پېدا کړی يې؛ ستا اندامونه يې برابر کړي دي، ته يې په انډول جوړ کړي يې،

***

دا دالله جل جلاله د ډېرې مينې ښکارندوينه کوي ددې عزتمند مخلوق سره او دې ته اشاره کوي چي انسان دالله جل جلاله په نزد په کايناتو کي دلوړې درجې،مقام او منزلت خاوند دئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان دخپلو غړو دترکيب،داخلې جوړښتونو دلوړ کمال په درلودلو سره دټولوکايناتو؛ دپيچلې جوړښت درلودونکی مخلوق دئ،چي دهغه د جوړښت،ځانګړونو،دپيداکيدو دلارې دپوهيدلو څخه دنړی ټول پوهان ناتونه دي.

انسان دداسي جوړښت او ځانګړونو لرونکی دئ چي په احساساتو او عواطفو پوه،دخپلو هيلو،غوښتنو،ارزښتنو په جال کي راګير، چي اروپوهان دهغه دحقيقت،ربښتيا دمندلو څخه ناتوانه دي.

انسان دناليدل سوي،پټ عقل لرونکی دئ،انسان دپوهې ديادولو،تحليل کولو،دتوپير کولو،دافکارو د زيږونې او پيژندنې،دنوي شيانو درامنځته کوونې دلارو پيژندلو دپياوړي وړتيا لرونکی دئ چي دهغوئ په مرسته دالله جل جلاله دنورو مخلوقاتو څخه دلوړوالي فرصت اودوخت لري.

الله جل جلاله دانسان دبهتر والي او لوړوالي،لويي په اړه فرمايي:[سُوْرَةُ بنىٓ اسرآئيل/الإسرَاء : 70]

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِىٓ ءَادَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُم مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا

دا خو زموږ پيرزوينه ده چي بنيادم ته مو لويي ورکړه، په وچه او لمده کښي مو سپرلۍ ورکړي او له پاکو شيانو څخه مو روزي ور په برخه کړه او پر خپلو زياترو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتيا ور وبښله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه څه چي دانسان دښکلا او قامت ښکارندوينه کوي دانسان دريم ساتوونکي، دفاعي دېوال دئ:**

**الله جل جلاله انسان ته ډېر دقيق جوړښتونه،سيستمونه بخښلي دي:چي لومړی يې دپوست جوړښت دئ چي داسي بيلګه لري لکه ساتوونکي زغره يا پربدن باندي کالي،دانسان پوست دبدن دننه غړو ته دميکروبونو،ويرسونو،پرازيتونو اونور زيان رسوونکو شيانو دننوتلو مخه نيسي او ساتنه تري کوي، همدا پوست دانسان لومړی دفاعي دېوال دئ.**

**دانسان دهرغړي لپاره ځانګړي دزيان مخه نيوونکي يا دفاع کوونکي ځای پرځای سوي:دبيلګې په ډول سترګه دبانوګانو،زيړمو او اوښکو په مرسته ساتل کيږي: دا ځانګړي جوړښتونه دانسان دويم دفاعي دېوال دئ.**

**دانسان په بدن کي دريم دفاعي،ساتونکی دېوال وينه دخپلو پياوړو پوځيانو ،عسکرو سپينو کروياتو،ذراتوسره ده.**

**ديادو پوځيانو شمېر چي دبدن دريم دفاعي دېوال جوړوي دروغتيا په ورځو کي 25ميلونه وي،ديادو پوځيانو شمېر دجنګ او مبارزې په وخت کي دڅوساعتونو څخه ورسته ډېرېږي:دجنګ په وخت کي ديادو پوځيانو شمېر سلګونو ميليونو ته رسيږي،دغه دزهري موادو پر وړاندې دريدونکی لښکر دوينې سپين ذرات چي د نټروفيل،ايزونوفيل،بازوفيل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**،لمفوسايټ،مونوسايټ بيلا بيلو برخو عمر او اندزي لرونکي دي:دځانګړو وژونکو وسلو چي دکيمياوي موادو څخه جوړې دي لرونکی او پري سمبال دي. چي دهغوئ داړيکو مزي هم شمېرل کيږي.**

**ياد دفاعي دېوال،لښکر يا د دوينې سپين ذرات دبدن څخه دزيان رسوونکو ناپيژندو موادو دمخنيوي په لار کي په پوره چالاکۍ،زيرکۍ، نظم اونوبت کي ډېر حيرانوونکی رول لري داسي چي: دنړۍ پوهان يې په هيرت او تعجب کي کړي دي.**

**بدن ته دهر زيان رسوونکي ناپيژانده جسم دننوتلو څو شيبې ورسته دبدن لومړی او دويم ساتونکی دېوال متوجي کيږي،هلته داسي ذرات،پوځيان شتون لري چي دنده يې دکيمياوي وسلو ليږد دجنګ يا مبارزې ميدان ته ده:هغه ځای ته چيري چي ذرات ديادو وسلو په شيفرونو،رمزونو پوهيږي او دناپيژندو زيان رسوونکو جسمونو پروړاندې دهغوئ ضد کيمياوي مواد جوړوي؛ورسته در يادو جسمونو دضد موادو درجوړيدا ياد جنګ کوونکي او جوړونکي لښکر په يادو وسلو سمبال پر ناپيژاندو زيان رسوونکو جسمونو بريد کوي،کله چي ديادو وسلو په مرسته دوئ په جنګ کي بريالي سي وينه دجنګ ميدان ته په تلو راتلو دجنګ ميدان د يادو جسمونو دجسدونو څخه پاکوي.**

**دغه سپين کرويات چي دفاعي سيستم کي بنسټيز او اړين ځای لري دهغوئ قطر در15ميکرونه يا په بله مانا دملي متر درزمي برخي لوی نه دئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الله ﷻ څومره ښه فرمایي: (سُوۡرَةُ التين۴ : لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ**

**په حقیقت کي موږ انسان په ډېره ښه بڼه پیداکړ.**

*******

**دیاد لښکر دلیکو په دننه کي په دې ورستیو وختونو کي یؤه ډله کماندو یا ښه روزل سوي پوځیان پیژندل سوي:چي دیادې ډلې پوځیان کولی سي سرطاني حجرې،ژونکي په نښه او لمنځه یووسي مګر داچي الله ﷻ فرمایي: (ثُمَّ رَدَدْنٰهُ أَسْفَلَ سٰفِلِينَ) بیا مو هغه په چپه را اړولو له ټولو لاندینیو څخه لاندي کړ،**

*******

**دا هرڅه هغه وخت پیښیږي چي کله ناتوانه انسان دالله ﷻ د اوا مرو،حکمونو څخه سرغړونه وکړي،کله چي انسان دخپلې ورسپارل سوي دندې:عبادت،بندګی څخه غافله سي:دخپل ناروا غوښتنو چي دانساني عقل او فطرت سره په ټکر کي دي خواته ورسي،نو هله یاد دقیق جوړښت،دنارغیو څخه ساتونکی سیستم خپله دنده سمه سرته نه رسوي یا هیڅ خپله دنده سرته نه رسوي،دځانګړو ناروغیو څخه کمزوری کیږي چي انسان بیا دکوچنیو ناروغیو پروړاندي مبارزه نه سي کولی او لمنځه ځي،لکه دایډز نارغۍ په وخت کي دیاد سیستم کمزوري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټيټ معافيت،ددفاعي سيستم کمزوري چي نن نړيوالو ته ستر ګواښ دئ بيله دې څخه بل شی نه دئ چي الله ﷻ فرمايي:

( ثُمَّ رَدَدْنٰهُ أَسْفَلَ سٰفِلِينَ)

بيا مو هغه په چپه را اړولو له ټولو لاندينېو څخه لاندي کړ،

****

کله چي انسان خپل خالق ﷻ په ښه شان وپيژني ،په خپلو نيکو کړونو سره هغه ﷻ ته ځان نيژدي کړي،پرهيزکاره سي:انسان ددې وړتيا لري چي دملائيکو څخه دلوړې درجې خاوند سي، په قرآن کريم کي دغه خبرې ته اشاره سوي ده :(سُوْرَةُ التين : 4)

(لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ)

په حقيقت کي موږ انسان په ډېره ښه بڼه پيداکړ«

مګر کله چي انسان نافرمانه سي دالله ﷻ داحکامو څخه سرغړونه وکړي،دهغه دبندګانو او نورو مخلوقاتو سره بد چلند وکړي داسي يؤې درجې ته رسيږي چي هيڅ بل مخلوق هغه سي کښتې درجې ته نه وي رسيدلی (...أَسْفَلَ سٰفِلِينَ )داسي چي ژوي دهغه څخه غوره سي ځکه ژوي خپل دنده او دالله ﷻ يادونه په ښه ډول سره کوي مګر انسان: دخپلې ورسپارل سوي دندې څخه غافله او مخ اړونکی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښځو او نارينو دشمېر ترمنځ تعادل

ددويمې نړيوالي جګړې په ورستيو کي دښځو شمېرنسبت نارينؤ ته څلور پر يؤ برابره لوړ سو يانې:څلور ښځې ديؤه نارينه پر وړاندي،ياد نسبت درڅو لړو کلونو دېر دوام ونکړ: ترڅو چي دښځو او اونارينؤ ترمنځ نسبت د الله جلاله دخوښې سرسم طبيعي حالت يانې:105په سلو کي نارينه او 95 په سلو کي ښځينه ته را وګرځيدئ،يانې د105 نارينو پروړاندي 95ښځې شتون لري،چي دانسبت په ټولو هيوادونو،ښارونو،لويو وچو کي ثابت دئ مګر داثابتوالی عمومي دئ نه دکورنيو او کوچنيو کليو دشمېر پر اساس: يؤ څوک به اته لوڼې لري بل وګړی به بيا دڅلورو لوڼو او څلورو زامنو درلودونکی وي يؤبل کس به بيا هيڅ اولاد نه لري.

دېرو هيوادونو کي دبيلا بيلو لارو څخه سرشميرنه کيږي چي په اخر کي دغه بيلا بيل نسبتونه سره غونډيږي او موندونکو،څېړونکو ادارو ته رسيږي.

په يؤه هيواد کي يؤه مالومه اداره دټولو راټولو سو پيسو اوشتمنۍ اندازه مالوموي ترڅو هغوئ ته دا مالومه سي چي موږ څومره پيسې څه وخت او چيري بايد ولګوو،دښځو اونرو ترمنځ نسبت هم همداسي دئ چي يؤ څوک شپږ لوڼې او بل بيا شپږ زامن لري: الله جلاله ددې شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقيق ثبت لري داسي چي په اخر کي دا ټول شمير د يؤه مالوم ټاکل سوي نسبت سره سمون لري،هغه نسبت چي د ستر ذات الله ﷻ دخوا ټاکل سوی دئ.

دا هغه سکالو دئ چي داند کولو وړ دئ!

ښه نو کله چي ددويم نړيوال جنګ په ورستيو وختونو کي دنارينؤ شمېر نسبت ښځو ته 75سلنه وو: ياني دهرو 100ښځو پر واړندې 75 تنونارينوو شتون درلودئ.ورسته درڅو کلونو ډېرو ميندو نارينه اولادونه وزيږول چي دانسبت 75سلنه ته ورسيدئ ترڅو چي ياد نسبت نور هم لوړ سو او اوسني نسبت ته ورسيدئ.

دا هرڅه څوک سنجوي؟ آيا دا دقيق نظم او جوړښت الله ﷻ نه دئ جوړ کړی؟ بيله شکه دټولو چارو منظموونکی اوسنجوونکی الله ﷻ دئ چي فرمايي :(سُوْرَةُ الرّعد : 8

اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ  وَكُلُّ شَىْءٍ عِندَهُۥ بِمِقْدَارٍ

الله د هري حاملې (اوميدواري، بلاربي) ښځي له ګيډي څخه خبر دی. څه چي په هغې کښي جوړيږي، په هغه هم پوهيږي؛ او په هغه کښي چي څه کمی يا زياتوالی راځي، له هغه څخه هم با خبره دی. د هر شي لپاره يې يوه اندازه ټاکلې ده؛«

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نردښځې سره برابر نه دئ

مسلمان پوهان پردې خبره يؤالى لري:چي ښځه په تکليف،هغه دنده چي بايد سرته يې ورسوي،شرافت او مسؤليت کي دنارينه سره يؤشان ده، مګر ښځه په ډېرو نورو برخو کي دنارينه په څير نه ده،ولي چي ښځه: په داخلي او ټولنيز اساس دخپل ادراک او طبيعت دتشخيص،پيژندلو لپاره خپل ځانته بيلې ځانګړنې لري.

کوم څوک چي دنارينه او ښځينه اولادونو خاوندان وي: که دهغوئ لوبې،حرکات او غوښتنې درنظر لاندي ونيسي:دهغوئ ترمنځ په توپير ښه پوهيدلى سي،څکه کيداى سي ديؤې کوچنۍ انجلۍ غوښتنې دخپل ورور په شان نه وي،که څه هم ديؤې انجلۍ او هلک دځانګړونو توپير لا در اوسه نه دئ پيژندل سوى.

دلته زموږ موخه دا نه ده چي نارينه دښځې څخه دلا ډېر امتياز څښتن وبولو زموږ موخه داده چي:که څه هم نر او ښځه په انساني اوټولنيزو حقونو کي سره مساوي دي مګر هريؤ يې ځانته بيلې ځانګړنې،خوښې ،استعداد او غوښتنې لري.

دماشومانو او نوي ځوانانو اروارپوهان پردي باور دي چي نارينه او ښځې دروان د اړخ سربيره دجسمي اړخه هم ځيني توپيرونه لري.

غواړو دځينو پوهانو دقيق نظرونه دښځو او نارينو دروحي او بدني توپير په اړه ستاسو سره ګډ کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يؤ روغتيا پوه چي دمعتبرو سرچينو او كتابو په لوستلو يې يؤ څېړنيز را پور چمتو او خپور کړی وايي:دښځو قد،تنه په ټوله نړۍ کي دنارينه دقد څخه ټيټ،کوچنی دئ،دښځو دتنې ددغه ټيټوالي منځنۍ اندازه په ټوله نړۍ کي 10سانتي متره ده،دښځو دهډوکو د جوړښت،ترکيب وزن دنارينو دهډکو دجوړښت دوزن څخه کم دئ، همدا ډول دښځو دهډکو دجوړښت پياوړتيا دکار دقوې داړخه دنارينؤ څخه کمه ده:ياني دښځو دهډکو جوړښت داسي نه دئ سوی چي دنارينه په څير درانه کارونه پري وکولی سي.**

**دښځو عضلې دنارينوو دعضلو څخه 1پر دري برابره کم توانه دي مګر دښځو نسجونه،دژنکو،حجرو ټولګه چي ډېرې حسي او عصبي وړتياوي پکښي شتون لري: په همدې خاطر دنارينوو دنسجونو څخه لوړ والی لري: دښځو حجروي نسجونه دهغوئ لپاره چربي،پوړونه يا لايه برابروي او ذخيره کوي.**

**دنارينؤ مغز 100ګرامه دښځو در مغز دروند دئ:دنارينؤ دمغز نسبت دهغو دبدن سره 1پر40 برخه او دښځو دمغز دهغوئ دبدن سره 1پر 44 برخه دئ: دښځې مغز کمې لايي،پوړونه او همدارنګه دتشخيص،بيلوالي داړخه لږ مساحت لري مګر داحساس،هيرنتيا،هيجان،دمرکز کار يې دنارينه دمرکز دکار څخه ډېر او سخت دئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دښځو سږي دنارينهٔ دسږو څخه لږ پراخوالى لري مګر دښځو تنفس دنارينهٔ دتنفس څخه تېز،ګړندى دئ،دښځو د زړه حجم دنارينوو دزړه دجوړښت څخه کوچنى دئ، همدارنګه دښځې دنبض يا دزړه دغورځيدا اندازه دنارينه دزړه دغورځيدا داندازې څخه ډېره ده.**

**دغه دقيق توپيرونه دنارينوو اوښځينوو: دزړه،ساه،د احساس دمرکزونو،مغزو،دهډکو دجوړښت،تنې او وزن ترمنځ ددې ښوودنه او ښوونه کوي چي دا هرڅه الله ﷻ په خپل حکمت،تدبير سره ښه او پرځاى خلق او جوړکړي دي.**

**الله ﷻ فرمايي:(سُوۡرَةُ الرُّوم : 21**

**(وَمِنْ ءَايٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوٰجًا لِّتَسْكُنُوٓا۟ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِى ذٰلِكَ لَءَايٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ )**

**او د هغه له نښانو څخه (بله) دا ده چي ستاسي لپاره، همدا ستاسي له جنس څخه يې ميرمني پيدا کړې، تر څو چي تاسي له هغو سره ارام تر لاسه کړئ او ستاسي (ښځي او خاوند) په منځ کښي يې مينه او خواخوږي پيداکړه. په باوري ډول پدې کښي د هغو خلکو لپاره ډيري نښانې دي چي غور او فکر کوي.**

********

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دټولو مخلوقاتو په منځ کي تعادل

**الله ﷻ فرمايي: [سُوْرَةُ الحِجر : 19**

**وَالْأَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوٰسِىَ وَأَنْۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلْ شَىْءٍ مَّوْزُونٍ**

**او موږ ځمکه غوړولې، په هغې کښي مو غرونه نصب کړي، په هغې کښي مو هر ډول شينبلي (نباتات) په ټاکلي، تللي اندازه راټوکولي دي،**

*******

**يؤه د الله ﷻ دلويي دنښو نښانو څخه داده:هرڅه چي الله ﷻ پيداکړي هغه په يؤه مالومه اندازه او خپل منځ کي سره متناسب دي،ترڅو يؤ شی پر بل شي تيری ونه کړي ياني داچي دخپلې اندازې څخه وانه وړي.**

**يؤه هيرانوونکي پيښه چي داسټرليا په لويه وچه کي پيښه سول هغه دا وه:يؤ ډول بوټۍ چي زقوم،کاکتوس ورته وايي: يؤ ازغي لرونکی او بې پاڼو بوټی دئ، په يؤه سيمه کي د ازغن سيم په ډول وکرل سو: مګر ياد نبات دومره تکثر،ډېرښت وکړ چي دبرتانيا دهيواد په اندازه مځکه يې لاندي کړل او په نباتي اوبا بدل سو،دکليو اوښارونو داوسيدونکو لپاره يې ستونزې پېښې کړې:دهغوئ کښتونه يې برباد کړل او دمځکي دکر کېلې مخه نيوونکي يې سول ترڅو چي پوهانو يؤه حشره چي بيله زقوم خوړلو ژوند نه سي کولی وموندل:يادې حشرې وکولی سول دزقوم دبوټې ډېرښت کم کړي او وګړي ددې اوبا څخه خلاص کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر هغه څه چي الله ﷻ پيداکړي او دخپلې اندازې څخه دېربښت خوى لرونکي وي:الله ﷻ دهغه لپاره مالومه اندازه ټاکلي ترڅو دټاکل سوي اندازي څخه تيرى ونه کړي:دغه ته وايي تعادل او توازون دالله ﷻ دمخلوقاتو په منځ کي، يانې هرشى په طبيعت کي يؤه مالومه ټاکلي اندازه لري او دخپل ټاکلي اندازې څخه تيرى نه سي کولى.

همدارنګه حشراتو ته الله ﷻ حشراتو ته دسږو پرځاى دتنفس کولو لپاره ځانګړي لولې،پيپونه ورکړي ځکه که چيري دهغوئ ساه کښل دسږو دلارې واى حشرات دخپل اوسني حجم څخه ډېر غټيدل او انسانانو ته دزيان رسولو او مرګ لامل به کيداى.

حشرات،نباتات،حيونات،کبان،انسانان او هرشى ديؤې مالومې اندازې او معيار خاوند دئ :ترڅو دطبيعت په نظم کي هيڅ کومه ستونزه نه وي.

الله ﷻ دانسان په بدن کي مايعاتو،خوږې،مالګو..دتنظيم لپاره بيلابيل جوړښتونه :دهغوئ په مالومه اندازه اوتوازن کي ساتلو لپاره جوړ،خلق کړي دي. دانسان په بدن کي دهمدې جوړښتونو په مرسته دمالګو،خوږې،اوبو او هورمونونو نسبت ثابت پاتي کيږي.

دانسان په بدن کي داسي ويټامينونه شتون لري چي دهغو په نشتون کي انسان په بيلا بيلو زيان رسوونکو ناروغيو اخته کيږي:چي روغتيا پوهان هغه ته سوء تغذيه وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پخوا وختونو کي ځيني سمندري سفرکوونکي په اوږدو سمندري سفرونو کي بيله کوم څرګند علته مړکيدل: ورسته مالومه سول چي دهغوئ بدن دبشپړو خوړو دنشتون له کبله د اړينو ويټامينونو دکمښت سره مخ کيدئ. دغه توازون اوتعادول چي الله ﷻ په طبيعت کي پيداکړی دزياتې پاملرنې وړګرځيدلی او انسان يې په تعجب او حيرت کي اچولی دئ: دبيلګې په ډول که غټو کبانو کوچني کبان نه خوړلای دسمندر پر اوبو به يې تيری کړی وای او سمندرونه به د اوبو پرځای دکبانو څخه ډک وای. که چيري موږ دآسمانونو؛مځکې او هغو کي په شته مخلوقاتو کي اند وکړو ډېر حيرانونکي موجودات او لوی عجايب به ووينو!

الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ الحِجر : 19

وَالْأَرْضَ مَدَدْنٰـهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوٰسِىَ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَىْءٍ مَّوْزُونٍ

او موږ ځمکه غوړولې، په هغې کښي مو غرونه نصب کړي، په هغې کښي مو هر ډول شينبلي (نباتات) په تاکلي، تللي اندازه راټوکولي دي،

***

نباتات په يؤې مالومې اندازه کي ساتل سوي دهغوئ شمېر،غذايي ارزښت،لويوالی،کميت،ديؤې مالومې اندازې لمخې سم او برابر دئ، که چيري دغه ټاکل سوي اندازه او برابروالی نه وای دهغوئ دډېرښت له کبله به انسانان لمنځه تللي وای!

(c) ketabton.com: The Digital Library



آيا په استرليا کي دزقوم دبوټو ډېرښت پردې خبرې دليل نه دئ چي الله ﷻ هرشی داندازې سره سم او پرخپل معيار پيداکړی؟په لوړ ايات شريف او دالله جل جلاله دلويي نښي نښاني چي موليدلي،اوريدلي،يا لوستلي دهغوئ په حقيقت کي ژور اندوکړئ:هرشی سربيرن درنظر مه تيروئ، الله ﷻ دهغو وګړو په توصيف کي چي دالله ﷻ دلويي،حکمت،علم...په نښو نښانو او دهغه ﷻ په اياتونو کي اند،فکر کوي فرمايي: سُوۡرَةُ آل عِمرَان : 190

إِنَّ فِى خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ

د اسمانونو او ځمکي په پيدايښت او د شپې او ورځي په تګ راتګ کښي د هغو پوهانو لپاره ډېري نښانې دي

[سُوۡرَةُ آل عِمرَان : 191]

ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِى خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ

چي په ولاړي، ناستي او ملاستي، هر حالت کښي خدای يادوي. او د اسمانونو او ځمکي په پيدايښت کښي غور او فکر کوي (هغوی په غير ارادي توګه غږ کوي چي:) "آې زموږ ربه! دا ټول شيان تا بابيزه او بې مقصده نه دي پيدا کړي، ته له دې څخه پاك يې چي عبث کار وکړې؛ نو اې ربه! موږ د دوږخ له عذابه وژغوره؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حجرو تعادل او دهغوئ عمر

دانسان په بدن کي د ژونکو شمېر دميلياردونو او سلګونو ټريليونونو څخه ډېردئ، دغه حجرې چي په سترګو يې بيله کومې وسلې ليدل ناممکن دي لوی والی دومره دئ چي:که يؤه حجره 140برابره لويه سي دهغې وزن به دګرام يوميليونيمه برخه سي يانې داسي چي که زرميليونه حجرې دتلې په يؤه پله کي کښيښودل سي دهغوئ ټول وزن به يؤ ګرام سي.

دانسان په بدن کي په هره ثانيه کي 125ميليونه حجرې مري هغه څه چي دپام وړ دي هغه دادي چي هره حجره دهستې او کروموزمونو لرونکي ده چي جينونه ليږدونکي دي.

ننئ پرمختګونو او پوهې 800يا دهغه څخه زيات جينونه پيژندلي دي:جينونه ارثي صفتونو دجينو په مرسته په نښه کيږي،جينونه دکروموزم برخه ده چي دکروموزم دپاسه ځای لري کروموزومونه دډي اين اې او پروټين څخه جوړيږي. په يؤې حجرې کي هسته،سايتو پلازم او حجروي غشا شتون لري:حجروي غشا خپله دډېر بحث اوپام وړده.

دژونکي،حجرې جوړښت پوهان په حيرت او تعجب کي کړي او وايي چي:حجره دجوړښت ماشين نه بلکي دکار کولو ماشين يا جوړښت دئ او همدارنګه حجره دبدن کوچنۍ ترينه جوړونکي ماده نه ده:ښه نو حجره څشي ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هيرانوونکي داده چي پروټينونه په حجره کي جوړيږي او په حجره کي زيرمتونونه شتون لري چي ځيني مواد هلته زيرمه کيږي،همدارنګه په حجره کي پاک کوونکي جوړښتونه،رسوونکي غاړې يا پيپونه،او انرژي توليدونکي جوړښتونه شتون لري.**

**ياد سوي برخي او جوړښتونه ټول په حجره کي شتون لري.**

**دیؤې حجري عمر دهغوئ دکار،کړنو پر اساس سره توپير لري:دانسان دپوستکي حجرې در يؤه ساعت ډېر ژوند نه لري:کله چي لمبيږئ داسي احساس به وکړئ لکه کوم څه چي مو دبدنه شوه يا ليري کيږي:چي همدا ستاسو دپوستکي مړي حجرې دي چي دبدنه مو ليري کيږي.**

**دکوچنيو کلمو حجرې د48ساعتو ډېرې ژوندی نه پاتي کيږي يانې داچي بايد وپوهيږو چي زموږ دکوچنيو کلمو ژونکي په هرو اته څلويښتو ساعتونو کي نوي کيږي،ځيني نوري حجري لکه دذايقي يا خوند حجري در اوو ورځو ژوندی پاتيږي، همدارنګه دوينې دسپينو ذراتو ځيني حجري 25ورځي ځيني يې څو ساعته او ځيني يې څو مياشتې ژوندئ پاتي کيږي:کله چي پرتاسو پنځه يا اووه کاله تيريږي بايد وپوهيږئ چي ستاسو دبدن ټولې حجرې بيله دعصبي او زړه دحجرو څخه نوي سوي دي:ځکه که چيري دمغزو حجرې نوي سي انسان خپل زيرمه سوي مالومات لکه د طب،هندسي،ټولنيز،ساينسي تاريخي او نورمالومات او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خاطرې يادونه چي په ياد يې دي دلاسه ورکوي په همدي خاطر الله ﷻ په خپل حکمت دا پريکړه کړي چي دانسان دمغزو او زړه حجرې دجنيني ژوند څخه درمرګ پوري ژوندۍ پاته سي.**

**ښه نو حجرې دمالوم عمر لرونکي دي چي په پرلپسي ډول دانسان په بدن کي مري او راژوندۍ کيږي الله ﷻ فرمايي:**

**[سُوۡرَةُ آل عِمرَان : 27]**

**تُولِجُ الَّيْلَ فِى النَّهَارِ وَتُولِجُ النَّهَارَ فِى الَّيْلِ وَتُخْرِجُ الْحَىَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَىِّ وَتَرْزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ**

**شپه په ورځ کښي او ورځ په شپه کښي ننباسې او ( يوه له بلي څخه راووځي) له بې ساه څخه ساکښ او له ساکښ څخه بې ساه را باسې او چا ته چي دي خوښه شي بې حسابه روزي ورکوې.**

********

**مړي حجرې ژوندۍ حجرې پيداکوي الله ﷻ فرمايي:﴿ وَتُخْرِجُ الْحَىَّ مِنَ الْمَيِّتِ**

********

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آيا دا هرڅه بيله کوم پيداکوونکي پيداسوي

**الله جل جلاله فرمايي:سُوۡرَةُ الذّاريَات : 21**

**وَفِىٓ أَنفُسِكُمۡ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ**

**او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟**

*****

**دانسان بدن دحجرو څخه جوړ سوی: حجرې ژونکي هغه بنسټيز واحد دئ چي ژوندي موجودات ورڅخه جوړ سوي دي.**

**دانسان په بدن کي دسل ټريليونه يانې در زرګونو ميليونو ډېرې حجرې شتون لري.**

**حجرې ژوندي موجودات دي چي زموږ حواس يې دپيژندلو او ليدلو څخه ناتوانه دي،حجرې هغه ذرات دي چي کله په مايکروسکوپ کي در خپلې اندازې 140ځله لوی ښکاره کړل سي ورسته درهغه په مايکروسکوپ کي په سترګو ليدل کيږي،ديؤې حجرې وزن ديؤه ګرام يؤ ميلياردمه برخه ده. دانسان په بدن کي په هره ثانيه کي 125ميليونه حجرې لمنځه ځي او هلته ډېرې حجرې هره اونۍ نوي کيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادې ټولي حجرې چي سل ټريليونه دي بنسټ يې (أَمْشَاجٍ ) دسپرم او ووم ترکيبي حجره يا دهغوئ زيګوټ دئ چي په قرآنکريم کي هغه ته اشاره سوي الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ ٱلدَّهۡر/الإنسَان : 2**

**( إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَٰهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا )**

**موږ انسان له يوې ګډي شوي نطفې څخه پيدا کړ، تر څو چي هغه وازمايو؛ او د دې غرض لپاره موږ هغه اورېدونکي او ليدونکي وګرځاوه**

********

**ياده حجره دهستې خاونده ده چي دهغې په اړه ويل کيږي چي ياده هسته د اداري او مديريت څښتنه ده او پرهمدې هستې 23جوړې کروموزومونه شتون لري چي خپله دژوند ماده ده او د وجود رازونه،اسرار په هغې کي پټ سوي خوندي سوي دي.**

**په يادو جينونو کي زرميليونه مالومات شتون لري که موږ ياد مالومات پرپاڼو وليکو يو لوی (دايرة المعارف) به ترينه جوړ سي چي يوميليون پاڼې به ولري او په هره پاڼه کي به يې پنځه زره مالومات يا د پام وړتکي شتون ولري:مګر موږ ددې مالوماتو په اړه پوهه نه لرو او نه يې پېژنو. دجينونو،کرموزومونو او حجرو بحث دمعجزو څخه ډک سکالو دئ چي کولی سو په څېرلو يې دالله جل جلاله دلويي نښې نښانې لاښه وپيژنو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الذّاريَات : 21

( وَفِىٓ أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ)

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟

****

کله چي انسان ځان مينځي او ځيني شيان دهغه دپوست څخه ليري کيږي همدغه دپوست مړي حجري دي:هره حجره دسايتو پلازم،هستې او حجروي غشا لرونکي ده:حجري ژوندي موجودات او د ودې،کار او دېربښت کوونکي دي.

دحجرو دعلم زده کړه او بحث کلونه وخت نيسي چي په پوهنتونونو کي زدکړيالانو ته ښوول کيږي.

آيا ته! داسي اند کوي چي ته يؤ کوچنی جسم يې په داسي حال کي چي نړۍ په تا کي پټه ده؟

آيا د لوړي مرتبې خاوند:پيداکوونکي،خالق چي انسان يې خلق،پيداکړی دئ انسان بايد هغه ونه پيژني؟ آيا دهغه د اوامرو څخه بايد اطاعت ونه کړي؟

بېله شکه چي انسان بايد خپل خالق،پيداکوونکی الله جل جلاله ښه وپيژني او دهغه دحکمونو او اوامرو پيروي وکړي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د انسان په بدن کي دخطر حساس زنګ

دانسان په بدن کي د الله جل جلاله دلويې ډېرې ښې ښکاني شتون لري چې، يؤه د هغو څخه دخطر يا خبراوي زنګ دئ.

ځيني پرمختللو هيوادونو داسي ماشينونه جوړکړي دي چي دځينو پېښو دپيښيدلو په وخت يا لږ مخکي زنګ وهي چي دغو ماشينونو ته دخطر زنګونه وايي.

دانسان بدن چي الله جل جلاله په ښکلي ډول پيداکړی دئ په هغه کي دخطر زنګ هم شتون لري چي دانسان په پوستکي کي په کار اچول سوی دئ.

پوست يؤ داسي سطحه ده چي دعصبي مزو لويه ټولګه يې پوښلي ده دعصبو دغه غونډيدنه درپوستکي لاندي حيرانوونکي څه دي،ياد عصب په ځانګړو کوچنيو ذاراتو،ځانګو پای ته رسيږي چي هره ذره يې دځانګړو حواسو او پيغامونو دپيژندنې او ليږد لپاره ځانګړي سوي ده.

داسي عصبي مزي شتون لري چي ګرم او ساړه احساسوي؛پيژني يي، زموږ موخه داده چي داسي اخذې يا نيوونکي هلته شتون لري چي حرکات او غبرګونونه پيژني،په پوستکي کي لومړنۍ اخذې د درد او ورستۍ هغه يې دفشار دي چي دهغوئ په منځ کي ديخ،ګرمی،لمس او نوري اخذې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو که تاسو خپل لاس په ژمي کي په اوبو پريمينځئ کيدای سي دا کار تاسوته دومره ناخوښه نه وي مګر که دلاسونو پرځای تاسو پرخپلې ملا اوبه واچوئ داکار به ډېر وګړو ته ناخوښه وي یانې داچي هلته په اوبو اچولو به د ډېر يخ،سړو احساس وکړي:ځکه د هغو عصبي تولګو شمېر چي دانسان په ملا يا دشا خواته شتون لري دانسان در لاسونو يا دمخ دخوا دعصبي احساسوونکو څخه يې شمير ډېر دئ ځکه خو دانسان ملا ديخ پر وړاندي دومره حساسه ده.

دلته د الله ﷻ يؤلوی حکمت شتون لري ځکه هغه غړي چي هره ورځ پريولل کيږي هلته ديخ احساسولو کمزوري،لږ عصبي حجرې شتون لري مګر دانسان دبدن په نورو برخو لکه ملا کي ديخ حس کولو ډېرې عصبي حجرې شتون لري او په هغو غړو کي داسي ذرې،ماليکولونه سته چي سختي اوفشار حس کوي.

دفشار حس کولو سکالو يؤ اوږ او هر اړخيز بحث غوښتونکی سکالو دئ .انسان په يؤه شپه کي دخوب په حالت کي ځيني وخت د40ځله ډېر پر اړخ اوړي ځکه هرکله چي دبدن پريؤه برخه ډېرفشار وارد سي دهغي برخې شريانونه تنګيږي او هلته دوينې جريان کميږي،هرکله چي داپيښه وسي دفشار حس کوونکي ځانګړي عصب يا عصبي ماليکولونه دفشار احسای کوي او ياد خبر مغزو ته ليږي،که څه هم يؤ څوک بيده وي ماغزه ژر بدن ته داړخ بدلولو يا پر اړخ اوښتلو امر کوي،دغي خبرې ته په قرآنکريم کي اشاره سوي ده الله ﷻ فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**[سُوْرَةُ الكهف : 18]**

**وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَذَاتَ الشِّمَالِ وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا**

**تا به د هغو په ليدلو انګېرلې واى چي ويښ دي، پداسي حال کښي چي هغوى ويده پراته ول. موږ هغوى په ښي او کيڼ اړخ باندي اړول راړول او د هغو سپى د ځمځي په خوله کښي ځنګلي غوړولي ناست ؤ. که تا چيري په يو پټ غوندي نظر هغوى ليدلي واى، نو په شا به ورځخه په تيښته راګرځېدلى واى او پر تا به د هغو له ليدني ځخه هيبت ناست واى.**

*********

**که چيري پر اړخ اوښتل يوازي پر راسته يا چپه لوري واى:انسان دخوبه راکښينستئ په دي کي دالله ﷻ حکمت دئ چي انسان د خوب په حالت کي پر دواړو اړخونو اوړي او دا همدا د درد اوفشار احساس دئ چي مغزو ته رسيږي او ماغزه وبدن ته دپر اړخ اوښتلو امر کوي.**

**ځيني پوهان وايي: انسان د درو ځخه درپنځو ميليونو د احساس عصب لري،شل زره دګرمۍ او يخنۍ داحساس عصب او پنځه لکه دفشار دحس کولو عصب لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دغه دقيق مالومات او خبرونه:ديخنى،تودوخي، درد او فشار د احساس 76مرکزي عصبي مزي مغزوته رسوي.**

**که چيري انسا بيده هم وي او پر کوم ګرم،تود شي لاس کښيږدي يا ورڅخه ومښلي دلاس بيرته راکشولو يا را ايسته کولو غبرګونې کړنه به ديؤې ثانيې په سلم برخه وخت کي پيښنه سي.**

**همدارنګه دخطر په وخت کي اړتيا نسته چي دخطر احساس يا خبر مرکزي عصابو ته ورسيږي بلکي بسنه کوي چي ياد احساس يا خبر دملاتير،شوکي نخاع ته ورسيږي او شوکي نخاع دثانيې په سلم برخه کي دلاس ياکوم بل غړي دبيرته په شاتللو غبرګون پيښ سي،ياني داچي دشوکي نخاع عصب به دثانيې په سلمه برخه کي دبيرته راکشولو يا پرشاتګ امر هغه غړي ته ورکړي، په داسي حال کي چي انسان به خبر هم نه سي.**

**که دکوم ګرم څه سره که لاس ومښلي هم به ياده کړنه په همدومره لږ وخت کي پيښنه سي. دانسان دبدن دتعادل،توازن حس چي دځينو عصابو ددندو څخه يؤ دنده ده او په ياده دنده کي:.**

**۵۰مفصلون،بندونه، ۲۰۰ هډوکي،دوه سوه نسجونه،برخه لري: يادسوي نسجونه ټوله ددې لپاره چي يؤ انسان پر پښنو د دريدلو په وخت کي خپل توازن،تعادل دلاسه ورنه کړي ټول ديادې دندې په ښه سرته رسول کي ونډه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ددې سکالوګانو در يادونې ورسته دقرآنکريم دلاندي ايات شريف تلاوت کوو چي فرمايي: [سُوۡرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 53**

**سَنُرِيهِمْ ءَايٰتِنَا فِى الْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ**

**ډېر ژر به موږ دوی ته خپلي نښانې په افاقو (هيوادونو) کښي هم وښيو او د دوی پخپلو نفسونو کښي هم؛ تر دې پوري چي دوی ته دا خبره څرګنده شی چي دغه قُرآن په رښتيا سره پر حق دی. ايا دا خبره کافي نه ده چي ستا رب پر هر څه شاهد دی؟**

********

**زموږ په کوچني بدن کي دالله ﷻ دلويي ډېرې نښې نښانې شتون لري: که يؤ انسان ټول عمر دخپلو حجرو،نسجونو،غړو دقيقو جوړښتونو او عصابو،مغزو په برخه کي زده کړه وکړي،پام او اند په کښي وکړي دهغه عمر به پای ته ورسيږي مګر دهغه په بدن کي به دالله ﷻ دلويي،علم،حکمت..نښې نښانې پای ته ونه رسيږي!**

**والله اعلم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دانسان په بدن کي ثبات او بدلونونه

دالله ﷻ دلويي دښکاره کولو دنښو نښانو څخه يؤه يې داده چي الله ﷻ دانسان زړه پيداکړی او په هغه کي يې بيلا بيلې وړتيا وي او توانونه ايښي دي،انسان چي تر اوسه څه ماشينونه جوړ کړي: دهغوئ په منځ کي داسي ماشين شتون نه لري اونه به يې په راتلونکي وخت کي دزړه دوړتياوو او کار کولو په څير وړتيا لرونکی او کارکوونکی ماشين جوړکړي،ماشينونه ديؤه واحد خوځښت يا حرکت توان لري مګر دانسان زړه بيلا بيلي توانايي لري:په ثابت حالت کي زړه په يؤه دقيقه کي د 60څخه در 80ځله غورځي مګر کله چي انسان دسختو حالاتو سره مخ سي دبيلګې په ډول انسان کوم غره ته خيژي يا دکومې روحي ستونزې سره مخ سي،دکومې ويروونکي پيښې سرمخ سي کيدای سي دزړه دغورځيدا شمېر يې په يؤه دقيقه کي د180 ځله پوري ورسيږي.

زموږ سترګې کله چي کوم شی دشپږ متره څخه ډېر ليري وي په پوره ډول هغه وينې مګر دشپږمتره څخه په نژدي ځای کي زموږ سترګې ډېر کارته اړې کيږي:کله چي وغواړئ درشپږه متره نژدي هغه ګين ته وګورئ چي ستاسو لور ته را روان دئ داسي به درته ښکاره سي لکه ستاسو او ګين په منځ کي چي کوم دريم لوري وي چي ستاسو اوګين،توپ ترمنځ ليروالی اندازه کوي په دې وخت کي بانوګان دسترګي پر عدسيي دملي متر زرمې برخې په اندازه فشار واردوي داسي چي انځور دسترګې پرشبکيې پاتيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اړه چي دراوسه کومې څېړنې سوي قانع کوونکي نه دي،بيله شکه دا دالله جل جلاله يؤ لوی نعمت دئ چي پر انسان يې لورولی دئ.

يؤ وګړی کولی سي دګڼي ګوڼې په وخت کي خپل لار په ښه ډول ووينې داسي لارچي هلته تک راتګ ډېروي.

کله چي يؤ انسان کتل کوي دسترګو محدبې عدسيې يې بدلون کوي انځور دسترګي پرشبکيه مبنلي او په ښه ډول يې ويني ياد کار دسترګو دباڼوګانو نازکي او ډېري دقيقي عضلي سرته رسوي چي په ياد وخت کي دسترګو پر عدسيو فشار وارادوي ترڅو دشي ليروالی په ليري يانژدي حالت کي وښيې.

انسان دهغو مخلوقاتو دډلې څخه دی چي بدن يې مالومه،ثابته اندازه تودوخه لري. انسان څنګه دتودوخي سره مخ کيږي؟

انسان دتودوخې سره دخولو دميليونونو غدو په شتون کي مخ کيږي:دانسان دخولو توليدوونکي غدې دانسان دبدن په سړولو،خنکولو کي ډېرې دقيقې دي.

کله چي يادې غدې مايع تريووې، تودوخه دپوست او يادې تروي مادې:خولې په منځ کي بدليږي رابدليږي؛خوله دپوستکي تودوخه اخلې ترڅو دپوست تودوخه کمه سي.

ښه نو دخولې غدې يؤه دقيقه وسيله ده چي بدن دهغوئ په مرسته خپله تودوخه زغمي،ياده ماده دبدن دتودوخې په کمولو کي ونډه اخلې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ديخ،يخنۍ په وخت کي بدن ديخنۍ پروړاندي کوم غبرګون ښيې؟**

**کله چي دانسان بدن يخ سي بدن په خپل لړزې،ريږد سره عضلې په خوځښت راولې او عضلې دياد خوځښت له کبله تودوخه توليدوي،ددې سره په خواکي دانسان وريښتان شخ شخ دريږي ترڅو ګرمه هوا ذخيره او دسرې هو د ننوتو مخه ونيسي،دانسان بدن دخولې او لړزيدو په مرسته ديخنۍ او تودوخې پروړاندي مبارزه کوي.**

**کله چي ماغزه دکومې باندنۍ اغيزې لکه:ګرمۍ،يخنۍ؛درد سره حسي عصب مخ سي انسان ددرد احساس کوي هرکله چي بيا درد دانسان دتوان او زغم څخه ووزي مغز يوه ماده ترشح کوي چي بې حسه کوونکي ځانګړنه لري او درد ديادې مادې په مرسته لمنځه ځي دغه ماده پياوړي اغيزه کوونکي مواد دي د درد دلمنځه وړلو لپاره همدارنکه په يادې مادې سره بې هوښې منځتنه راځي:دانسان دبې هوښۍ لامل دمغز په واسطه دمخدره،نشيې مادې ترشح،آزادي ده: چي انسان د درد څخه ډېر ليري بيايي،ديادولو وړده چي انکفالين چي په شوکي نخاع کي ځای لري: د درد خبرونه نه پريږدي چي مرکزي عصبي سيستم ته ورسيږي.**

**آياتسو خپل بدن ته په ځير کتلي چي معجزوي جوړ دۍ؟**

**ځينې وخت پر خپل طبيعي حالت ثابت او ځينې وخت بدلونونه پکښي راځي:دزړه غورځيدا ثابت وي خو داړتيا په وخت کي يې غورځيدا په دقيقه کي در 180 ځله پوري رسيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسترګو ليد درشپږ متره ليري پوري ثابت وي مګر مګر کله چي کومشی درشپږ متره رانژدي سي بدلو پکښني راځي.

دبدن حالت ثابت وي مګر ديخنئ او ګرمئ په وخت کي دخولي او لړزې په مرسته دهغوئ سره جنګيږي.

ماغزه په ثابت ډول ددرد احساس کوي مګر کله چي درد دانسان دزغم څخه ووزي ماغزه ددرد ځای بي حسه کوي او حتا انسان دربې هوښئ پوري رسيږي: دانسان په بدن کي دالله جل جلاله دلويي،علم او حکمت بې شمېره نښي نښانې شتون لري الله جل جلاله فرمايي:(سُوۡرَةُ الذّاريَات ۲۱

( وَفِىٓ أَنفُسِكُمۡ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ)

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه یاست؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دانسان په بدن کي بيولوژيکي ساعت

يؤه فرانسوي پوه وموندل چي نباتات کولی سي وخت محاسبه کړي؛داسي چي ځيني نباتات دورځې په يؤه مالوم وخت کي يؤ مالوم خوځښت ښکاره کوي،پوهان دنبات دغه حالت دغه کړنې ته دنبات بيولوژيکي ساعت وايي.

همدارنګه پوهانو مالومه کړي ده چي حيوانات هم دنباتاتو په شان وخت محاسبه کولی سي،داسي ژوي شتون لري چي په پوره دقيق ډول وخت محاسبه کوي:هغوئ دژمې په موسم کي خپل ځانګړي ځای ته ځي که هغوئ ياد کار لږ مخکي ياورسته وکړي هغوئ به دمرګ دګواښ سره مخ سي،ځيني نور حيوانات،مرغان خپلو ځالو ته بيرته راګرځي ترڅو دژمي ټول موسم په خوب تير کړي،که چيري ژوي دوخت دتيريدو په اړه پوهه نه درلودای څنګه به يې خپل ژوند وړاندي بيولی؟

الله جل جلاله په دې خبرې ته په قرآن کريم کي اشاره کړي ده او فرمايي:
[سُوۡرَةُ طٰه : 50

قَالَ رَبُّنَا الَّذِىٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَىۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ

موسی (ع) ځواب ورکړ: "زموږ رب هغه ذات دی چي هر شي ته يې د هغه خپل جوړښت ورکړ، بيا يې ورته لار وښودله.

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انسان هم دخپل هيپو فيز،نخاميه ياکه ووايو دغدواتو دملکې غدې په ځنګ کي دژونکو(ححراتو)يؤه ټولګه په ځانګړي او حيرانوونکي ډول سره لري:هغه رڼا چي په ورځ کي دسترګې پرشبکيې مبتلي،لګيږي:احساسوي،ياد درک کوي دا دهغوئ لپاره په دې مانا دي چي ورځ سوي ده او هرکله چي يادې وړانګې چي دسترګو پرشبکيې لويدلې دي لمنځه ځي ددې مانا ديادو ژونکو لپاره داده چي دشپې وخت را رسيدلی دئ.**

**په ورځ کي کوم او په شپه کي کوم بدلونونه دانسان په بدن کي پيښيږي؟**

**په ورځ کي دانسان دبدن لګښت(مصرف) دانرژي دجوړيدا په پار ډيريږي، دبدن دتودوخي درجه يې دخپلې منځنۍ اندازې څخه نيمه درجه لوړيږي او په شپه کي همدغه ډول نيمه درجه ښکته کيږي.**

**ښه نو هغه څوک دئ چي دانرژۍ تنظيموونکي او توليدوونکي ژونکي په دې پوهوي چي ورځ يا شپه ده؟**

**دغه حجرات دنخاميه غدې په خوا کي ځای لري دسترګو پر شبکيې د رڼا دلګيدو يا نه لګيدو څخه په دې پوهيږي چي ورځ يا شپه ده.**

**پوهان دلانورو پوهيدا په پار وايي:کله چي پر سترګو رڼا وځليږي: عصبي مايعات دعصبي نرمو مزو لمنځه دهيپو فيز يا دغدو دملکې خواته ځي،دهيپوفيز غده دبدن دجوړښتونو ترمنځ دکارو نو برابر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**والی،سمون پر غاړه لري همدارنګه دبدن دعمومي پياوړتيا،توان**

**مسؤليت دتيروئيډ غدې پر غاړه دئ په ياده غده کي اومه مواد په انرژئ بدليږي،ياده غده په ورځ کي خواړه په لوړتوان انرژي او په شپه کي په کښته توان انرژئ بدلوي.**

**دتيروئيډ او نخاميه غده دوخت دتيريدو دراغيزې لاندي دي او دوخت دمحاسبه کوونکي ساعت لرونکي دي چي دشپې او ورځې په راتګ سره خپلې کړنې ترتيبوي.**

**دزړه غورځيدا په ورځ کي دشپې په پرتله د10څخه در20ځله ډيريږي،همدارنګه تشي بولې په ورځ کي دشپې په پرتله دري يا څلور ځله ډيريږي؛همدارنګه پوهانو دالکترو کارډيو ګراف ماشين په مرسته دامالومه کړي چي دمغزو کار په ورځ کي ډير او دوشپې دخوا کمښت پکښي راغلی دئ،همدغه ډول دبدن دساتوونکو: سپينو کروياتو شمېر دشپې په پرتله دورځې ډيريږي!**

**څوک زموږ بدن په دې خبر او پوهوي چي ورځ يا شپه ده؟**

**تاسو دخپل عقل په مرسته په دې ځان پوه کړئ: چي ددغو حجراتو کار چي په ورځ اوشپه کي ځانګړی بدلون کوي يا ددوئ دمنځنۍ اندازې په کار کي چي کمښت يا ډېرښت راځي، څوک هغوئ پوهوي؟**

**دا هم هغه شی دئ چي پوهان هغه ته بيولوژکي ساعت وايي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياد ساعت د ژونکو هغه ټولګه ده چي دمشرې غدې په څنګه ځای لري چي دلمر هغه ځلا چي په ښکلي سهار کي پر سترګو مښلي احساس او پېژني.

کله چي يو انسان په پرلپسي ډول په تياره کي پاته سي،بيولوژيکي ژوند يې ګډوډېږي: ولي چي سترګو ته درڼا په نه رسيدلو بيولوژيکي ساعت کارپريږدي.

ښه نو ښکاره سول چي په وينه کي شته هورمونونه په رڼا او تياره کي بدلون کوي يانې داچي دهورمونو شمېر په شپه او ورځ کي خپل ترمنځ توپير کوي ولې چي الله ﷻ شپه دهوساينې او رحت او ورځ دکار لپاره پيداکړي ده.

ديادولو وړده چي د ودې يانمو هورمون په اندازکي د شپې لخوا ډيرښت راځې همدارنګه دخوړې په لګښت کي دشپې دلوري دورځې په پرتله 30سلنه کمښت راځې او دا هرڅه ددې ايات شريف دځينو برخو بيانوونکي دي اللهﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ التين : 4:

لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِىٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٍ

په حقيقت کي موږ انسان په ډېره ښه ښه پېداکړ.

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانسان دبدن تودوخه دشپې دلوري کښته درجې ته رسيږي همدارنګه نبض او شرياني فشار کي هم دشپې بدلون راځي دمعدې دنده دشپې ورو کيږي،پوهان وايې دويښتيا په وخت کي يؤه ماده په وينه کي شتون لري چي په پايله کي يې دنبض او فشار اندازه او دکار توانايي لوړيږي:په همدې خاطر دسهار د8څخه در 12او دماپښين د درو بجو څخه در شپږو بجو پوري دکار ښه وخت يادوي ياد وختونه وختونه دکار دښه توان او ډېر انرژئ ددرلودلو وختونه دي.

ښه نو بيولوژيکي ساعت،حجري نسجونه،او غدې خبروي چي ورځ سوي ده او داسي او هسي وکړئ او دداسي او هسي کارونو څخه ډډه وکړئ،او برعکس.

پوهان وايي: هغه وګړي چي دشپې او ورځې کار کوي بيولوژيکي ساعت يې دستونزو سره مخ کيږي،همدارنګه هغه وګړي چي په تېزئ ديؤه ښار څخه بل ښار ته ځي دهغوئ بيولوژېکي ساعت دستونزو سره مخ کيږي.

دا جوړښت دالله ﷻ دلوري دقيق جوړ سوی جوړښت دئ؛الله ﷻ فرمايي : سُوۡرَةُ النَّمل : 88

وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِىَ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ إِنَّهُۥ خَبِيرٌۢ بِمَا تَفْعَلُونَ

نن ته غرونه وينې او ګومان کوې چي ښه کلك ښخ شويدي. خو په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت کښي به دا د ورېځو په څېر الوتونکي وي، دا به د الله د قدرت نښانه وي چي هر شی يې په حکمت سره بر قرار کړيدی. هغه ښه خبر دی چي تاسي څه کوئ.**

********

**الله جل جلاله هرشی په پوره حکيمانه او ښه ډول پيداکړی دئ.**

**موږ د داسي يؤ ساعت لرونکي يؤ چي هورمونونه،نبض،فشار،تودوخه او دهضم توناييي ترتيبوي بيله دي چي انسان دهغه په کار خبر سي دانسان دننه جوړښتونو ته دډېر يالږ کار دکولو امر کوي؛دشپې او ورځې ترمنځ توپير کوي،دا دالله جل جلاله دلويې نښه ده چي خپل هرمخلوق ته يې کمال بخښلی دئ،الله جل جلاله فرمايي:**

**[سُوۡرَةُ الذّاريَات : 20-21]**

**وَفِى ٱلۡأَرۡضِ ءَايَٰتٌ لِّلۡمُوقِنِينَ**

**په ځمکه کښي د باور کوونکو لپاره (د الله (ج) د قدرت) ډيري نښانې دي؛**

**وَفِىٓ أَنفُسِكُمۡ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ**

**او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د انسان دبدن دخنکوالي سيستم

**دالله جل جلاله دلويي دنښو نښانو څخه يؤه يې دانسان دبدن دسړښت يا خنکوالي سيستم دئ.**

**دغه جوړښت دبشپړ،پوره او پيچلو جوړښتونو دډلې څخه دئ.**

**دانسان بدن دثابتې تودوخې چي نارمله اندازه د۵،۳۶او ۵،۳۷سانتي ګريډ درجو ترمنځ ده درلودونکی دئ.**

**ښه نو کله چي دانسان دبدن تودوخه دخپلې منځنۍ اندازې څخه پورته ياکښته لور ته ولاړه سي څه پيښيږي ؟**

**کله چي دپوره لندبل په شتون کي دتودوخې لوړه درجه 45 سانتي ګريډ ته ورسيږي يا دلندبل په نه شتون کي؛په وچه هوا کي دتودوخې لوړه درجه 60سانتي ګريډ درجو ته ورسيږي انسان دپښو څخه غورځوي، ياني داچي په هغه وخت کي به انسان دولاړې او کار تونايي دلاسه ورکړي،ددې دوو حالتونه ماسيو انسان په پيچلي سيستم سمبال دئ چي دبدن دتودوخې درجه يې په حاکمانه ډول د36نيمو او 37نيمو درجو په منځ ګي منظمه ساتي .دانسان په بدن کي د3 څخه در 4ميليونو دخولې توليدونکي غدې شتون لري چي پرپوستکي دشمبر په بدلون خپرې سوي دي؛دبيلګې په ډول دلاس په ورغوي کي په هرسانتي مترمربع ساحه کي 480 دخولو توليدونکي غدي ځای پرځای سوي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دخولو توليدونکي غدي يؤدبل سره وتړل سي دهغوئ اوږدوالی به پنځو کيلومتروته ورسيږي.

دانسان دبدن خولې توليدونکي غدي په يؤې تودې ورځې کي د200سانتي متره مکعبه څخه د1500سانتي متره مکعبه پوري خولې توليدوي،خولې چي دخوله توليدونکوغدو په مرسته ترشح سوي دڅه وخت ورسته په بخار،تؤبښ بدليږي؛کله چي خولې تبخير سي،تودوخه ځانته راکشوي ترڅو دانسان دبدن منځنۍ اندازه تودوخه ثابته وساتي.

بيله شکه دخولو دتوليدولو پروسه او خوله توليدونکي غدي دانسان په بدن کي يؤ پيچلی جوړښت دئ.

حيرانوونکي ده کله چي دانسان بدن يخ،سوړ سي رګونه يې تنګيږي ترڅو دپوست په باندنۍ برخې کي دوينې ګرځيدل کم سي او وينه دبدن تودوخه ثابته وساتي،په همدي خاطر په يخنۍ کي دانسان رنګ ژړ مالوميږي.

هرکله چي انسان دګرمۍ احساس وکړي شريانونه او وريدونه يې پراخيږي ترڅو وينه دپوست په هره خوا کي خپره سي.

هرکله چي انسان ديخنۍ سره مخ سي عضلي يې په لړزيدا پيل کوي ترڅو دتودوخې ډېره انرژي توليدکړي ترڅو هغه تودوخه چي بدن دلاسه ورکړي بيرته پوره کړي،په همدې حالت کي دبدن وريښتان شخ شخ دريږي ترڅو بدن ته سړه هوا دننه او توده هوا دباندي ونوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو ديخنۍ او تودوخي په حالت دانسان په بدن کي پيچلي کړنې سر

ته رسيږي چي انسان په حيرت کي اچوي،که دانسان بدن 1000سانتي متره مکعبه تودوخه دلاسه ورکړي دا په دي مانا ده چي انسان دتودوخې 1300کالوري انرژي دلاسه ورکړه. دانسان دبدن پيچلی جوړښت ديخنۍ او ګرمۍ سره مبارزه کوي،الله جل جلاله څومره ښه فرمايي: سُوْرَةُ الذّارِيَات : 21

وَفِىٓ أَنفُسِكُمْ ۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟

*****



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دانسان په بدن کي د خؤلې توليدونکی سيستم

**انسان دخپل بدن دخنکوالي لپاره يؤسيستم لري چي خؤله توليدونکي سيستم ياجوړښت نوميږي.**

**دغه سيسيتم دانسان دبدن دخنک ساتلو او تودوخې دتنظيم سيستم دئ، ياد سيستم ديؤميليون خؤله توليدونکو غدواتو څخه جوړ سوی دئ.**

**يؤخؤله توليدونکي غده دلؤلو څخه چي دوه ملي متره چي قطر يې 1پر10ملي متره دئ جوړه سوي ده،يادې لؤلې چي پيچلی جوړښت لري او دپوست سره په اړيکه کي دي په غيري مساوي ډول پر پوست خپرې سوي دي،پرتندي؛دلاس پر ورغوو ډېر شمېر خؤله توليدونکي غدې ځای پر ځای سوي دي،دبدن په نورو برخو کي په يوه سانتي متربع ځای کي د300 غدو په شاوخوا کي شتون لري،که موږ يادې غدې ديؤبل سره وتړو ديؤه انسان دخؤله توليدونکو غدو اوږدوالی به پنځه کيلومتره ته ورسيږي.**

**په هرو سلو ګرامو خؤلو کي چي دژونکو ،حجراتو په مرسته توليديږي 99ګرامه اوبه 1ګرام مالګه اونور کيمياوي مواد شتون لري.**

**يؤ انسان په 24ساعتونو کي 1000ګرامه خؤله توليدوي،دخؤلو توليد په پرلپسي ډول سره دئ ځکه خو انسان هغه په پوره ډول نه حس کوي،خؤله دانسان بدن نمجن ساتي کله چي خؤله نه وي دبدن پوستکی وچيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خؤلې او دهغوئ سوري دانسان دبدن دتودوخې دتنظيم لپاره دي او داسي بيلګه لري لک دديګ بخار ګوشکي،نلئ په ديګ بخار کي ترڅو دهغه د زياتې تودوخي تنظيم وکړي او هغه دچاوديدو څخه وساتي،**

**که دانسان دبدن تودوخه ډېره لوړه سي انسان مري ځکه خو د تودوخي دتنظيم نلئ يا ګوشکئ لري.**

**يادې غدي خؤلې توليدوي؛دبدن تودوخه ځانته کشوي او په بخار يې بدلوي په همدي لارې دبدن تودخه په منځنئ اندازه کي ساتل کيږي.**

**دخؤلو دنده دبدن دتودوخې تنظيم او دبدن دپوستکي نرم ساتل دي.**

**بدن بايد تل پاک وساتل سي ځکه خؤلې بوى توليدوي اوزموږ بدن دخولو په واسطه اسيدي او مالګين کيږي په همدې خاطر ويل سوي دي:که داوبو يؤه پيمانه په يؤه دينار وي بدن بايد پريميځل سي،دخولو دبوى او اغيزو دلمنځه وړلو په پار موږ بايد تل ولمبيږو دبدن دنه پريوللو په خاطر دخؤلو راوتلو سوري بنديږي او زموږ دبدن دتودوخې دتنظيم په جوړښت کي ستونزې پيښيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دانسان دګوتو سرونه دانسان پيژند پاڼه او لاسليک دئ

که څه هم دوه ماشومان په يؤه وخت ديؤې مور څخه وزيږي ياني غبرګولي پيداسي :دلومړي ماشوم دګوتې نښه به د دويم ماشوم دګوتې دنښو څخه توپير ولري.

قرآنکريم دې حقيقت ته اشاره کوي او فرمايي: سُوْرَةُ القِيَامَة3-4

(أَيَحْسَبُ الْإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُۥ)

ايا انسان دا انګېري چي موږ به د هغه هډوکي بيا راټول نشو کړاي؟

(بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّىَ بَنَانَهُۥ) ولي نه،

موږ خو آن د هغه د ګوتو د بند بند په سم جوړولو باندي قادر يوو.

******

پوهان په دې بريالي سوي چي دګوتې په سر کي سل بيلوونکي نښې او علامې وپېژنې ،که چيري 12نښې يا علامي ددو ګوتو دنښو څخه سره ورته وي دا څرګندوي چي دګوتو يادې دوې نښې په يؤه وګړي پوري اړه لري ياني داچي دوړي نښې ديؤه وګړي دي. کله ناکله دا احتمال سته چي ددوو وګړو دګوتو نښې دي په يؤ ډول سره وي خو دا امکان هغه وخت کيداى سي شتون ولري کله چي موږ د6ميلياردو انسانانو دګوتو نښې ديؤبل سره وګورو ياني په شپږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميلياردو انسانانو کي کيداى سي ددوو انسانانو دګوتو نښې يؤډول وي.

دګوتې سر يا دګوتې نښه دمنحني خطونو،قوسونو،زاويوو،ښاخونو،ليکو او ځانګړو شکلونو لرونکي دي.

په ځينو ځايونو کي دګوتو يؤه نښه سوي يا يؤه وګړي ګوته لګولې او تري لاندي 15زرو وګړو ګوتې لګولي مګر ددې سربيره هم ديادو وګړو دګوتو نښنو ديؤبل سره ورتوالى نه دئ پيداکړى.

کله چي ماشوم دمور په رحم کي دشپږو مياشتو سي دهغه دګوتو دسرونو يادې نښې رامنځته کيږي يا جوړيږي او دهغه دمرګ در وخته بيله کوم بدلونه پر خپل لومړني ډول پاتي کيږي.

که ديؤه چا دګوتو دسرونو پوستکى په بشپړ ډول لمنځه ولاړ سي او پرځاى يې نوى پوست دهغه ځاى ونيسي بيا به هم دهغه وګړي دګوتو په نښه کي کوم بدلون رانه سي او هم هغه لومړنى دګوتې نښه به يې وي؛همدارنګه که ديؤچا دګوتو دسرپوستکى دجراحۍ په مرسته ليري کړل سي او دهغه دبدن دکومې بلې برخې پوستکى پري پيوند سي دڅو مياشتو په تيريدو به دياد کس دګوتو نښې خپل لومړني حالت يالومړني شکل ته راوګرځي او کوم بدلون به په کښې شتون ونه لري.

دانسان دګوتو دسر نښې دهغه دپيژند؛ لاسليک په څير دي چي ستر الله ﷻ پيدا کړي دي او د انسان توناييي دومره نه ده چي دا پيژند پاڼه ؛لاسليک لمنځه يوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينو مجريمينو دخپل ګوتو دسره نښې دجراحۍ په مرسته لمنځه وړي او دخپل بدن دکومې بلې برخې پوست يې پري پيوند کړی مګر دڅومياشتو دتيريدو ورسته دهغه دګوتو نښې خپل لومړنې حالت يا لومړني شکل ته راستانې سوي دي،بيله شکه دا داللهﷻ دلوري پيداسوی ديؤه انسان پيژند، لاسليک دئ چي انسان دهغه دلمنځه وړلو توان نه لري.

کله چي د (برزخ)دمرګ څخه درقيامت در ورځې ژوند،ورسته موږ اللهﷻ راپاڅوي دغه لاسليک،پيژند دهغه ليکې؛ځانګې؛خطونه چي څنګه وه هم هغه شکل ته به را وګرځي،قرآنکريم دې خبرې ته اشاره کوي او فرمايي:[سُوْرَةُ القِيَامَة : 4]

( بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ)

ولي نه، موږ خو آن د هغه د ګوتو د بند بند په سم جوړولو باندي قادر يوو.**********************.

دا داللهﷻ دلويي دنښو نښانو څخه يؤه نښه ده!

دغه دګوتو دسرونو نښې څنګه پيداسوي دي په هغه وخت کي چي انسان دمور په خيټه کي دشپږو مياشتو وو او څنګه اللهﷻ دانسان دمړيني ورسته دويم ځل هغه دلومړني شکل په ډول بيا پيداکوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دانسان بدن څنګه ديخ سره مخ کيږي

**دانسان دبدن دغه پيچلی جوړښت چي الله جل جلاله پيداکړی کله چي دډېر يخ سره مخ سي څه کار کوي؟**

**په کوم شي سمبال دئ؟څنګه ديخنۍ پر وړاندي دخپلو دننه جوړښتونو څخه ساتنه کوي؛خدای جل جلاله کوم جوړښت دانسان په بدن کي ديخنۍ سره دمبارزې لپاره پيداکړی؟**

**پوهان وايي:دانسان دپوستکي دننده په بدن کي داسي ده لکه دباندنيو چارو د وزارت،دټولو هغو پيښو په اړه چي بهر پيښيږي دننه بدن ته خبر ورکوي؛په پوستکي کي يؤ مرکز شتون لري چي ديخنۍ او ګرمۍ په وخت کي بدن ته خبر ورکوي،ښه نو کله چي هوا سړه سي او دګرمولو کوم شی هم نه وي دانسان بدن په ياد وخت کي کومه کړنه سرته رسوي؟**

**شريانونه او وريدونه تنګيږي په ځاتکړي ډول سربيرن رګونه،کله چي رګونه تنګ سي دوينې جريان هم په رګونو کي کميږي څنګه چي په رګونو کي دوينې جريان کم وي دتودوخي د ډېر پاشل کيدو خپريدو مخه نيول کيږي او بالا بود تودوخه چي دخوړو دسوځيدا څخه په لاس راغلي په بدن کي خوندي پاتيږي.**

**دهيپوفيز،نخاميه غده دتيروئيدخواته آي سی تي ايچ هورمون رسوي او غوده چي دنده يې دغذايي موادو په انرژۍ بدلول دي خپلې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دندې ته لا ښه پاملرنه کوي؛ښه نو دنخاميه غده دتيروئيډ غدې ته پيغام استوي چي دانرژئ جوړولو کارونه چټک کړي او په بدن کي ګرځنده،څرخيدونکي تودوخه رامنځته کړي.**

**کله چي دانسان بدن ديخنئ سره مخ کيږي په بدن کي دهورمونونو شمېر ډېرېږي په ځانګړي ډول دنخاميه غدې څخه دترشح کيدونکو هورمونو شمېر او بدن ته پرلپسي امرونه کوي چي دتودوخې دانرژئ اندازه ډېره کړي.**

**همدارنګه انسان دنورو لارو او وسيلو په مرسته ديخنئ سره مبارزه کوي،دانسان پر پوستکي د۲۵۰څخه در۳۰۰زرو څخه پوري وريښتان شتون لري،هر وريښته دوريد،شريان،عصبي عضلي،دغوړيو دغدې او د رنګ دغدې لرونکی دئ،هر کله چي انسان ديخنئ سره مخ سي وريښتو ته خبر رسيږي او وريښتان شخ دريږي ترڅو دوريښتو دسورويو خوله ښه بنده سي،ګرمه هوا دبدن څخه دباندي ونه وځي او دننه بدن کي خوندي پاته سي.**

**يادې سوې هغه کړنې دي چي دانسان دخبراوي پرته دهغه په بدن کي سرته رسيږي،شريانونه تنګيږي؛دهيپو فيز غده دبدن نورو سيستمونو ته پيغامونه استوي؛دتيروئيډ غده دبدن دميتابوليزم اندازه لوړه بيايي،دخوږې کچه په وينه کي لوړيږي ،عضلې په لړزيدا پيل کوي ترڅو ډېره تودوخه رامنځته کړي،وريښتان شخ شخ دريږي ترڅو بدن په دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړنو سره دېخنۍ سره ښه مبارزه وکولی سي،ښه نو څومره ښه به وي چي دالله جل جلاله دکلام دغه ايات شريف تلاوت کړو چي فرمايي: سُوۡرَةُ المؤمنون : 14

ثُمَّ خَلَقۡنَا النُّطۡفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقۡنَا الۡعَلَقَةَ مُضۡغَةً فَخَلَقۡنَا الۡمُضۡغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوۡنَا الۡعِظٰمَ لَحۡمًا ثُمَّ اَنۡشَاۡنٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَ فَتَبَارَكَ اللّٰهُ اَحۡسَنُ الۡخٰلِقِيۡنَ

بيا مو هغه څاڅکي (نطفه) ته د برغنډ (تړليويني) بڼه ورکړه. بيا مو برغنډ د غوښي بوټۍ وګرځوله، بيا مو بوټۍ هډوکي جوړ کړل، بيا مو هډوکو ته غوښه ور واغوستله؛ بيا مو هغه يو بل مخلوق جوړ کړ. نو الله ډېر زيات برکتناك او تر ټولو پيدا کوونکو ښه پيدا کوونکی دی.

*******

## اسلامي اروا پوهنه

## دغم او خوښۍ اغېزه دانسان پر روان باندي

الله جل جلاله دغم او خوشحالۍ په اړه فرمايي: سُوۡرَةُ الحَديد : 22] مَآ اَصَابَ مِنۡ مُّصِيۡبَةٍ فِى الۡاَرۡضِ وَلَا فِىۡۤ اَنۡفُسِكُمۡ اِلَّا فِىۡ كِتٰبٍ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ نَّبۡرَاَهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيۡرٌ

هيڅ مصيبت داسي نشته چي په ځمکه کښي ستاسي پر خپل نفس نازل شي او موږ هغه له پيدا کولو څخه مخکي په يو کتاب کښي نه وی ليکلی، دغسي کول د الله لپاره ډېر اسانه کار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



[سُوۡرَةُ الحَديد : 23]

لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَآ ءَاتَىٰكُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ

دا هر څه د دې لپاره دي) چي پر هغه زيان باندي چي پر تاسي وي، زړه ماتي نشئ؛ او څه چي الله تاسي ته درکړي وي پر هغه ونه غوړيږئ. الله داسي خلك نه خوښوي چي خپل ځان لوی ګڼي او وياړيږي،

****

هغه څه چي د سورة حديد په دوويشت او درويشتم نمبراياتونو کي زموږ اندونه دځان لورته اړوي دادي:دغه دوه اياتونه په ځانګړي ډول 23نمبر ايات شريف دې ته اشاره کوي چي هرکله انسان د ډېر غم او يا ډېري خوشحالۍ سره مخ سئ انسان دهغه دبشپړ زغم توانايي نه لري او هغه شی چي دانسان غم او خوښې په خوندي اندازه کي ساتي هغه دادئ چي انسان بايد وپوهيږي او ووايي:دا هرڅه دستر‌الله ﷻ دلوري څخه دي،کله چي انسان داالله‌ﷻ پر يؤالي باور ولري پر انسان دستونزو فشار او همدارنګه دخوشحالۍ ناوړه اړخ سالم کيږي،ځکه داندازې څخه ډېر غم او خوشحالې دانسان پر روحي حالت ناوړه اغېزه کوي.

ډېر کله داسي پيښ سوي دي:چي انسان ناڅاپه دډېرې خوشحالۍ سره مخ سوی او دزړه سکته يې کړي ځکه دهغوئ زړه د ډېري خوشحالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دزغم توانايي نه ده درلودلي. ښه نو که مُوحد واوسئ او چارو ته په داسي ډول وګورئ چي دا هرڅه دالله ﷻ دلوري څخه دي: دغم سختي او دخوشحالۍ سختي مو پر زړه لږېږي.**

**دا به حيرانوونکي وي چي خبرسئ:په دويمه نړيواله جګړه کي دوه ميليونه غر بي وګړي دروني فشار له کبله مړه سول په داسي حال کي چي دجنګ په ميدان کي دري ميليونو وګړو خپل ژوند دلاسه ورکړی وو**

**دانسان دبدن دننه رواني فشار يا رواني حالت دتوحيد دعقيدې څخه ماسيوا ډېرې خطرناکي او زيان رسونکي اغېزې پر انسان لري الله ﷻ فرمايي:[سُوۡرَةُ الحَديد : 22] مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مِّنۡ قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ**

**هيڅ مصيبت داسي نشته چي په ځمکه کښي ستاسي پر خپل نفس نازل شي او موږ هغه له پيدا کولو څخه مخکي په يو کتاب کښي نه وی ليکلی، دغسي کول د الله لپاره ډېر اسانه کار دی*****.**

**ښه نو هرچا چي د دونيا حقيقت،رښتيا وپيژندل دهغې په خوشحالۍ بايد بې اندازې خوښ نه سي او همدارنګه دستونزو،کړاونو په وخت کي هم بايد خپل حواس په واک کي ولري او بې اندازې غمجن نه سي ځکه دانړۍ الله ﷻ دازموينې لپاره پيداکړي ده.**

**ددونيا غم او کړاونو داخرت د ورکړي،عطا او داخرت عطا ورکړه ددونيا دکړاو اوغم پرځای پيداسوي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامي اراپوهنه

ځيني وګړي وايي: اراپوهنه نوې پوهه،علم دئ چي دځانګړونو،قوانينو،حيرت،غوسې،انګيزو،غوښتونو،توانايي او کمزوريو څخه خبرې کوي خو ددې څخه بې خبر دي يايې ځان بې خبره کړی چي ، قرآنکريم اراپوهنې اړوند موږ ته لارښوونې لري.

داراپوهنې ډېر اصطلاحات،ښکاره کوونکي عمومي قوانين په يؤه ډول نه په بل ډول په قرآن کريم کي سته.

يؤسکالو،موضوع،دسکالوګانو څخه چي په اسلامي اراپوهنه کي شتون لري: دنفس ډولونه دي،الله ﷻ موږته په قرآنکريم کي:دلوّمه،امّاره،زکيّه نفس ډولونه بيان کړي دي او ډېرو اياتونو کي دغه ډولونه يادسوي دي،الله ﷻ فرمايي: سُوّرَةُ الفَجر : 27-30

( يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ)

له بل پلوه به ويل کيږي "اې ډاډه نفسه)

(ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً)

ځه د خپل رب لوري ته، په داسي حال کښي چي ته (له خپل غوره عاقبت څخه) خوشحاله (او د خپل رب په وړاندي) غوره يې!

( فَٱدْخُلِى فِى عِبَٰدِى)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورننوځه زما (په نېکو) بند ګانو کښي!**

**( وَادْخُلِي جَنَّتِي)**

**او ننوځه زما جنت ته!**

*******

**نفس مطمئنه هغه نفس دئ:چي خپل پيداکوونکی،خالق وپيژني او دهغه پرنومونو،لوړو ستاينو،وعده،وعيد،جنت او دهغه پريوالي يې ډاډ موندلی،پيداکړی وي پر دي يقين،باور ايمان ولري چي بيله الله جل جلاله بل دعبادت وړ،لائق نسته.**

**نفس زکيّه ياني هغه نفس چي:دهرې ناپاکۍ ،عيب او دهر بد صفت څخه پاک او ليري وي،نفس زکيّه هغه نفس دئ چي خپله ورسپارل سوي دنده يې سرته رسولي وي او هرهغه څه چي دده په ګټه وي:د زور،ظلم،بربريت او زياتي څخه پرته يې اخيستي لاسته راوړي وي.**

**الله جل جلاله فرمايي: سُوْرَةُ الكهف : 74**

**فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا لَقِيَا غُلَامًا فَقَتَلَهُ قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ لَّقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُّكْرًا**

**بيا هغوی دواړه لاړل، تر دې پوري چي له يو هلك سره مخ شول او سړي هغه هلک ووژه. موسی(ع) وويل: تا يو بې ګناه ووژه، پداسي حال کښي چي هغه څوك نه و وژلي؟ - دا کار خو دي ډېر ناوړه وکړ!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او بيا فرمايي: سُوۡرَةُ الشّمس : 7–10**

**( وَنَفْسٍ وَمَا سَوّٰىهَا)**

**او په انساني نفس او په هغه ذات قسم دی، چي هغه يې برابر کړ،**

**( فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوٰىهَا)**

**بيا يې د هغه بدي او پرهېزګاري ورته الهام کړه.**

**قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكّٰىهَا**

**په رښتيا سره بری هغه چا تر لاسه کړ چي نفس يې پاک کړ.**

**( وَقَدْ خَابَ مَن دَسّٰىهَا)**

**او هغه څوك ناکام شو چي دغه (نفس يې په ګناهونو کي) پټ کړ.**

*******

**ښه نو فلانکی زکي دئ يانې داچي پاک دئ،يانې داچي کينه،ظلم او حسد نه کوي دخپلو پولو څخه تيری نه کوي؛ډېر بخښوونکی او نيکي کوو نکی دئ؛سوله او ارامي يې خوښيږي؛د دوښمنۍ او زور زياتي څخه بېز اره دئ،دغه نفس زکيّه ته دقرآنکريم په ډېرو ايتونو کي اشاره سوي ده.**

**هغه نفس چي الله ﷻ ستايلی هغه نفس دئ چي ټول مؤمنان دهغه څخه برخمن دي،ياد نفس ته لوّمه نفس وايي، اللهﷻ فرمايي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**[سُوْرَةُ القِيَامَة : 1-2]**

**لَآ أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ**

**داسي نه ده، زه د قيامت په ورځ قسم خورم!**

**( وَلَآ أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ)**

**او داسي نه ده، زه په ملامتوونکي نفس باندي قسم خورم (چي هرومرو بيرته را ژوندي کيږئ!)؛**

********

**يۇ وګړى چي کله خبرې کوي بايد هغه وسنجوي داسي چي که دده يادې خبرې ده ته کوم څوک وکړي آيا دده به هغه خبرې خوښي سي،نو خبرې کونکی بايد اند وکړي چي آيا دده خبري روا او سمي دي يا نه آيا دده خبرې پرحقه دي که يا ؟**

**آيا زما خبرې خو به الله ﷻ ماته نه په غوسه کوي؟دحديث شريف مفهوم دئ: د ابو هريره(ض)څخه روايت سوى چي رسول الله ﷺ وفرمايل:ډېر خلک خبرې کوي په هغو کي دقت نه کوي په داسي حال کي چي ممکنه ده دهمدې خبرو په خاطر جهنم ته داخل سي چي فاصله يې ددومشرقو څخه ډېره ده (صحيح بخاري6112صحيح مسلم2988)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا نفس لوّمه هغه نفس دئ چي اللهﷻ ستايلی دئ مومن بايد تل دځان ځخه پوښتنه وکړي ؛په دونيا کي خپلې سختې کړنې محاسبه کړي ترڅو په لويه ورځ يې حساب آسانه وي.

مومن بايد په خپلو خبرو،دنور سره په چار چلند،دنورو دحقونو په ورکړه،ساتنه ښکاره او معنوي ډول خپل ځان محاسبه کړي.

همدغه نفس لوّمه په قرآنکريم کي دنورو نفسونو په ډول يادسوی دئ.

يؤبل نفس چي په قرآنکريم کي هغه ته اشاره سوي هغه دحسد،کست دئ اللهﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ البَقَرَة : 109

وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَٰبِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ ۖ فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

زياتره اهل کتاب دا غواړي چي په يو ډول نه يو ډول تاسي له ايمان ځخه بيرته د کفر لوري ته وګرځوي، که څه هم حق هغو ته څرګند شويدی، خو د خپلي نفسي غوښتني له امله ستاسي لپاره دا غواړي. د هغو په ځواب کښي تاسي له بخښني او تېرېدني ځخه کار واخلئ، تر څو چي الله پخپله خپله فيصله نافذه کړي. ډاډه اوسئ چي الله تعالی پر هر څه برلاسی دی!

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ياد نفس هغه نفس دئ چي دالله ﷻ څخه ليري کيږي او په خفي شرک کي واقع کيږي دوګړو سره حسد،کست کوي.**

**يؤبل نفس چي هغه ته آشمه،ګناه نيوونکی،ګناه کوونکی وايي شتون لري ياني ياد نفس په هغه څه کي چي الله ﷻ منعه کړي په هغه کښي واقع کيږي،الله ﷻفرمايي سُوۡرَةُ النِّسَاء : 111**

**وَمَن يَكۡسِبۡ إِثۡمًا فَإِنَّمَا يَكۡسِبُهُۥ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا**

**خو څوك چي بدي وګټي نو د هغه دا ګټه به د هماغه لپاره وبال وي. الله په ټولو خبرو خبر دی او هغه د پوهي او حکمت خاوند دی.**

*******

**يؤبل نفس هم شتون لري چي ياد نفس انسان ناخوښه بدوکاروته را بولي خدای ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ يُوسُف : 53**

**وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِىٓ‌ۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّىٓ‌ۚ إِنَّ رَبِّى غَفُورٌ رَّحِيمٌ**

**زه د خپل نفس ښه نه وايم، نفس خو په بدئ باندي هڅوونکی دی، مګر دا چي پر چا زما د رب رحمت وي. بېشکه زما رب ډېر ښېونکی او رحم کوونکی دی.**

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه ظالم،مکرکوونکی سرکښه او بخيل نفسونه هم شتون لري.

ښه نو کله چي مؤمن قرآنکريم تلاوت کړي او ددې انساني نفسونو دصفتونو سره مخ سي بايد دخپل ځان څخه وپوښتي: زه دکوم نفس لرونکی يم؟

دمطمئنه،زکيّه،لوّمه،حاسده،آشمه،مکار،سرکښ،که بخيل؟

داراپوهني دموضوعګانو څخه يؤه يې داده چي دنفس ډولونه چي انسانان يې په هرځای او وخت کي تکراروي تاسوته در وپيژني.

حافظ محمدبن نصر وايي چي يؤه ورځ احنف بن قيس ناست وو چي دغه ايت شريف مي:سُوۡرَةُ الأنبيَاء : 10

( لَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ كِتَٰبًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ)

اې خلکو! موږ تاسي ته داسي يو کتاب ليږلی دی، چي په هغه کښي همدا ستاسي يادونه ده، ايا تاسي نه پوهيږئ؟

***

هغه ته وړاندي کړ،هغه وويل:پرما لازمه ده چي خپل ځان په قرآنکريم کي وموندم،ترڅو وپوهيږم: چي زه څوک يم او دکوم ډول نفس سره ورتوالی لرم؟ څنګه چي هغه پوهيدئ:قرآنکريم دبشر ټول صفات،ستايني،مرتبې او درجې بيان کړي دي غوښتل يې وپوهيږي هغه په کومه ډله کومه درجه کي ځای لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قرآنکريم يې را واخيستئ او دهغه تلاوت يې پيل کړ هغو ډلو ته ورسيدئ چي قرآنکريم دهغوئ داوصافو په اړه فرمايي:**

**[سُوْرَةُ الذَّاريَات : 17]**

**(كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ)**

**هغوی (د هغې ورځي له راتګ څخه مخکي) د شپې له مخي ډېر لږ ويده کېدل.**

*******

**[سُوْرَةُ آل عِمرَان : 134]**

**الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِى السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ وَالْكٰظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ**

**د هغو لپاره چي د بډايی او بيوزلی په دواړو حالاتو کښي مال مصرفوي، د غوسې زغمونکي دي او د نورو لنډ پاري بخښي. داسي نېکان خلك د خدای ډېر خوښ دي؛**

*****[سُوْرَةُ الحَشر : 9**

**وَالَّذِينَ تَبَوَّءُو الدَّارَ وَالْإِيمٰنَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِى صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلٰىٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا مالونه د هغو خلکو (انصارو) لپاره هم دي) چي د دغو مهاجرينو له راتګ څخه مخکي يې ايمان راوړی، په دې کور (مدينه منوره) کښي استوګن ول. دوی له هغو خلکو سره مينه کوي چي دوی ته يې هجرت کړی دی؛ او هر څه چي هغو ته ورکړل شي، د هغو څه اړتيا قدري هم دوی پخپلو زړونو کښي نه احساسوي؛ او پر خپل ځان باندي نورو ته ترجيح ورکوي که څه هم پخپله محتاج وي. حقيقت دا دی، کوم خلك چي د خپل زړه له تنګۍ څخه وژغورل شول، همغوی بري موندونکي دي.

***

ورسته احنف قرأت ودروئ او وي ويل:خدايه ﷻ خپل نفس مي دلته ونه پيژندئ يانې هغه ياد سوي صفتونه په خپل ځان کي ونه موندل،بيا يې دقرآنکريم تلاوت پيل کړ ترڅو يې دغه ايات شريف تلاوت کړ: سُوْرَةُ الصَّافات : 35

(إِنَّـهُمْ كَانُوَا إِذَا قِيلَ لَـهُمْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ)

دا هغه کسان ول چي کله به ورته ويل کېدل چي د الله څخه پرته بل هيڅ پر حق معبود نه شته، نو دوی به مغروره کېدل

****

بيايې تلاوت ته دوام ورکړ او دهغه دلې ته ورسيدئ چي قرآنکريم دهغو په اړه فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سُوۡرَةُ المدَّثِّر : 42–43] مَا سَلَكَكُمۡ فِى سَقَرَ

"تاسي څه شي دوږخ ته بوتلاست؟"

سُوۡرَةُ المدَّثِّر : 43

قَالُوا لَمۡ نَكُ مِنَ الۡمُصَلِّينَ

هغوی به ځواب ورکړي: "موږ له لمونځ کوونکو څخه نه وو؛

****

احنف وبيريدئ،وډارسو او وي ويل خدايهﷻ ددوئ څخه تاته پنادروړم او دپاکۍ غوښتنه کوم،همداسي يې دقرآنکريم پاڼې اړولي ترڅو چي دې ايات شريف ته ورسيدئ:

سُوۡرَةُ التّوبَة : 102

وَءَاخَرُونَ اعۡتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمۡ خَلَطُوا عَمَلًا صٰلِحًا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ

ځيني نور خلك دي چي په خپلو ګناهونو يې اعتراف کړيدی؛ د هغوی عمل ګډوډ دی: څه ښه دی څه بد. ليري نه ده چي الله پر هغو بيا مهربان شي، ځکه هغه ښښونکی او رحم کوونکی دی.*****

احنف په پای کي وويل زه ددغې ډلې څخه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامي اړواپوهنه

## زرغون يا شين رنګ

دقرآنکريم په څو اياتونو کي دزرغونه رنګ يادونه سوي ده چي يؤ دهغو څخه لاندي ايات شريف دئ.

[سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 76]

( مُتَّكِـِٕينَ عَلٰى رَفۡرَفٍ خُضۡرٍ وَعَبۡقَرِىٍّ حِسَانٍ)

هغوی به پر جنتي شنو غاليو او نفيسو او نادرو فرشونو باندي تکيه وهلي ناست وي.

***

په بل ايات شريف کي الله جل جلاله فرمايي:

[سُوۡرَةُ ٱلدَّهۡر/الإنسَان : 21]

عٰلِيَهُمۡ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضۡرٌ وَإِسۡتَبۡرَقٌ ۖ وَحُلُّوٓا أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ وَسَقٰىهُمۡ رَبُّهُمۡ شَرَابًا طَهُورًا

پر هغو باندي به د نريو وريښمو شنه جامه پرته او د اطلس او د پرېړو وريښمو جامې به يې وي، هغو ته به د سپينو زرو بنګړي واچول شي او د هغو رب به ورباندي ډېر زيات پاك شراب وڅښني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدا رنګه دسورة کهف په 31نمبرايات شريف کي الله جل جلاله دجنتيانو دجامو په وصف کي فرمايي: سُوۡرَةُ الكهف : 31**

**أُولَٰئِكَ لَهُمْ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِنْ تَحْتِهِمُ الْأَنْهَٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا ِمْنْ سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَآئِكِ نِعْمَ الثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا**

**د هغو لپاره تل سمسور باغونه دي چي لاندي به يې ويالې بهيږي، هلته به هغوی د سرو زرو په بنګړيو سينګار کړای شي، د نريو وربښمو، اطلسو او مخملو شنې جامې به واغوندي، او هسکو بالښتونو ته به تکيه وهلي کښېني. ډېر ښه اجر او د لوړي درجې هستوګنځی دی!**

********

**اروايوهان دانسان او رنګو دا ړيکو په اړه وايي: درنګونو اغيزه پر انسان ډېره ژوره ده داسي چي ډېر رنګونه زموږ دېو کار پرکولو اونه کولو اغېزه کوي، که موږ دګرمۍ، يخنۍ،خوښۍ او ياغم احساس کوو: د رنګونو د ونډې څخه به خالي نه وي.**

**رنګونه دانسان پرشخصيت او دژوند پرډول اغيزه لري.**

**پوهان وايي: ژړ رنګ دخپلو اوږدو څپو په درلودلو زموږ پر مغزو دخوښۍ د احساس ورکولو اغيزه لري، ښه نو کله چي مو غوښتل پر لويو لارو تيريدونکو وګړو ته کوم خبر په ښه ډول ورسوئ: ژړ رنګ غوره کړئ ځکه ژړ رنګ درنګو په منځ کي اوږدې څپې خوروي او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انسان ته دخوښۍ،صبر او زغم احساس ورکوي.**

**ارغواني رنګ ارام او سکون ورکوونکی رنګ دئ همدارنګه سور او اوبیز رنګ هم ارام او سکون ورکوونکي رنګونه دي، مګر هغه رنګ چي انسان ته خوښي،ورکوي دانسان ماغزه په خوځښت راولي هغه شین یازرغون رنګ دئ،په همدې خاطر الله جل جلاله نباتات په زرغونه،شنه رنګ پیداکړي دي؛دمځکې زرغونې،شنې په نباتاتو پوښلې سیمې چي ډېر وګړي یې لیدو ته ځي هغه ځایونه دي چي انسان ته ارام او خوښې ورکوي.**

**دجراحي ډاکټرانو دجامو رنګ هم شین یازرغون ځکه انتخاب سوی چي هغه ناروغ چي دجراحۍ پر بستر،کټ پروت دئ دخپلو شاوخوا وګړو په لیدلو چي زغونې جامې یې په تن دي د ډاډ او خوښۍ احساس کوي**

**هغه څه چي ډېر دپاملرنې وړدي هغه دادي چي الله جل جلاله دجنت اوسیدونکي اونعمتونه یاد کړي په هم هغه ایات شریف کي یې شین زرغون رنګ هم یادکړی.**

**والله اعلم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دخپنم يا خفگان اړيکه دروغتيا سره

هيجانات او خپنم په بيلابيلو لارو سره دزړه دضربانو دډېريدلو،دتېز تنفس کولو او دفشار دلوړ تللو لامل کيږي. هغه وګړي چي په خپنم وي ؛درد ورغلی وي دزړه دربيدل يې په دقيقه کي 160ځله ته رسيږي او دلوړو فشار،دمغزي وينې بهيدنې،مغزي ترمبوز،مغزي فلج خطر يې ډېريږي يا يې په زړه کي دوينې دغوټه کيدلو خطر شتون پيداکوي.

پوهان وايي:دشکري يا غوړي ډېرې پېښې ورسته دانسان درسخت په غوسه کيدلو يا ډېر هيجاني کيدلو ورسته پيښيږي،ولي کله چي انسان ته ډېر درد ورځي دهيپوفيز غده يا دغدو ملکه دډېر چربی غوښتنه کوي او اينې ته امر کوي ترڅو هغې ته دخوړي،قند ډېر برخه ورسوي،اينه يې امر منې او هغې ته دخوړي لوړه اندازه ورسوي چي په پايله کي يې په وينه کي دشکري،خوړې اندازه لوړيږي او انسان دشکري ناروغی په دويم ټايپ اخته کيږي؛همدا علت دئ چي پوهان وايي:ډېر انسانان دهغوئ درسختې غوسې ورسته دشکري په ناروغی اخته کيږي.

همدارنګه ډېره غوسه دوينې دغوړو دډېريدو دوينې درګونو دتنګيدو او دزړه دبيلابيلو ناروغيو په پيښدو لامل کيږي،دکلمو حرکات لږوي،کوم وګړي چي هروخت په غوسه وي په پرلپسي نه حرکت کولو غيري متحرکيدو اخته وي چي په پايله کي يې دهډکو دمغز دخالي کيد او دکلمو دسرطان په ناروغيو اخته کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يؤ بل لوى خطر چي ژر غوسه کيدونکي وګړي ورسره مخ دي هغه دبدن د دفاعي سيستم کمزوري ده چي دياد سيستم په کمزورۍ سره انسان دويروسي او باکتريايي اوسرطاني ناروغيو سره په اسانۍ لاس او ګريوان کيږي،دانسان دبدن دفاعي سيستم دانسان وبدن ته دزيان رسوونکو ميکروبونو او ويرسونو دننوتو او په سرطاني يا يادو ناروغيو داخته کيدو مخنيوى کوي.

نه نوې په سلو کي په ايډز اخته ناروغان په بيلا بيلو سرطانو اخته دي ځکه ايډز ناروغي هغه ناروغي ده چي دانسان معافيتي دفاعي سيستم لمنځه وړي.

داسلام په مبارک دين کي نيک اخلاق لوى ارزښت لري او حضرت محمد صلى الله عليه وسلم دغوسه کيدلو څخه منعه فرمايلي ده: دابوهريرة (ض)څخه روايت سوى دئ چي پيغمبرصلى الله عليه وسلم ته يوڅوک راغلى او ورته يې وويل:ماته نصحت او توصيه وکړه،رسول الله وفرمايل مه په غضب،غوسه کيږه څو ځله يې خپله غوښتنه تکرار کړل رسول الله وفرمايل مه په غضب،غوسه کيږه.

حلم،حوصله يؤ ښه خلق او کړنه ده،ځکه چي که پردې باورو ولرو چي ټولې چاري دالله جل جلاله په سلطه او قدرت کي دي،هرڅه چي الله جل جلاله وغواړي هغه کوي او هرڅه چي پيښيږي الله جل جلاله غوښتي دي او هر هغه څه چي الله جل جلاله ونه غوړي نه پيښيږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله جل جلاله اراده حکمت مطلق ده او حکمت مطلق د خير مطلق اړوند دئ،ښه نو په دې باور سره خپل اراموالی او سکون پيداکړئ او دخپلې سلامتی لارې ځانته هواري کړئ.

توحيد،رحت ،ارامي؛سکون،باور او روغتيا ده.

الله جل جلاله فرمايي.

[سُوْرَةُ الشُّعَرَاء : 78]

الَّذِی خَلَقَنِی فَهُوَ يَهْدِينِ

چي هغه زه پيدا کړي يم، بيا هماغه راته لارښوونه کوي.

[سُوْرَةُ الشُّعَرَاء : 79]

وَالَّذِی هُوَ يُطْعِمُنِی وَيَسْقِينِ

هغه ذات چي ما ته خوراك، څښاك راکوي؛

[سُوْرَةُ الشُّعَرَاء : 80]

وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ

او کله چي ناروغيږم هماغه مي روغوي؛

[سُوْرَةُ الشُّعَرَاء : 81]

وَالَّذِی يُمِيتُنِی ثُمَّ يُحْيِينِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ذات چي مرګ به راکړي او بيا به مي دوهم ځل ژوندی کړي؛

[سُوۡرَةُ الشُّعَرَاء : 82]

وَالَّذِىٓ أَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لِى خَطِيٓـَٔتِى يَوۡمَ الدِّينِ

هغه ذات چي له هغه ښخه هيله لرم چي د جزا په ورځ زما خطا معاف کړي.

## پروخت بيدېدل

قرآنکريم او نبوي احاديث دواړه موږ پر وخت بيديدلو او پروخت را کښينستلو ته رابولي.

الله جل جلاله فرمايي:سُوۡرَةُ النَّبَإِ : 9

وَجَعَلۡنَا نَوۡمَكُمۡ سُبَاتًا

او ستاسي خوب مو د ارام باعث ګرځولي دی؛

***

[اوبيا فرمايي: [سُوۡرَةُ بنىٓ اسرآئيل/الإسرَاء : 78

أَقِمِ الصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ الشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ الَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ الۡفَجۡرِ إِنَّ قُرۡءَانَ الۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودًا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ، د لمر له زوال څخه د شپې تر تږمې پوري قايم کړه، او د سهار قرأت (لمونځ) هم لوله؛ ځکه چي دسهار په قرأت لوستلو (د سهار په لمانځه) شاهدي وهل کيږي.

****

دنبي عليه السلام څخه رويت سوی دئ:

پروردګاره زما پرامت باندي سهارونه مبارک وګرځوي.

دبي بي عايشي (ض) څخه روايت سوی دئ چي رسوالله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:دسهار دوه رکعت لمونځ د دونيا او ما فيها څخه بهتره دي.

د عبدالله بن مسعود څخه نقل سوی دئ چي وي ويل:

رسول الله موږ دماخستن دلمانځه ورسته دويښ پاتي کيدلو،دشپې کښينستلو څخه منعه کړي وو،مګر دشپې کښينستل دپاره دعلم دزده کړې روا دي.

امام بخاري په خپل کتاب کي دعلم دزده کړي لپاره په (شپه کي کښينستلو په باب) کي احاديث په دې اړه ذکر کړي دي،مګر دعلم دزده کړي ماسيوا دشپې درناوخت کښينستل درسول الله دسنتو څخه نه دي،او دعلم دزده کړې پرته بايد دشپې په راتوليدنه کي ګډون ونه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رسوالله زموږ څخه غوښتي دي چي پروخت بيده سو او وختي دخوب راکښينو.**

**پوهان وايي:داوزون ګاز ډېراندازه دلمر راختلو په وخت کي وي او دغه اندازه داوزون دګاز دلمر تر راختلو ورسته لږ او بيا خلاصيږي.**

**يادګاز پر عصبي سيستم جوړونکي اغيزه لري او همدرارنګه دفکري او عضلاتي غوړيدا سبب کيږي،هرڅوک چي دلمر دراختلو په وخت کي بيده وي دورځي په جريان کي به دکهالئ او دبدن دسوستئ احساس کوي.**

**په همدې ډول دماوراءبنفش وړانګو اندازه هم دلمر راختلو په وخت کي ډېره وي يادي وړانګې دانسان پوست د ويټامين ډين جوړولو ته واداره کوي،ويټامي ډي په هډوکو کي دکلسيم دجوړيدو سره مرسته کوي.**

**بيله شکه دلمر راختلو په وخت کي خوب: دهډوکو دضعيفئ لامل کيږي.**

**پروخت دخوبه راکښينستل داوږده يا پرلپسي خوب مخه نيسي ځکه اته ساعته پرلپسي خوب دبدن وده او دزړه ضربان کموي او وينه په سختئ په رګونو کي تيريږي،دويني په رګونو کي دوينې غوړ درګونو پرديوالونو رسوب کوي او دوينې درګونو دتنګئ او دسينې ددرد(انجينا)لامل کيږي.**

**يُو بل اړين ټکی دادئ چي په وينه کي دکورتيزول په نامه هورمون موندل کيږي چي دانسان په بدن کي دانرژئ او قند دډېريدو لامل کيږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ماده دسهار په وخت کي خپل لوړ مقدار ته رسيږي،چي دپښتورګو او نور سيستمونو،اندامونو توان لوړوي،دسهار په وخت کي ددې هورمون درجه شل ته رسيږي چي ورسته درهغه يې اندازه اووه ته راټيټيږي.

ددې پورته مطلب موخه داده چي موږ بايد دالله جل جلاله او دهغه درسول صلی الله عليه وسلم لارښوونو ته په پوره غور پاملرنه وکړو.

## پر راسته اړخ بيدېدل

کله چي انسان دخوب ځای ته ځي بايد پام وکړي چي ښځنګه بيده سي.

ځيني انسانان پړمخي ځيني ستوني ستخ ځيني پر چپه بغل اوځيني پر راسته اړخ بيديږي،هغه چي پړمخي بيديږي دنفستګی احساس کوي:ځکه دملا زور يې پر سږو راځي : دا ډول ويدېدل ښه نه دي.

هغه چي ستوني ستخ بيديږي دپاکی او تودوخي تنظيمونکی سيستم دنده يې دستونزو سره مخ کيږي:په پزه کي دډېرو کوچنيو رګونو لايې دي،کله چي دغه کوچني رګونه پراخ سي دپزې ښځخه ويني بهيږي.

ښه نو کله چي هوا يادو لايو ته ننوزي دوينې سره چي په شريانونو کي روانه ده په اړيکه کي سي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چي دهوا درجه صفر هم وي نو دننوتلو سره سم يې درجه سمدستې 38درجوته ورسيږي چي دا کار دانسان دبدن دتنفس دتودوخي دتنظيموونکي دنده دستونزو سره مخ کوي،**

**ددې سربيره يادې لاېې دچسپيدونکي،ژلاتني مادې لرونکي دي چي سړو ته د خاورو،ګرد دننوتلو څخه مخنيوی کوي،که په هر دليل خاورې،ګردونه او نورې مادې ديادو چسپيدونکي مادي(ګړونګو)سره په تماس کي نه سي: الله جل جلاله په پزه کي وريښتان پيداکړي دي چي يادې مادې وه تنفسي سيستم ته دننوتلو څخه راوګرځوي.**

**بيله شکه دپزې جوړښت داسي سوی دئ چي هوا مناسيبه ګرمه کړې او تنفسي سيستم ته دزيان رسوونکو مادو دننوتلو مخنيوی وکړي،پاکه،تصفيه سوې او مناسبه تودوخه لرونکي هوا سړوته ورسوي .**

**هرکله چي انسان پرمخي پريوزي او دخولې دلارې تنفس وکړي ګواکي ده د دغه اړين سيستم څخه کار وانه خيستئ.**

**ښه نوکه انسان دخولې دلارې ډېر تنفس وکړي څه پيښيږي؟**

**درهرڅه وړاندې په تنفسي ناروغيو:زکام اونور اخته کيږي،خوب کي خرهاري کوي دستوني وچيدل اونورې ستونزي ورته پيښيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرچپه اړخ بيدېدل دهضم ستونزه پيښوي:هغه خواړه چي په دوه يا څلورساعته هضميږي دهضم موده يې شپږو يا اتو ساعتونو ته اوږديږي:ځکه راسته سږې چي نسبت چپه سږي ته لوی دی پرزړه زور راولي او همدارنګه اينه چي لوی غړی دئ ځانته ځوړند حالت غوره کوي،ياني چپه اړخ ته ځړيږي،مګر کله چي انسان پر راسته اړخ بيديږي چپه سږي کوچنی،سپک دئ،اينه چي لوی غړی دئ زور يې دمځکي خواته کيږي او پرمعده يې زور نه راځي: نو دهضم کار چابک کيږي.**

**درسوالله صلی الله عليه وسلم دحديث مفهوم دئ: چي پرمخي بيدېدل الله جل جلاله نه خوښوي.**

**پوه وګړي يؤه خبره کوي او وايي:**

**ستوني ستخ بيدېدل دامرانو،پرمخي بيدېدل دجينياتو،پرچپه اړخ بيدېدل دشتمنو مګر پر راسته اړخ بيديدل دخبرو او پوهانو وګړو خوب دئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوږد یا پرلپسي خوب

نن ورځ رغتیا یي علومو دا په ډاګه کړي ده چي:هغه وګړی چي پرلپسي څوساعتونه پر یوه حالت خوب کوي:دزړه پا ناروغیو داخته کید امکان يې ډېر دئ،ځکه په زړه او رګونو کي يې غوړ،چربي رسوب کوي ځای نیسي او درګونو دکمزورۍ او لمنځه تللو لامل يې کيږي او

رګونويې بیا ددې توناییي نلري چي عضلي يې تغذیه کړي.

په زړه او رګونو کي دوینې دغوړو رسوب دساعتونو پرېؤ ځای پریوتلو څخه هم منځته راتلای سي.

غیري مسلمان پوهان وایي:ورسته درڅلورو یا پنځه ساعته خوب باید يؤ پاو یا دهغه څخه ډېروخت را پورته سو او قدم یا کوم بل تکړښت وکړو،او په دې چار سره په زړه او رګونو کي دچربۍ درسوب څخه ځان لیري وساتو.

موږ باید ورسته در څلور یا پنځه ساعته خوب راکښینو او ولاړسو ځینې حرکات باید سرته ورسوو لکه قدم وهل یا بل کوم ورزش کول،دبیلګې په ډول که دشپې پر یوولس بجې بیده سو باید دسهار پر پنځه بجې دلمانځه لپاره دخوبه راکښینو اودس وکړو دمسجد لورته ولاړسو او لمونځ وکړو يادې کړنې يؤ ښه تکړښت هم دئ،لکه خپل اودس،دمسجد لور ته تلل او لمونځ کول.دابوهریره (ض)څخه روایت سوی دئ چي رسوالله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخترين لمونځ دمنافقانو لپاره دسهار او ماخستن لمونځ دئ؛که چيري پوهيدل چي کوم خير په هغو کي پټ دئ پرڅلور به دهغوئ خواته ځکيدلی.

دیؤبل حديث شريف ديؤې برخې مفهوم دئ چي :هرڅوک چي دسهارلمونځ وکړي دالله جلاله په ذمه او حفاظت کي دئ.

زما مسلمانه وروره! دسهار لمانځه ته په پورته کيدلو ستازړه او رګونو په هغوئ کي دوينې دغوړ درسوب څخه خلاصيږي؛دزړه درد دي ارامېږ ي،روحي سکون درته پيداکيږي،درګونو دتنګيدا څخه ژغورل کيږي.

دغه خبري د هغو پوهانو دي چي هيڅ وخت داسلام داحکامو څخه نه وه خبر او دوئ دا څيرنه کړي چي اوږد خوب دزړه دحرکاتو دناتوانۍ لامل کيږي،زړه داوږده،پرلپسي خوب په وخت کي د50څخه در60ځله غورځيږي او دا چار ددې لامل کيږي چي دزړه او رګونو په دېوالونو کي غوړ رسوب وکړي رګونه تنګ کړي،دانجيانا فکتوريس،دسينې د درد؛ دويني دغوړ دناروغۍ او په پايله کي يې دذهني نا ارامۍ لامل سي.

ښه نو ددې سربيره چي لمونځ يؤ عبادت او الله جلاله ته دنږدې والي لوی عمل،چار دئ دهغه سربيره زموږ دبدن دروغتيا او جوړتيا چار هم دئ.

الله جلاله په قرآنکريم کي فرمايي: سُوۡرَةُ طٰه : 14

(c) ketabton.com: The Digital Library



**إِنَّنِىٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدْنِى وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكْرِىٓ**

**همدا زه الله يم، زما څخه پرته بل خدای نشته، نو ته زما بندګي وکړه او زما د ياد لپاره لمونځ قايم کړه.**

*********

**اسلام کي دټولو ستونزو حل شتون لري،موږ بايد خپلې ټولې چاري دنبوي سنتو او قرآني اياتو په رڼا کي سرته ورسوو.**

## دلمانځه اړيکه دروغتياسره

**دلته ددې خبرې تفصيل ناشونى دئ،مګر موږ به لږ رڼا پر واچوو او دلمانځه اړيکه دروغتياسره پردې خبرې به لږ وږغيږو.**

**لمونځ ددې سربيره چي فرض عبادت دئ،په هغه کي عاجزي او دبدن جوړتيا هم ده.**

**دزړه دتوان او دوينې ګرځيدل په بدن کي لوړ بيايې،دلمونځ کوونکو په منځ کي نادرً د(ستون فقرات) سپاينل کارډ، شمزۍ ناروغۍ پيښږي.**

**همدرنګه دبندونو دالتهاب،واريس،دپښو په وريدونوکي دوينې دغوټه کيدو،په لګن خاسيره کي دوينې دتراکم چي دبواسيرو او درحم دخونريزۍ لامل کيږي:دښه لمونځ کوونکو په منځ کي په کمه اندازه ليدل کيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفستنګي چي په سږو کي دکاربن ډای اوکسایډ دتراکم څخه رامنځته کیږي په لمانځه کولو لږیږي ځکه درکوع او سجدي په حالت کي چي په طبیعي ډول تنفس کول ډېریږي دسږو او زړه دپیاوړتیا لامل کیږي.

په لوړ عمر لرونکو وګړو کي دالزایمر،هیرې ناروغۍ په ښه لمونځ کوونکو وګړو کي لږ لیدل کیږي ځکه دالزایمر ناروغي دمغزو دکم کارۍ څخه پیښیږي او دسجدې په حالت کي طبعً مغزو ته ډېره وینه بهیږي او دمغز دظرفیت دکمیدو څخه مخنیوی کوي.

پوهانو څیړنه کړي ده:هغه وګړی چي سرکښته کړي وینه یې سر کي راټوله سي او ددرګونو دفشار لامل یې سي کله چي ناڅاپه سر پورته کړي بیله ځنډه یې فشار لمنځه ولاړسي،دغه دفشار ډېریدل او لمنځه تلل دهغوۍ مقاومت دفشار پر وړاندي ډېروي،که دلمونځ کوونکو دسر په رګونو کي فشار دروپښت سیماب درجې ته ورسیږي دهغوۍ رګونه یې دزغم توان لري مګر که دبې لمانځه وګړو دسر درګونو فشار اتو درجو ته ورسیږي دمغزو رګونه یې کیدای سي پري سي او دمغزي سکتې لامل یې سي، همدارنګه دښځو درحم ځینې ناروغۍ په ځانګړو تمریناتو رغیږي چي دلمانځه حرکاتو ته ورته دي.

په زرګونو حکمتونه دالله ﷻ په احکامو کي پټ دي!

تازه څیړونو په ډاګه کړي ده چي ځیني سرطاني حجري دانسان ددفاعي سیستم د ناکارۍ څخه چي یاده ناتونې یې د رواني فشار لکبله وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځته راځي،دالله ﷻ توحيد: دخير اوشر پيښنيده دالله ﷻ دلوري ګڼلو باندي کلکه عقيده درلودل موږ ديادو فشارونو څخه ژغوري.

په هرځای کي چي کولی سئ اعلان وکړئ چي:ايمان سراسر نيکمرغي او روغتياده ځکه هغه وخت چي پوه سوې چي اللهﷻ :يؤازنی متصرف،حکيم،عليم،قادر او رحيم دئ:دننه به ارام،سکون پيداکړي،روحي،رواني ستونزې به دې سپکې سي او دبدن دفاعي،ساتونکی سيستم به دې پياوړی سي،ځکه دډېرو سرطاني ژونکو نمو د بدن د دفاعي سيستم دکمزوری لکبله دئ او دهغه کمزوري ډېر وخت دروني فشار له کبله وي،بيله توحيده دالله ﷻ!

بله کوم شی دانسان رواني فشار هغه سي نه رغوي

،الله ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ الشُّعَرَاء : 213

( فَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ)

نو [اې محمده (ص)!] له الله سره کوم معبود مه بله، کنه نو ته به هم له سزا موندونکو څخه شې.

*****

والله اعلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويټا مين ډي اړيكه دلمانځه سره

**ويټامين ډي درپوست لاندي او اينه كي جوړيږي.**

**ويټا مين ډي د كلمو څخه دكلسيم او فاسفورس په جذب كي مرسته كوي يادې دوې مادې په هډوكو كي رسوب كوي او دهډكو دودې لامل كيږي،ويټا مين ډي دجنين په وده كي مرسته كوي،همدارنګه يا ويټامين دپانقراص څخه دانسوليونو په توليد او دپوستكي دژونكو په نمو كي هم خپله ونډه لري.**

**دروغتيا يي علومو پوهان وايي،دلمر دوړانګو څخه دښې او ګټورې استفادې وخت دلمر دراختلو او لويدلو وخت دئ،په همدې خاطر دسهار لمونځ دانسان دروغتيا لپاره خورا ډېر ارزښت لري.**

**هغه وګړي چي دلمر راختلو په وخت كي بيده وي دهډوكو دسوستۍ،كمزورۍ او نورو ناروغيو سره لاس او ګريوان كيږي.**

**دالله جلاله اوامر كه څه هم دهغه دعبادت كولو په مانا دي مګر موږ بايد دالله جلاله په احكامو كي دهغه‌جلاله دپټو حكمتو څخه غافله نه سو،لمونځ نه يوازي يؤ فرض عبادت دئ بلكې زموږ دروغتيا ساتونكى هم دئ،**

**دغه روغتيا يې موضوع،سكالو چي موږ دهغه په اړه خبرې كوو،فكر په كښي كوو دلاندي ايات شريف څخه يې استنباط كيږي چي فرمايي:**
**سُوْرَةُ الكهف : 17**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِى فَجْوَةٍ مِّنْهُ ذَٰلِكَ مِنْ ءَايَٰتِ اللَّهِ مَن يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ وَلِيًّا مُّرْشِدًا

که تا هغوی په ځمڅه کښي ليدلي وای، نو داسي به درته ښکاره شوې وای چي لمر چي کله را خيژي، نو د هغو ځمڅه پرېږدي ښي لوري ته تاوېږي او کله چي پرېوزي، نو له هغو څخه کيڼ لوري ته اوړي، پرېوزي. او هغوی په ځمڅه کښي دننه په يوه پراخ ځای کښي پراته دي. دا د الله له نښانو څخه يوه ده. چا ته چي الله سمه لاره وښيي، همغه سمه لاره موندونکی دی او الله چي څوک بې لاري کړي، د هغه لپاره به ته کوم لاښود سرپرست ونشې موندلای.

***

ښه نو هرڅوک چي دلمرختلومخکي او دلمروليدلو مخکي بيداره وي دماوراء بنفش وړانګو څخه برخمن او ګټه ترينه اخلي،دا اړينه نه ده چي يؤ وګړی دي دلمر دمستقيمو،نيغو وړانګو لاندې و اوسي بلکي په يادو دوو وختونو کي يادې وړانګې خپرېږي او دانسان په بدن کي دويټامين ډي دجوړيدا سره مرسته کوي، ياد ويټا مين دکلمو څخه دکلسيم او فاسفورس دجذب سره مرسته کوي او يادې مادي دهډوکو دکلکوالي ودې او نمو سره مرسته کوونکي مادي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**داوداسه اړيکه دسترګو ددانو،تراخم( ټرېکوما) ناروغۍسره**

**دسترګو ديؤې ناروغۍ په اړه چي ټرېکوما نوميږي په اړه خبر سوم:ياده ناروغي يؤالتهابي ناروغي ده چي دسترګو در زيږمو لاندي داني راخيږي،يؤڅه موده سترګې خاربښت،سوی کوي او په پای کي دړندوالي لامل کيږي،موږ پر ياد سکالو نه ږغيږو بلکي غواړو ديؤې متخصيصي پر مقاله وږغيږو چي په يؤه نړيواله علمي مجله کي خپره سوې ده.**

**ليکواله وايي:په منظم ډول غسل کول او دلمانځه لپاره اودس کول په اسلامي ټولنه کي ديادې خطرناکي ناروغۍ چي په نړۍکي دړندېدو دريم لوی علت شمېرل کيږي دډېرې خپريدني مخه نيولې ده،هغه زياتوي:په نړۍ کي پنځه ميليونه وګړي په يادې ناروغۍ اخته دي،وګړي کولی سي داسلامې طريقي دلمانځه دلومړنې شرط اودس په کولو د ړندېدو څخه ځان وژغوري.**

**په اسلامې ټولنه کي د اودس کولو په سبب ديادې ناروغۍ پيښنې ډېر لږليدل کيږي،ځکه مسلمانان په ورځ کي ډېر تر ډېره پنځه ځله اودس تازه کوي. بايدوپوهيږو ايمان اوباور ولرو چي دغه احکام او اوامر دالله ﷻ دلوري څخه دي او دابه ډېره ساده وي چي اند وکړو چي دالله ﷻ اوامر به يؤازي ديؤې يا دوو ګټو لرونکي وي،دالله ﷻ داحکامو اوامرو ګټې بې شمېره دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نړۍ کي هرکال پنځه ميليونه وګړي دسترګو په ياده ناروغۍ اخته کيږي چي ډېر کم شمېر يې مسلمانان دي ځکه :اسلامي ټولنه کي دپاکۍ چي دايمان دبرخو څخه يؤبرخه ده مسلمانان يې پابنده دي،دا داسلامي،الهي شريعت اعجزه ده په همدې خاطر ځيني پوهان وايي:چي دعبادت او دهغه دپايلې او دګناه او دهغې دپايلې ترمنځ علمي اړيکه شتون لري.

ښه نو انسانان بايد الهي احکام پرځان عملي کړي.اللهﷻفرمايي: سُوۡرَةُ الأحزَاب : 71

يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا

الله به ستاسي عملونه سم کړي او ستاسي له ګناهونه څخه به در تېر شي. هر څوک چي د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي، هغه لوی برياليتوب ترلاسه کړ.

********

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اودس اودهغه روغتیایي ګټې

په یؤځیرنه کي چي دیؤه عربي پوهنتو پروپیسرانو سرته رسولې وه:دا یې ثابت کړې وه:هغه وګړي چي په ورځ کي پنځه واري اودس تازه کوي خپله پزه دباکتریاوو،ویرسونو،ګرز او غبار څخه پاکوي او هغه وګړي چي یاده کړنه سرته نه رسوي خپله پزه دباکتریاوو،ویرسونو،او ګرز څخه نه پاکوي او خپل ځان دیؤلسو نارغي پیښنوونکو باکتریاوو خطر ته ځان په لاس ورکوي.

اودس کول دپښو دګوتو په منځ کي دپرازیټي ناروغیو څخه اودس کوونکی خوندي کوي،همدارنګه پوستکی دچرکینودانو او التهابونو څخه ساتي،دپوستکي دسرطان احتمال راکموي ځکه کیمیاوي مواد مخکي له دي چي په پرپوستکي تراکم وکړي سره را یؤځای سي لمنځه یې وړي،په همدي خاطر دا حقیقت راڅرګند سوی دئ چي په اسلامي هیوادونو کي دپوستکي دسرطان پیښې کمي دي.

داوداسه په وخت کي اندامونه یؤدول مساژ کیږي چي یاده کړنه ددې سره مرسته کوي چي په رګونو کي دوینې بهیدنه ښه فعاله سي او یاد غړي ښه تغذیه سي.

اودس دمرکزی عصبي سیسټم تړل کیدل کموي او ذهن ښه فعاله کوي.

ښه نوتاسو ښه پوهیږئ اسلام دلمانځه دصحت لپاره:دبدن،جامو اوځای پاکي شرط ګرځولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عَنْ أَبِي مَالِكٍ الأَشْعَرِيِّ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (ص): «الطُّهُورُ شَطْرُ الإِيمَانِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلأُ الْمِيزَانَ، وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلآنِ أَوْ: تَمْلأُ مَا بَيْنَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ، وَالصَّلاَةُ نُورٌ، وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ، وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ، وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ، كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو، فَبَايِعٌ نَفْسَهُ: فَمُعْتِقُهَا (أَوْ مُوبِقُهَا». (م/223**

**دحديث شريف ديؤې برخې ژباړه ده:**

**دابي مالک اشعري (رض)څخه روايت سوی دئ چي رسوالله ﷺوفرمايل:پاکي دايمان برخه ده والحمدلله دحسناتو تله ډکوي وسبحان الله والحمدالله دمځکي او آسمان منځ ډکوي اولمونځ نوردئ اوصدقه دليل دئ او صبر روښنايي ده.حديث شريف ادامه لري.هغه شمېرنې چي نړيوال روغتيايي زمان کړي دي دا څرګندوي چي په نړۍ کي دري سوه ميليونه غيرمسلمان وګړي په بدو اوداسي نارغيو اخته دي چي دناپاکۍڅخه ورپيښې سوي دي، مسلمانان چي اودس تازه کوي که پوهيږي يانه ديادو ناروغيو څخه خوندي پاتي سوي دي،ځکه اودس ديادو نارغيو مخ نيوونکی دئ. ښه نوکيدای سي تاسو اودس ددعبادت په نيت وکړئ او دهغه دډېرو ګټو څخه چي تاسو نه ياست ورڅخه خبر برخمن سئ ،ښه نوستاسو چي نه دئ ورتا پام دابسنه کوي چي تاسو دالله ﷻ حکم پرځای کوئ او پر دې عقيده لري چي دالله ﷻ فرمان مطلق خير دئ،نو تاسو به دالله ﷻدفرمانونو دپرځای کيدا ورسته دهغو دډېر ګټو څخه برخمن کيږئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چي انسان دالله ﷻ دلوري پر ښوول سوې لارې ځي:**
**برياليتوب،مصونيت،سعادت،خير او ژغورنې ته به رسيږي،ټولې نيکبختېاني،برياليتوبونه او ژغورنې دالله ﷻ په لاس کي دي،الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ الأحزَاب : 71**

**يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡ  وَمَنۡ يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا**

**الله به ستاسي عملونه سم کړي او ستاسي له ګناهونه څخه به در تېر شي. هر څوك چي د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي، هغه لوی برياليتوب ترلاسه کړ.**

**********

## روژه د الله ﷻ عبادت او روغتيايي ګټې يي

**.پوهان روژه دډېرو ناروغيو مخه نيوونکي او رغوونکي ګڼي**

**ځينې ډېرې زيان لرونکي او ناعلاجه ناروغۍ لکه:دوينې دخوړېې،شکرې لوړيدل،دعصبي رګونو کشيدل،دپښتورګو ناتوانې،دبدن دمالګې تنظيم،دکلمو مزمن التهابونه،دصفرا تيږي او ځينې دپوستکي ناروغۍ..په روژه سره رغيږي. روژه دډېرو نارغيو درملنه کوونکي ده،د روغتيا پالانو په وينا :روژه دروانې روغتيا لامل کيږي،د هرډول بدو عادتونو،خويونو دبيلګې په ډول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنشه يې توکو دکارونې دمعتادئ ښخه انسان که وغواړي په روژه سره ځان خلاصولی سي،که يؤ ښوک دنصوارو،چرسو او سګريټ ښکولو عادت لري ښنګه په روژه کي دهغو ښخه ليري کيږي،همدا نشه کوونکی وګړی کولی سي دروژې په رکم دټول عمر لپاره هم دنشه يې توکو کارونه پريږدي او ځان او خپله روغتيا خوندي وساتي.

انسان په روژه سره خپل هوډ،اراده او اخلاص پیاوړی کوي،ځکه روژه اخلاص او عبادت دئ،په روژه کي دانسان حواس نموکوي:که ښه هم دروژاتې ومخته بيلابيل خورکونه پراته وي مګر روژاتي يې دخوړو هوډ او اراده نه کوي.

دروژې دمادې ګټو دډلې ښخه ځينې يې دادې چي په روژه کي معده،هضمي سيستم،دوينې د دوران سيستم،پښتورګي،زړه او اینه استرحت کوي،که ياد سيستمونه هريؤ دکاره ولويږي دانسان ژوند ډېر تريخ کيږي،که پښتورګي ناڅاپه خپل کار پريږدي دانسان ژوندي پاتې کيدل ناشونی کيږي،همدرنګه کله چي زړه دناتونی سره مخ سي يارګونه تنګ سي انسان ته لويې ستونزې پيښيږي.

روژه د ډېرو هغهو ناروغيو ښخه چي زړه اورګونه پري اخته کيږي،همدارنګه دمعدې،کلمو،اينې،پښتورګو دناروغيو درملنه کوي،بلکي يؤازي دا نه بلکي مخنيوی يې هم کوي. په يؤ مقاله کي دزړه دناروغيو په اړه وايي:دزړه کار،دهغه جوړتيا په معده کي دخوړو د ډول،حجم سره اړيکه لري :ځکه خو رسوالله صلی الله علیه وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او الله ﷻ موږ په خوړو او څښلو کي په ميانه روۍ سره امر کړي يوو، اللهﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ الأعرَاف : 31**

**يٰبَنِىٓ ءَادَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوٓا إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ**

**اې د ادم اولادې! د هر عبادت په وخت کښي په خپله ښکلا سينګار اوسئ او خورئ، څښئ او له حد څخه تېرى مه کوئ. الله، له حده تيري کوونکي نه خوښوي.**

********

**ښه نو هرچا چي په خوراک او څښاک کي ډېرښت کړی وي:دروژې مياشت دهغه لورته راغلل ترڅو دهغه معده،کلمې او وزن اصلاح،سم کړي،هغه تيروتنې چي انسان دکال په دوام کي کړي وي،روژه هغه جبرانوي مګر هغه وخت که انسان دنبوي سنتو پايبنده وي،دروژې مياشت دروغتيا لپاره ګټوره مياشت ده.**

**امام غزالي (رح) داحياء علوم الدينډپه کتاب کي يؤلوی باب دلوږې دبرکتونو په اړه راوړی دئ:هغه وايي:ټوله خيرونه دلوږې په خزانه کي پټ دي،دهغه موخه دډېرې لوږې څخه نه ده بلکي په خوراک اوڅښاک کي دميانه روي يې موخه ده،ځکه ډېر مړتيا ذکاوت لمنځه وړي،دېؤه خوراک سربيره بل خوراک کول داندازې څخه زيات خوراک کول انسان دمعدې،کلمو،وينې،زړه په ناروغيو اخته کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



روژه دروغتيا دنوی کيدو لپاره راځي. روايت سوی دئ(ُصوُموا تَصِحوُا) روژه ونيسئ چي صحت مند واوسئ، دلته د لته دصحت څخه موخه دناروغيو څخه مخنيوئ دئ،ځکه که چيري تاسو ددې مياشتې روژه ونيسئ:خپل بدن دهغو ناروغيو څخه خوندي کوئ چي تاسو دهغو سره د جنګيدا توان نه لرئ.

بايد پام وکړئ چي په روژه کي هم دروژمات او پيشلمي په وخت کي په خوراک کي اعتدال وکړئ:هغه وخت به تاسوته دروژې روغتيايي ګټې ښه رسيدلي وي.

## د ژنيتيک پوهه

رسول الله په ځينو احاديثو کي دژنيتک دعلم قوانين تثبيت او پايلي يې څرګندي کړي دي،

اوس دا موندل سوي ده چي ووم يا القاح سوي حجره داسي ژوونکی دئ چي دهستې او کروموزومونو،چي په هغه کي ژنونه هم شتون لري لرونکی دئ.

د ووم تخمې دژنونو شمېر ډېر زيات دئ،په سپرم کي شته ژنونه د ووم ښځينه هګۍ دژنو نو سره يوځای کيږي او القاح سوی ووم يا ښځينه تخمه هګۍ د سپرمو(نارينه تخمې) دژنونو او ښځينه هګۍ څخه منځته راځي،الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ ٱلدَّهۡر/الإنسَان : 2:

إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَٰهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ انسان له يوې ګډې شوي نطفې څخه پيدا کړ، تر څو چي هغه وازمايو؛ او د دې غرض لپاره موږ هغه اورېدونکي او ليدونکي وګرځاوه

****

دژنيتک دعلم پوهان وايي: دلومړۍ درجې خپلوانو په منځ کي دواده داړيکې ورسته ژنونونه،د سوی شکل پيښې،ناروغی،کمزوري،دبدني ناتوانی پيښې پنځوس سلنه بل نسل ته ليږدوي،په دويمه درجه خپلوانو کي دولس سلنه او په دريمه درجه خپلوان کي ياده سلنه شپږو ته راټيټيږي،دغه علمي پايلي په ضمن کي دسورة نساء د23ايات شريف په تفسير کي پټې سوي دي چي الله ﷻ فرمايي:

[سُوْرَةُ النِّسَاء : 23]

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَٰتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَٰتُكُمْ وَعَمَّٰتُكُمْ وَخَٰلَٰتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ وَأُمَّهَٰتُكُمُ الَّتِىٓ أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ الرَّضَٰعَةِ وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ الَّٰتِى فِى حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ الَّٰتِى دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُوا دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَٰٓئِلُ أَبْنَآئِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَٰبِكُمْ وَأَن تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا

پر تاسي حرامي کړای شوي دي: ستاسي مېندي، لوڼي، خويندي، ترېندي، توړۍ ګاني، وربرې، خورزې او ستاسي هغه مېندي چي تاسي ته يې شيدې درکړي وي، او ستاسي د تي شريکي خويندي او ستاسي د ښځو ميندي (خواښي)، او ستاسي د ښځو هغه لوڼي چي ستاسي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غېړو کښني پالل شوي وي، د هغو مېرمنو لوڼي چي ستاسي ورسره د مېړه مېرمني اړيکه راغلې وي او که (يوازي نکاح ورسره تړل شوې وي او) د مېړه مېرمني تماس مو نه وي نيولی، نو (د هغو په پرېښودو او د هغو له لوڼو سره په نکاح کولو کښني) پر تاسي څه ګناه نشته، او ستاسي د هغو زامنو مېرمني چي ستاسي له پښت څخه وي. او دا هم پر تاسي حرامه ده چي په يوه نکاح کښني دوې خويندي يو ځای کړئ، خو چي مخکي څه شوي هغه شويدي. الله ببښونکی او رحم کوونکی دی؛

*****

ښه نو په څلورمه درجه خپلوانو کي دژنونو دشکلو ليږدونه خورا لږيږي دعمر (رض) څخه روايت سوی دئ (اغتربوا الاتضووا) (دبېګانه ګانو سره ودونه وکړئ ترڅو دنسل دضعف سره مخ نه سئ) ځکه هر څومره چي دليرو، ناپيژانده وګړو څخه خپله ښځه انتخاب کړئ اولادونه به مو پياوړي،دسوی شکله خلاص او دناتوانی څخه ليري وي.

همدارنګه بيا عمر(رض) فرمايي: دډېرو نيژدي خپلوانو سره واده مه کوئ بيله شکه کمزوري،ضعيف اولادونه به منځته راوړئ.

درسول الله ﷺ څخه روايت سوی دئ: دخپل نطفو انتخاب وکړئ:ښځې دخپلو ورڼو او خويندو په ډول اولادونه زيږوي.

وګړو کي دامشهوره ده چي وايي: ماشوم،کوچنی دايی او خاله ته کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعايشې رضي الله عنها څخه روايت سوی دئ چي رسوالله ﷺ وفرمايل،دخپلو نطفو،اولادونو انتخاب وکړئ،ديؤبل سره هم کوفه او ورته سره وده وکړئ.

دنسل اصلاح:يانې داچي داسي نسل منځ ته راسي چي دعقلي،جسمي پلوه پياوړی وي،روغ او سالم وي،دا دجنيتک دعلم پياوړې برخه هم ده.

تاسو پرخپلو اولادونو ډېر حقونه لري او هغوئ هم همدغه رنګه پرتاسو ډېر حقونه لري،لومړی حق يې دادئ چي دهغوئ دمور.. په انتخاب کي نيک چار،عمل ولرئ،دغه لومړئ حق داولاد پر انسان دئ،مخکي تر دي چي يؤ وګړئ خپل دژوند ملګری،ملګرې غوره کړي غوره چي په خپل انتخاب کي ډېر دقيق او ژور اند کوونکی و اوسي،ترڅو دنبوي سنتو سره هم غږی و اوسي نيک، نيکه ديندار،دينداره انتخاب کړې،ددې څخه پرته ماته خورې او ژوند يې تريخ کيږي.

## دجنين پوهنې دعلم اړيکه دنبوي احاديثو سره

يؤ نوی علم دجنين پېژندنې دعلم په اړه شتون لري: چي په رحم کي دجنين دشکل جوړوني،يا دجنين دجوړيدنې څخه خبرې کوي:

په دې ورستيو کلو کي يادې پوهې دپام وړ پرمختګ کړی دئ تردې اندازې پوري چي ډاکټران او پوهان دجنين وده او نمو دبلاربښت په دريمه،څلورم،پنځمه او شپږم اونۍ کي ليدلی،مشاهيده کولی سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادې انځوريزي ليدني دېرمخلتلو التراسواند ماشينونو او نورماشينو په مرسته زموږ پام ځانته را اړوي په تيره بيا په شپږمه اونۍ کي.**

**په شپږمه اونۍ کي موږ څه وينو؟**

**وينو چي پزه او خوله ديؤبل سره ګډ سوي دي او دسترګو سره موښتي دي،لاسونه وينو چي پاړو په شان دي،سر دتنې سره موښتی دئ،دانځور دجنين دبلاربښت په شپږمه اونۍ کي دئ،ديادې اونۍ درپاي ته رسيدا ورسته سر د تنې څخه بيليږي او دسترګو،پزې،غوږو،لاسونو او پښنو جوړښت،شکل ښکاره کيږي،دا ډول انځور دجنين دشپږمې اونۍ په پای کي ځرګنديږي.**

**اونۍ اووه ورځې ده ښه نو که شپږ په اوو کي ضرب کړو دوڅلويښت کيږي.**

**دحديث شريف ديؤې برخې مفهوم دئ: دعبدالله بن مسعود (رض)څخه روايت سوی دی چي رسوالله ﷺ وفرمايل:کله چي دجنين دعمر دوڅلويښت ورځې تيرې سي الله ﷻ يؤ فرشته چي هغه ته شکل ورکړي هغه ته را استوې دهغه غوږونه، سترګې، پوست،غوښه او هډوکي جوړوي ورسته ملائيکه وايي: ښځه يانر دي اوسي خدای چي هرڅه وغواړئ قضا کوي فرشته هم هغه ډول عمل،کار کوي،بيا وايي:دهغه اجل دي څنګه وي؟ الله ﷻ چي هر څه وغواړئ هغه سي وايي ملائيکه يې ليکي،بيا فرشته وايي دهغه روزي دي څنګه وي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ﷻ چي هرڅه وغواړي اراده کوي،فرشته يې ليکي، ورسته ملائيکه دصحيفې او لوحې سره دباندي ځي او دالله ﷻ امر په تمام او کمال سره سرته رسوي.

عَن عَامِرَ بْنَ وَاثِلَةَ حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مسعود رَضِىَ اَللّهُ عَنْهُ يَقُولُ: الشَّقِىُّ مَنْ شَقِىَ فِي بَطْنِ أُمِّهِ، وَالسَّعِيدُ مَنْ وُعِظَ بِغَيْرِهِ، فَأَتَى رَجُلاً مِنْ أَصْحَابِ رسول الله صلى اللَّه عليه وآله وسلم يُقَالُ لَهُ: حُذَيْفَةُ بْنُ أَسِيدٍ الْغِفَارِىُّ، فَحَدَّثَهُ بِذَلِكَ مِنْ قَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ فَقَالَ: وَكَيْفَ يَشْقَى رَجُلٌ بِغَيْرِ عَمَلٍ؟ فَقَالَ لَهُ الرَّجُلُ: أَتَعْجَبُ مِنْ ذَلِكَ؟ فَإِنِّى سَمِعْتُ رسول الله صلى اللَّه عليه وآله وسلم يَقُولُ: «إِذَا مَرَّ بِالنُّطْفَةِ ثِنْتَانِ وَأَرْبَعُونَ لَيْلَةً، بَعَثَ اللَّهُ إِلَيْهَا مَلَكًا، فَصَوَّرَهَا وَخَلَقَ سَمْعَهَا وَبصَرَهَا وَجِلْدَهَا وَلَحْمَهَا وَعِظَامَهَا، ثُمَّ قَالَ: يَا رَبِّ أَذَكَرٌ أَمْ أُنْثَى؟ فَيَقْضِى رَبُّكَ مَا شَاءَ، وَيَكْتُبُ الْمَلَكُ، ثُمَّ يَقُولُ: يَا رَبِّ أَجَلُهُ، فَيَقُولُ رَبُّكَ مَا شَاءَ وَيَكْتُبُ الْمَلَكُ، ثُمَّ يَقُولُ: يَا رَبِّ رِزْقُهُ، فَيَقْضِى رَبُّكَ مَا شَاءَ، وَيَكْتُبُ الْمَلَكُ، ثُمَّ يَخْرُجُ الْمَلَكُ بِالصَّحِيفَةِ فِي يَدِهِ، فَلاَ يَزِيدُ عَلَى مَا أُمِرَ وَلاَ يَنْقُصُ» و زاد فى رواية: أَسَوِىٌّ أَوْ غَيْرُ سَوِىٍّ؟ (فَيَجْعَلُهُ اللَّهُ سَوِيًّا أَوْ غَيْرَ سَوِىٍّ. (م/2645)

وګورئ او دقت وکړئ! هغه انځورونه چي دجنين څخه دشپږمې اونۍ په پای کي يانې در دوڅلويښت ورځو ورسته اخيستل کيږي: څنګه يې درسوالله ﷺ دوينا سره مطابقت او ډوالی پيداکړی دئ.

الله ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ النّجم ٣:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰٓ)**

**دغه (محمد ص) له خپل نفسي خواهش څخه خبري نه کوي؛**

**[سُوۡرَةُ النّجۡم : 4]**

**( إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ)**

**دا (قُرآن) خو يوه وحيي ده چي پر هغه نازليږي**

**********

**والله اعلم**

## دهرې نطفې څخه ماشوم منځته نه راځي

**دحديث شريف مفهوم دئ:درسوالله ﷺ روايت سوی دئ چي وي فرمايل: دهرو اوبو(نطفي)څخه ماشوم دونيا ته نه راځي او هرکله چي الله جلاله دکوم شي پيدا کيدو اراده وکړي هيڅ شی هغه نه سي منعه کولی،را ګرځولی. نن پوهه وايي: د زوجينو(خاوند اوميرمني) ديځای والي په وخت کي دسپرم،نطفو اندازه دري سوه ميليونه وي، هر سپرم د غاړې، تنې، لکی لرونکی وي او په مايع کي غوټه وي چي دهغوئ حرکت آسانه او دهغه څخه خوراک کوي،دغه زيات شمېر دري سوه ميليونه سپرمه،نطفې رحم ته ځي تر څو ښځينه هګی تخمه القاح کړې او دهغوئ څخه يؤ تخمه القاح کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو رسوالله ﷺ څنګه پوهيدئ؟ په کوم پوهنتون کي يې زده کړې کړي وي او دکومې علمې څيړنې څخه يې دا رښتيا موندلي وه؟

ځيني ددغو نطفو،سپرمو څخه درحم پيپ،فولوپين ټيوب ته رسيږي او ددري سوه ميليونو سپرمو څخه چي دمنيو په اوبو کي شتون لري يؤ انتخابيږي،انتخابوي.

دغه سپرم څنګه رحمي پيپ ته ننوځي؟

جالبه داده چي هرکله دغه سپرم دښځينه هګۍ سره ومښلي غشا يې ماتيږي او اره ،اصلي ماده يې چي دسپرم په سر کي په غشا سره پوښلي ده دباندي راوځي دتخمي څخه تغذيه کوي،دتخمې دېوال ويلې کوي او هغې ته ننوځي او ورسته ترهغه تخمې؛ ووم ته ننوتل بنديږي.

دغه هګۍ يؤه حجره ده چي په هغې کي هسته،سايتوپلازم او غشا شتون لري،په سپرم او ووم کي يؤ شی کشف سوی چي پوهان هغه ته ژن وايي،په يؤه نطفه او هګۍ کي څوميليونه ژنه پيژندل سوي دي چي په مالوم وخت کي په حيرانوونکي ډول خپل کار پيل او شکل نيسي.

هر ژن په مالوم وخت کي خپل کار پيلوي: هغه وخت چي ديؤه ځوان ږغ غورس،پنډيږي يا بدليږي يا هغه وخت چي د ږږي وريښتان يې راځي،يا هغه وخت چي دښځو سينې په کار پيل کوي.

ميليونو ژنونو په سپرم او تخمه کي ځای نيولی دئ او ورسته دسپرم او تخمې در يوځای والي په القاح سويه هګۍ کي ويشل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



القاح سويه هګی،تخمه په سلو برخو ويشل کيږي او دخپلې لاري درحمې پيپ،فولوپين ټيوب څخه رحم ته رسيږي، په دغه سکالو دنطفي شتون ته په رحم کي: يۇ ځانګړی علم پوهه دجنين پوهني،جنين پيژندني په نامه شتون لري: چي ورځې،اونی او مياشتې دهغه دتفسير او څيړنې لپاره بسنه نه کوي.

الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ ٱلدَّهۡر/الإنسَان : 2

إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَٰنَ مِنْ نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَٰهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا

موږ انسان له يوې ګډې شوي نطفې څخه پيدا کړ، تر څو چي هغه وازمايو؛ او د دې غرض لپاره موږ هغه اورېدونکي او ليدونکي وګرځاوه.

****

والله اعلم

## انسان دځشي څخه پيداکيږي؟

سُوۡرَةُ المؤمنون

ثُمَّ جَعَلْنَٰهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ

بيا مو هغه په يو محفوظ ځای (رحم) کښي په څڅېدلي څاڅکي (نطفې) تبديل کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اتلسمه پيړۍ کي چي غربيان دپوهې لورته په ستنيدو وه او ورسته درهغه چي ميکروسکوپ جوړ سو،پوهانو داسي اند کوئ چي انسان يؤازي د نر دسپرم،نطفي څخه منځته راځي، ورسته ياده نظريه لمنځه ولاړل او خپل ځای يې بلې نظريي ته پريښودئ چي انسان يوازي دښځي د تخمې څخه منځته راځي او دنر نطفه يؤازي دښځينه تخمې د خوځښت را وستلو لپاره ده،پوهان په اولسمه او اتلسمه پيړۍ کي دبيلا بيلو نظريو او فريضيو په منځ کي بند پاته وه،مګر:څورلس سوه کاله مخکي درسوالله ﷺ څخه پوښتنه سوې وه :چي انسان دڅه شي څخه پيداکيږي،ځواب يې فرمايلی وو چي يا د ځواب دهغه ﷺ دعمده دلايلو څخه دنبوت شميرل کيږي. دحديث شريف مفهوم دئ:

دعبدالله بن مسعود(رض) څخه روايت سوی دئ چي رسوالله ﷺ دخپلو يارانو سره په خبرو اخته وو يؤ يهودي وګړی درسوالله ﷺ دڅنګه څخه تيريدئ،قريشو وويل چي اې يهودي! محمد، ﷺ دا دعوه کوي چي هغه پيغمبر دئ،يهودي وويل زه غواړم دهغه څخه پوښتنه وکړم چي بيله پيغمبره بل څوک په هفه نه پوهيږي، دپيغمبر خواته راغلی او وي ويل اې محمد!انسان دڅه شي څخه پيداکيږي،وي فرمايل اې يهودي د ښځېنه نطفي او نارينه نطفي دواړو څخه پيداکيږي، مګر دنارينه نطفه غليظه،ختړه ده چي دهغې څخه هډوکي او عصب پيداکيږي مګر دښځينه نطفه نرۍ ده چي دهغې څخه غوښه جوړيږي،يهودي کس ولاړ سو او وي ويل: ستا څخه مخکي پيغمبر هم همداسي ويل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوسنۍ پوهه هم دې ته اشاره کوي چي: په يؤه انزال کي دري سوه ميليونه سپرمه دنر څخه وځې او يؤازي يؤ سپرم تلقيح کيږي.**

**دابوسعيد ُخدري (رض)څخه روايت سوی دئ،چي رسوالله وفرمايل دحديث شريف مفهوم دئ : دهرو اوبو(نطفي)څخه ماشوم دونيا ته نه راځي او هرکله چي الله ﷻدکوم شي پيدا کيدو اراده وکړي هيڅ شی هغه نه سي منعه کولی،را ګرځولی.**

**آيا محمدﷺ دالله ﷻ دلوري نه دئ را ستول سوی؟**

**آيا دنن ورځې لاسته راوړنې ددې ستري ريښتيا لپاره بسنه نه کوي؟**

**:يؤبل ديادولو وړتکی دادئ چي اللهﷻ فرمايي**

**[سُوْرَةُ المؤمنون : 12-13]**

**( وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَٰنَ مِنْ سُلَٰلَةٍ مِنْ طِينٍ )**

**بېشکه، موږ انسان له خالصي نرۍ خټي څخه جوړ کړ؛**

**( ثُمَّ جَعَلْنَٰهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ)**

**بيا مو هغه په يو محفوظ ځای (رحم) کښي په څڅبدلي ځاڅکي (نطفې) تبديل کړ؛**

***********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مګر جالبه داده چي ولې رحم قرار نومول سوی دئ؟**

**ځکه چي رحم ژلاتني،چسپيدونکي ماده ترشح کوي چي هرکله تخمه تلقيح سي د رحم لوري ته راسي او دهغه پر ديوال ومښلي، رحم دزيکوټ داسقرار،ارام ځای دئ نه دهغه څخه دتېريدني،تښتيدنې.**

**د تصور څخه ډېر دويني رګونه په هغه کي شتون لري: چي ټوله دجنين،زيکوټ دتغذيي لپاره وينه وړاندې کوي ترڅو جنين په چټکئ سره نمو،وده وکړې، بله ديادولو وړ خبره داده چي جنين په يؤه نازکه پرده(آمنيون) کي وي،په هغه انځورونو کي چي دجنين څخه اخيستل سوي دي جنين په ياده نازکه پرده کي ليدل سوی چي درحم لوړ لورته ځړول سوی وي او درحم د ديوالونو سره ټکر نه کوي،ددې سرېيره يؤډول مايع دجنين ټولې خوا وي نيولي وي چي دټولو پيښيدونکو وهنو څخه جنين خوندي پاته سي،ديادې مايع اندازه په دريمه مياشت کي پنځوس ملي ليټره او اخري مياشت کي زر ملي ليټرو ته رسيږي .جالبه**

**داده چي ټوله رحم دښځې په لګن کي په بندونو سره دلګن لورته ځړيږي،دغه ټولې څرګندونې په لاندي آيات شريف راغلي دي: قرآن فرمايي**

**[سُوْرَةُ المؤمنون : 13] ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ**

**بيا مو هغه په يو محفوظ ځای (رحم) کښي په څڅېدلي څاڅکي (نطفې) تبديل کړ؛**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دهډوکو او مفصلونو ځيني ډاکټران وايي: دښځې دلګن هډوکې دبشر په ډول کي کلک،سخت هډوکي دي او دغه کلکوالی يې دجنين ساتنې لپاره دئ ياني ياد هډوکي په ښه ډول جنين دوهلو ضربو څخه ساتي، الله جل جلاله فرمايي:**

**[سُوۡرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 53]**

**سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلۡءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ أَوَلَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيدٌ**

**ډېر ژر به موږ دوی ته خپلي نښاني په افاقو (هيوادونو) کښي هم وښيو او د دوی پخپلو نفسونو کښي هم؛ تر دې پوري چي دوی ته دا خبره څرګنده شی چي دغه قُرآن په رښتيا سره پر حق دی. ايا دا خبره کافي نه ده چي ستا رب پر هر څه شاهد دی؟**

**********

**ياني دا چي دا قرآن د الله جل جلاله کلام او تل پاتې معجزه ده، هرڅومره چي پوهه پرمختګ وکړي يؤ لور دلورو څخه دعلمي معجزو څخه به يې څرګنديږي.**

**والله اعلم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دبلاربښت دري ګونې پړاونه

الله جل فرمايي سُوْرَةُ البَقَرَة : 234

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِىٓ أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ

ستاسي څخه چي څوك ومري او كونډي يې پاتي شي، نو هغوی دي پر خپل ځان څلور مياشتي او لس ورځي (په عدت كي) تيري كړي، بيا چي كله يې عدت پوره شي، نو د خپلو شخصي چارو په اړه د هغو خپله خوښه ده، په ښه توګه چي څه كوي ودې كړي، پر تاسي څه مسئوليت نشته. الله ستاسي ټولو له كړنو څخه خبر دی.

*****

انسان دياد دقيق او پرځای شمېر په ليدلو په حيرت كي لويږي: څلو مياشتې او لس ورځې! ولې د څلور مياشتو،پنځو مياشتو،شپږو مياشتو،دوو يا درو مياشتو يادونه ونه سول؟

ډاكټران وايي: بلاربه،حمله ښځه دري پړاونه تيروي:

لومړی پړو دشک پړاو دئ چي په ياد پړاو کي دښځې مياشتنی ناروغي؛عدت بنديږي او دښځې دمياشتنی ناروغۍ وركيدا دښځې دبلاربښت يؤه نښه ده، مګر دانښه دپوره باور وړ نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې وختونه ښځينه مياشتنۍ ناروغي، حيض د بلاربښت څخه ماسيوا هم بنديږي چي علتونه يې ځو دانې دي لکه ښځې ته روحي ستونزې پيدا کيدل،هورمونې بدلونونه،زياته ناتواني او دښځينه تناسلي سيستم بيلا بيلې ناروغۍ،ياد ټول علتونه دښځينه مياشتني عدت دبنديدا،قطعه کيدو لامل کيږي نو دمياشتني عدت بنديدل پريکړنده او دليل دبلاربښت نه دئ.

دشک دپړاو ورسته يؤ بل پړاو پيل کيږي چي په هغه کي حمله ښځو ته ځيني نارحتۍ پيښيږي لکه: دمعدې ستونزې؛زړه بدى،خوا ګرځى،سرګښتي، تروو يا خوږو شيانو ته ډېره شوق کيدل:

عام وګړي دغه حالت ته په سيميزه لهجه اجايي وايي،دياد پړاو په وخت کي هم ګمان کيږي چي ښځه حمله ده، آيا دا حالت دبلاربښت بيله شکه دليل کيداى سي؟

بياهم ځواب منفي دئ:

ولې چي دا غيري نارمل حالتونه ځيني وخت بيله حمله هم کيداى سي پيښ سي مګر ورسته در 126ورځو يانې درځلور مياشتو او لسو ورځو ورسته هغه مياشت چي قرآنکريم يې يادونه کړي ده: دجنين زړه په تپيدو غورځيدو پيل کوي او ښځه دهغه تکان او حرکت حِس کولى سي په دغه پړو کي ښځه دريم پړاو ته دبلاربښت چي ديقين پړاو دئ رسيږي، ښه نو د مور په ګيډه کي دجنين،ماشوم خوځښت دحمل؛دشکه خلاص دليل دئ. قرآنکريم فرمايي: سُوْرَةُ البَقَرَة : 234.

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَٰجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ۖ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِىٓ أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستاسي څخه چي څوك ومري او كونډي يې پاتي شي، نو هغوی دي پر خپل ځان څلور مياشتي او لس ورځي (په عدت کي) تيري كړي، بيا چي كله يې عدت پوره شي، نو د خپلو شخصي چارو په اړه د هغو خپله خوښه ده، په ښه توګه چي څه كوي ودې كړي، پر تاسي څه مسئوليت نشته. الله ستاسي ټولو له كړنو څخه خبر دی.**

*********

**دغه طيبي حقيقتونه دقرآنكريم سره جالب تړاو لري: ورسته در 126 ورځو دجنين زړه حركت،تپيدل،غورځيدل پيلوي او ماشوم دزړه دتپيدا سره خوځښت كوي او ښځه د بلاربښت دريم پړاو ديقين پړاو داخيليږي. والله اعلم**

## د امنيون مايع: دضربو مخه نيوونكي اوبه

**الله جلاله په خپل كتاب كي فرمايي سُوۡرَةُ الزُّمَر : 6**

**خَلَقَكُم مِّنْ نَّفْسٍ وٰحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ الْأَنْعٰمِ ثَمٰنِيَةَ أَزْوٰجٍ يَخْلُقُكُمْ فِى بُطُونِ أُمَّهٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنْ بَعْدِ خَلْقٍ فِى ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ذٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنّٰى تُصْرَفُونَ**

**همغه تاسي د يو ځان (آدم) څخه پيدا كړاست، بيا همغه دی چي له هغه ځان څخه يې د هغه جوړه (حواء) پيداكړه. او هماغه ستاسي لپاره له څارويو څخه اته جوړې پيداكړې. هغه ستاسي د مېندو په ګېډو كي له درو تيارو پردو څخه دننه تاسي ته يو په بل پسي د پيداېښت يوه بڼه دركوي. همدغه الله (چي دغه چاري سرته رسوي) ستاسي رب دی، پاچاهي د هماغه ده. له هغه پرته هيڅ معبود نشته. نو تاسي كوم لوري ته اړول كيږئ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفسيرينو دغه تاريکۍ په بيلا بيلو ډولونو سره تفسير کړي دي،ځينو ويلي دي: دنس، رحم او پردو تاريکۍ دي چي جنين يی را نيولی دئ، همدرنګه ځيني نور وايي: چي جنين په درو پردو کي پوښل سوی دئ.

موږ دلته ديئوې پردې څخه چي هغه ته امنيون پرده،غشاء وايي يادونه کوو ، يادې پردې؛ جنين دهر لوري څخه پوښلی دئ، امنيون پرده يؤه نازکه او ټړلې پرده ده چي په هغې کي دامنيون په نامه مايع شتون لري چي دجنين په وده او نمو کي مرسته کوي، ديادې مايع اندازه په اوومه مياشت کي يؤ نيم ليټر او د ولادت څخه مخکي يې اندازه زرملي ليټرو ته راګرځي.

څوک باور کولی سي که يادې اوبه نه وای جنين دهتمي مرګ څخه نه سوای ژغورل کيدلی.

دغه مايع جنين تغذيه کوي،په هغې کي ترکيبي توکي،قندي توکي او مالګې شتون لري.

دغه مايع دجنين سره دصدماتو او ټکرونو څخه د خونديتابه لپاره مرسته کوي.

ياده مايع د دفضانوردانو د بيريو سره ورتوالی لري داسي چي: دفضا نوردانو دکپسوال او دفضانوردۍ دمرکب ترمنځ دضربو دمخنيوي لپاره مايع ځای پرځای سوي وي، دبيلګې په ډول هرکله چي جنين دکومې ضربې سره مخ سي يانې که جنين د څلور سانتي متره توان درلودونکي ضربي سره مخ سي ياده مايع دغه وهل پر ټولو خواوو،سطحو ويشي او فشار نيم ملي متر ته راکښته کوي، نوي لار دضربو،وهلو دمخنيوي لپاره داده چي: دضربې مخه نيوونکي او د دباندې ځای ترمنځ مايع ځای پرځای کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې مايع نمونه په مغز کي هم موندل کيږي، داسي چي ياده مايع ماغزه دضربو څخه ساتي.

ياده مايع جنين ته د هوسا او ازاد خوځښت اجازه ورکوي، ځکه هغه جسمونه چي په اوبو کي حرکت کوي نسبت هغو جسمونو ته چي په وچه کي خوځښت کوي حرکت يې آسانه وي،

يادې اوبه دهوا د تودوخې دتنظيموونکي ماشين په شان کار کوي،دثابتي تودوخې لرونکي دي،تودوخه يې نه ډېريږي او نه کميږي که هرڅومره هوا دباندي يخه يا ګرمه وي دغه مايع دجنين لپاره تودوخه ثابته ساتې او دهغه د ودې سره مرسته کوي.

همدارنګه ياده ماده جنين دامنيوني غشاء سره دمښليدو څخه ساتي، ځکه که جنين دیادي غشاء سره ومښلي جنين عيب پيداکوي.

ياده ماده ولادت آسانه کوي، څنګه چي ياده مايع دجنين دپيدايښت څخه مخکي تويږي نو دجنين لار دزيان رسونکو موادو لکه ميکروبو څخه پاکوي ترڅو: جنين د ميکروبونو او نورو زيان رسوونکو موادو دزيان څخه خوندي پاته سي.

ټولې يادې سوې خبرې لکه: دجنين دپيدايښت دلارې پاکي، دولادت آساني، دمناسيبې تودوخې برابرول، دجنين آزاد او آسانه خوځښت اودضرباتو،وهلو څخه دجنين خونديتوب ديادې مادې کارونه دي چي هريؤ يې ځانته ځانګړې ارزښت لري.

ښه نو ديادې مايع ځای پرځای کول په رحم کي دالله ﷻ دلويو نښو نښانو څخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآنکريم دغه پړاونه په ترتيب سره ياد کړي دي الله ﷻ فرمايي سُوۡرَةُ الزُّمَر۶

خَلَقَكُم ۭمِّنْ نَّفْسٍ وٰحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِنَ الْأَنْعٰمِ ثَمٰنِيَةَ أَزْوٰجٍ يَخْلُقُكُمْ فِى بُطُونِ أُمَّهٰتِكُمْ خَلْقًا ۭمِّنْ بَعْدِ خَلْقٍ فِى ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ذٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنّٰى تُصْرَفُونَ

همغه تاسي د يو ځان (آدم) څخه پيدا کړاست، بيا همغه دی چي له هغه ځان څخه يې د هغه جوړه (حواء) پيداکړه. او هماغه ستاسي لپاره له څارويو څخه اته جوړې پيداکړې. هغه ستاسي د مېندو په ګېډو کي له درو تيارو پردو څخه دننه تاسي ته يو په بل پسي د پيداېښت يوه بڼه درکوي. همدغه الله (چي دغه چاري سرته رسوي) ستاسي رب دی، پاچاهي د هماغه ده. له هغه پرته هيڅ معبود نشته. نو تاسي کوم لوري ته اړول کيږئ؟

او فرمايي سُوۡرَةُ القِيَامَة : 36---40

( أَيَحْسَبُ الْإِنسٰنُ أَن يُتْرَكَ سُدًى)

ايا انسان دا انګېرلې ده چي په همداسي حال به پرېښودل شي؟

( أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً ۭمِّنْ مَّنِىٍّ يُمْنٰى)

ايا هغه د يو ناچيزه اوبو نطفه نه وُ چي (د ښځي په رحم کي) څڅوله کيږي؟

( ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوّٰى)

بيا هغه د کلکي شوي ويني يوه ټوټه شو، بيا الله د هغه جسم جوړ کړ او د هغه غړي يې برابر کړل؛

( فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنثٰىٓ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا يې د هغه څخه د نارينه او ښځي دوه ډوله پيدا کړل.

أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْـِۧىَ ٱلْمَوْتَىٰ

ايا دغه ذات په دې ندی قادر چي مړه شوي بيا را ژوندي کړي؟ (بلکي قادر دی.

***همدارنګه بيا الله جلاله فرمايي سُوْرَةُ عَبَسَ : 17---21

( قُتِلَ الْإِنسَٰنُ مَآ أَكْفَرَهُۥ)

لعنت (هلاکت) دي پر (کافر) انسان وي، څومره کلك د حق منکر دی.

( مِنْ أَىِّ شَىْءٍ خَلَقَهُۥ)

الله له څه شي څخه دی پيدا کړی دی؟

( مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ )

د نطفې له يو ځاڅکي څخه الله پيدا کړ، بيا يې د ده تقدير وټاکه؛

( ثُمَّ السَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ)

بيا يې د ده لپاره د ژوند لاره اسانه کړه؛

( ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقْبَرَهُۥ)

بيا يې دی مړ کړ او قبر ته يې ورساوه؛

************

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رواني،روحي فشار د بلاربېنت په وخت کي دجنين داختلال لامل کيږي

بيله شکه ډېر رواني او عاطفي فشار چي يؤه ښځه دبلار ببنت يا دهغه څخه په مخکي وخت کي ورسره لاس او گريوان وي: کولی سي جنين ته دزيان رسيدا لامل سي،ځکه جنين ته دزيان رسوونکو کارونو دډلې څخه يؤ يې :دمور روني فشار،خفگان دئ.

مبالغه به نه وي چي ووايوو: سلگونه علمي څېړنې پر دې ټينگار کوي چي روانې،روحي ستونزې دبې شمېره ناروغيو لامل کيږي، روحي روني ستونزي پر الله جل جلاله دکرور ايمان لرلو، دهغه په ښه اطاعت کولو او دهغه په ياد سره لمنځه ځي، مؤمن وگړي دروني ستونزو څخه تر ډېرې اندازې خوندي دي.

پوهان وايي سختې روحي ستونزې لکه:دکار ،دندې دلاسه ورکول،طلاق،دنر يا ښځې بيل والی،مسافرت او نوري روحي ستونزي کيدای سي په جنين،ماشوم کي دغيري طبيعي حالت عيب او اختلال لامل سي لکه: دلب چاک،دماشوم دشونډو مورزاده پري والی، دزړه سوري کيدا اونورو اختلاطاتو لامل سي، ديادې موضوع دلا ښه څرگنديدا په پار وايي: روانې ستونزې پر هغه هورمن چي په وينه کي دخوږې دلوړ تيا او په نسجونو کي داکسيجن دکښته تللو لامل کيږي اغيزه کوي او دوئ دواړه دجنين پر بدني اختلال اغيزه کولی سي.:

دروان اړيکه دبدن سره حيرانوونکي ده: هر کله چي روان روغ وي بدن به هم روغ وي،کله چي روان روغ وي زړه به پياوړي وي او ټوله غړي به هم روغ وي. دروان يؤازنی درملنه داده چي موږ دالله جل جلاله سره دوستي وکړو: هغه ته توبه وباسو په هغه څه چي يې امر کړي يوو هغه سرته ورسو،عمل پري وکړو او دهغه د نبي ﷺ دسنتو پيروي وکړو، هله به بريا ته ورسيږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنين او دهغه احساسات

د پخواني طب په نظر جنين دژونديو څخه: دژوند په کښته پوړ کي ځای درلودئ، دطب پخوانيو کتابونو دجنين ژوند دلوبيا د دانو سره تشبيه کوئ چي په خاورو کي کرل سوې وي او داوبو په ورسيدا او اړينو موادو باندي راغوړيږي او غټيږي،دوئ دمور په نس،خيټه کي دجنين خوځښت دهغو شيانو ځواب ګڼئ چي پر جنين اغېزه کوي، مګر نوي طب دبيلا بيلو غږ اوريدونکو،انځور اخيستونکو وسيلو په مټ دجنين د بدنې، رواني حالت او چلند په اړه ډېره پوهه لاسته راوړې ده، نني طب حيرانوونکي او جالب رښتيا دجنين په هکله لاسته راوړي دي.

يؤه بلاربه ښځه چي په شپږمه مياشت کي په سيګرېټو اخته سوې وه: ډاکټر دهغې څخه وغوښتل چي څه موده سيګرېټ پريږدي، ورسته يې هغې ته سيګرېټ ورکړ: دسيګرېټ په تش لګولو دجنين دزړه خفګان،اضطراب ماشين ښکاره کړ،دا هغه چاره وه چي جنين لا دشپږو مياشتو عمرلرونکی وو او دمور په نس کي يې دهغې دلوري دسيګرېټ په څکولو دنا ارامۍ احساس وکړ.

هر کله چي مور په رواني ګډوډۍ لکه خفګان يا ژور خفګان باندي اخته سي: ياد حالت يې پر جنين هم اغېزه لري، او دهغه غږي مضطرب کيږي،کله چي مور ارامه او خوشحاله وي جنين هم ارام او خوشحاله وي،جالبه داده چي ماشوم دمورپه خيټه کي دپلار ږغ ته ميل لري، هغه ته غوږ نېسي او ورسته درپيدايښت دغه حالت کي ډېروالی راځي.

هرکله چي مور دخپل ماشوم سره نژديوالی او علاقه ښکاره کړي،مينه ولري ماشوم هم مورته خپله خوښې څرګندوي؛ د ارامۍ احساس کوي او په حرکاتو سره مورته ځواب ورکوي،دجنين ياده چاره دمور زړه حس کولی سي، مګر کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي مور دخپل خيټې دماشوم سره علاقه او مينه ونه لري، په ناخوښۍ سره حمله سوې وي دهغې او جنين ترمنځ اړيکه پري کيږي،جنين دمور څخه دبيلوالي په ژوند چي په هغه کي اضطراب،وحشت او اختلال وي وده کوي، په لومړيو کي صبر کوي او ورسته په پښو سره مور په لغتو وهې،داسي چي دمورولی درناوی هيره وي او سرکښي کوي،ورسته درپيدايښت دمور د تباُنو په نه نيولو شيدې نه روې او دتې څخه پري کيږي، جالبه داده چي دبلې ښځې شيدې روې حتا که دهغه سترګې هم وتړل سي او دمور تی هغه ته وړاندې سي دهغه دنيولو څخه ډډه کوي ځکه په حقيقت کي مور هغه پريښی دئ نه ماشوم هغه، ښه نو دمور په خيټه کي ماشوم رواني ژوندلري او مور هغه حس کولی سي.

ځيني ډاکټران وايي: دمور خوب ځيني وخت ځانګړي ځانګړنې لري: هغه مور چي وختي دخوبه کښيني ماشوم هم دهغې په شان وي،هغه مور چي سهار ناوخته دخوب راکښيني ماشوم به يې هم همدغسي وي، ياني داچي دمور کړنې په جنيني ژوند کي پرماشوم اغېزه کوي.

بل ديادولو وړ ټکی دادئ چي د ولادت په وخت کي دډېره مهربانه خپل شتون د مور سره دولادت په آسانۍ کي مرسته کوي، او دولادت په وخت کي جنين او دهغه مور درحت احساس کوي.

هغه ښځه چي دخپل خيټې دماشوم سره مينه لري او دهغې خاوند دهغې سره دهغې دبلار ښېنت په وخت ښه چلند کوي ياده چاره دجنين پر بدني او روحي حالت ښه اغيزه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دالله جل جلاله حکمتونو ته اند کوو، هغه چارې چي مور ورسره د بلاربښت په وخت کي مخ وي:پر جنين هم اغېزه کوي په داسي حال کي چي لا دمور په رحم کي وي، کله چي مور دالله ﷻ دقانون څخه ليري کېږو او بل چلند په ژوند کې غوره کوو دهغې اغيزه زمور دماشومانو پر روغتيا،روان،وده باندي هم اغيزه کوي. والله اعلم**

==========================================

# د مور شيدې

**ډاکټران وايي: دمور شيدې ډېرې جالبې او حيرانوونکي دي:که دنړيوالو ټوله پوهه سره راغونډه سي، نه سي کولی دهغوئ جوړښتېزي ځانګړنې درک کړي اولوې فابريکې به هم ونه سي کولی هغوئ جوړي کړې.**

**ښه نو هغه څه چي دپام وړدي دادې چي ماشوم چي الله جل جلاله پيداکړی دئ دمور دشيدو سره مناسب هضمي انزايمونه يې په هغه کي ځای پرځای کړي؛پيداکړي دي،که چيري په ماشوم دغوا تازه يا وچې شيدې خورو؛ ماشوم دهغه دهضم څخه عاجزه کيږي، ډېر پروټينونه،غوړ مواد او ځيني اسيدونه نه سي هضمولی، ديادو موادو په دفعه او تصفيه کي پښتورګي دستونزو سره مخ کيږي، هغه ماشوم چي دغوا شيدې خوري دهغه کلمي د غوړو موادو،ځيني اسيدونو،پروټينونو دهضم توان په پوره ډول نه لري او دهغه دهضم څخه ستړي کيږي، دماشوم دهضم انزايمونه دمور دشيدو سره متناسب دي نه دغوا او نورو شيدو سره، دغوا په شيدو کي څلور ډوله اسيدونه،تېزابونه شتون لري چي دمور په شيدو کي شتون نه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهان وايي: هغه اسيد تېزاب چي دغوا په شيدو کي شتون لري کيداى سي دماشوم دنه ودې، دزړه، هوښي ناروغيو،اينې، هضمي او دبيلا بيلو دوام لرونکو ناروغيو لامل سي.

مګر دمور شيدې چي سيده يې ماشوم دمور دتي څخه رؤې دهيڅ ډول ميکروب سره نه مخ کيږي ،دپاکۍ د لهازه خوندې او دباور وړدي کوم زيان دماشوم لپاره نه لري،د غوا او وچو شيدو تودوخه ثابته نه وي، کله يؤه درجه تودوخه لرونکي اوکله بله درجه تودوخه لرونکي وي مګر دمور شيدې دمالومې اندازې تودوخې لرونکي وي، ددې سربيره په ژمې کي دمناسيبې تودوخې لرونکي وي او په دوبې کي نسبتً خونکي وي ،همدارنګه آسانه هضم کيږي: هضم يې ديؤ نيم ساعت څخه ډېر وخت نه نيسې مګر دپوډري شيدو هضم د درو ساعتونو څخه ډېروخت نيسې،هغه ماشوم چي دمور دشيدو څخه تغذيه کيږي دټولو ناروغيو پرووړاندي واکسين کيږي ځکه دمور شيدې د داسي موادو لرونکي دي چي دتنفسي او کلمو دناروغيو لپاره درملنه کوونکي دي، ددې سربيره دمورشيدې کم لګښته دي،

ډېروخت دماشوم تنفسي او دکلمو ناروغۍ دمور په شيدو سره جوړيږي.

دمور په شيدو کي داسي مواد شتون لري چي ميکروبونه پر کلمو دمښليدلو څخه راګرځوې،همدارنګه دميکروبونو دلمنځه وړلو لپاره تېزابي مواد هم په کښي پټ دي،دمور شيدې خوړونکی ماشوم: د ډېرو ناروغيو لګه: وينه لرونکي نسناستې،دماشوم مانو دفلج اونورو ناروغيوڅخه ماشوم څخه خوندي ساتي، ځکه دمور شيدي ماشوم ته ديادو ناروغيو پر وړاندې معافيت ورکوي،همدارنکه دمورشيدې ماشوم دزړه دناروغيو،ذهنې ناروغيو او تغذيه يي ناروغيو څخه ساتي ،دتي څخه دماشوم ژر پري کول ماشوم په رواني،روحي او دچلند دګډوډۍ په ناروغيو اخته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمور شيدې تل په سفر او نه سفر کي دلاس رسي وړ او دماشوم درودلو لپاره تياري وي،ځکه تودوخه يې برابره او پوره مغذي دي، قرآن کريم په دې اړه اشارت لري او فرمايي: سُوۡرَةُ البَلَد : 4--10:

(لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَٰنَ فِى كَبَدٍ)

.په حقيقت کښي موږ انسان په ستونزه او رنځ کښي پيدا کړی دی

(أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ)

ايا هغه دا انګېري چي هيڅوك به پرې برلاس کېدای نشي

(يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا)

په ويار سره وايي: "ما په پنډونو مال برباد کړ.

(أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ)

ايا هغه انګېرلې ده، چي هيچا هغه ونه ليدی؟

( أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ)

ايا موږ هغه ته دوې سترګي نه دي ورکړي،

( وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ)

يوه ژبه او دوې شونډې؟

( وَهَدَيْنَٰهُ النَّجْدَيْنِ)

او دوې څرګندي لاري مو هغه ته و (نه) ښودلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دابن عباس (رض)وايي (النجدين) عبارت دي دتيانو څخه چي دالله جل جلاله دلوري هديه ده ابن کثير513/4

روان پيژندونکي وايي: کله چي ماشوم نړۍ ته راځي: هيڅ ډول درک او تشخيص نه سي کولی، ټولې وړتياوې، مفاهيم،تشخيص دټولنې سره د اړيکې په مرسته لاسته راوړي، قرآن کريم

[سُوۡرَةُ النّحل : 78]

وَاللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنْ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَٰرَ وَالْأَفْـِٔدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ

الله تاسي، ستاسي د ميندو له ګيډو څخه په داسي حالت کښي را وايستلاست چي تاسي په هيڅ نه پوهېدلاست. هغه تاسي ته غوږونه درکړل، سترګي يې درکړي، او باخبره زړونه يې درکړل، ددې لپاره چي تاسي شکر ايستونکي شئ.

*****

دروان پوهانو دنظر پر خلاف،ماشوم ته ځيني شيان يادوي او دهغه زده کړې ته اړتيا نه لري لکه: رودل، که دماشومانو رودل نه وای ياد: په نړۍ کي به انسانانو شتون نه درلودای، همدارنګه ماشوم دمور څخه مهرباني زده کوي او په راتلونکي وخت کي يې خپل شاوخوا ته خپروي. سُوۡرَةُ البَقَرَة : 233.

وَالْوَٰلِدَٰتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَٰدَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُۥ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا لَا تُضَآرَّ وَٰلِدَةٌۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَّهُۥ بِوَلَدِهِۦ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا وَإِنْ أَرَدتُّمْ أَن تَسْتَرْضِعُوٓا أَوْلَٰدَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُم مَّآ ءَاتَيْتُم بِالْمَعْرُوفِ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوم پلار چي دا هيله وي چي د هغه اولاد دي د تي رودني په ټوله موده کي تى ورروي)؛ نو ميندي دي خپلو بچيانو ته پوره دوه کاله تى ورکړي، په دې صورت کي به د ماشوم پلار په ښه توګه هغو ته خوراك او جامې ورکوي، خو داسې نه چي د چا په اوږه د هغه له وس څخه پورته پېټى کېښودل شي، نه دي مور ته له دې امله ازار ورسول شي چي ماشوم د هغې دى، او نه دي پلار له دې امله وکړول شي چي ماشوم د هغه دى. د تي ورکوونکي چي څنګه د ماشوم په پلار دا حق دى، همدا راز د هغه پر وارث هم دى. خو که دواړه خواوي په خپل منځي موافقه او مشوره له تي ببلول غواړي، ددې خبري څه باك نشته؛ او که ستاسي په نظر کي دا وي چي کومه بله ښځه دي ستاسي ماشوم ته تى ورکړي، نو پدې کي هم څه وبال نشته؛ خو په دې شرط چي د تي ورکوونکي سره مو په کومه اُجوره فېصله کړې وي، هغه په ښه توګه اداء کړئ. له الله څخه ووېرېږئ او وپوهېږئ چي تاسي چي څه کوئ، الله هغهويني.

******

ډاکټران هم وايي: لږه موده ماشوم ته دمور دشيدو ورکولو شپږمياشتې ده، پوره او بشپړه موده ماشوم ته دمور دشيدو ورکول پوره دوه کاله ده،

يؤ بل ديادول وړ ټکى دادئ چي که په هر دليل ماشوم ونه سي کولى دخپلې مور دشيدو څخه ګټه واخلي،پوهان په دي باور دي چي غوره ده ماشوم ته شيدې ورکوونکي،دايي پيداسي نه داچي هغه ته دغوا يابل ډول شيدې ورکول سي.

دکوطې او غوا شيدې دمور دشيدو ځاى نه سي نيولى، ډېرو هيوادونو دماشومانو دوچو شيدو جوړونکي فابريکې دې ته اړباسي چي دشيدو پر کوطيو وليکي چي: هيڅ شي دمور دشيدو ځاى نه سي نيولى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يؤه پرمختللې هيواد کي يؤه علمي څېرنه سوي ده،پوهانو په بيلا بيلو ملتونو کي دماشومانو فطري هوښ او ذکاوت څېرلی دئ هغه ماشومان چي دمور شيدې يې ډېرې رودلي وي دهغو ماشومانو څخه ذکي وه چي مصنوعي شيدو باندي تغذيه سوي وه.

دا شيدو ورکړه ماشوم ته الهي لارښوونه ده،ښه نو څه شي بنده منعه کوي چي دالله جل جلاله اطاعت وکړي او څه شي مانع دئ چي هغه مؤمن و اوسي.

## په هډوکو کي اند وکړئ

الله ﷻ فرمايي:سُوْرَةُ البَقَرَة : 259

أَوْ كَالَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْىِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَٱنظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ وَٱنظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِ وَٱنظُرْ إِلَى ٱلْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ

يا خو د مثال په ډول هغه سړي (عُزير (ع) ) ته وګوره چي پر يو کلي تېرېدی چي چتونه يې پر بل مخ نسکور شوي ول. هغه وويل:"دا ودانۍ چي وراني شويدي، دا به الله په څه شان بيا ژوندۍ کوي ( جوړوي) ؟" - نو الله د هغه سا واخيستله او هغه سل کاله مړ پروت ؤ. بيا الله هغه دوهم ځل ژوندی کړ او پوښتنه يې ځني وکړه: "ووايه، څومره وخت پروت وې؟" - هغه وويل: "يوه ورځ يا څو ساعته به پروت وم." - (الله ج) وفرمايل: "سل کلونه درباندې په همدې حالت کښي تېر شويدي، اوس دي په خپلو خوړو، اوبو لږ نظر واچوه چي يو پوڅی بدلون په کښي نه دی راغلی، له بلی خوا خپل خره ته هم وګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(چي آن هډوكي يې هم وراسته شويدي) او دا مو ددې له پاره داسي كړيدي چي موږغواړو تا د خلكو له پاره يوه نښانه وګرځوو. اوس وګوره چي دا د هډوكو پښتې څنګه راپاځوو، په غوښه او پوستكي يې پټوو." - كله چي په دې توګه هغه ته حقيقت په ډاګه څرګند شو، نو ويې ويل: "زه پوهيږم چي الله په هر څه برلاسی دی.**

***********

**پوهان وايي: هډوكي ديؤې اساسي مادې كلسيم دټولګې څخه تركيب سوي دي،مګر دهډكو دجوړښت د تركيباتو توزيع بل ډول ده: هډوكي 85% سلنه دكلسيم او فسفيټ څخه لس سلنه دكلسيم كربناټ دري زرمه برخه يې كلسيم كلورايډ،دوه زرمه برخه يې كلسيم فلورايډ او يؤه پر سلمه برخه يې فسفيټ مګنيزيم څخه جوړ سوي ده، دانسان دبدن 99% سلنه كلسيم په هډكو كي كارول سوی دئ.**

**دكلسيم جذب دكلمو څخه دپارا تيروئيډ غدې په مرسته سرته رسيږي، پارا تيرويډ غدو شمېر څلور داني دئ چي دتائيروډ غدې شات ځای لري دپارا تورمون په نامه هورمون ترشح كوي چي دكلسيم د ډېر والي لامل كيږي، ياد هورمون دويټامين ډي په فعالولو سره په كلمو كي دكلسيم جذب لوړ بيايي، كه ياده كوچنۍ غده كار پريږدي دكلسيم جذب به دكلمو څخه سرته ونه رسيږي يؤ بل ديادولو وړ ټكی دادئ چي دكلسيم؛ دپه كاراچوني لپاره په هډكوكي؛ دويټامين ډي شتون اړين دئ، كه د كوم ماشوم ويټامين ډي پوره نه وي دهډكو د دخالي والي او نرموالي سره مخ كيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هډوکي د ازغو په شان په يؤبل کي سره ننوځي اوکله چي يؤ په بل کي سره ښه ننوتل يو کروړ جسم جوړوي د ورانه هډوکی د250 کيلو ګرامو وزان څخه ډېر دروندوالی زغملی سي،په هډکو کي ډېرې ځانګړنې موندلی سو.

موږ تل ټينګارکوو چي زموږ بدن خپله دالله ﷻ د لويی دنښو نښانو څخه يؤه لويه نښه ده،الله ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ الذَّارِيَات : 21:

وَفِيٓ أَنفُسِكُمْ  أَفَلَا تُبْصِرُونَ

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟

==========================================

# دانسان دبدن اسکليټ

دغه اسکليټ چي انسان ته شکل ورکوي دالله ﷻ دلويو نښو څخه يؤه نښه ده، دانسان اسکليټ د کروړو نسجونو څخه جوړدئ چي دفشار پر وړاندې ډېر دوام او توان لري،دانسان داسکليټ يؤه دنده د اړينو غړو او سيسټمونو ښه ساتنه او خونديتوب دئ .ماغزه چي يؤ اړين سيستم دئ د انسان داسکليټ په جمجمه کي ځاى پرځاى سوي دي،نخاع  چي قطر يې يؤسانتي متر او اوږدوالى يې د40څخه در45سانتي مترو پوري رسيږي، دمغزو يؤه برخه ده چي دملا په تېر کي د ُمهرو په منځ کي ايښودل سوي ده، همدارنګه زړه چي دبدن اړين غړی دئ په پښتيو کي دسينې دقفس په منځ کي ځاى پرځاى سوی دئ، دنسل دتوليد غړی: رحم دلګن په هډوکو کي ځاى لري، دوينې دسرو کروياتو توليدونکي هم دهډوکو په مغز کي ځاى لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چيري دانسان دهډکو ټولګه اسکليټ نه واى انسان به دغوښې او پوست يؤه بې شکله ټولګه واى.

دهډوکو سيستم د دوو سو برخو څخه جوړ سوى دئ چي اساس يې سخت او باندنۍ برخه يې ډېره کروړه ده همدارنګه داخلي برخه يې سوري لرونکي؛ سفنج ډوله جوړښت لري، که دهډوکو دننه برخه د باندنۍ برخې په ډول واى: زموږ دهر يؤه وزن به دهمدې اوسني حالت څلور برابره واى، که اوس دئؤچا دروندوالى 70کيلوګرامه واى، هغه وخت به يې وزن 240کيلو ګرامه واى.

ډاکټران وايي: دهډوکو جوړښت داسي دئ چي د ډېر کمو لوازمو څخه ډېره لوړه پايله ترلاسه سوي ده، ښه نو دسپک وزن او دهغوئ د ډېر مقاومت ترمنځ ښه تعادل شتون لري.

دهغو الوتکو وزن چي 150 ټنه وي دڅلورو ساعتو الوتنې ورسته 150ټنه تيل کاروي، که وزن يې دري سوه ټنه واى دري سوه ټنه تيل به يې کارولى، که زموږ وزن هم د اوس څلور برابره واى زموږ ښکلا به ستونزې درلوداى او د خپل بدن دانرژۍ دپوره کولو لپاره به هم دستونزو سرمخ واى.

جالبه داده چي زموږ هډوکي لمنځه ځي او نوي کيږي: دميانه عمر لرونکي انسان اسکليټ دهغه په ژوند کي پنځه ځله نوى کيږي ياني په هر شپږو يا اوو کالو کي دانسان دهډوکو حجرې،ژونکي نوي کيږي.

پرلپسي خرابيدنه او جوړيدنه چي د هډکو دبيا رغيدنې،جوړيدني سره مرسته کوي دالله جل جلاله دلويو نعمتو د ډلې څخه دي، اند وکړئ که مات سوي هډوکي نه جوړيداى ډېر انسانان به دټول ژوند لپاره معلول واى، دهډکو سوځيدنه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جوړيدنه دآهک،کلسيم اوکسيډ په مرسته کيږي، کله چي ديؤې مور خوړاه ددې مادې څخه بډايه نه وي مصنوعي کلسيم اوکسيډ ته اړتيا پيدا کوي: جنين دمور دهډکو څخه خپل هډوکي جوړوي، داسي هورمونونه شتون لري چي دهډکو جوړيدنه او نه جوړيدنه په مالومه اندازه کي ساتي که ياد هورمونه نه وای انسان به يا ډېر کوچنی يا ډېر غټ وای،په نړۍ کي دکوچني ونې لرونکي انسان قد 55سانتي متره او پنځه کيلو ګرامه وزن لري همدارنګه دنړۍ تر ټولو دنګ انسان 240سانتې متره جګ دئ،دانسان دبدن ډېره وده او نه وده دګروت،دلويدو هورمون سره اړيکه لري.**

**دانسان دبدن دهډکو جوړيدنه،دغضرف بدليدنه په هډوکو دجنيني ژوند څخه پيل کيږي او در اولس کلنۍ يا يؤېشت کلنۍ پوري دوم پيداکوي.**

**دهډوکو په خواکي دعضروفونو پوړ شتون لري چي پوهان هغه علم ته مکانيک پوهه وايي،عضروفونه دضربو،وهلو مخه نيسي؛دملا دفقرو په منځ کي هم دغضروفو ټولګه شتون لري چي دضربو مخه نيسي،تر څو انسان په ارامه ژوند وکړي.**

**يؤبله حيرانوونکي خبره داده چي دبندونو په خوا کي ژلاتينې؛چسپناکه ماده دمفصلونو دخوځښت دآسانۍ په پار ځای پرځای سوې ده**

**په رښتيا چي دانسان په بدن کي دالله جل جلاله دلويوالي ډېرې نښې نښانې شتون لري. سُوۡرَةُ الذّاريَات : 21.**

**وَفِىٓ أَنفُسِكُمۡ ۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ**

**او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په لاسونو کي هډوکي او بندونه

يؤ هغه شی چي د انسان دخالق ﷻ پرلويوالي باندي دلالت کوي هغه دانسان لاسونه دي چي موږ يې لرو، په لاسونو کي پنځه ګوتې دي او هر ګوته دري بنده لري مګر بټه ګوته ددو بندونو څخه جوړه سوي ده، راز همدلته پټ سوی دئ.

که څه هم ډېر وګړي به باور ونه کړي خو هغه پرمختګ چي انسان په هغه وياړي د همدې بټې ګوتې له کبله دئ.

موږ په لاسونو باندي په خورا هوسا ډول ډېر کارکوو، که چيري بټه ګوته نه وای: ټولو ګوتو به دومره ارزښت نه درلودلی، تجريبه يې کړئ بيله بټې ګوتې ليکنه وکړئ يا جامې وغوندئ او يا پريؤه ماشين دبټې ګوتې دکاروني پرته کاروکړئ.. تاسو بيله بټې ګوتې کار وکړئ، دا داﷲﷻ جوړ دئ چي هغه يې کمال ته رسولی دئ، الله ﷻ څومره ښه وايي: سُوْرَةُ النَّمل : 88

وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِىَ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ

نن ته غرونه وينې او ګومان کوې چي ښه کلك ښخ شويدي. خو په هغه وخت کښي به دا د وريځو په څېر الوتونکي وي، دا به د الله د قدرت نښانه وي چي هر شی يې په حکمت سره بر قرار کړيدی. هغه ښه خبر دی چي تاسي څه کوئ.

*******

دبټې ګوتې کروي شکله مفصل،بند هغې ته دډېرې کړيدنې وړتيا وربخښني چي په آسانۍ سره ټولو لورو ته ګرځيدلی سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که يؤ وګړی کمپيوټر ته کښيني او شپږ ساعته کاروکړي: دهغه بتې ګوتې به د څلويښتو کيلومترو دلارې دتګ په اندازه کار کړی وي بيله دې چي ياد وګړی په دې خبره پوه سي.**

**يؤغربي پوه وايي: بتې ګوتې زموږ مخته يؤه حيرانوونکي نړی ايښې ده، موږ ته يې دالله ﷻ ديؤوالي او دلويوالي پيژندنه لاښه په ډاګه کړي ده، ياده ګوته دهډوکو،وريدونو،شريانونو،بندونو او عصبو يؤه ټولګه ده.**

**زموږ په يؤه لاس کي 27هډوکي، 28مفصلونه او 33عضلې شتون لري.**

**دلاس بند اووه هډوکي لري چي لاس ته هر لورته حرکت ورکوي که چير دلاس بند نه وي لاس به کومه ګټه نه درلوداى،که چير دلاس خوځښت يؤه لور ته واى دلاس ډېرو ځانګړونو به شتون نه درلوداى.**

**يؤبله حيرانوونکى شى چي الله ﷻ په لاسونو کي پيداکړى هغه دوينې رسونې دقيق سيستم دئ هو يؤ ډېردقيق سيټم دوريدونو اوشريانونو په لاس کي شتون لري،دوه لوى رګونه دبند پر شاوخوا وينه توې وي ؛پاشي او په دوو،ځروبو،آبشارونو کي ديؤبل سره يؤځاى کيږي.**

**دغه پرمختګ،صنايعو،وسايلو بيله لاسو مانا نه درلودل، الله ﷻ دلاسونو په ورکړي سره انسان ته عزت وربخښلى دئ، لاسونه موږ ته دالله ﷻ دلويى،مهربانى ښه پيژندلو نژدي نښه ده. الله ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ الذّاريَات : 21**

**وَفِيٓ أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ**

**او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عضلات

**کله چي انسان ديؤه ځای څخه بل ځای ته حرکت کوي، يؤ دروند شی پورته کوي او يا يؤبل چار سرته رسوي ددې حرکت او کار راز څه شی دئ؟**

**دغه چاري او راز په عضلاتو کي پټ دئ.**

**کله چي قصاب، غوښه پلورونکي ته ځئ غوښه رانيسئ کومه غوښه چي مو پيرلي ده؛ دغه عضلې دي، عضلې دميليونونو تارونو څخه جوړې سوي دي، دغه هر يؤ تار پر عصبو پای ته رسيدلی دئ او هر وخت چي د مغزو څخه يادو تارونو ته امر راځي دوئ سره را غونجيږي منقبضي کيږي،يانې دا چي شپيته سلنه اوږدوالی يې په خپل ځان کي را لنډيږي او څلويښت سلنه يې پاته کيږي، کله چي ديؤه تار اوږدوالی لس سانتي متره وي د را غونجيدو په وخت کي يې اوږدوالی څلورو سانتي مترو ته را ټيټيږي.**

**عضلې دهډوکو سره مښتي دي او دهغوئ منقبض کيدل دهډکو د خوځښت لامل کيږي، که چيري ياد ځانګړنه الله جل جلاله په عضلو کي نه وای ايښي: انسان به پرمځکه دپراته لرګي په ډول بې خوځښته وای،د انسانانو ارادي خوځښتونه لکه: دسر ګرځول،دلاسونو ښورول،دپښو خوځښت دعضلاتو په مرسته دمغزو په امر سرته رسيږي، هر هډوکی ددو عضلو سره مښتی دئ: يؤه عضله هغه ته راسته بل عضله هغه ته چپه لورته حرکت ورکوي، يؤه عضله هغه راټولوي اوبل عضله هغه خلاصوي، دلته کوم راز شتون لري؟**

**عضلې دعصبو سره په اړيکه کي دي: هر وخت چي ماغزه هغوئ ته دحرکت يا ځواب ورکولو امر وکړي عضله سره را غونجيږي او دهغوئ په را غونجيدنې سره هډوکي هم حرکت کوي او انسان په خوځښت راولي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني وخت تاسو ناست ياست: پام کيږي مو چي ماشوم بخارۍ ته نيژدي کيږي، دهغه لورته ولاړيږي، خطر مو درک او احساس کړ ،ورسته دمغزو دلوري عضلاتو ته پيغام راغلی، عضلاتو حرکت وکړ تاسو دهغه لورته ورغلاست ورسته مو ماشوم په لاسونو سره دبخارۍ څخه ليري کړئ: ياد کار يؤه ډېره پيچلي عمليه ده چي دميليونونو عصبي ژونکو او ميليونونو عضلي تارونو دښه کار ورسته سرته ورسيده، مګر موږ ته زموږ خوځښتونه ساده ښکاري.

پوهان وايي: په هره عضله کي لسګونه ميليونه نسجونه شتون لري او انسان شپږ سوه عضلې لري چي پنځه سوه عضلې يې ارادي اوسل عضلې يې غيري ارادي دي، کله چي ستاسو په کوټه کي تاريکه وي او تاسو ګروپ ولګوئ او خپلو سترګوته په هينداره کي وګورئ وبه وينئ چي ستاسو دسترګو تور کوچنی کيږي، آيا کولی سئ هغه همداسي لکه په تاريکه کي چي پراخ وو وساتئ او دهغه دغونجيدو مخه ونيسئ؟ يا تاسونه سئ کولی.

دسترګې عنبيه دعضلې لرونکي ده او دهغې حرکت ستاسو په اختيارکي نه دئ.

کلمي، سږي، پښتورګي، زړه او نور سيسټمونه دخوځښت په حال کي دي خو تاسو ورڅخه خبر نه ياست،د دالله ﷻ خلقت دئ چي هرشی يې پوره او کمال ته يې رسولی دئ،ولې موږ دهغه ﷻ حکمونه ونه منو؟

که انسان ديؤې مانۍ ديؤه پوړ څخه وه بل پوړ ته وخيږي خپل اويا کيلوګرامه و زن يې دري متر لوړ وړی دئ چي داد يؤنيم آس دمحرکي قوې سره بربره قوه ده.

ښه نو انسان ښايي چي دحرکت،خوړلو، پر لارتللو،اند،فکر کولو په وخت کي بايد دالله ﷻ په اياتونو او دهغه دلويی او يؤالي په نښو نښانو کي اند وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



[سُوۡرَةُ الطّارق : 6--7]

خُلِقَ مِن مَّآءٍ دَافِقٍ

له توپ وهونكو اوبو څخه پيدا كړاي شوى دى؛

يَخۡرُجُ مِنۡ بَيۡنِ الصُّلۡبِ وَالتَّرَآئِبِ

چي د شا او د سينې دهډوكو له منځ څخه راوځي.

[سُوۡرَةُ التين : 4--5]

لَقَدۡ خَلَقۡنَا الۡإِنسَٰنَ فِىٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٍ

په حقيقت كي موږ انسان په ډېره ښه بڼه پېداكړ.

ثُمَّ رَدَدۡنَٰهُ أَسۡفَلَ سَٰفِلِينَ

بيا مو هغه په چپه را اړولو له ټولو لاندينېو څخه لاندي كړ،

*****

دغير مسلمانانو لپاره يؤازي په عضلاتو كي ژور اندكول بسنه كوي چي پر الله جل جلاله ايمان راوړي، كه عضلات نه واى هيڅ حرفه به نه واى،هيڅ جوړښت او رغنيز كار به نه واى سوى، الله جل جلاله دكار وړتيا عضلاتو ته چي د عصبو په امر منقبض كيږي وركړي ده، مګر څنګه خواړه په كار او انرژۍ بدليږي در اوسه لا په دې اړه پوره مالومات شتون نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماغزه او دتمرکز سترنعمت

الله ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ إبراهيم : 34

وَءَاتَٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ إِنَّ الْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ

او هغه ټول هغه څه چي تاسي وغوښتل درکړل. که تاسي وغواړئ چي د الله نعمتونه وشمېرئ؛ نو شمېرلای يې نه شئ. حقيقت دا دی چي انسان ډېر بې انصافه او ناشکره دی.

*****

که موږ خپل ټول ژوند ديؤه نعمت دګټو پر شمېرلو تير کړو: موږ به دياد چار څخه خلاص نه سو، ښه نو چي موږ ديؤه نعمت بې شمېره ګټې نه سو شمېرلی همدغه ډول موږ د الله ﷻ ديؤه نعمت شکر،مننه هم خپل په ټول ژوند کي پای ته نه سو رسولی،تري ناتوانه يوو.

آيا باور کولی سئ چي دانسان په مغزو کي داسي ځانګړني شتون لري چي که يؤه يې هم دکاره ولويږي دانسان ژوند په دوږخ بدلوې؟ ددغو ځانګړونو دېلې څخه يؤه هغه يې پريؤه شي دبشپړ پام راغونډيدل،تمرکز کول دي.

دوې ځانګړني خو ديؤې بلې ضد، تمرکز يانې پره يؤې موضوع،سکالو په يؤه وخت کي فکر،اند کول،دبيلګې په ډول د ږغ دثبتولو يؤه آله دکوټې په کلکين کي د دباندې خواته کښيږدئ او دخپل يؤه خواږه او نژدې ملګري سره پر يؤه اړينه موضوع خبرې وکړئ دا کار ته نيم ساعت دوام ورکړئ، ورسته دهغه څخه وپوښتئ کله چي موږ خبرې کولې دباندې څه خبرې او ږغونه وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بيله شکه وبه وايي: ما څه نه دي اوريدلي؟ اوس غږ ثبتوونکي آله راواخلئ او چالانده يې کړئ،ثبت سوي ږغ کي به د دباندي بيلابيل ږغونه واورئ،ستاسو يادو ږغونو ته پام نه وو، ياني دخبرو په وخت کي مو نه اوريدل، ولې ؟**

**ږغ کوټې ته دننه راغلی دئ دغوږ پردې،سماخ ته ننوتلی دئ او هغه يې په لړزه راوستلې ده، ورسته ترهغه ږغ وه مغزوته استول سوی مګر هغه تاسو نه دئ اوريدلی دغه پيښې ته تمرکز وايي، ياني داچي انسان په يؤه مالوم وخت کي خپل هوښ پريؤې مالومې موضوع متمرکز کوي، پوهانو دغه حالت دبشپړ پام په نوم نومولی دئ، ولې چي ماغزه ټولې دمالوماتو د داخيليدو لارې چي د هغې مالومې موضوع سره اړيکه نه لري بندوي، دغوږونو پردې، سترګې او د احساس ټولې لارې بندوې، ښه نو ټولې لارې ټړل کيږي او يؤازي او يؤازي لار د ځانګړي،مالومې موضوع لپاره پرانيستې پاتي کيږي؛ ماغز يؤازي هغو خاطرو. او اندونو ته د ننوتلو اجازه ورکوي چي ديادې موضوع اړوند وي**

**دغه ته تمر کز يا بشپړ پام وايي.**

**پوهان وايي: ددې سربيره ددې څخه پيچلی حالت هم شتون لري او هغه تل پاتی تمرکز يا بشپړ پام دئ،دبيلګې په ډول هغه ښځه چي شيدې خوړونکی ماشوم لري ډېر ږغونو،شور ماشور په منځ کي دخپل ماشوم دژړا ږغ اوري او بيله ياد ږغه بل ږغ يې نه را بيداره کوي، شونې ده ډېر ږغونه او شور وي مګر هغه بيده وي او په ټولو ږغونه نه راکښيني، مګر دخپل ماشوم دژړا دږغ په اوريدلو دخوبه راکښيني او رابيداره کيږي، ښه نو دا څه راز دئ؟**

**دعلمي لارې دياد راز را سپړل ډېر سخت دي ، دهغې دماشوم د ږغ څخه لوړ او ډېر ږغونه وه چي هغه يې نه کړل را بيداره؟ پوهان وايي: دا يؤبل حالت دئ، په واقيعت کي تل پاتی تمرکز يا بشپړ پام دئ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هميشنى تمرکز په ځينو سکالوګانو،ځينو حالاتو او وختونو کي مخته راځي دبيلګې په ډول: مور دخپل ماشوم په ژړا دخوبه راکښيني،موټر چلوونکى ځينو ځانګړو ږغونو ته ډېر پام کوي او يا يؤ زده کوونکى دشور ماشور،ږغ وږوغ څخه په ډک ټولګى کي خپل ښوونکي ته ښه غوږ نيولى وي او خبرې يې په ښه ډول اورې، دا ټول بشپړ پام،تمرکز دئ چي الله جل جلاله انسان ته ور بخښلى او دهغه په بدن کي يې ايښى دئ.**

**ښه نو برعکس يؤ وګړى چي دږوغ او ږغ څخه په ډکه کارخونه کي کارکوي که چيري دغه ږغ دهغه دوام داره تمرکز جلب کړي دهغه ژوند به د ډېرو دستونزو او کړاونو سره مخ سي.**

**که يؤ جرنده چلوونکى بيده وي او جرنده يې ودريږي اسيوان به دخوبه راکښيني دغه پديدې ته عادت وايي او پوهانو در اوسه ددغو ږغيزو اشارو او مغز ته درسيدو وړاندې د هغو د دريدلو راز نه دئ موندلى.**

**هغه وګړي چي دلويو لارو په خواکي يا دګڼې ګوڼي يا ډېرو ږغونو په منځ کي ژوند کوي،آيا خوب پيژني؟ هغوئ څنګه بيديږي؟**

**په مغزو کي داسي ځانګړنې شتون لري چي ږغ وږوغ،شورماشور نه پريږدي او لمنځه يې وړي يانې دهغه ږغ پرته چي انسان خپل پام هغه ته اړوي نور ږغونه لمنځه وړي اونه پريږدي چي انسان ته تکليف ورسوي، که دغه پديده نه واى انسان به دخورا ډېرو ستونزو سره لاس او ګريوان واى،الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ إبراهيم : 34**

**وَءَاتَٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلۡتُمُوهُۚ وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او هغه ټول هغه څه چي تاسي وغوښتل درکړل. که تاسي وغواړئ چي د الله نعمتونه وشمېرئ؛ نو شمېرلای يې نه شئ. حقيقت دا دی چي انسان ډېر بې انصافه او ناشکره دی.**

*********

**دشمېره ډېر نعمتونو دي لکه: پوهيدنه، خيال،تصور، پلان نيول، په يادول،درکول،احساسول، هوښياري يا تمرکز، دعادت يا ديؤشي بابېزه ګڼل،پرموږ الله جلّ جلاله ډېر نعمتونه لورولي دي او موږ ته ښايي چي دهغه جلّ جلاله اطاعت،بندګي او شکر په ښه ډول ادا کړو.**

## دعصبي حجرو ثبات

**دشخصيت ثبات،پرځای پاته کيدنه هغه نعمت دئ چي هيڅ قيمت نه لري،مګر زموږ هغه ته لږ پام کيږي،زموږ دبدن لوی حجرت او دژونکو ټولګې لکه: نسجونه،عضلي، هډوکي،ټول سيستمونه حتا وريښتان او هر ډول حجرې چي په بدن کي شتون لري هر پنځه يا اووه کاله ورسته نوي کيږي،ښه نو تاسو اووه کاله ورسته يؤبل ډول انسان ياست چي يؤ پخوانۍ حجره مو هم په بدن کي نه ده پاته،هډوکي بدليږي؛پوستکی بدليږي؛وريښتان مو بدلون کوي،دانسان دبدن کم عمر لرونکي حجرې دمعدې اوکلمو حجرې دي چي په هرو اته څلويښتو ساعتونو کي نوې کيږي ترټولو لوی عمر لرونکي ژونکي پنځه يا اووه کاله ورسته نوې کيږي؛بدلون کوي،ښه نو که زموږ عصبي حجرې هم بدلون کولی، نوې کيدای څه به پيښ سوي وای؟**

**زموږ به پوهه،ملکري،اولادونه او ټول يادونه هيرسوي وای،نه به پوهيدای چي څوک مو دوست،څوک مو اولاد او څوک موخپلوان دي، دا دالله جل جلاله لوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نعمت دئ چي زموږ عصبي حجرې بدلون نه کوي،که چیري زموږ عصبي ژونکو بدلون کولی دابه یؤنه جبرانیدونکی چار او زیان وای،که داسي سوي وای انسان به ویلی: او هو زه خوډاکتروم څنګه او ولې مې خپله پوهه او مهارتونه دلاسه ورکړل.**

**دانسان په مغزو کي کوچني بدلونونه هم دانسان شخصیت لمنځه وړي.**

**ښه نو بایدووایو: زموږ په بدن کي دالله جل جلاله بې شمېره نعمتونه دي چي موږ دهغو څخه ناخبره یوو. الله جل جلاله فرمایي: سُوۡرَةُ یُوسُف : 105:**

**وَكَأَيِّن ۢمِّنْ ءَايَةٍ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ**

**په اسمانونو او ځمکه کښي څومره نښانې دي چي پر هغو دوی تېرېږي او یوه ذره پاملرنه ورته نه کوي*****.**

**او بیا فرمایي: سُوۡرَةُ یُوسُف : 106**

**وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِاللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ**

**زیاتره له دوی څخه الله نه مني او که یې مني، خو په دې ډول چي له هغه سره نور شریکوي.**

*********

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماغزه داسي ماده ترشح کوي چي درد لمنځه وړي

پوهانوموندلي ده چي په مغزو کي نشه يي ماده شتون لري کله چي د درد زغم دانسان دتوان څخه ووځي ماغزه ياده ماده ترشح کړي ترڅو د درد احساس لمنځه يؤسي، دا چار دالله جل جلاله درحمت او مهربانی ښکارندوينه کوي.

همدرنګه پوهانو دا هم موندلي دي چي په عصبو کي داسي دروازې هم شتون لري چي مغز ته د درد دننوتلو مخنيوی کوي چي رواني حالت په يادو راګرځول ددروازو په ترلو کي اړينه اغېزه لري،داسي که چيري يؤ انسان دالله جل جلاله په ورکړو پوره خوښ وي، دالله جل جلاله دخوښی موندلو لورته يې ګام اخيستی وي: درد به مغزوته په لږه اندازه ورسيږي.

په تاريخ کي داسي ډېري پيښې يادې سوې دي: څنګه يؤ صحابي چي راسته لاس يې د کــفــارو سره په جنګ کي پري کيږي بيرغ په چپه لاس نيسي، کله چي ياد لاس يې هم پري کيږي په بازو ګانو داسلام بيرغ نيسي مګر درد نه لري، پوهانو دا وموندل چي دمغزو مرکز ته د درد د رسيدا په لاره کي دروازې شتون لري چي درد بايد دهغه څخه تير سي: ځيني وختونه يادې لارې او دروازې ترل کيږي ترڅو درد ومغزو ته ونه رسيږي.

ددې لارو په ترلو کي کي رواني عوامل لکه پرالله جل جلاله باندې رښتنی ايمان لرل ونده لري، کله چي درد دانسان دزغم څخه ډېر سي: مغز نشه ورکوونکي ماده خپروي او د درد احساس په بشپړ ډول لمنځه وړي.

ښه نو کله چي انسان پياوړی وي موخه يې لويه او پاکه وي،هڅه او کوښښ يې الله جل جلاله ته رسيدل وي، دهغو دردونو څخه چي انسان پرمځکه راغورځوي لږ کړيږي او بيله شکه رښتنی ايمان قوه او قدرت دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(دمسلمانانو خليفه ابوبکرصديق(رض) خالد بن وليد(رض**

**دمسلمانودلښکر مشر دآسيا ختيځ ته جنګ ته واستوئ؛**

**خاليد(رض) کومک کوونکی لښکر را وغوښتئ ځکه دُکفارو دلښکر شمېر 130زره او دمسلمانانو دلښکر شمېر يؤازي30زره وو، خاليد (رض) هيله درلودل چي خليفه به هغه ته پنځه يا لس زر کومکي لښکر را واستوي مګر هغه ناڅاپه يؤازي يؤ نفر دقعقاع بن عمرو په نوم وليدئ چي راځي او دځان سريؤ ليک هم لري، خاليد (رض) هغه ته وويل: کومکي لښکر کمه دئ؟قعقاع هغه ته وويل: زه يم! وي ويل ته؟ او ليک يې پرنيستئ، په هغه کي ليکلي وه: دطرفه دابوبکر صديق وطرفه ته دخاليد بن وليد، دالله جل جلاله شکر وايم، هيڅ جالبه نه ده چي يؤ کس مې تاته درواستوئ،په يؤه خداى مي قسم په هغه لښکر کي چي قعقاع بن عمرو شتون ولري هيڅ وخت ماته نه خوري***

**په هغه سخت جنګ کي د برياليتوب کيلي دقعقاع بن عمرو په لاس کي وه، ښه نو يؤ رښتنی ايمان لرونکی وګړی دزرو وګړو سره برابر دئ او زر بې ايمانه وګړي دهغه څخه مخکي نه دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دانسان حافظه

**الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ الذّٰرِيَات : 21**

**وَفِىٓ أَنفُسِكُمْ ۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ**

**او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟**

********

**ټوله وګړي په خپل مغز کي دحافظې په نوم يؤه برخه لري چي دانسان په ژوند کي خورا ډېر ارزښت لري، ځيني پوهان وايي لاندي ايات شريف همدې ته اشاره کوي: سُوۡرَةُ يٰسٓ : 67**

**وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنَٰهُمْ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمْ فَمَا ٱسْتَطَٰعُوا مُضِيًّا وَلَا يَرْجِعُونَ**

**که موږ وغواړو، نو دوی به پر همدې خپل ځای پداسي شان مسخ کړي پريږدو چي نه به د وړاندي تلو وس ولري او نه به د بېرته ستنېدلو.**

**********

**کله چي دکوره ووځئ ځنګه بيرته را ګرځئ؟ هتمن به يې په ادرس پوهيږئ؟ مګر ځنګه يې په ادرس پوهيږئ؟: ځکه هغه ستاسو ياد دئ او په حافظه کي يې ځای سته، تاسو ځنګه يؤشی يؤ ځای بل ځای وړئ، ځنګه ديؤه ځای ځخه بل ځای ته ځئ؟ ځکه: ټول مو په حافظه کي ځای لري او تاسو ته ياد وي په کور کي هم هرڅه چي وغواړئ ځای يې درته مالوم وي، داټوله مالومات چيري خوندي سوي دي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښوونځی کي چي کتاب لولئ او بيا ازموينه ورکوئ، دغه ازموينه څنګه سرته رسوئ؟: دغه ټول مالومات حافظې ته سپارل کيږي، په واقعت کي څوک چي حافظه ونه لري داسي بيلګه لري لکه هيڅ چي شتون ونه لري، زده کړه او يادول دهغه لپاره ناشونی چار دئ. الله جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ يٰسٓ : 67

وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰى مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطٰعُوا مُضِيًّا وَلَا يَرْجِعُونَ

که موږ وغواړو، نو دوی به پر همدې ځيل ځای پداسي شان مسخ کړي پرېږدو چي نه به د وړاندي تلو وس ولري او نه به د بېرته ستنېدلو.

******

په يوې علمي مقالې کي چي دياداښت،حافظې په اړه ليکل سوې ده راغلي دي: کله چي انسان شپيته کاله عمر ولري: په حافظه کي يې دشپيتو ميلياردو په اندازه خبرتياوي، مالومات او انځورونه ذخيره وي، که وغواړو ياد ټول مالومات وليکو په زرګونو جلده کتابونه به تري جوړ سي او دا کتابونه به د داسي مالوماتو لرونکي وي چي موږ به نه پوهيږو چي ياد مالومات دمغزو په کومه برخه کي خوندي سوي وه

داسي نوي نظريي شتون لري چي حافظه په مغزو کي هيڅ ځای نه لري بلکي په رواني او روحي ژوند پوري اړوند کيږي.

ښه نو ټول هغه مالومات چي انسان ته رسيږي: ځيني يې نژدي او د لاس لاندي ځای پرځای کيږي ترڅو داړتيا په وخت کي ژر انسان هغو ته لاس رسی ولري،ځيني نور يې لږليري،ځيني نور مالومات بيا ډېر ليري ځای پرځای کيږي او ځيني داسي مالومات هم وي چي هيڅ نه ذخيره کيږي، کله چي کوم انځور،خبر يا مالومات مغز ته ورسيدل دهغې د ډول پر بنسټ ويشل کيږي،ځيني

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبوئ اړوند وي؛ځيني يې دليدلو اړوند وي؛ځيني يې دڅيهرو اړوند وي،بل ډول يې درنګونو اړوندوي،ځيني يې دعطرونو اوځيني نوريې بيا دليکونو؛نومونو اړوندوي، دا يؤ ډېر دقيق پرځای او ښکلی چار دئ.

پوهان وايي: کله چي غواړو يؤشی وپيژنو حافظه په ډېر چټک،او لږوخت کي دهغې دتوان سره سم عمل کوي، دبيلګې په ډول که کوم چا ته عطر ورکول سي چي مخکي هغه بوی کړي وي: په حافظه،يادښت کي دټولو خوندي سوو؛ بوي يونو سره چي په حافظه کي خوندي کيدلی سي دهغوئ بوی تطبيق او کتل کيږي ترڅو يادښت دا ومونډي چي ياد بوی دڅشي بوی دئ او کومې ځانګړنې لري، ورسته به عطر اخيستونکی وګړی دخپل يادابښت څخه ووايي: دا عطر پلانکی نوم لري او دومره يې بوی دوام کوي، ښه نو يادې چاري په بل هر کار لکه: په ليدلو،اوريدلو،حس کولو،خوند کتلو،دڅيهرو په پيژندلو،دمالوماتو په لوستلو،دشمېرو په لوستلو،دځايونو په پيژندلو، همدغه رکم سرته رسيږي.

د انسان ديادابښت يا حافظې په اړه زموږ سره خورا لږ مالومات شتون لري، داسي حقيقتونه؛رازونه په حافظه کي پټ سوي دي چي عاقلان ورته په تعجب کي دي.

ځيني پوهان وايي: حافظه دايره المعارف ،کتاب غونډ او ژر ژباړه کوونکی دئ، جالبه خو لا داده چي د حافظې ژونکي، حجرات نه ويشل کيږي او لمنځه هم نه ځي دانسان دژوند ترپايه هم هغه لومړنۍ حجرې وي،که وويشل سي يا ومري دانسان په يادښت کي ټوله خوندي سوي مالومات،پوهه،مهارتونه به لمنځه ولاړسي، هغه وخت به يؤه انسان ويلی: زه څلويښت کاله مخکي ډاکټر وم،ما پنځوس کاله دحقوقو په برخه کي کار کړی وو او هغه يؤه څو کاله په صنعت کي مهارتونه لاسته راوړي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دانسان په حافظه،يادابښت کي مهارتونه،بيلابيلې پوهې يؤپر بل وړل کيږي در هغو چي انسان پوره سي، که چيري دکوم چا يادښت لمنځه ولاړ سي په يؤه وار به په هغه څه چي پوهيدئ دلاسه به يې ورکړي.**

**ښنه نو يؤازي اويؤازي دانسان يادابښت يا حافظه لاهم دالله جل جلاله پر عظمت او جلال باندي دلالت کولی سي!**

# دسترګودليدو نظرساتنه

**کله چي نر خپلې ښځې ته ګوري او دويم ځل بيا ورته ګوري، دغه دويم ځل کتل داسي بيلګه لري لکه کوم څوک چي دوسلې ماشه کښيکاږي، ددويم ځل کتلو سره سم جنسي غريضه پاروونکي هورمونونه آزاديږي چي دبدن برخي برخي ته يې اغبزه رسيږي، دغه جنسي هورمونونه دزړه غورځيدا ډيره وي، دبدن لوي رګونه پراخ،ميانه او کوچنې رګونه تنګوي،همدغه رنګه دوينې فشار هم لوړ بيايې، پرستات غدې ته هم رسيږي چي په پايله کي يې دتشو بولو لار وتړل سي او د نارينه دسپينو اوبو مزي لاره خلاصه سي چي روڼ رنګه او لړ سريښناکه ماده ده، در دې ورسته په وينه کي کيمياوي بدلونه راسي او نر په پوره ډول دخپلې ښځې سره دنژديکت پړاو ته داخل سي ترڅو دانسان نسل همداسي پر ځای پاته سي.**

**مګر کله چي انسان دورځې په اوږدو کي خپل سترګې د پرديو ښځو څخه نه اړوي،خپل د سترګو پرليدو برلاسی نه وي څه پيښيږي؟**

**جنسي هورمونه لکه ټستټسرون، دبدن په بيلا بيلو برخوکي دوينې درګونو په مرسته په ګرځيدو پيل کوي، الله جل جلاله فرمايي: سُوْرَةُ النُّور : 30**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ٌقُلْ ِلِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصٰرِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذٰلِكَ أَزْكٰى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ**

**اې پېغمبره (ص)!] مؤمنو نارينه ؤ ته ووايه: چي خپل نظر تر کنټرول لاندي ] وساتي او د خپلو شرم ځايونو ساتنه وکړي. دا د هغو لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده. په باوري توګه، هغوی چي څه کوي الله پرې خبرېږي.**

**********

**پوهان وايي(أَزْكٰى) يانې (اطهر) پاکه همداسي کيداسي دګتې او پاکوونکي په مانا سره وکارول سي، مګر پاکي يا دګناه څخه پاکيدنه يا دناروغيو څخه ليروالی؛ ځکه حذيفه (رض) درسوالله ﷺ څخه روايت کړی چي وي فرمايل: «النظرة سهم مِن سِهام إبليس مسمومةٍ ِمنْ تَركَها مِنْ خوفِ اللّهِ جَلّوعزَّ أثابَهُ اللّهُ اِيمانًا يَجِدُ حلاوتَهُ فى قَلبِهِ**

**يانې نامحرم ته کتل يؤغشی د دزهرجنو غشو څخه دشيطان دئ،هرڅوک چي دالله ﷻدبيرې دهغه څخه پرهيز وکړي،خدای ﷻ يې په بدل کي هغه ته داسي ايمان ورکوي چي خوږوالی يې په زړه کي احساس کړي.(المستدرک 7875)**

**غشی چي هروخت پربدن ولګيږي، زخم رامنځته کوي او کيداسي دبدن هم هغه يؤې برخې ته زيان ورسوي مګر که بيا غشی په زهرو ککړوي دبدن ټولو برخوته زيان رسوي، داسلام پيغمبر ﷺ څورلس نيم سوه کال مخکي ونامحرم ته دکتلو زيانونه راته بيان کړي دي، ښځه نو نامحرم ته کتل د مرميو دډک توپک پر ماشه ګوته کښيکښنلو ته ورته دي چي دهغه په سبب دجنسي غوښتو نو پيل کيږي؛ يانې داچي په بدن کي جنسي غدې دجنسي پيچلو هورمونو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترشح پيل کوي چي دبدن پرتيولو غړو او يا که وواېو پرتيولو حجراتو ډېره اغيزه کوي او بدن دجنسي کړنې لپاره تياره وي، ترڅو دنسل د ډېربښت لپاره خپله دنده سرته ورسوي،دغه غبرگونونه بايد په يؤه مالوم وخت کي صورت ونيسي مگر دهورمونونو آزادي او هروخت گرځيدن په بدن کي څو چنده زيانونه لري.

په يؤه علمي ليکنه کي چي دشلو کالونو څيړونو پايله وه ومې لوستل: لومړی دا جنسي هورمونو په رگونو کي جريان لري، هغه وگړي چي دنامحرمو څخه خپل سترگې نه اړوي په رگونو کي يې ياد هورمونونه په گرځيدا پيل کوي که دا بې حجابه ښځې، ته کتل وي يا فلم او انځور کي بربنډ ښځې نارينه ليدل وي،

يا کومې ښځې ته لاس ورکول يا يؤزي والی وي، په جنسي خبرو اخته کيدل او مجلې لوستل وي، ياده چار رامنځته کولی سي،

زموږ پاک پيغمبر دځانه خبرې نه کوي،مسلمانان يې ونامحرمو ته دکتلو او ښځې يې دباندي ته دوتلو په وخت کي دعطرو وهلو او سينگار څخه منعه کړي دي، همدارنگه يې دنامحرمو سره ديؤزي والي او لاس ورکولو څخه منعه فرمايلي ده، دغه تولې منعي د بې شميره ناروغيو،فساد دخپريدنې؛ پيښيدني دمخنيوي لپاره دي.

اوس ددې موضوع يؤڅه لاښه څرگنديدا ته راځو:کله چي کوبرا مار يؤ انسان وچيچي، انسان دپرلارې تللو وړتيا دلاسه ورکوي؛ ددې خبرې علمي دليل دادئ چي دمار زهر رگونه دهغوئ دزغم څخه ډېر پراخه کوي چي په پايله کي يې دوينې فشار کښته کيږي او دانسان دمړينې لامل کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس وخت کي د کوبرا مارانو دزهر څخه درګونو دپرخې لپاره خورا ښه درمل جوړيږي، ښه نو کله چي دانسان رګونه داندازې څخه ډېر پراخه سي دانسان دمرګ لامل کيږي.

لويو روغتيا پالو جنسي هورمونه زهر نومولي دي، لږه او مالومه اندازه دزهرو درمل او ډېره اندازه دزهرو درد دئ، دزهرو ګرځيدا په بدن کي کومې اغېزې لري؟

لومړی هغه څه چي ددې زهرو يا جنسي هورمونونه د ورځې په جريان کي دډېرې پاريدنې،ترشح او بدن کي ګرځيدنې څخه پيښيږي هغه دبغلونو او دبدن دنورو برخو سخت بوی دئ،ښه نو ترهغه وخت چي موږ دخپلو سترګو پر راګرځولو برپالي نه يوو،سترګې مو ازادې او بې قيده وي، نامحرمو ښځو،بربنډو انځورونو،فلمونو مجلو ته ګورو،نامحرمو ښځو ته لاس ورکوو،خلوط ورسره کوو، جنسي غريضه پارونکي باندارونه کوو: زموږ جنسي هورمونه به زموږ په بدن کي دورځې په اوږدو کي دجريان او ګرځيدنې په حال کي وي، دغه بې وخته او بې اړتيا ګرځيدنه دجنسي هورمونو هغوئ په زهرو بدلوي.

ښه نو جنسي هورمونه چي دزهر څخه ډېر کم نه دي په وينه کي يې ډېر او هروخت ګرځيدنه کيدای سي په ځينو وګړو کي دهغوئ دبغلونو او پښو د ډېر زيات بوي، په ځينو حالاتو کي دځوان دانو،دسر دلږدرد ياهم نيم سري،ميګرين ناروغيو لامل سي؛چي ډاکټرانو دراوسه دهغو دبشپړې درملنې لاره نه ده موندلي،مګر يؤبل شی چي ډېر بيرونکی دئ هغه درد دئ چي دپښو او لاسونو بندونه کي پيښيږي، داسي ښکاري چي ياد هورمونه دمفصلونو دميخ دژلاتنې،چسپناکي مادې څخه تيريږي او ورور دهغوئ دوچيدني خوش کيدنې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورسته دهغوئ د بندونو د دووخوا دیؤبل سره دټکريدني لامل کيږي، کله چي ياده پيښه رامنځته سي په بندونو کي دزغم څخه وتلی درد رامنځته کوي.**

**په غربي ټولونو کي په کم عمر لرونکو کي دورځې په جريان کي په وينه کي دجنسي هورمونو يازهرو پرلپسي ګرځيدنه ډېر کم عمره ځوانان په ياده ناروغي اخته کړي دي.**

**همدرانګه دورځې په اوږدو کي په وينه کي ديادو هورمونونو ګرځيدل، دزړه د دراذا دکميدو،دوينې دګرځيدا دناتوانئ؛ کلکيدو لامل کيږي چي همدغه چاره بيا شريانونو ته زيان رسوي او شريانونو کي رسوب کوي،شريانونونه تنګوي، که ياد هورمونه دبدن يؤې برخې ته ډېر ولاړسي کيدای سي چي دړنديدا،ګوډيدو،ليونتوب،د ياداښت دمنځه تلو او ورته ناروغيو لامل سي، همدارنګه که دورځې په اوږدو کي ياد زهر دانسان په بدن کي دګرځيدا په حال کي وي کيدای سي دژبې دبنديدا او قبض لامل سي چي خپله قبض پنځوسو ناروغيوته لار پرانيزي.**

**ښه نو څوک چي دنامحرمو څخه خپل سترګې نه ساتې،بربنډ انځورونه،مجلې او فلمونه ګوري،نامحرمو ته لاس ورکوي کيدای سي په بيلابيلو ناروغيو مبتلا سي**

**ياد مالومات ما ديؤه عربي ډاکتر دځيرنې دمقالې څخه راواخيستل، رسوالله ﷺ څومره ښه فرمايي:«النظرة سهم مِن سِهام إبليس مسمومةٍ ِمنْ تَركَها مِنْ خوفِ اللَّهِ جَلَّوعزَّ أثابَهُ اللهُ اِيمانًا يَجِدُ حلاوتَهُ فى قَلبِهِ**

**يانې نامحرم ته کتل يؤغشی ددزهرجنو غشو څخه دشيطان دئ،هرڅوک چي دالله جلاله دبيرې دهغه څخه پرهيز وکړي،خدای جلاله يې په بدل کي هغه ته داسي ايمان ورکوي چي خوږوالی يې په زړه کي احساس کړي. المستدرک 7875**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسوالله صلی‌الله علیه‌وسلم دخپل ځانه خبرې نه کوي بلکي هغه وحي دي چي پرهغه نازليږي، الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ النّجۡم : 3--4

(وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوٰىٓ)

دغه (محمد ص) له خپل نفسي خواهش څخه خبري نه کوي؛

( إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحٰى)

دا (قُرآن) خو يوه وحيي ده چي پر هغه نازليږي.****

ناشوني ده يؤشی الله جل جلاله حرام کړي يا يؤشی حلال کړي او دهغه پايله دې لوی قيمت ونه لري، نبکمرغې ده هغه چالره چي دالله جل جلاله حکمونو ته غاړه کښيږدي او بدمرغي ده هغه چالره چي دالله جل جلاله حکمونو ته غاړه نه ږدي، موږ مسلمانان دالله جل جلاله حکمونه دهغوئ دحکمتونو دکشف پرته منو داچي موږ ته دالله جل جلاله دحکمونو حکمتونه څرګنديږي زموږ ايمانونه لا نور را روښانه کوي.

الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ الفَتۡح : 4فرمايي:

هُوَ الَّذِىٓ أَنزَلَ السَّكِينَةَ فِى قُلُوبِ الْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوٓا إِيمٰنًا مَّعَ إِيمٰنِهِمْ ۗ وَلِلَّهِ جُنُودُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا

همغه ذات دی چي د مؤمنانو په زړونو کښي يې ډاډينه واچوله، تر څو چي د خپل ايمان تر څنګ هغوی يو بل ايمان زيات کړي. د اسمانونو او ځمکي ټولي لښکري د الله د قدرت په ولکه کښي دي. او هغه ښه پوه او د ښه حکمت څښتن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دغوږ پرده صماخ

(الله جل جلاله فرمايي: : سُوْرَةُ الذّاريَات : 21 (وَفِىَ أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟

****

دانسان دبدن په غړو کي داسي غړي سته چي کيداى سي موږ يي دومره اړين ونه ګڼو،دغوږ پرده چي ډېره نازکه ده؛ ضخامت يې نيم ملي متر ته نه رسيږي،قطر يې هم 9ملي متره دئ چي ديؤ سانتي متر څخه کمه اندازه کيږي، دهر وګړي په غوږونو کي په ډېر نظم او ځانګړي دقت سره کار کوي؛دغه پوست،پرده دملا دهډوکو په شان کروړه، دنرم او کش خوړونکي پلاستيک په شان ده چي د ږغونو په ليږدونه کي خورا ښه کار سرته رسوي،

که يا ده پرده دکاره ولويږي انسان کوم ږغ نه سي اوريدلی او کنيږي،په همدې خاطر الله جل جلاله ياده پرده دخطرڅخه دخونديتوب لپاره ديؤه کوږ يا پيچلي سوري په منځ کي چي دکوچنۍ ګوتې څخه تنګ دئ ځاى پرځاى کړي ده ترڅو هغې ته کوم زيان ونه رسيږي او سورى نه سي.

لوى خداى ﷻ په خپل حکمت سره دغوږ منځنۍ برخه ديؤه کانال، شيپوراستاش په واسطه دستونې سره مښلولي ده، که چيري دږغ دومره فشار چي دغوږ دپردې دسوري کيدو وړتيا لري غوږ ته ننوزي په پايله کي يې همدومره اندازه فشار دخولې دخوا راځې ترڅو دواړه فشارونه سره برابر سي او په دې ډول سره دغوږ پرده صماخ دپري کيدو؛څيري کيدو څخه خوندي پاته کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی ږغونه ديادې پردې دځيري کيدا لامل کيږي.

دغوږ پرده پر درو هډوکو چي وزن يې دپنځه پنځوس ګرامو او اوږدوالی يې د19ملي مترو څخه ډېر نه دئ تړل سوي ده، ددې درو هډوکو کار ډېر حيرانوونکی دئ: کمزوري او ټيټ ږغونه شل بربره لوړ او لوړ ږغونه ټيټوي، ښه نو يؤ کوچنی سيستم دوه کارونه: دغږونو ټيټول او لوړول پر غاړه لري،بيله شکه دا کار دبشر په توان کي نه دئ او دا دالله ﷻ دعظمت او لويی يؤه نښه ده

ږغ داسي رپا خوځيدنه ده چي دخالي فضأ په خالي ګاه کي ليږدول کيږي، سخته يا تينګه فضأ ږغ په چټکی ځای پرځای کوي ،ږغ دهوا دلارې دغوږ پردې ته رسيږي او دغوږ په پرده کي دهغې ددريو هډوکو،سندان،چکوش،او رکاب دلارې ليږدول کيږي او ورسته دمايع څخه ډک کانال ته انتقاليږي، ښه نو ږغ لومړی دهوا دلارې،ورسته دغوږ دپردې دکلکو جسمونو دلارې او ورسته دمايع دکانال دلارې ځای پرځای کيږي.

۲۵زره داوريدو حجرې په غوږ کي شتون لري او مغزو ته دږغو دښه پيژندنې لپاره پيغام استوي، در اوسه پوهان په دې نه پوهيږي چي غوږونه څنګه دږغونو ترمنځ توپير کوي او هغوئ څنګه ديؤبل څخه بيلوي،ولې کله چي کومه ښيښه ماتيږي ياد ټوپک ټک کيږي يؤدم غورځئ او دنارحتی احساس کوئ او په بدن کي يؤبل ډول احساس کوئ؟

ښه نو بيا کله چي دچينې،سيند يا ځروبې داوبو پوښهاری اويا شورهاری اورې ځان ارام احساسوئ او داوبو ږغ خوند درکوي که څه هم دا ږغ هم لوړ وي،

دا خوشنوونکی ږغ دئ او دا ارم بخښونکی ږغ دئ مګر څنګه دا دواړه جلاجلا پيژنئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څنګه په مبايل کي دخپل ملګري ږغ پيژنئ؟**

**دا په غوږ کي کوم ډول احساس دئ چي ږغونه ذخيره کوي؛څنګه؟**

**دانسان په حافظه کي په سلګونو بلکي په زرګونو بيلابيل ږغونه خوندي کيږي، څنګه؟**

**الله جل جلاله پوهيږي،درنن ورځې غوږ درازونو ډکه کارخونه ده چي الله جل جلاله جوړه کړي ده، دا دغوږونو په اړه دمالوماتو يؤه وړه برخه وه چي ستاسو سره مو شريکه کړه،مګر که په غوږونو کي دنورو ځانګړونو او رازونو څخه خبر سواست بيله شکه به په حيرت کي ولويږئ،**

**دقرآنکريم دعلمي معجزو څخه يؤه لاندي ايات شريف دئ چي الله ﷻ فرمايي:**

**[سُوۡرَةُ ٱلدَّهۡر/الإنسَان : 2]**

**إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَٰهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا**

**موږ انسان له يوې ګډي شوي نطفې څخه پيدا کړ، تر څو چي هغه وازمايو؛ او د دې غرض لپاره موږ هغه اورېدونکي او ليدونکي وګرځاوه.**

********

**په دې ايات شريف کي اوريدل دليدلو څخه مخکي ذکر سوي دي،ولې؟**

**الله ﷻ بل ځای فرمايي: سُوۡرَةُ الأنعَام : 46**

**قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَٰرَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ مَّنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْءَايَٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اې محمده (ص)!] دوی ته ووايه: کله مو پر دې هم فکر کړيدی چي که الله ستاسي ليدنه او اورېدنه درڅخه واخلي او ستاسي زړونه مُهر کړي، نو د الله څخه پرته بل کوم خدای شته چي تاسي ته دا قواوي بېرته درکړای شي؟ وګوره، په څه شان موږ بيا بيا خپلي نښانې دوی ته وړاندي کوو، خو بيا دوی ورڅخه په څه ډول سترګي اړوي.**

**********

**دوه حکمتونه په دي آيات شريف کي سته،دپوهانو په وينا دانسان په ژوند کي غوږ دسترګو څخه اړين دئ: ځکه انسان دخپلو شپږو خواو څخه دراسته اوچپه،شا او مخ،لوړ اوکښته همدارنګه په رڼا او تاريکی،ورځې اوشپې کي ږغونه اوري، بنه نو انسان د ديوالونو دشا څخه هم ږغ اوري او خپل ټوله شاوخوا درخپل پوښښ لاندي را وستای سي، دبيلګې په ډول کله چي انسان په خپله کوټه،خونه کي بيده وي او کوم ږغ يې غوږونو ته ورسيږي، دږغ لوري ته ځي مګر انسان په سترګو باندي يوازي دخپل کوټې چا چاپيره وينې،**

**همدارنګه کله چي کوم څوک موټر چلوي يوازي خپل مخ ته شيان ويني،مګر کله چي دبل لوري ږغ واواري دبيلګې په ډول دشا دلوري دکوم بل موټر ږغ يا دخپل موټر دټير د چاوديدو ږغ واوري ږغ دهغه غوږونو ته رسيږي او په مناسب ځای کي دريږي.**

**دا ديو پوه خبرې وي چي اند کوي ږغ اوريدل دليدلو څخه اړين دي، مګر يوبل ټکی دالله ﷻ په کلام کي سته چي فرمايي: سُوۡرَةُ المُلك : 10**

**( وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِىٓ أَصْحٰبِ السَّعِيرِ)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او هغوی به ووايي: "کاشکي موږ اوربېدلای يا پوهېدلای، نو نن به د دغه تاوجن اور په وړ کسانو کښې شامل نه وای.**

**********

**ولې په دې آيات شريف کي يؤازي غوږ ذکر سوي دئ؟**

**ښه نو کله چي کوم وګړی مور ذاده کوڼ وي: ګونګی به هم وي.**

**هغه وګړی چي اوريدای نه سي نه سي کولی خبرې هم وکړي او هغه وګړی چي نه اوريدلی سي اونه خبرې کولی سي دعقلي ورسته پاتې والي سره به هم لاس او ګريوان وي، مګر هغه وګړي لړ نه دي چي ړانده وه،دي مګر د علم او ادب لوی ستوري وه يا دي،ښه نو هغه وګړي چي دپيدايښت څخه کاڼه وي؛نه سي کولی خبرې وکړي او په واقعت کي به يی فهم هم کم وي.**

**څه رکم چي سترګې په ښه ډول الله جلّ جلاله جوړې کړې دي دغوږونو جوړښت هم دهغه څخه کم نه دئ؛ ځکه الله جلّ جلاله فرمايي :سُوْرَةُ المُلك : 3**

**الَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا مَّا تَرٰى فِى خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِن تَفٰوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرٰى مِن فُطُورٍ**

**هغه ذات چي لاندي باندي اوه اسمانونه يې پيدا کړل؛ (اې کتونکې) ته به د الرحمان په هستونه کښې هيڅ راز نااړوندي او توپير ونه مومې. بيا سترګي واړوه، وګوره، ايا کومه نيمګړتيا دي چيري تر سترګو کيږي!؟**

**********

**ځيني شرکتونه سته چي د دويمې درجې توکي توليدوي او هغوئ ته تجارتې توکي وايي، همدغه رکم لومړۍ درجه توقي په ځانګړو قيمتونو سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



توليدوي؛دغه دوه توليدونه خپل ترمنځ دکيفيت داړخه توپير لري،مګر دالله ﷻ په خلقتونو کي هيڅ توپير نسته،ټوله په سنجيده او حاکيمانه ډول په لوړ کيفيت خلق سوي دي.

غوږونه اوسترګې هريوځپلې دندې لري، انسان په غوږونو حقيقتونه اوري او درک کوي، په سترګو ښکلاوي؛ شيان دهغوئ داندازو او ځانګړونو سره وينې مګر په خوږونو دهغوئ حقيقتونه درک کوي.

پوهانو کشف کړي دي چي: جنين ته دمور په رحم کي دهغه دخلقت په 22مه ورځ دغوږونو اوسترګو ځايونه خلق کيږي او دپيدايښت په وخت کي يې دسترګو شبکيه پوره کيږي او ماشوم کولی سي خپلې سترګې درڼا پر هري سرچينې متمرکزې کړي،يانې هغې ته بشپړپام وکړي، رڼا وويني مګر نه سي کولی شيان ديؤبل څخه بيل يا وپيژني، ددويمې مياشتې په پای کي ماشوم کولی سي دهغه لور ته راتلونکی شی په سترګو وګاري،دڅلورمې مياشتې ورسته رنګونه تشخيص کولی سي،ښه نو دشپږمې مياشتې په پای کي يې دليد حس بشپړه کيږي او عادي ليدل کولی سي.

هو همدغه رکم دمور په رحم کي جنين په 26مه اونۍ کي ياني دجنيني ژوند په شپږمه مياشت کي: ږغونو ته غوږ نيسي، دمور دزړه درزا،درحم ږغ او دکلمو ږغ اوري،

دشپږمې مياشتې په نيمايي کي دجنين د اوريدلو حس پوره کيږي په داسي حال کي چي دليدلو حس يې دپيدايښت څخه ورسته په شپږمه مياشت کي پوره کيږي، دقرآنکريم په 17آياتونو کي اوريدل درليدلو مخکي ذکر سوي دي، مګر په لاندي آيات شريف کي ليدل دراوريدلو مخکي ذکر سوي دي: سُوْرَةُ السَّجدَة : 12:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ**

**کاشکي ته هغه وخت ووينې چي دغه مجرمان ځوړند سر د خپل رب په وړاندي ولاړوي (په هغه وخت کښي به دوی وايي): "اې زموږ ربه! موږ ښه وليدل او وامو ورېدل، اوس موږ بيرته ولېږه، تر څو نېك عمل وکړو، اوس مو باور راغلی دی.**

*********

**پوهان په دې باوردي چي د رڼا تېزوالی دږغ څخه ډېردئ ځکه درڼا تېزوالی په يؤه ثانيه کي دري لکه کيلومترو ته رسيږي مګر دږغ تېزوالی په يؤه ثانيه کي د330مترو څخه ډېر نه دئ؟**

**ښه نو کله چي خبره دپيدايښت سول،دغوږ او سترګې پيدايښت دغوږ يادونه په 17آياتونو کي دسترګو څخه مخکي وسول او کله چي خبره دليدلو او اوريدلو سول سترګه لومړی ذکر سول ځکه سترګې جسم مخکي در دې چي غوږونه ږغ وا وري هغه وينې ځکه خو سترګه درغوږ مخکي سول: سُوْرَةُ السَّجدَة : 12**

**وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ**

**کاشکي ته هغه وخت ووينې چي دغه مجرمان ځوړند سر د خپل رب په وړاندي ولاړوي (په هغه وخت کښي به دوی وايي): "اې زموږ ربه! موږ ښه وليدل او وامو ورېدل، اوس موږ بيرته ولېږه، تر څو نېك عمل وکړو، اوس مو باور راغلی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترټول ښه بيلګه ددې خبرې دپاره تالنده او بريښنا ده،انسان لومړی بريښنا ويني او ورسته دتالندي ږغ اوري، که يو کس زموږ څخه يو څه ليري بوتې ماتوي: موږ وينو چي تبر پر ُکنده ومښتی مګر دتبر دوهلو ږغ يې لږ ورسته اورو

په هغو لږو آياتونو کي چي سترګې دغوږونو څخه مخکي ذکر سوي دي هغه آياتونه دي چي انسانان دعذاب څخه بيروي، يا دکافرانو بيان کوي،په دي آياتونو کي ددې دوو حسونو دپيدايښت،يادهغوئ د دندې بيان ته کوچنی اشاره هم نه ده سوي: الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ الأعرَاف : 179

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالإِنسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ ءَاذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَآ أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَٰفِلُونَ

او دا حقيقت دی چي زياتره پيريان او انسانان مو د دوږخ لپاره پيدا کړيدي. د هغوی زړونه شته، خو فکر ورباندي نه کوي. د هغو سترګي شته، خو څه پرې نه ويني. د هغوی غوږونه شته، خو څه پرې نه اوري. هغوی د څارويو په شان دي؛ بلکي له هغو څخه هم لا پسې تېر، دا هغه خلك دي چي په غفلت کښي لويدلي دي. سُوۡرَةُ الأعرَاف : 195

أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ ءَاذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا قُلِ ادْعُوا شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ

ايا دوی پښې لري چي ورباندي لاړ شي؟ - ايا دوی لاسونه لري چي په هغو سره نيول وکړي؟ - ايا دوی سترګي لري چي په هغو سره وويني؟ ايا دوی غوږونه لري چي په هغو سره واوري؟ - [اې محمده (ص)!] دوی ته ووايه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل انګېرلي شريکان راوبلئ، بيا تاسي ټول لاس يو کړئ، زما پر خلاف"
دسيسې جوړې کړئ او ما ته هيڅکله مهلت مه راکوئ .***سُوۡرَةُ المَائدة : 71

وَحَسِبُوٓا أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُوا وَصَمُّوا ثُمَّ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا كَثِيرٌ مِّنْهُمْ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ

او له ځان سره يې دا انګېرلې ده چي څه فتنه راولاړه نه شي؛ له دې امله ړانده، کاڼه شول. بيا الله هغو ته ببښنه وکړه، خو له هغو څخه زياتره کسان لا زيات ړانده کاڼه شول؛ الله د هغو دا ټول عملونه ګوري.

[*****او بيا الله جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ بنىٓ اسرآئيل/الإسرَاء : 91

( أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْأَنْهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفْجِيرًا)

يا ستا لپاره د کجورو(خُرما) او انګورو يو باغ پيدا شي او ته په هغه کښي ويالې رواني کړې،

*********

والله اعلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دسترګواوغوږونو دنده

**الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ النّحل : 78**

**وَاللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَٰرَ وَالْأَفْـِٔدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ**

**الله تاسي، ستاسي د ميندو له ګېډو څخه په داسي حالت کښي را وايستلاست چي تاسي په هيڅ نه پوهېدلاست. هغه تاسي ته غوږونه درکړل، سترګي يې درکړې، او باخبره زړونه يې درکړل، ددې لپاره چي تاسي شکر ايستونکي شئ.**

*******

**همدرنګه بيا فرمايي: سُوۡرَةُ السَّجدَة : 9**

**ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَٰرَ وَالْأَفْـِٔدَةَ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ**

**بيا يې هغه ته سمون ورکړ، هغه يې بې عيبه، بې نيمګړتيا جوړ کړ او په هغه کښي يې د هغه (يا خپل) روح پو کړ. او تاسو ته يې غوږونه، سترګي او زړونه درکړل. تاسي بيخي لږ شکر ايستونکي ياست********.**

**په بل ځای کي فرمايي: سُوۡرَةُ المُلك : 23**

**( قُلْ هُوَ الَّذِىٓ أَنشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَٰرَ وَالْأَفْـِٔدَةَ ۖ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ)**

**دوی ته ووايه: "هماغه الله دی چي تاسي يی پيدا کړئ، تاسي ته يې د اورېدلو او ليدلو قواوي درکړې او غورکوونکي پوهېدونکي زړونه يې درکړل، خو تاسي بيخي لږ شکر باسئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا غه رکم په لاندي آيات شريف کي بيا فرمايي: سُوۡرَةُ البَلَد : 8

( أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ)

ايا موږ هغه ته دوې سترګي نه دي ورکړي،

***

آيا دراوسه مودې ته فکر کړی دئ چي په دې کوچنيو سترګو څنګه شيان دهغوئ په ريښتني شکل وينئ؟

درتولو لويې کامرې دلويو جسمونو داسي انځور ښيي چي دلاس د ورغوي څخه غټ نه وي، موږ څنګه سمندر؛سمندر،غر؛ غر او هرشی په خپلو واقعي اندازو سره وينو؟

څنګه وسايل دهغوئ په حقيقي شکلونو سره ګورو؟

هيڅ پوه د راوسه نه دئ توانيدلی دې سوال ته ځواب ورکړي.

يؤبل ديادولو وړ خبره داده که موږ دبيلګې په ډول زرغون رنګ يابل هر رنګ په اته 8 سوه زرو برخو وويشو، ددو برخو په ډېر يدنه روغي سترګې کولی سي په يادو اته سوه زرو برخو کي هغه مالومې کړي، الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ البَلَد : 8

( أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ)

ايا موږ هغه ته دوې سترګي نه دي ورکړي،

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله خبره داده چي سترګې څنګه کولی سي دريم بعد يانې ژوروالی ووينې؟

اوږدوالی،بر او ژوروالی په ښه ډول وينو دري سره بُعده

که الله ﷻ يؤازي يؤه سترګه موږته راکړي وای: په هغې به موجسمونه هوار ليدای نه په دريو بُعدي ډول.

ښه نو ځکه خو موږ هغه ليروالی چي موږ ته نيژدي وي په دواړو سترګو ښه ليدلی سو،مګر هغه ليري والی چي زموږ دسترګو دليد په ساحه کي نه وي په يؤه سترګه کولی سو هغه وپيژنو، زموږ سترګې کولی سي په يؤه ثانيه کي پنځوس انځورونه مغزوته واستوي او مغز به هم دپنځوسو انځورونو مانا او مفهوم درک کړي.

بله ديادول وړخبره داده چي روغي سترګې کولی سي دوې کربښې،خطونه د ملي متر په شلمه برخه اندازه کي ووينې،په سترګو کي ډېر داسي نور شيان سته چي دا کوچنۍ ليکنه نه سي کولی دهغوئ يادونه وکړي، دنمونې لپاره: دسترګې شبکيه چي دڅوملي مترو څخه ډېر مساحت نه لري يؤسلو ديرش ميليونه استوانه اي اخذې،نيوونکي دسپينو او تو رنګونو لپاره او اووه ميليونه اخذې نيوونکي درنګونو اونور کارونو لپاره شتون پکښي لري. الله ﷻ فرمايي

[سُوْرَةُ البَلَد : 8--9] أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ

[ايا موږ هغه ته دوې سترګي نه دي ورکړي،[سُوْرَةُ البَلَد : 9

( وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ)

يوه ژبه او دوې شونډي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې يؤه يؤه صافه او پاکه قرنيه لري که چيرې دغه صافه قرنيه دبدن دنورو نسجونو په ډول د وريښته ته ورته کوچنيو رګونو په مرسته تغذيه کيداى:

زموږ ليدل به په اوسني ډول نه واى؛يؤه پرده يا تاريکي به مو دسترګو مخته احساسولى، مګر قرنيه دانتشار، پاشلي لارې تغذيه کيږي،داسي چي خپل غذا دباندنيو او ګاونډيو حجرو څخه اخلي، دقرنيه او عدسي په منځ کي روڼې اوبه دې چي قرنيه دهغوئ دلارې خپل ځان تغذيه کوي، ښه نو ځکه خو موږ روڼ،صاف او ښکاره ليدل کولى سو.

دسترګو بله برخه عنبيه نوميږي؛چي دغونجيدو او پراخيدو وړتيا لري،کله چي رڼا لږ وي عنبيه پراخيږي او کله چي رڼا ډيره وي عنبيه راغونجيږي،دغه دانبساط او انقباض غونجيدني او پرخيدني کار بيله دي چي انسان په پوه سي يا يې احساس کړي سرته رسيږي، دبيلګې په ډول کله چي موږ د دباندې څخه خپلې خونې؛کوټې ته ننوزو او هلته تياره وي موږ به درڅو شيبو پوري سم ليدل ونه سوکولى درهغو چي زموږ دسترګو حدقه ي پرخه سوې نه وي، ياد کار يؤبلوري، شکله جسم،لکه روڼه هنداره سرته رسوي.

رابه سوغوږونوته:په غوږونو کي ديادول جالب تکی دادئ چي په مغزو کي يؤ جوړښت دئ چي دږغونو دتوپير او ځاى ښوودنې دنده پرغاړه لري، ماغزه دږغ د ريږد،اهتزاز دډيرښت او کمښت دمخې دږغ لورى، ليروالى، نژديوالى، توپير اوځاى په نښه کوي، کله چي انسان په لويه لاره کي روان وي دشا دلوري دموټر ږغ اوري، څنګه دموټر لوري او ځاى ورته مالوميږي؟

.بيله شکه دغوږونو په مرسته. الله جل جلاله فرمايي: سُوْرَةُ النّحل : 78

وَاللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنْ بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْئًا وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تاسي، ستاسي د ميندو له ګېډو څخه په داسي حالت کښي را وايستلاست چي تاسي په هيڅ نه پوهېدلاست. هغه تاسي ته غوږونه درکړل، سترګي يې درکړي، او باخبره زړونه يې درکړل، ددې لپاره چي تاسي شکر ايستونکي شئ.

*******

# بويايي حس اودهغه جوړښت

دالله ﷻ دنعمتونو دډلې څخه چي زموږ لږ ورته پام کيږي هغه دبويولو حس دئ، پوهانو دليدلو او بويولو حسونه سره پرتله کړي دي: سترګي دنور دمرستې پرته خپله دنده سرته نه سي رسولی، مګر پزه هيڅ کوم مرستندوی ته اړتيا نه لري، انسان په ورځ،شپه،تاريکۍ او ډېرې رڼا کي شيانو بويونه حس کولی سي، او اړتيا نه لري چي کوم شی دانسان او شي ترمنځ اړيکه، اتصال ولري لکه د اوريدلو په حس کي چي اړتياده د غوږونو او شي ترمنځ بايد اړيکه شتون ولري، چي هغه اړيکه اهتزاز،رپا جوړوې، په همدې خاطر ويل سوي دي:
بويايي حس دانسان دامنيت،ساتنې لپاره ډېر اړين دئ، دبيلګې په ډول کله چي بيده ياست دګاز بوی په خپل کور کي حس کوئ چي هلته نه ږغ سته نه رڼا او نه کوم بله نيغه اړيکه، ښه نو کله چي کوته،خونه کي بيده ياست په داسي حال کي چي دکوټې ور او کړکۍ مو تړلې وي، څراغ مو مړکړی وي او کوم ږغ هم نه اورئ خو دګاز بوی حس کوئ دباندي راوځئ وينئ چي دپخلنځي ګاز مو ايله دئ او هغه بندوئ، دبوی حس کول دانسان لپاره يؤه ښه امنيتي کلا ده او همدارنګه يؤه ښه آساني ده

څوک باور کولی سي چي دهغه په پزه کي 100 ميليونه عصبي اخذې چي بوی ته ځانګړي سوي دي شتون لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ټولې عصبي حجرې دېزي په پورتني هډوکي کي ددوسوه پنځوس ملي مترو په دننه کي ځای پر ځای سوي دي،دغه عصبي اخذې چي شمېر يې 100ميليونه دئ يؤډول پټی، پردې،بانه لري چي شمېريې 7ته رسيږي دغه پټۍ يؤډول مخاطي مواد چي ويلې غوړي هم پکښني ګډ دي، دبوی سره دمخامخ کيدو په وخت کي کيمياوي غبرګون ښې ددغه غبرګون څخه يؤ هندسي شکل چي دبوی پر ډول پوري اړه لري جوړيږي،ياني دخوښ او ناخوښ بوي لپاره ځانګړي شکلونه ځانته اختياروي، دبيلګې په ډول کله چي ياد مواد دګل دبوی سره مخ سي ځانته دکيلۍ شکل غوره کوي،

همدارنګه ديؤبل ښه بوی په حس سره مسطتيل شکل ځانته غوره کوي،ددغه کيمياوي غبرګونونه لکبله دغه مواد خپل هندسي شکلونه اړوي، هندسي شکلونه دعصبو دلارې چي دپزې په چت کي ځای لري پيغام وه بويايې مرکز ته چي په مغزو کي ځای لري استوي، ماغزه لس زره بوينه نه يؤازي داچي ديوبل څخه جلاکوي بلکي هغه پيژني هم؛ ځکه په مغزوکي يؤ د دبوی ساتنه ځای يا حافظه شتون لري چي هرکله بوی احساس کړي، مخاط ته ورته مواد غبرګون ښيې او يؤ مناسب هندسي شکل ځانته غوره کوي او ببله ځنډه مغز ته پيغام استوي، مغز چي دلسو زرو بيلابيلو بويونو ذخيره لري نوی راغلی بوی د هر يؤه سره ګوري ترڅو دهغوئ ديؤبل سره تطبيق کړي او په پايله کي دا مالوموي چي دبيلګې په ډول نوی را استول سوی بوی دګل ګلاب دئ يا دچمبيلي دئ دغه ټوله کارونه پزه اوماغزه دسترګو په رپ يا دهغه څخه په کم وخت کي سرته رسوي.

پوهان وايي: دغه مخاط ډوله مواد کولی سي په ډېر لږ تمرکز دميلي ګرام نيم ميليونيمه برخه بوی په يؤ سانتي متر مکعب کي احساس کړي، کله چي يې بوی وموندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مغزته يې استوي، مغز هغه پيژني او وايي، دا پلان بوي يا دپلانکي شي بوي دئ.**

**انسان داسي وسيلې په اختيار کي لري چي باندنى محيط پيژنې دبيلګې په ډول په سترګو دليدلو کار سرته رسوي، همدارنګه کله چي دکوم خنډ لکه ديوال شاته کوم شى وي انسان هغه نسي ليداى خو دهغه ږغ اوريدلى سي، نو غوږونه يؤبل ساتونکي او کارونه اسانونکي وسيله ده، مګر يؤبل شي سته چي نه ليدل کيږي نه اوريدل کيږي دبيلګي په ډول کوټه کي مو موږک مړسوى تاسو هغه نه وينئ څنګه هغه پيداکوئ؟**

**مالومه خبره ده دهغه دبوي په مرسته، ښه نو بويايې حس دالله جل جلاله لوى نعمت دئ چي دبوي په مرسته انسانان کولى سي خپل دباندي محيط احساس او وپيژني.**

**دنيم ميليونيم ميلي ګرام بوي تراکم په يؤه سانتي متر مکعب ساحه کي بسنه کوي چي موږ بوى احساس کړو.**

**دځينو ژوو بويايي حس دانسانانو څخه يؤ ميليون ځله پياوړى وي، دبيلګې په ډول دشاتو مچۍ د کيلومترونو څخه دګل دشيرې بوى احساسوي، همدارنګه دخپل کندو بوي هم دکيلومترونو ليري څخه احساسوي،غوماشه دانسان دخؤلې بوي د60کيلومتره ليري څخه احساسوي، ښه نو پاکي ده الله جل جلاله لره چي دغه حس چي دامنيت، رحت او پيژندنې سرمايه ده انسان ته يې ورکړى دئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په مغزو کي دخوندڅئکلو مرکز

الله ﷻ دانسان په بدن کي ځانګړي حجرې ځای پرځای کړي دي چي انسان دهغوئ په مرسته دخوړو،ترخو،ترؤو اوپاکو خوړو خوند پيژني، ښه نو ځای ددې دئ چي وپوښتو: چا دا دخوند مالومولو،څکلو حجرې،ژونکي دانسان په بدن کي پيداکړي دي؟

هغه حجرې چي ځيني يې خوږ خوند پيژني،ځينې يې تريخ خوند او ځينې نور يې بيا تريو خوند راته مالوموي.

يادې حجرې دژبې پرمخ ويشل سوي؛ پاشل سوي؛ ځای پرځای سوي دي، ځينې دهغوئ څخه دژبې په سر کي دخوړو د څکلو لپاره دي، ځينې نورې يې بيا دژبې په پای کي دتريخ خوند دمالومولو لپاره شتون لري، ځينې نورې خوند مالوموونکي حجري بيا دژبې په بغلونو کي دمالګين او تريو خوند دپيژندنې لپاره پيداسوي دي.

دحيرانتيا خبره داده چي دترخو خوندونو مالومونکو،څکونکو حجرو د دخوند دمالومولو وړتيا دخوړو خوندونو دخوند پيژندونکو حجرو څخه لس زره بربره ډېره ده؛ مګرولې؟

په دې خاطر چي حکيم الله ﷻ دتريخ خوند ځانګړنه په ډېرو يا که ووايو په عموم کي د زيان رسوونکو او زهري خوړو کي ايښي ده، دا يؤ ډول حکيمانه هم آهنګي ده، کوم خواړه چي ګټور او بې زيانه دي دهغوئ خوند خوږ وي او هغه خواړه چي زيان رسونکي وي خوند يې تريخ وي، دهمدې په خاطر د ډېر زهرو خوند تريخ وي، ښه نو ددې لپاره چي انسان مسموم نه سي؛ زيان ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ونه رسيږي؛زهر يا مسموم کوونکي خواړه ونه خوري؛ د تريخ خوند مالوموونکو حجرو وړتيا دخوږ خوند مالوموونکو دوړتيا څخه لس زره برابره زيات خلق سوي ده.**

**يؤبله ديادولو وړخبره داده چي تريخ خوند ډېروخت دزيان سره ملګرى وي؛ په داسي حال کي چي خوږ خوند ډېر وخت دګټې او فايدې سره ملګرى وي، دا دالله جلاله دحکمتونو څخه يؤ حکمت دئ، دانسان دخولې ناوړى هم دخوږو دخوند دجذب لپاره خپل مسؤليت ادا کوي او دخوند څکونکو حجرو سره دخوند په مالومولو کي ملګرتيا کوي.**

**يؤبل ديادولو وړتکى دادئ چي کوم توبش؛يا بخار چي دخوږو دمخه څخه پورته کيږي پزې ته رسيږي،پزه هغه بوي کوي،ځکه دښو خوږو ځانګړنه دهغوئ بوي او خوند دئ، انسان چي کله دسختې يخنى سره مخ کيږي او دخوږو بوى پر مېنلې داسي اند کوي لکه دهغه خوږو خوند چي يې خوله کي وي يا دهغو خوږو خوند يې خولې ته راغلى وي، بيله شکه دا دالله جلاله فيض اورحمت دئ.**

**په مغزو کي يؤبل مرکز دخوند مالومولو لپاره شتون لري؛ هغه رکم لکه يؤمرکز چي دبوى حس کولو لپاره ځانګړى سوى دئ.**

**ياد مرکز کولى سي چي لس زره خوندونه ديؤبل څخه بيل او وپيژني،هغه کړنې چي دبوى دپيژندلو لپاره سرته رسيدلي، خوند مالوموونکي حجرې هم لومړى پيغام مغزو ته ليږي او ماغزه دخوند ځانګړنې احساسوي او هغه پيژني، کله چي دخوند ځانګړنې مغزو ته ورسيږي ماغزه دخپلو ذخيره لسو زرو خوندو سره هغوئ تطبيق او ګوري او بيا دا په ډاګه کوي چي دخوند دپلانکيو خوږو دئ،دغه مواد پکښي شتون لري او دغه ځانګړنې لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ څومره ښه فرمايي: سُوۡرَةُ الذّاريَات : ٢١ وَفِىٓ أَنفُسِكُمۡ ۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښناني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟

***

# زړه

ټوله عبادت يا يې ځيني ډولونه په بيلابيلو شکلونو سره ددې لپاره لار خلاصوي چي زړه دناپاکيو ،ناروغيو څخه ژغورلی؛ پاک پاته سي او دکمال پوړيو ته چي الله جل جلاله ورته په نظرکي نيولي تيار سي تر څو دالله ﷻ لور ته نيژدي او په نيژديوالي او رضا کي دالله جل جلاله بريالی، ګټه کوونکی او نيکمرغه سي.

زړه دانسان په بدن کي لوړمړۍ درجه ځای لري او په ټولو اوامرو او کارونو کي هغه دټولو غړو تکيه ځای دئ او دحيرت وړنه ده ځکه هغه مشر،رهبر دئ او نور غړي دهغه امر منوونکي، لښکريان دي، هغه دئ چي امر ورکوي او ټوله خلاص ساتي، دبدن غړي دهغه دامر منوونکي دي، دهغه په وصف کي همدا بس دي چي الله ﷻ فرمايي سُوۡرَةُ قٓ : 37

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَذِكۡرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُۥ قَلۡبٌ أَوۡ أَلۡقَى ٱلسَّمۡعَ وَهُوَ شَهِيدٌ

بېشکه پدغه تاريخ کښي د عبرت درس د هر هغه چا لپاره دی چي زړه لري يا په پاملرني سره خبره واوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دانسان دبدن ربښتيا زړه دئ، جالبه داده چي الله ﷻ دانسان ژوند او دهغه کار دزړه په جوړتيا،نظم او کار کي پټ کړي دي، دروح ژوندي پاتي کيدنه يې دزړه په پاکۍ او روحاني سلامتۍ پوري مشروطه کړي ده.**

**زړه دانسان ددرک او احساس کولو برخه ده، چي خطاب ورته کيږي، دپوهې، پرهيزکارۍ،اخلاص،خاطرو؛ميني، کينې اوخطرونو کور دئ،همدغه رکم دايمان،کفر،توبې،ناقراري،خفګان او ارامي ځای هم پکښني شتون لري، دا زړه دئ چي الله جل جلاله پيژني، هغه ته نيژدي کيږي، دا زړه دئ چي دالله ﷻ پر يؤالي باندي په ايمان راوړلو سره دهغه په دربار کي منل کيږي او دالله ﷻ سره په سيال نيولو سره دالله ﷻ په دربار کي نه منل کيږي،الله ﷻ په نيژديوالي سره نيکمرغۍ اونه ختميدونکي خوښۍ ته رسيږي او په ليروالي سره يی بدبختۍ اوتل پاتي غم باندي اخته کيږي،**

**انسان دزړه دپاکۍ اوساتنې څخه پرته پاکۍ ته نه سي رسيدای، کله چي يې زړه ناپاکه کړئ دناهيلۍ،بدبخۍ کندې ته ورشوه کيږي.**

**که مځکه او هسکونو کي دالله ﷻ په جالب او حيرانوونکي خلقت پسي لټه کوئ: دانسان دزړه څخه به جالبه،نازک او ښکلی خلقت ونه موندئ، کله چې داړيکو مزې يې سم سي دانسان درحمت،مهربانۍ، مينې او انساني احساس سرچينه تري جوړه سي، تر دې چي دفرشتو څخه لوړو پوړيو ته انسان رسوي،**

**کله چي اړيکو په مزو کي يې خرابي،ناسمتيا رامنځته سي دتحقير اوبدۍ خوند به ځکي او مقام به يې دټولو لاندنيو څخه کښته وي،**

**په همدې وړوکي؛ کوچني جسم يې دنړۍ لويوالی په خپل ځان کي ځای کړی دئ،څومره کوچنی مګر څومره ستر، لوی دئ مګر موږ يې سترتوب نه وينو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره ستر چي هره ستره خبره اوکړنه ورته تسليم کيږي، همدارنګه څومره کوچنی دئ مګر موږ يې کوچنيتوب نه وينو دومره کوچنی چې لږ کوچنيوالی دهغه پرمخ لوی مالوميږي.

دزړونو شکلونه يوډول دي مګر مضامين يې توپير کوي: يو زړه ملغلري ته ورته وي چي ښکلی؛ځليدونکی روڼ رنګ لري،بل زړه ډبرې ته ورته وي، کروړ او پياوړی،داسي زړونو به هم وموندئ چي هوا ته ورتوالی لري،سپک وزن لرونکی او الوتونکی، ځيني وخت زړه مري مګر بيا راژوندی کيږي او ځيني وخت ژوندی وي مګر مري،ځيني وخت لوړيږي او ځيني وخت کښته کيږي ډېر کښته، ځيني زړونه دستورو څخه په لوړوالي کي تيريږي مګر په داسي حال کي چي اطاعت منوونکي،امرمنوونکي وي،آيا په نړۍ کي کوم شی داسي سته چي دانسان دزړه څخه لوی وي، ريښتنی احساس او فولادي اراده ولري، مګر کله چي انسان هرڅه په خپلو منګولو کي راتينګ کړي:خپل زړه وبايلي: په وقيعت کي يې هيڅ نه دي پيداکړي او هرڅه يې بايللې دي.

دانسان زړه دالله جل جلاله دحيرانوونکو مخلوقاتو دډلې څخه شمېرل کيږي: يوه بمبه؛ پمپ شتون په کښي لري چي وينه پمپ کوي، وينه چي دغذايي او اړينو موادو لرونکي ده،دشريانونو په مرسته چي د150کيلومترو څخه ډېر اوږدولی لري دبدن ټولو حجرو،نسجونو،غړو،هډکو او عضلوته يې رسوي.

زړه خپله دنده دجنيني ژوند يا د مور په خيټه کي ددويمې مياشتې څخه پيلوي او دانسان دمرګ در وخته پوري په خپله دنده کي هيڅ غفلت نه کوي،نه يې هيروي، خوب نه کوي، نه دريږي، نه ستړی کيږي او بيله کوم لارښود خپله دنده په ښه ډول مخته وړي، خو انسان په خپل ظلم سره هغه ته ازار ورکوي،د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رخې او کينې په اور يې سوځوي،په خفګان او غم سره هغه پخوي په داسي حال کي چي دانسان زړه دهغه دژوند تر پايه، دهغه دنړۍ ځلانده لمر دئ.**

**انسان په خپلو ټولو چارو کي پرزړه تکيه لري،دهغه ټول خوځښتونه او پياوړتياوي د زړه څخه سرچينه اخلي، بيله شکه زړه غيري عادي وسيله ده چي ستړيا هغه ته نه سي رسيداى او دستړيا په وخت کي يې پياوړتيا څو برابره ډېرېږي.**

**دانسان زړه دجوړښت،دکار او دندې سرته رسولو،پياوړتيا دنظره دانسان دپيچلو عضلو څخه دئ، په هر دقيقه کي د60څخه د100ځلو غوړېږي او راغونجيږي، چې ياده چاره تپيدل يې په بيرني حالت کي در 180ځله پوري رسيږي، هره ورځ 8زره ليټره وينه پمپ کوي، يوازنۍ هغه عضله چي دعصبو څخه خپلواکي لري هغه زړه دئ،ځکه چي خپل تپيدل يې فرمان ورکوي او په يو بريښنايي پيغام چي دزړه دبريښنا توليدونکي مرکز اس اى نوډ څخه سرچينه اخلي تنظيم کيږي، ياني زړه خپل ځانته پاچا دئ او خپل چاري دخپل يوې برخې اس اى نوډ څخه ترتيب او تنظيموي، دزړه تغذيه کول هم دځان پوري محدوده ده.**

**هرکله چي زړه په خپل قفس کي دکار څخه ولويږي،تپيدل،لب ډب يې ودريږي : دانسان بدن سوړ او مړاوې سي داسي مړاوې لکه دونې زرغونه پاڼه چي دونې څخه در جدايي ورسته مړاوې کيږي، رسول الله ﷺ څومره ښه فرمايلي دي:**

**إنَّ في الجَسَدِ مُضْغَةً، إذا صَلَحَتْ، صَلَحَ الجَسَدُ كُلُّهُ، وإذا فَسَدَتْ، فَسَدَ الجَسَدُ كُلُّهُ، ألا وهي القَلْبُ صحيح البخاري 52، ومسلم دحديث شريف مفهوم دئ:**

**په بدن کي دغوښي يوه ټوټه ده که چيري سمه وي ټوله بدن اصلاح کيږي او که چيري فاسده سي ټوله بدن فاسد کيږي،بيله شکه هغه زړه دئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يؤ شاعر څومره ښه وايي:

دقّات قلب المرء قائلةٌ لَهُ

إنّ الحياه دقائق و ثوانِ

فارفع لنفسك قبل موتك ذكرها

فالذكر للإنسان عمرٌ ثانِ

دانسان دزړه تپيدا هغه ته وايي

ژوندڅوشيبي اودقيقې دئ

خپل روح دي دمرګ درمخه په ذکر سره لوړکړه

ځکه ذکر دويم ځلي ژوند دئ

## دوينې دوراني يا دګرځيدنې سيستم

بيله شکه دالله جل جلاله نښاني په کايناتو او دانسان په بدن کي، ترټولو نېژدي درشل دئ چي د هغه د لارې موږ دالله جل جلاله لوري ته ځو او موږ دالله جل جلاله په عظمت،يؤالي او جلال کي لا ډېر اند کولو کوو. الله جل جلاله فرمايي: سُوْرَةُ الذّاريَات ۲۱: وَفِىٓ أَنفُسِكُمْ ۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



يؤه دالله جلّ جلاله دعظمت دنښو نښانو څخه دانسان په بدن کي دويني دبهيدني دلارو يا ګرځيدني د سيستم ځای پرځای کول دي، ژوندي موجودات دژوند دچارو دمختته بيونې او د لمنځه تللو حجرو دبيا موندنې، جوړوني لپاره خوړو او مغذې موادو ته اړتيا لري، دخوړو رسونه وبدن ته دهضمي سيستم دنده ده مګر وټولو ژونکو، نسجونو او غړو ته دخوړو په مناسب او دقيق ډول ويشنه دوينې د دوراني سيستم دنده ده.

په پيچلو جوړښتونو لرونکو ژونديو موجوداتو کي دانسان په ګډون دوينې د دوران سيستم يؤ ترلی سيستم دئ، په بدن کي دوينې دبهيدنې لپاره بايد يؤ فشار شتون ولري ترڅو وينه رګونو او دهغه ځايه دبدن هرې برخې ته ورسيږي، او بيرته را وګرځي.

درګونو په ډله کي لوی او کوچني شريانونه؛پاکه وينه ،ليږدونکي،لوی او کوچني وريدونه، دنا پاکي وينې بيرته راليږونکي،کوچني او ډېر کوچني رګونه چي دبدن په هره برخه کي شتون لري، وريښته ته ورته يا ډېر کوچني رګونو دنور ډېرو کوچنيو رګونو سره مښتي دي،هغوئ بيا دکوچنيو وريدونو،بيا د لږ لويو وريدونو او بيا دلويو وريدونو سره متصل دي، چي په پای کي زړه ته رسيږي،دیادونې وړده چي که ټولو رګونه ډولونه د يؤبل سره وتړو اوږدوالی به يې 96561کيلومترو ته ورسيږي چي دا دومره اوږدوالی دئ چي دمځکې څخه داستوا دکرښې پر برابر دو ځله راګرځيدای سي.

جالبه داده چي دانسان په بدن کي د وريښته ته ورته کوچنيو رګونو شمير دسل څخه در يؤسلو شپيتو مليادرو پوري رسيږي، دا رګونه دبدن په هره برخه کي شتون لري:که موږ دبدن هرځای ته ستن دننه کړو هغه ځای به وينه وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديادو رګونو اوږدوالی 150کيلومترو ته رسيږي چي داوو څخه درلسو ليټرو پوري وينه دهغوئ څخه تيريږي.

که دوينې سرو کروياتو ته پام وکړو په هرو درويشتو ثانيو کي دزړه څخه دباندي ځي او بيرته را ګرځي،ښه نو وينه هره ورځ 3700ځله په رګونو کي راګرځي، زړه هره ورځ اته مترمکعب وينه پمپ کوي چي هرمتر مکعب تقريبً ديؤه ټن سره سمون خوري.

دانسان دژوند په اوږدو کي دهغه درګونو څخه ديؤنيم لکه ټنو څخه در دونيمو لکو ټنو پوري وينه تيريږي، راسئ دزړه دقوت پياوړتيا په اړه ځان خبر کړو، دانسان زړه دهغه دژوند در پايه دومره قوه په مصرف رسوي چي که ټوله قوه يې سره راغونډه کړو نو يؤه 4800 متره اوږده اورګاډی به تيل وهې يا به حرکت ورکړي، ستر الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ لقمَان :١١

هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَأَرُونِى مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِنْ دُونِهِۦ ۚ بَلِ الظّٰلِمُونَ فِى ضَلٰلٍ مُّبِينٍ

دا خو د الله پيدا کول دي، اوس ما ته را وښاياست، له هغه پرته دغو نورو څه پيدا کړيدي؟ - اصلي خبره دا ده چي دغه ظالمان په څرګنده ګمراهۍ کښي غور ځېدلي دي.

*****

دغه حديث شريف چي مخکي ذکر سوی دئ غوره ده بيا اند پکښي وکړو :
رسول الله ﷺ فرمايلي دي:{إنَّ في الجَسَدِ مُضْغَةً، إذا صَلَحَتْ، صَلَحَ الجَسَدُ كُلُّهُ، وإذا فَسَدَتْ، فَسَدَ الجَسَدُ كُلُّهُ، ألا وهي القَلْبُ}

*صحيح البخاري 52، ومسلم 159*

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحديث شريف مفهوم دئ: په بدن کي دغوښې يؤه ټوټه ده که چيري سمه وي ټوله بدن اصلاح کيږي او که چيري فاسده سي ټوله بدن فاسد کيږي،بيله شکه هغه زړه دئ.

## شريانونه او وريدونه

الله جل جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ قٓ : 16] وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَٰنَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِۦ نَفْسُهُۥ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ

په حقيقت کي موږ انسان پيدا کړي دی او آن د هغه په زړه کښي په را پيدا کېدونکو وسوسو باندي پوهيږو. او موږ د هغه له شهرګ (د ورميږ د رګونو) څخه هم زيات هغه ته نژدې يوو.

****

دانسان په بدن کي شريانونونه، دپاکې وينې ليږدونکي رګونه او وريدونه دناپاکي وينې را وړونکي رګونه شتون لري.

په شريانونو کي دغذايي موادو او اکسيجن څخه بډايه وينه بهيږي او په کوچنيو ښاخونو، څانګو ويشل کيږي ترڅو دبدن هرې حجري ته خواړه او اکسيجن ورسوي، همدارنګه وينه او دبدن نور ژونکي په پرلپسي ډول اکسيجن ته اړتيا لري په همدي خاطر وريدونه وينه بيرته زړه ته را وړي، راګرځوي ترڅو زړه هغه داکسيجن ويشونکي،ورکوونکي غړو سږو ته وليږي او دهغه ځايه اکسيجن واخلي، په وريدونو کي وينه دمځکې دجاذبې قوي خلاف دپښو څخه دزړه لورته دحرکت په حال کي وي، پوهيږو چي اوبه يا کومه بله مايع هم بيله فشاره لوړ لورته نه ځي بايد يؤه وسيله شتون ولري، وسيله يې داده چي لوړ لورته تللې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينه په ښکاره حکمت چي الله ﷻ غوښتی دئ او ټينګ جوړښت يې چي هغه ﷻ خلق کړی دئ بيا کښته لورته نه راځي، دهغو وريدونو لپاره چي وينه دپښو څخه زړه ته پکښي ليږدول کيږي الله ﷻ داسي دروازې، جوړي کړي چي وينې ته اجازه ورکوي لوړ لورته ولاړه سي مګر نه پريږدي کښته راتوی سي يا بيا کښته راسي.

دغه کېسې يا د جامو دبغل جيب ته ورته دروازې،والونه دوريدونو پر دېوالونو پوري مښتې دي کله چي وينه لوړ لورته ځي،ددوئ دېوالونه د وريدونو د دېوالونو سره مښلي او وينه لوړ لورته ځي مګر کله چي وينه کښته لورته دتګ هڅه کوي دغه دروازې دوينې څخه ډکيږي او پړسيږي، ديوبل سره مښلي او دوينې دکښته تللو لار تړي، ښه نو الله ﷻ دوريدونو په يادو دروازو کي کوم حکمت ايښي دئ؟

هغه حکمت دادئ چي يؤازي يؤه لورته ته ياد والونه يا دروازې وينې ته دتللو اجازه ورکوي او نه پريږدي ديادو دروازو، ورو څخه تيره سوي وينه دويم ځل کښته لورته راسي.

که چيرې په يادو والونو يا دروازوکي ستونزه پيدا سي يا خپل کار په ښه ډول سرته ونه سي رسوای، دپورته تللې وينې لاره بنده نه کړي: وينه په وريدونو کي راټوليږي،پر وريدونو فشار ډېريږي وينه دوريدونو څخه نسجونو ته ننوځي چي په پايله کي يې دوريدونو دپاړسوب،دپښو دپاړسوب ناروغي واريس پيښيږي او انسان درد او پاړسوب کړوي، دا پيښه زياتر داميدوارو يا هغه وګړو ته چي په پرلپسي ډول پر پښو کښينې پيښېږي، ديادونې وړده چي په ښه ډول پروخت دلمانځه کول ديادې ناروغۍ په مخنيوي کي لويه ونډه لري ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښه نو دوريدونو دا دوينې بندونکي والونه او دروازې ډېري حيرانوونکي او دقيقي دي، موږ بايد په خپل بدن کي دالله جل جلاله په بې مثاله خلقتونو کي اند وکړو. الله ﷻ فرمايي :سُوَرَةُ الذَّارِيَات : 21:**

**وَفِىٓ أَنفُسِكُمۡ ۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ**

**او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟**

*********

**هغه څه چي يادونه مو ورڅخه وکړل دوينې د دورانې سيستم يؤه وړه برخه مالومات وه**

# دوينې جوړونکي مواد

**دځينو پوهانو په اند: دانسان وينه د بيړيو څخه دډک سمندر په شان ده، هلته مرسته رسوونکي بيړۍ وي چي بيلګه يې دوينې سره کرويات**

**دي، نورې پوځي بيړۍ شتون لري چي پردوښمن بريدکوي،دهغوسره چم کوي، تيرباسي يې،لمنځه يې وړي او تېښتې ته يې اړباسي، دويني سره کرويات ديادو بيړيو او اوبتلونو سره ورته والی لري، همدارنګه سمندورنو کي دمرګ څخه ژغورونکي کښتۍ شتون لري چي دهغوئ بيلګه په وينه لامبو وهونکي ذرات دي، ښه نو سمندر کي دموادو دوړلو راوړلو لپاره نوري کښتۍ شتون لري چي وينه کي يې بيلګه دقندي ذراتو ګرځيدنه،دبيا رغونې اونمو لپاره دپروټينې موادو شتون او د هغوئ او نورو موادو دپاتي شونو، اضافي موادو لکه يوريک اسيدو ليږدونه شتون لري،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرهمدې اساس وينه دبيريو، کښتيو څخه دډک سندر سره ورتوالی لري چي بيلابيلې دندې سرته رسوونکي بيړۍ لکه:**

**څارونکي،جنګي،تيرايستونکي،ژغورونکي،مرسته کوونکي،داضافي توکو او اړينو موادو ليږدونکي کښتۍ پکښني لامبو وهي او خپله دنده سرته رسوي، يادې ټولې بيړۍ پرته ددې چي ديؤبل سره ټکرسي،ديؤبل مخه بنده کړي، ډوبې سي، ماتې سي په آزادانه ډول په سمندر، رګونو کي دخپلې دندې دسرته رسولو او حرکت په حال کي دي.**

**دغه سور رنګي مايع چي دانسان ژوند په هغې پوري تړلی دئ،دسرو او سپينو کروياتو، پلازما څخه جوړه سوي ده چي موږ دلته دوينې پرسرو کروياتوباندي خبرې کوو.**

**دوينې سره ذرات ياکرويات داسي حجره ده چي دايروي بڼه لري مګر دکوچنيو رګونوڅخه دتيريدوپه حال کي ځانته بيلابيلې بڼې غوره کوي،ديادو ذراتو خواوي نازکې او قطر يې 7 مايکرو متره کيږي، که ملي متر پر زرو برخو وويشو يؤه برخه يې دمايکرو متر سره سمون لري مګر ديادو زرو ضخامت، پنډوالی د دوو مايکرو مترو څخه ډېر نه دئ، دوه مايکرو متره دملي متر دزرو برخو څخه دوه برخې دي، ښايې پوښتنه وکړئ چي په بدن کي څومره دوينې سره ذرات شتون لري؟**

**ديادو ذراتو تخميني شمير د پنځه ټريليونو په شاوخوا کي دئ،يانې 25زره؛ زره ميليونه،**

**دوينې په هرمليمتر مکعب ساحه کي پنځه ميليونه سره ذرات شتون لري، يؤبله ديادولو وړخبره داده چي ځيني داسي کوچني رګونه شتون لري چي قطر يې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوينې دسروکروياتو څخه کوچنى وي په همدې خاطر ياد ذرات ددې لپاره چي ديادو رګونو څخه تيرسي خپل بڼه د دايروي بيضوي څخه بدلوي او يؤيؤ په ځانګړي ترتيب ديادو رګونو څخه تيريږي.**

**دسرو ذراتو دنده د سږو څخه داکسيجن ليږدونه وه ژونکو ته او دکاربن ډاى اکسايډ ليږدونه دانساجو څخه وسږو ته ده، په بدن کي يې کمښت دوينې دکمښت،انيميا دناروغى په نوم ياديږي چي لامل يې په خوړو کي داوسپنې کمښت دئ.**

**الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 53**

**سَنُرِيهِمْ ءَايٰتِنَا فِى الْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ**

**ډېر ژر به موږ دوى ته خپلي نښانې په افاقو (هيوادونو) کښي هم وښيو او د دوى پخپلو نفسونو کښي هم؛ تر دې پوري چي دوى ته دا خبره ځرګنده شى چي دغه قُرآن په رښتيا سره پر حق دى. ايا دا خبره کافي نه ده چي ستا رب پر هر څه شاهد دى؟**

*********

**دانسان په بدن کي 25زره ميليونه سپين کرويات شتون لري چي دداسي ځانګړونو لرونکي دي چي دانسان عقل ورته عاجزه سي.**

**په هره ثانيه کي دهډکو مغز دونيم ميليونه سره ذرات،کرويات جوړه وي. همدارنګه په لمفاوي غړوکي هم ياد ذرات جوړيږي او په همدومره شمير سره ياد ذرات په يؤه ثانيه کي دانسان په بدن کي مري او جسدونه يې يؤه ډليز قبر توري ته ليږدول کيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپين کرويات دانسان دبدن ساتندويه،منظم،په پوځي وسلو سمبال پياوړي استخبارتو درلودونکی،دندې ته ژمن پوځ دئ چي په هر ملي ليتر يا سي سی کي در نهو زرو پوري سپين کرويات شتون لري.

ايډز يا ايچ آی وي ناروغي يا ديادو ذراتو دژوند لپاره ذروي بم يا په بله مانا قتلِ عام دئ، که کوم وګړی دايډز په ناروغۍ اخته سي نو دکمزور ميکروبونو پروړاندې به يې هم بدن ونه دريږي او لمنځه به يې ويسي ځکه دبدن ساتونکی پوځ لمنځه تتلی وي او دميکروبونو وژونکي کم يا نه وي.

ښه نو دوينې سپين کرويات ديوه پياوړي پوځ سره ورتوالی لري، يوه ډله يې د دوښمن دډول دوسلو او دهغوئ دځانګړونو په اړه مالومات موندي، بله ډلګۍ يې وسلې جوړوي او ځيني يې جنګ ته درومي، ياد پوځ د درو ډلو څخه جوړ دئ: دمالوماتو،خبرنو راټولونکي،وسله جوړونکي او د دوښمن سره مخامخ جګړه کوونکي ډلګۍ.

دبدن دفاعي سيسټم پنځويشت زره ميليونه دسپينو ذراتو او د ديؤ ټريليو پلاتيليت پوځيانو لرونکی دئ.

پلاتيليتونه، دموي صفيحات څه شي دي؟ پلاتيليتون، ډيسک ته ورته، غيرمنظم او بيضوي شکله جوړښتونه دي چي قطريې د3-4 مايکرو متروته رسيږي، دنارملې اندازې څخه ډېرښت او کمښت يې دواړه دناروغۍ لامل کيږي.

که چيري ياد لامبو وهونکي ذرات نه وي دانسان ټوله وينه به ديوه کوچني ټپ څخه توی سي، هرکله چي دانسان په بدن کي زخم جوړ سي ياد ذرات يې خوا ته ورځي پرهغه غوړيږي او دټپ مخ پوښوي؛ په همدې ډول دوينې ختېه کيدل منځته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه څه چي زموږ پام ځانته را اړوي هغه دويني دروند تګ دئ؛په وينه کي يؤماده شتون لري چي وينه تېز تګ ته نه پرېږي که دې مادې شتون نه درلوداى دانسان څخه به په شپږو دقيقو کي زرسانتي متر مکعبه وينه دباندي تلاى خو ديادې مادې په شتون کي دغه وخت 30دقيقو ته رسيږي،دويني ميانه تګ دويني لپاره خورا اړين دئ.**

**همدارنګه په وينه کي دلخته کيدو،ختېه کيدو ځانګړنه شتون لري، دويني دختېه کيدو چاره دويني دپلازما ديؤه پروټين(فيبرينوژين) دنده ده،کيداى سي وپوښتى دويني پلازما څشي ده ؟**

**دويني پلازما دويني دمايع برخې څخه عبارت ده چي دويني 55سلنه حجم جوړوي، دپلازما 92 سلنه اوبه جوړوي اوپاته برخه يې جامد مواد دي چي؛ پرټينونه،مالګې او عضوي مرکبات پکښي شامل دي،**

**دپلازما البومين پروټين دويني ازموتيک فشار ساتي،ګلوبولين يې دهورمونو دليږد دنده لري او فيبرينوژين دويني دختېه کيدو مسؤله دئ.**

**وينه کي د ختېه کيدو او برعکس د بيرته مايع کيدو ځانګړنه شتون لري، ددې دوو:ختېه کوونکي او ويلي کونکي مادې ترمنځ عجبه توازون شتون لري: نه وينه دومره نرۍ ده چي په څوشېبوکي تېوله دبدنه ووځي او نه دومره ختېه ده چي په رګونو کي رسوب وکړي او درګونو دبندېدا لامل سي،وينه نه ډېر نرۍ او نه ډېره خنډه،ختېه ده بلکي ددې دوو حالتونو په منځ کي غلظت لري.**

**ښه نو، دنړۍ په هر شي کي دالله جل جلاله دعظمت،يؤالي او حکمت نښي نښاني شتون لري،دويني سره او سپين ذرات، پلازما،پلاټېليتونه او هره ذره يې دالله جل جلاله دعظمت او حکمت ښکارندوينه کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله جلاله فرمايي: سُوْرَةُ الذّاريَات : 21 (وَفِیٓ أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟

****

# دهيپوفيز نخاميه ياملکه غده

په مغز کي نيم ګرام وزن لرونکي غده شتون لري چي ډېرې اړينې دندې سرته رسوي.

ياده غده د150زره عصبي مزو سره مښتي،وصل ده.

ياده غده دانسان دبدن اړين هورمونونه ترشح کوي چي يو دهغوئ ځخه د ودې هورمون؛جي آر يا ګروت دئ، ياد هورمون چي خپله هم 188ساتونکو تېزبونو ځخه جوړ سوی دئ،ملکه غده يې ترشح کوي، دانسان په هر ليتر وينه کي بايد لس مايکروګرام دګروت هورمون شتون ولري که ددې ځخه يې اندازه کمه سي دانسان قد،تنه به کوچنۍ سي، يانې په ډوارفيزم به اخته سي،که دياد هورمون اندازه دټاکلي اندازې ځخه زياته سي دانسان قد به د اندزې ځخه زيات غټ سي لکه دنړۍ په کچه دلوی قد لرونکي انسانان: په طبي ژبه ياد حالت ته اکرومېګالي ويي.

ښه نو دغه غده او هورمون څوک کنټرولوي؟

دپرولاکتين يا لاکتوژن هغه هورمن دئ چي د شيدو دترشح سره مرسته کوي، دشيدو توليد دملکي غدې په مرسته سرته رسيږي داسي چي دښځې دبلاربښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه لې ورسته ياد هورمون په وينه کي په ګرځيدا پيل کوي، ترڅو لنګون ته نژدي وخت کي يې ګرځيدنه ډېرېږي؛دښځې تې دياډې نيم ګرام لرونکي غدې په مرسته دشيدو څخه ډکيږي، داسي چي ياد هورمون دتيو پرشيدو توليدونکو غدو باندي اغېزه کوي ددې نظم او جوړښت پيداکوونکی او پالونکی څوک دئ؟

الله جل جلاله په لاندي اياتونو کي فرمايي :سُوْرَةُ البَلَد : 8--10:

( أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ)

ايا موږ هغه ته دوې سترګي نه دي ورکړي،

(وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ)

يوه ژبه او دوې شونډې؟

( وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ)

او دوې څرګندي لاري مو هغه ته و (نه) ښودلې؟

****

ځيني !مفسيرينو ( النَّجْدَيْنِ ) دمورتيان تفسير کړي دي همدارنګه يؤبل هورمون شتون لري چي دتيرويېډ غده په خوځښت راولي ترڅو ياده غده دتيروکسين هورمون ترشح کړي او دبدن متابليزم چار سرته ورسوي، بايد يادونه وکړو چي متابليزم خپله يؤه پيچلې او حيرانوونکي کړنه ده، دخوړو بدلو ول په انرژۍ باندي دمتابليزم په نامه يادېږي، ښه نو ديؤې خوا ټيروييډ غده دبدن دمتابليزم ټوله عمليه پرمخ وړي او دبل لوري نيم ګرام وزن لرونکي هيپوفيز،مليکه غده د ټيروييډ غدي تحريکولو دتيروکسين هورمون دترشح لپاره پرغاړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مليکه غده يؤبل هورمون هم ترشح کوي چي هغه ته کورټيکو ټروپين وايي، دياد هورمون دنده داده چي کله هم انسان دستونزې او خطر سره مخ سي نو ياد هورمون فوق الکليه غده اړباسي ترڅو ياده غده خپل هورمونونه ترشح کړي، دفوق الکليه غدې دهورمونونو دترشح سره سم دزړه دربيدل دوه برابره کيږي، سږي خپل چار ګړندی کوي، رګونه تحريکوي ترڅو وينه په ښه ډول عضلوته ورسوي او ځيګر،اينې ته لاربښوونه کوي ترڅو دقندونو آزاديده ډېر کړي، دا ټولې کړنې د هيپوفيز غدې په لاربښوونه سرته رسيږي.**

**مليکه غده ګونادوتروپين( آل ايچ) او( ايف آس ايچ) هورمونونه**

**دهيپوتلاموس څخه د(جي ان ار ايچ )هورمون په مرسته افرازوي،چي دنارينه اوښځينه پر جنسي هورمونونو باندي اغېزه لري،ياني محرک يې دي، همدارنګه دپوستکي لاندي حجرو د هورمون يؤه ماده ترشح کوي ،چي دانسان دپوستکي دبيلابيلو رنګونو دجوړيدنې لامل کيږي،دا چاره هم دمليکې غدې په مرسته سرته رسيږي.**

**مليکه غده يؤبل هورمونه چي انټي ډيورټيک يا دبدن څخه دمايعاتو دضايع مخه نيوونکی دئ،ياني ياد هورمون په بدن کي د اوبو توازن ساتي اونه پريږدي چي دبدن څخه زياتې اوبه ضايع سي، ياد هورمون دپښتورګو پر راټولونکو پيپونو اغېزه کوي او په بدن کي داوبو دزياتوالي لامل کيږي؛که ياد هورمون ترشح نه سي يا کم سي دانسان ژوند به په دوږخ بدل سي؛داسي چي د اوبو دچينې خواکي به ناست وي اوپه اوبو به نه اوبيږي،څښل او بولي کول به يې ورځنی کار سي دياد هورمون کمښت ته بې مزي شکره وايي چي لويه نښه يې ډېرې بولې کول دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو څرنګه چي درګونو دپراخيدنې او غوجيدنې او دحافظې دفعاليدنې لپاره هورمون شتون لري، همدارنګه د لنګول دآسانۍ او دمور دشيدو د راوتلو سره مرسته كوونكی هورمون هم شتون لري،ياد هورمون ته اُكسي توسين هورمون وايي چي دمليكې غدي دشا دلور څخه ترشح كيږي چي درحم د خوځښت لامل او د لنګول پروسه تحرک كوي، يانې داچي درحم عضلو ته خوځښت وركوي دښځو دلنګيدو په وخت كي روغتيا پالان ځيني وخت دياد هورمون درمل كاروي ترڅو درحم خوځښتون ډېر او دلنګول پروسه چټكه سي، همدارنګه ياد هورمون دتيانو داپتيليو عضلاتو دغونجيدنې لامل كيږي او دشيدو دخارجيدني لامل كيږي، الله ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ عَبَسَ : 20 (ثُمَّ السَّبِيلَ يَسَّرَهُ

بيا يې د ده لپاره د ژوند لاره اسانه كړه؛

*****

ډېر هورمونو نه دي چي، نيم ګرام لرونكي هيپوفيز يا دغدواتو مشره غده يې ترشح كوي،ښه نو انسان ډېر ناتونه دئ، الله ﷻ هغه ته داسي وصف كوي:

سُوْرَةُ النِّسَاء : 28{ يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ وَخُلِقَ الْإِنسَٰنُ ضَعِيفًا]

الله پر تاسي د بنديزونو اسانول غواړي، (ځكه چي) انسان بې وسه (ضعيف) هست كړای شويدی.

****

ښه نو انسان داسي ناتونه دئ چي په مغز كي يې يؤه كوچنۍ غده يا مرغړی دئ چي وزن يې نيم ګرام دئ او پوهان هغې ته دغدو پاچا وايي، دهيپوفيز غده دانسان دژوند اساسي هورمونونه ترشح،آزادوي، كه چيري ديادې غدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دهورمونو په ترشح کي نيمګړتيا، ستونزه رامنځته سي: دانسان ژوند به په نه زغمل کيدونکي دوږخ بدل سي.**

**[سُوْرَةُ البَلَد : 8--13] أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ**

**ايا موږ هغه ته دوې سترګي نه دي ورکړي،**

**(وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ)**

**يوه ژبه او دوې شونډي؟**

**( وَهَدَيْنَٰهُ النَّجْدَيْنِ)**

**او دوې څرګندي لاري مو هغه ته و (نه) ښودلې؟**

**(فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ)**

**خو هغه د سخت ستوغ ګرنګ نه د تېرېدو همت ونه کړ (د نفس او خواهشاتو په مقابل کي يې سختي ونه ګالل)؛**

**( وَمَآ أَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُ)**

**او ته څه پوهيږې چي هغه سخت ستوغ ګرنګ څه دی؟**

**( فَكُّ رَقَبَةٍ)**

**دا عقبه) د چا غاړه له غلامۍ څخه ازادول دي؛)**

*********

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای کاش انسان دنړۍ د دتيرايستونکو شهوتونو او خوندونو څخه فارغه کيدای ترڅو خپل خالقﷻ ته رسيدای ځکه چي شهوتونه دهغه او الله ﷻ ترمنځ پرده ده!

دکوم څه څخه چي مو دلته يادونه وکړل ديؤې غدې دهورمونونو لږه اندازه مالومات وه، مګر د هورمونو په اړه بشپړ مالومات لا دراوس دپوهانو په لاس کي نسته، دغدو او هورمونونو ډېر اړين رازونه لا دراوسه پټ پاته دي.

کله چي انسان دلندمحالي مرګ: خوب څخه راکښيني،خپل ځانته خوځښت ورکوي،خپل کارونه بيا پيلوي، دخپل بدن دپيچلي جوړښت څخه خبر نه وي، موږ د خپل بدن دغړو دکار، دهغوئ دډېر دقت او پيچلتوب څخه بيخي لږ مالومات لرو، که زموږ دبدن په يؤې کوچنۍ برخې کي هم ګډوډې پيښنه سي زموږ ژوند به ډېر سخت سي،راسئ چي دالله ﷻ دستر نعمت خپل دبدن دغړو د روغتيا دعا وکړو اوتل دالله ﷻ د بې شميره نعمتونو شکرونه ادا کړو.

والله اعلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Thymus تايموس حربي پوهنتون

تيموس هغه غده ده چي دپيدايښت دپيل څخه وده کوي، ورسته در دوو کالو نرۍ کيږي، همدغه کار پوهان دې ته اړ ايستلي وه چي خپل اند څرګند کړي، هغوئ ويل: ياده غده هيڅ چار سرته نه رسوي او دانسان په ژوند کي اضافي ده، دوئ دا خبرې ځکه کولې چي علم لا خپل اوسنيو پوړيو ته نه وو رسيدلی، مګر درڅه موډې ورسته دامالومه سول چي دانسان په ژوند کي ياده غده يؤه دارزښتمنو او اړينو غدو څخه ده.

دانسان دفاعي،ساتونکی سيستم دانسان لپاره خورا ډېر اړين او ارزښتمن سسيتم دئ، ياد سيستم يؤلوی شمېر پوځ چي شمير يې يؤتريليون او25زرو ميليونو ته رسيږي لري،

دياديوځ يؤه ډله د دوښمن دډول،د وسلو او دهغوئ دځانګړونو په اړه مالومات مونډي، بله ډلګۍ يې وسلې جوړوي او ځيني يې جنګ ته درومي، ښه نو ياد دپوځ د درو ډلو څخه جوړ دئ: دمالوماتو،خبرنو راټولونکي،وسله جوړونکي او د دوښمن سره مخامخ جګړه کوونکي ډلګۍ، دلته يې دجنګ کوونکي ډلګۍ په اړه خبرې کوو.

دوينې سپين کرويات چي دهډکو په مغز کي جوړيږي او جنګي ماموريت ته ځانګړي سوي دي جنګ ته دښه چمتوالي،دجنګي تجربو دموندلو او جنګي مهارتونو دزده کړې لپاره يؤه حربي،جنګي پوهنتون ته لېږل کيږي چي نوم يې د تيموس دئ در ورستئ ازموينې دروركړي ورسته د زده کړه کونکي حجري په توګه فارغ کيږي د ياد روزل سوي پوځيان دډلې نوم: تې لمفوسايټونه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياد پوځيان په تايموس پوهنتون کي دوه اړين درسونه زده کوي: دخپل ځان او دوست پيژندنه او دناروغيو راوړونکي دښمن پيژندنه.

په لومړي پړاو کي سلګونه زره پروټئينونه چي دبدن په جوړښت کي رول لري دغو ژونکو،يا جنګي زده کړياليانو ته ښودل کيږي چي دا دوستان قوتونه دي، او روزونکي پوځ تې لمفو سايټ ته ويل کيږي چي پردغه ډله حمله ونه کړي ځکه پردوی باندې په حمله کول بدن خپله خپل ځان لمنځه وړي.

په دويم پړاو کي کومې شيدې چي دنسلونو څخه دمور دخوا څخه ماشوم ته ورکول کيږي دهغوئ دلاري دځينو ناروغيو په اړه دبدن ساتونکی پوځ دځينو ناروغيو سره بلديږي او حجرو ته دناروغيو رامنځته کوونکي ميکروبونه،ويرسونه او پرازيټونو ښوودل کيږي، يانې دمور شيدي ديؤډول وکسين په ډول کار کوي،ماشومان په لومړيو کلونو کي په فطرتي ډول ډيره هڅه کوي ترڅو هرشی چي لاس ته ورځي خولې ته يې واچوي،وي خورې دې کار کي حکمت او راز دادئ چي ماشوم چي دهيڅ کومې ناروغۍ سره مخ سوی نه دئ د ډيرو ناروغيو د رامنځته کوونکو سره مخ سي او دماشوم دفاعي ځواک سپين کرويات او پلاتيليټونه دبدن دښمن عنصرونه وپيژني او دهغوئ په اړه ډير مالومات لاسته راوړي، اوپه راتلونکي وخت کي دهغوئ داحتمالي حملې کولو لپاره ځانونه تياره وي،تيارکړې،

ښه نو په دغه ازموينه کي دبدن ساتونکی پوځ ددښمن جنګ کوونکی پوځ پيژني يا دهغوئ دشتون خبر خپروي يا دا چي خپله دهغوئ په نيوونه کي ګډون کوي، همدارنګه ماشوم دناروغه کيدو ورسته دماشوم دبدن دفاعي پوځ دناروغيو رامنځته کوونکي پيژنې او دځينو پر وړاندې دټول عمر لپاره يؤه جنګي ډله دهغوئ سره دجنګ لپاره تياره وي او دنده ورته سپاري ترڅو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هروخت دهغوئ دحملي په وخت کي هغوئ ته داسي غابښ ماتونکی ځواب ورکړي چي دبدن هيڅ برخې ته زيان ونه رسوي،

دانسان دبدن دساتونکي پوځ يادابښت لرونکي استخباراتي ډله دومره په خپل کار پوه او خپلې دندې ته ژمنه ده چي هروخت ددښمن جنګي ډلې پيژني او هغوئ په هيڅ ډول نه هيروي،

ښه نو کله چي مو چي دشري ناروغي ونيسي بيا مو ولي نه نيسي؟

ځکه زموږ دبدن ساتونکی پوځ دهغوئ د دويم ځلې بريد لپاره پوره تيار وي او يابښت لرونکي حجري هغوئ ښه پيژني.

دتايموس غده د بريښنايي مايکروسکوپ لاندي دانار د دانو دپوړونو په شان مالوميږي چي سپين کرويات،تي سيل وربانديي قطار وي ترڅو ياد اړين درسونه ياد کړي، هو هر ښوونځی،پوهنتون او دپوهې دزده کولو ځای بايد ازموينه هم ولري، تي سيل دسپينوذراتو برخه هم يؤ يؤ دازموينې دورکړي په خلاصيدلو سره بري ليکونو ترلاسه کوي چي دازموينې اړينې پؤښتنې پورته ليکل سوي دوې پوښتنې دي.

دلومړي درس ازموينه دا وي چي يؤه دوسته حجره يانې د بدن خپله حجره تي سيل ته وړاندي کيږي:که پرهغې بريد وکړ ناکامه دئ او اجازه نه ورکول کيږي ترڅو دتايموس پوهنتون څخه ووځي بلکي دا ناکامې دهغه ژوند ته دپای ټکی ږدي او وژل کيږي ځکه: که چيري ونه وژل سي وينې ته دننوتلو سره سم به پر خپلو وار وکړي او پر خپلو وار کول او وژل ډېر زيان رسوونکی چار دئ ځکه خو په ازموينه کي يې ناکامې دمرګ لامل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دويم درس ازموينه يې داسي ده چي د دوښمن يؤپوځي دبيلګې په ډول وايروس يا ميكروب ورته وړاندي كيږي: كه چيري زده كړيال هغه ونه پيژندی يا دهغه پروړاندي ونه دريدئ برى ليک نه وركول كيږي او دناكامی لكبله دا زده كړيال هم وژل كيږي.

ځكه كه وينې ته ننوځي د دوښمنانو پروړاندي غفلت كوي او هغوئ ته دا وخت وركوي ترڅو پر بدن حمله وكړي.

دتايموس په حربي پوهنځی كي دپوځيانو تې سيل روزنه دكوچني دپيدايښت څخه پيل او در درو كالو پوري دوام كوي ورسته درهغه هغه زيرک زده كړيالان چي دياد پوهنځی څخه په ښونمرو فارغه سوي د استادئ دنده ورته سپارل كيږي ترڅو هغوئ راتلونكو نسلونو ته هم دا پوهه ورسوي او نورسپين ذرات دبدن دفاعي پوځيان وروزي.

په اويا كلنئ كي دسپينو ذراتو روزل سوي پوځيانو په روزنه كي كمی راځي يانې يا ښه زده كړه نه سي كولی يا يې يادښت كمزوری كيږي، يا خيانت كوي او يا په لوی لاس دامر كوونكي په لارښوونه ورو ورو پر خپلو دوستانو حجرو او يا دبدن پر ځينو غړو لكه پانقراس باندي حمله كوي، په همدې خاطر په اويا كلنو كي ځيني ناروغئ ډيرې وي لكه دبندونو د درد روماتيزم،دبندونو التهاب، شكرې او دپښتورګو ناروغئ او ځيني نورې چي د دفاعي ذراتو دناپوهئ، كم زده كړئ څخه پرته بل علت نه لري،ښه نو ياد علت دئ چي د جنګ كوونكو سپينو ذراتو دنده،د ضبط او ثبت چاره په ښه ډول سرته نه رسيږي، دا يانې په دفاعي سيستم كي ګډوډي راتلل،په ياد وخت كي بدن خپله پر خپل ځان واری كوي، دخپلو سره خيانت كوي، هغه پوځونه چي مخكي به يې دبدن ساتنه كول اوس دبدن د لمنځه وړلو لپاره سره يؤځای كيږي او دبدن اړينو غړوته زيان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رسوي، هغه پوځونه چي بدن ددې لپاره ښه روزنه وركړي وه چي دهغه څخه د دباندنيو يرغلګرو پروړاندي دفاع وكړي اوس خيانت كوي او خپل لمنځه وړي، په داخلي جګړه كي شكيل كيږي، چي ددې حالت بيان په دې ښكلو ويوونو كي ښه بيان سوى دئ. أُعلِّمه الرّمايه كل يوم/ فلما اشتد ساعده رماني**

**وكم علّمتُه نظم القوافي فلما قال قافيةً هجاني**

**ما هغه ته دغشو ويشتل ورزده كړل، مګر كله چي يې لاس او بازو مهارت پيداكړ،زما طرف ته يې غشى وار كړ، هغه ته مې چي دشعر ويل ورزده كړل، هغه چي كله قافيه،بيت جوړكړ پر ما يې وارى حمله په وكړل. دبيتون دژباړي مفهوم دئ ټكي په ټكي ژباړه نه ده.ښه نو يادې غدې ته چي وګړي لږ پام هم نه كوي، او په اصل كي دګټې څخه يې خالي ګڼي، په حقيقت كي دحساسو او اړينو غدو څخه دبدن ده، ديؤه حربي ښوونځى او پوهنتون سره ورتوالى لري چي جنګي پوځيانو ټي سيل،دسپينو كروياتو،ذراتو ته روزنه وركوي ترڅو دوست او دښمن وپيژني.**

**څومره چي پوهه ډېريږي،علم پرمختګ كوي: هومره په كايناتو او دانسان په بدن كي دالله جل جلاله دحكمتونو،جلال، قدرت، او ديؤالي دنښو نښانو څخه پرده پورته كيږي.**

**الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ الذّاريَات : 21 (وَفِىٓ أَنفُسِكُمۡ‌ۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ**

**او پخپله ستاسي پخپل وجود كښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير كتونكي نه ياست؟**

********

**والله اعلم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صنوبري غده

دانسان د مغز په مابينځ کي يؤه سپينه ذراتو والا غده شتون لري چي صنوبري غده ورته ويل کيږي.

يؤه لوی رغتياپوه په يؤه اقتصادي پرمختللي هيواد کي زده کړيلانو ته وويل: صنوبري غده بې ګټې ده،هيڅ کار، ځانګړی فعاليت نه لري او حتا يؤ کوچنی ونډه هم دبدن په چارو کي نه لري، مګر الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ بنىٓ اسرآئيل/الإسرَاء : 85

{ وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَ ِبّى وَمَآ أُوتِيتُم ِمّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا}

دوی ستا څخه د روح په باب پوښتنه کوي، ورته ووايه: "روح زما د رب په حکم راځي، خو تاسي له علم څخه لږه برخه موندلې ده.

*******

هغه دلوی طبي پوه خبرې وي چي زده کړيالانو ته يې دبدن جوړښت پېژندنې،اناټومۍ په درس کي کړي وي،

ښه نو ورسته در څيرنو طب پوهانو دا ووندل چي دا لومړۍ غده ده چي په جنين کي جوړيږي او همدا ورستی غده ده چي د طب پوهانو لپاره رازونه ښکاره کوي.

ياده غده داسي هورمون ترشح کوي چي په ټولو ژونديو موجوداتو کي شتون لري، نباتات،حيوانات،حشرات او حتا يؤ حجروي موجودات کي هم ياد هورمون شتون لري، ډېره جالبه داده چي دا هورمون په ټولو ژونديو موجوداتو کي يؤ رکم دئ،دبيلګې په ډول يؤازي په شپه کي ترشح کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوهانو په هغه علمي څېړنه کي چي 1995کي خپره سول، دياد هورمون په اړه داسي ويلي وه: دغه هورمون دانسان دبدن يو دډېرو فعالو عناصرو څخه دئ، دبدن سره د ويروسونو او ميکروب ته کوي چي رحته بيده سي او ښه خوبونه ووينې، دزړه اورګونو دناروغيو ون پر وړاندي په مبارزه کي مرسته کوي،همدا ډول دانسان سره مرس دکمښت لپاره بدن پياوړی کوي، داوږدو سفرونو دستړيا په لږولو کي مرسته کوي، دعضلاتو پياوړتيا ډېره وي، حتا در دې اندازې پوري چي کولی سو دا هورمون دانسان دسلامتۍ او دبدن د غړو د دندو دسمون کوونکی په توګه وپېژنو.**

**ښه نو دغه پوه ته ددې ټولو مالوماتو په ليکلو سره چي ويلي يې وه: چي صنوبري غده په بدن کي بې ګټې غده ده او هيڅ رول او کار په بدن کي نه لري بايد ووايو او يادونه ورته وکړو چي په خپلې بې اساسي خبرې سره د سمې لارې څخه اوښتی دئ ، اړينه نه چي هر هغه څه چي ليکل کيږي، لوستل کيږي،ليدل کيږي او يا اوريدل کيږي سم وي.**

**ياده غده دبدن ډېر اړين هورمون ترشح کوي، که چيري دکاره ولويږي دانسان دمړنې حکم صادر سوی دئ، يوه کوچنۍ د ذرې په شان غده چي دمغز په منځ کي ځای پرځای سوې ده او په ټولو ژونديو موجوداتو کي د نباتاتو څخه نيولي درانسانانو پوري او د حيواناتو څخه در يو حجره يې موجوداتو پوري په ټولو کي شتون لري.**

**[سُوْرَةُ بنىَ اسرآئيل/الإسرَاء : 78]**

**أَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ وَقُرْءَانَ الْفَجْرِ  إِنَّ قُرْءَانَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ، د لمر له زوال څخه د شپې تر ترږمۍ پوري قايم کړه، او د سهار قرأت (لمونځ) هم لوله؛ ځکه چي د سهار په قرأت لوستلو (د سهار په لمانځه) شاهدي وهل کيږي. سُوۡرَةُ البَقَرَة : 255

اللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَّهُۥ مَا فِى السَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى الْأَرْضِ ۗ مَنْ ذَا الَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ ۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِىُّ الْعَظِيمُ }

د الله، هغه ژوندي ابدي ذات څخه پرته چي ټول کائنات يې تنظيم کړيدي بل هيڅ خداى نشته؛ هغه نه ويديږي او نه پرېشاني پرې راځي. په اسمانونو او ځمکه کي چي هر څه دي، د هغه دي. څوك د هغه په وړاندي د هغه له اجازې پرته سپارښت کولاى شي؟ - څه چي د بندګانو په وړاندي دي په هغو هم خبر دى او څه چي د بندګانو څخه پټ دي په هغو هم؛ او د هغه له معلوماتو څخه هيڅ شى د هغوى په ادراك کښي نشي ايساربداى؛ مګر دا چي الله پخپله د کوم شي علم ورکول وغواړي. د هغه حکومت پر اسمانونو او ځمکه خور شويدى او د هغو ساتنه د هغه لپاره کوم ستومانوونکى کار نه دى. يوازي هماغه (الله) يو لوى او لوړ ذات دى.

*****

پوهان وايې دراوسه پوري دانسان پوهه دسمندر ديوه څاڅکي په اندازه نه ده، در اوسه پوري پوهان د کايناتو او خپله دانسان په رازونو کي سرګردانه دي او نه سي کولى د ډېرو رازونو څخه خبر سي.

په يؤه کال کي دري سوه پراخې علمي څيړنېز ليکونه ديادې غدې په اړه خپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوي دي،بنه نو ځيني وخت دا مخته راځي چي انسان دخپلې ناپوهۍ له کبله دیٔو شي ارزښت لږ یامات کړي، مګر که په ربښتیا خبر سي حقیقت ته ورسيږي، دا به ښه،ښکلي او بریا ته رسوونکي کړنه وبولي چي خپل خاورين سر پر خاورو کښیږي د خپل خالق جل جلاله ستاينه وکړي، دنعمتونو شکر ادا کړي او تل سجده کونکی واوسي.

## لوازالمعده پانقراس

دشکري ناروغي دبدن د یٔوه غدې څخه چي پانقراس ورته ویل کيږي سرچينه اخلي، کله چي خواړه معدې ته رسيږي دهضم کوونکي مادي سره مخ کيږي او تېزابي ځانګړنه ځانته غوره کوي او د هغو عصبو دتحریک، خوځښت لامل کيږي چي الله جل جلاله دمعدې په دېوالونو کي ځای پرځای کړي دي، دغه چار په مغز کي مرکزي عصب په کار اچوي مغز پانقراس ته لارښوونه کوي ترڅو عصاره،شیدو،یا چیکیدې ته ورته مواد ترشح کړي او د خوړو تروشکي لمنځه یوسي، ښه نو دپانقراس لومړۍ دنده دچیکیدې ته ورته موادو ترشح ده ترڅو دخوړو تېزابي، اسیدې ځانګړنه په القلي بدله کړي.

دپانقراس دویمه دنده داده چي په اینه او عضلاتو کي ذخیره سوي قندونه،خوړې،ګلای کوجن،یا ځیني وخت شحمونه،غوړي چي دګټې وړ نه وي د ذخیره وي حالت څخه را وباسي او دګټې اخیستې لپاره یې په قند؛خوړې بدل کړي، ښه نو قندونه یا په بدن کي بوري دوه حالت لري ذخیره خوړه او دګټې اخیستنې په حال کي خوړه، باید یٔو هورمون دپانقراس څخه ترشح سي ترڅو خوړې دیٔوه حالت څخه بل حالت ته بدلې کړي.

دپانقراس دغدې دریمه او ترټولو اړینه دنده داده چي: پانقراس دبدن دخوړې،شکري دمصرف،کاروني،کنټرول او سوځیدنې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دانسولين،اوګلوکاګون په نامه هورمونونه ترشح کوي، کله چي هم ياده غده دانسولينو په ترشح کي سوستي وکړي قند،خوږه،شکره په بولو کي ښکاره کيږي چي ياد حالت د دويم ټايپ ډيابيټ؛يا شکري ناروغۍ په نامه ياديږي او که بيا چيري پانقراس غده هيڅ هورمون توليد او ترشح نه کړي دانسان په بدن کي دلومړي ټايپ ډيابيټ يا شکري ناروغۍ لامل کيږي.**

**أو هو! يؤه کوچنۍ غده چي زموږ هغې ته هيڅ پام نه دئ: لوی کارونه سرته رسوي، زموږ رب ﷻ څومره پوه،حکيم، او لوی دئ،الله ﷻ فرمايي:[سُوْرَةُ الذّاريَات : 21**

**{ وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ}**

**او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟**

********

**ښه نو زموږ بدن او ټول کاينات درازونو څخه ډک دي،که موږ يؤازي دخپل بدن دژونکو، نسجونو او غړو په جوړښت،دهغوئ دچار په دقت او ښه سرته روسونه کي پوهه لاسته راوړو اند پکښي وکړو:زموږ دا لنډ ژوند بسنه نه کوي ترڅو موږ په خپل بدن کي دالله ﷻ دحکمتونو د عظمت دبې شمېره ښښو نښانو څخه خبر سو، هو دا ډېر ستونزمن چار دئ چي انسان يې کيداى سي هيڅ وخت سرته ونه رسوي.**

**راسئ چي ووايو : څومره لوی،پاک،او دحکمت څښتن دئ پاک الله ﷻ چي انسان يې په غوره او ښه شکل جوړ کړی دئ هغه انسان چي درجه يې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګناهونو په پريښودو او دالله جل‌جلاله حکمونو ته په رښتني ډول غاړه ايښودو سره دملائيکو څخه لوړيږي او که چيري برعکس وي نو درجه به يې دټولو لاندينيو څخه لاندي وي.

# طحال يا توری

## توری څشي دئ؟

دغه جالب اندم او اړين غړی که دکاره ولويږي او يايې کار دخپلې مالومې اندازې څخه ډېر سي دانسان ژوند ته دپای ټکی ږدي، توری يؤسيستم،يؤه غده يا يؤ غړی؛ هرڅه چي مو زړه غواړي نومولی يې سي، دتوري پنډوالی يؤانچ،بر يې دري انچه، اوږدوالی يې پنځه انچه او وزن يې دشلو ګرامو څخه ډېر نه دئ، ياد غړی په سور رنګ سره رنګول سوی دئ، د ډيرو ډېر کوچنيو رګونو په واسطه چي ديؤه شريان او وريد سره په اړيکه کي دي دوينې دبهيدونکي سيستم سره مښلول سوی دئ، دتوري په دننه کي دکور په شکل پردې شتون لري چي عضلي يې په برکي نيولي دي، يادې عضلې په مالوم وخت کي راغونجيږي او توري دذخيره سوي،خوندي سوي وينې څخه خالي کوي.

ښه نو همدا توری دئ چي داينې سره يؤځای د جنيني ژوند په دوران کي ساتونکي پوځيان يا سپين کرويات جوړوي، هو سپين ذرات چي د بدن څخه دفاع کوونکي، ملاتړکوونکي او دهغه دروغتيا خوندي کوونکي دي، همدارنګه توری دميلينونو هغو مړو سرو کروياتو هديره ده چي هغه ته ليږدول کيږي.

په همدي هديره کي يؤه ماده شتون لري چي مړه سره کرويات دهغوئ په بيا جوړيدونکو موادو باندي تجزيه کوي، ښه نو دمړو سرو ذراتو څخه اوسپنه ازاديږي او دا اومه مواد دوينې جوړيدنې کارخونو؛يانې بون ميرو،دهډکو مغز ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليږدول کيږي ترڅو نوي سره کرويات تري جوړ کړي، همدارنګه دهمدي مړو حجرو دتجزيې څخه ورسته هيمو ګلوبين ازاديږي،ايني ته ليږدول کيږي ترڅو صفرا تري جوړه سي،صفرا دکوچنيو کلمو په دويمه برخه کي تويږي او د غوړو په تجزيه کي مرسته کوي؛جالبه ده.**

**دا هديره يؤه هديره نه ده بلکي يؤ پيچلي کار خانه ده چي دسروکروياتو دمړو څخه د سروکرويات بياجوړونکي اومه مواد جوړوي او د:هډوکو مغز ته يې استوي ترڅو نوي سره کرويات تري جوړ کړي، دهمدي مړو حجرات څخه هيمو ګلوبين جلا کوي ايني ته يې استوي ترڅو په اينه کي تري صفرا،زرغوني اوبه جوړي سي او دکوچنيو کلمو جيجنيوم برخې ته توی سي او دغوړو خوړو په هضم کي مرسته وکړي.**

**ښه نو آيا نه سو کولی دغه چار ته اقتصادي پروګرام جوړونه ووايو ؟**

**آيا دا يؤه الهي بلنه نه ده چي موږ دي ته را وبولي ترڅو په توکو کي اسراف ونه کړو حال داچي د انسانانو شمېر ورځ په ورځ ډېريږي اوتوکو ته يې اړتيا څو برابره کيږي...خو انسانان دوړو انسانانو حق خوري او خپل دخوړولو او کاروني وړ توکي په خاورو خځلو بدلوي،ستر اسراف کوي!؟**

**يؤ بل ديادولو وړ ټکی دادئ چي توری دوينې دسروکروياتو دجوړيدو يؤ کارځای هم دئ خو يؤ کومکي کار ځای؛ ياني توری يؤزي هغه وخت دوينې سره کرويات جوړوي کله چي دهډکو په مغز کي دسرو کروياتو دجوړيدا چار ودريږي يا وځنډيږي،**

**هو هغه وخت توری دوينې سرکرويات جوړي ترڅو دانسان ژوند وژغورل سي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه همدغه تورى دسرو كروياتو د ذخيرې ځاى هم دئ او دبدن داړتيا په وخت كي سره كرويات دبدن په واک كي وركوي.

دیادولو وړده چي تورى ځيني وخت سپين كرويات هم جوړوي.

كه چيري توري هغه سركرويات چي مړه ده ته راوړل كيږي؛ لمنځه يې وړلى او داسي يې نه تجزيه كولى چي هغوئ بيا جوړسي انسان به د ويني دلږى ديؤډول ناروغۍ سره لاس او ګريوان سوى وايي ،كه چيري تورى په خپل چار كي سوستې او ناغيري وكړې: دانسان دفاعي سيستم به كمزورى سي، هغه څه چي نن ورځ نړيوال دهغه څخه ډېر كړيږي.

موږ ځيني وخت دپسه تورى دغوښه پلورنكي څخه رانيسو،كباب او خورو يې، بيله دې چي وپوهيږو دا څه خورو دا خو خپل يؤ دونياده.

الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ الذّاريَات : 21

{ وَفِىٓ أَنفُسِكُمۡ‌ۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ}

او پخپله ستاسي پخپل وجود كښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير كتونكي نه یاست؟

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دناړو جوړښت او د هغوئ کار

په خوله کي يؤه ماده دناړو،يا دخولې داوبو په نامه شتون لري، چي دژبې،ژبې او غوړو لاندې کوچنۍ غدې يې ترشح کوي.

موږ دلته دیادو غدو دشمېر جوړښت او پر هغوئ دڅرګندونو سره کار نه لرو بلکي پر دوو اړینو شیانو باندي ږغيږو، دناړو پر جوړښت او دهغوئ پر کار باندي.

څوک باورکولی سي چي ناړو کي معدني کانونه شتون لري،دسوډيم، پوتاشم،کلسيم،مګنيزيم،فسفات،بيكاربناټ، پروټين او بورې، همدارنګه د زهرو ضد ماده او انزايمونو دناړو جوړونکي مادې دي، کوم قدرت ناوړي چي موږ يې ساده او عادي ګڼو په داسي پيچلي ډول ترتيب او ترکيب کړي دي؟

دناړو،لعاب جوړونکی څوک دئ؟

چا په ناړو کي عضوي او معدني کانونه ځای پر ځای کړي دي؟

دیادې مادې ناړو د دندو په اړه باید ووايوو: پوهانو موندلي دي چي ناړي په څو سطحو کي څو اړين کارونه لري، لومړی داچي دخولې دننه مخ سطحه مرطوب،لنده ساتي، ځکه که په خوله کي ناړې نه وي خوله وچه او چاودې چاودې کيږي چي په پايله کي راکوليږي، ميکروبونه او پرازيتونه ځای پکښني نيسي او دتولې خولې د درد،وينو او دانسان د کړيدو لامل کيږي، ښه نو دناړو يؤه دنده دژبې او خولې لندول لنده ساتل دي.

دويمه دنده دناړو داده چي: خواړه، دډوډۍ ګولې لندوي ترڅو ژول او هضمول يې ستونزمن نه وي او په آسانۍ سره سرته ورسيږي، په واقيعت کي دهضم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی کار په خوله کي سرته رسيږي، کله چي يؤ وګړی دډوډۍ خوري او دډېر وخت لپاره يې په خوله کي نيسي، خوږ خوند احساسوي، ياد احساس دا مانا لري چي په ناړو کي هضم کوونکي مواد شتون لري چي نشايسته په خوږې بدلوې.

ياده ماده ناړې دخبرو کولو لپاره ډېرې ګټوري او کارجوړونکي دي، زموږ بدن يؤه ويی يا لغات د ويلو لپاره اوولس عضلې په کار اچوي، ژبه يؤازې دخبرو کولو وسيله ده اوبس، که چيري دانسان په خوله کي ناړې نه وي انسان دخبرو کولو وړتيا دلاسه ورکوي.

ناړې خوله او غاښونه دخوړو دپاتيشونو څخه پاکوي، هغه کړنه چي د ډېرو ورته پام نه دئ، جالبه داده چي موږ چي کله تروش شی خورو ناړې ډېرې را وځې.

هرډول ښڼل خوند لري، کله چي هم په کوموخوړو يا ښڼاک کي تريوالی ډېر وي نو دناړو توليدونکي غدې ډېرې تحريکوي، ډېرې ناړې ترشح کوي ترڅو سخته ماده لږ نرۍ،نرمه سي او انسان ته ازار ونه رسوي.

ناړې کولی سي دخپل تودوخي دبدلون په مرسته ګرم خواړه لږ ساړه او ساړه خواړه لږ ګرم کړي، ښه نو ناړې په خوله کي د ګولې په ګرځولو کي ونډه لري، اړينه خبره داده  ناړې د غاښونو دميکروبي کيدو او خرابيدو ضد ماده لري، خوله د ازادي هوا سره په اړيکه کي ده دميکروبو د رشد لپاره لنډبل او مناسبه تودوخه شتون پکښي لري چي دا دوړه دميکربونو د دشمڼ دډېرښت سره مرسته کولی سي، په همدې خاطر په ناړو کي دميکروب ضد مادې، ليزوزيم او لاکتومزين شتون لري، چي ځيني ميکروبونه د دننوتلو او پيدايښت سره سم دېښو غورځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو ناړې ډېرې اړينې چارې ترسره کوي: دميکروضد،دغاښونو دخرابيدو ضد موادو څخه نيولي د زيان رسوونکو محلولونه تر لمنځه وړنې پورې، دغاښونو څخه د خوړو دپاتيشونو پاکول، دژبې په چليدا خوځيدو کي آساني دخبرو کولو په وخت کي، دګولو پستول د ژولو په وخت کي، دهضم لومړی چار په خوله کي، دخولې لنده ساتل او نوري هغه دندې دي چي ناړې يې په ښه ډول سرته رسوي.

الله ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ الذّاريَات : 21 (وَفِيٓ أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟

****

دغه ناړې چي څوک هغوئ ته ارزښت نه ورکوي دکوچنيو اوپيچلو حجرو جوړښت، غدې او بيلا بيلې دندې لري، يؤازي ددې لپاره چي انسان ارام،رحت او په سکون ژوند وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زامې،ژبه او هضمي سيستم

د مځکې، هسکونو او خپله دانسان د بدن په پيدايښت او خلقت کي ژور اندکول الله ﷻ ته درسيدلو تر ټول روښانه او نژدي لار ده.

الله ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 53

سَنُرِيهِمْ ءَايٰتِنَا فِى الْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَ ِبّكَ أَنَّهُۥ عَلٰى كُلّ ِ شَىْءٍ شَهِيدٌ

ډېر ژر به موږ دوی ته خپلي نښاني په افاقو (هيوادونو) کښي هم وښيو او د دوی پخپلو نفسونو کښي هم؛ تر دې پوري چي دوی ته دا خبره څرګنده شی چي دغه قُرآن په ربښتيا سره پر حق دی. ايا دا خبره کافي نه ده چي ستا رب پر هر څه شاهد دی؟

****

ددغو نښو؛ نښانو څخه يؤه يې زامه ده، چي شپږ عضلي لاندي خواته په خوځښت راوستلو،شپږ عضلې يې لوړ لورته په حرکت راوستلو، دوې عضلې يې چپه او راسته اړخه ته په خوځښت ورکولو او څلور عضلې يې ومخ او شاته په خوځښت راوستلو کي داخلي دي، مرسته کوي.

ښه نو زامه شپږ حرکته لرونکي ده: لوړ،کښته،مخ شاته راسته ؛چپه لورته، او انسان هرورځ 2400ځله غذا ژويي او تيروي يې، همدارنګه د خوړو دتيرولو سيستم،ګډکاری هم ډېر دقيق دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خوله کي هر دقيقه سل زره حجرې؛ژونکي نوي کيږي، دژبې دښه کار لپاره هم اولس عضلې په ګډه کار کوي ترڅو ژبه په دې وتوانيږي چي د ډوډۍ ګوله هر لور ته په آسانۍ واړوي را واړوي.

تاسودخميرکولوماشين، ته وګورئ څنګه سره څرخي،څنګه ګډونکي وسيله لري،چي اوړه او نور مواد سره وهې، خوله هم په همدغه ډول سره ده، کښته زامه: لوړ،کښته،راسته،چپه،مخ او شاته خوځښت لري؛چي ژبه دهمدغه ګډونکي وسيلې چار مخته وړي چي هر لورته څر خي او ګوله سره اړوي.

دخوړو او اوبو دتېرولو چار هم يو اړين او دقيق چار دئ چي په هغه کي حلقۍ،کوچنۍ ژبه او اپي ګلوت(اپي ګلوت سري غاړي ته دخوړو دننوتلو په وخت کي دتنفس کولو لار ترخيا يا دساه دنلۍ پيپ،بندوې ترڅو خواړه سږو ته ولاړ نه سي) داسې چي کله انسان ګوله تيره وي نو ديوه لوري حلقۍ ژبه دپزې لار، دپزې د شا دوې کړکۍ بندوي او دبل لوري اپي ګلوت دتنفس کولو لار ترخيا بندوې ترڅو خواړه او اوبه سږو ته داخل نه سي، که حنجرې ته لږ اندازه خواړه داخل سي انسان يې په سا وهي.

ښه نو کله چي بيا انسان بيده وي او نارې په خوله کي راټولي سي څه پيښيږي؟

که څه هم دخوب په وخت کي دنارو جوړونکي غدوات لږ ناړه جوړوې خو که نارې په خوله کي راټولې سي يو ډېر جالب کار سرته رسيږي، داسي چي دخولې څخه عصبي پيغام مغز ته ليږدول کيږي،مغز نارې راګرځوي، هغه وخت حلقۍ ژبې او اپي ګلوت ته امر کوي ترڅو دپزې او ساه کښلو دنلۍ لار وتړي در هغه ورسته ناړي دمرۍ لورته استول کيږي، دا ټول کارونه هغه وخت سرته رسيږي چي انسان په درانه خوب بيده وي مګر دالله جل جلاله ساتنه تل زموږ سره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرورځ د اوبو او خوړو دتيرولو چار دجمجمې: اوم،نهم،يولسم او دولسم عصبو په مرسته چي ټول دمغز دريښې څخه تيريږي په پوره دقت او ښه ډول سرته رسيږي،که چيري دغه ګډکارى،سيستم په هر دليل زيان وويني، خواړه به ديؤه لوري دپزې شاتنيو لارو ته ننوځي او پزي دمخکنيو لارو څخه به راووځي،او دبل لوري به حنجرې،دساه کښلو لارې ته ننوځي او دهغه ځاى څخه به سږو ته ننوځي چي دياد کار پايله به دخفه کيدلو له کبله دمړينې حتمي لامل سي.

مرئ چي د25څخه در 30سانتي متره اوږده ده او په دا حلقوي، ګيرديو عضلاتو سمباله ده چي تل سره راټوليږي،ښه نو که کوم څوک په روغتون کي بستروي او هغه ته خواړه ورکړو په طبيعي ډول به خواړه خپل لار د مرئ څخه در معدې پوري ووهې، همدارنګه که دبيلګې په ډول يؤ وګړى په ښنو ځړيږي او هغه ته خواړه ورکړو، لوړ لورته دمځکې دجاذبې دقوې خلاف به ولاړ سي، ځکه مرئ چي دڅلورو پرونو لرونکي ده دايروي،ګيردئ عضلې لري چي په پرلپسي ډول سره را ټوليږي،غونجيږي ځکه خو ګوله يا خواړه به دمرئ څخه معدې ته ورسيږي.

معده يؤ سرپوښ لري چي ټينګ تړل کيږي او نه پريږدي چي دمعدې تېزابي اوبه دمعدې څخه دباندي را ووځي او انسان ته تکليف ورکړي،دمعدې تېزاب ډېر تېز دي چي دډېرو کلکو موادو دتجزيه کولو وړتيا لري، کله چي يؤ انسان قى وهي د سخت درد او سوځيدو احساس ورته پيداکيږي چي داحالت دمعدې دتېزو تېزابو له کبله وي، ښه نو ددې لپاره چي دمعدې تېزاب مرئ ته ولاړ نه سي او انسان ته زيان او ازار ونه رسوي دمعدې سرپوښ بشپړ بنديږي، ددې لپاره چي ګوله معدې ته ننوځي بايد دګولې دلوري پرياد سرپوښ باندي فشار وارد سي دومره فشار چي دمرئ دنورو برخو دفشار څلور برابره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښه نو دغه ټولې پيچلې چارې چي دانسان په بدن كي سرته رسيږي ددې لپاره دي چي: انسان وخوري وڅښي،بيده سي، اند وكړي او ډېر نورې چاري مخته يؤسي، څوک دغه چاري ترتيبوي؟**

**كومې پوهې، كوم قدرت دغه چارې په لاره اچولي دي .سُوْرَةُ التين : 4.**

**{ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ}**

**په حقيقت كي موږ انسان په ډېره ښه ښه پېداكړ.**

*******

# اپي ګلوت يا كوچنۍ ژبه

**دانسان په بدن كي يؤ چلوونكى يا لارښود پوليس شتون لري چي دمور په رحم كي دجنين دشكل جوړيدنې څخه دمرګ تروختته كار كوي، نه يې په كار كي لږ سوستي راځي اونه دخپله د كاره ستړى او ناخوښه كيږي، شپه او ورځ دانسان دويښې او خوب په حالت كي كار كوي، دغه پوليس همدغه اپي ګلوت؛يا كوچنۍ ژبه يا په بل مانا هغه دروازه ده چي دخوړو دتيريدو په وخت كي دحنجرې لار تړي ترڅو ګوله يا اوبه سږو ته داخل نه سي،په همدې چار سره دساه دنلۍ دروازه وتړل سي او خواړه دسرې غاړې،مرۍ دلارې معدې ته ولاړ سي.**

**په ستوني كي دوه دوروازې شتون لري يؤ حلقى ژبه چي خواړه نه پريږدي پزې ته داخل سي او دويم اپي ګلوت يا كوچنۍ ژبې ته ورته جوړښت چي دسږو دپيپ په دروازه كي ځاى پرځاى سوى چي خواړه نه پريږدي،دسږو پيپ ترخيا ته ننوزې، دستوني لاندي لورته دوه لارې شتون لري: معدې ته دخوړو دتلو لار او سږو ته دهوا دننوتلو لار.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اپي ګلوت خورا ډېر اړين کار کوي، چي ياد کار سږو ته دخوارکي موادو دننوتلو مخه نيول دي، که اپي ګلوت اجازه ورکړي دنېم غړوپ اوبه دساه اخيستلو نلۍ،ترخيا ته ننوزځي او سږو ته ورسيږي: بيله ځنډه دانسان ساه بنديږي، ځکه که دمغزو اصلي حجرو ته پنځه دقيقي اکسيجن ونه رسيږي هغوئ مري.

که اپي ګلوت دا هيره کړي چي دساه اخيستلو لار ونه تړي او دمرۍ لار خلاصه نه کړي: دهغه ياده هيره به دانسان دمرګ لامل سي.

ښه نو څه به وسي که خواړه دساه دنلۍ څخه لاندي ولاړسي؟

هغه وخت به دسږو لار خرابه سي چي او ډېر ژر به انسان دساه بندۍ څخه مړسي.

دغه کوچنی غړی چي د ډوډۍ خوړلو په وخت کي د مرۍ لار او ساه کښلو په وخت کي دسږو لار خلاصه ساتي، شپه او ورځ په ربښتني ډول خپل کار مخته بيايې او رحت نه کوي.

هغه وخت چي انسان بيده وي ياد غړی کار کوي، ښايي وواياست چي دخوب په وخت کي خو خواړه نه خورو، مګر کومې ناړې چي دخوب په وخت کي په خوله کي راغونډيږي، څنګه بيله دي چي په خبر سئ يا ورته پام موسي تيروی يې؟

څوک دئ چي هغه ته يې هدايت کړی دئ، بيله دې چي موږ په خبر و اوسو، چي دساه دنلۍ لار بنده کړه ترڅو ناړې معدې ته سيخي سي او سږو ته داخلي نه سي او کله چي ياد کار سرته ورسيدي بيرته دمرۍ لار وتړه ترڅو ساه کښل په ارامۍ سره دوام پيدا کړي؟

ښه نو ترخيا يؤ اړين غړی دئ که څو دقيقې بند پاته سي دانسان دمړينې لامل کيږي، مهربانه الله جل جلاله پرموږ نعمت لورولی دئ هغه داچي ترخيا دساه نلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا خل کي داسي خوځنده سيلياوي،تنفسي تارونه پيداکړي دي چڅب تل لوړ لورته دحرکت په حال کي وي،که هرشی، که لږ اندازه هم وي ترخيا دساه نلۍ ته ننوځي ديادو تنفسي تارونو په واسطه لوړ لور ته تيل وهل کيږي، ترخو په حنجره کي دګړوبي يابل هر څه چي وي په ډول سره راټول سي، ديادونې وړده چي سيګرټ څکول ياد تنفسي تارونه کمزوري کوي او سږي ديادو تارونو چي لوړ لورته خوځښت لري دسوستۍ له کبله دالتهابي کيدا دخطر سره مخ کيږي.

سره غاړه،مرۍ،معدې ته دخوړو دتلو لاره هم د دايروي،حلقوي عضلو لرونکي ده چي تل دغونجيدني او پرخيدني په حال کي وي، که يۇ څوک په پښو څړيږي موږ هغه ته اوبه يا خواړه ورکړو: خواړه يا اوبه به دمځکې دجاذبې خلاف لوړ لورته ولاړسي،ياني معدې ته به ځان ورسوي.

اند وکړۍ څوک دئ چي خوځنده کوچني،تنفسي وريښته،تارونه يا سيلياوي يې دسږو په پيپ، ترخيا کي ځای پرځای کړي دي؟

چا مرۍ ته دا سي دايروي عضلات ورکړي دي چي که انسان په هر حالت کي وي،حتا که په پښو را ځوړند وي هم به څښاک او خورک کولی سي؟

بيله شکه پاک الله ﷻ دا هرڅه کړي دي. سُوۡرَةُ الجَاثِيَة : 4

{ وَفِى خَلۡقِكُمۡ وَمَا يَبُثُّ مِنۡ دَآبَّةٍ ءَايٰتٌ لِّقَوۡمٍ يُوقِنُونَ}

او ستاسي پخپل پيداېښت کښي او په هغو حيواناتو کښي چي الله يې( په ځمکه کښي) خپوروي، ستري نښانې د هغو کسانو لپاره دي چي باور کوونکي دی.

***

الله ﷻ بيا فرمايي: سُوۡرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 53

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سَنُرِيهِمْ ءَايٰتِنَا فِى الْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ**

**ډېر ژر به موږ دوی ته خپلي نښانې په افاقو (هيوادونو) کښي هم وښيو او د دوی پخپلو نفسونو کښي هم؛ تر دې پوري چي دوی ته دا خبره څرګنده شی چي دغه قُرآن په رښتيا سره پر حق دی. ايا دا خبره کافي نه ده چي ستا رب پر هر څه شاهد دی؟**

********

**سُوْرَةُ الذّاريَات : 21] :وَفِىٓ أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ**

**او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟**

********

**دا هرڅه چي وويل سول؛ دالله ﷻ دلويوالي هغه نښي نښاني دي چي دې ته اړتيا نه پيدا کيږي چي موږ يې داثبات لپاره مايکروسکوپ را واخلو،کتابونه او مجلې پسي وپلټو هرڅوک کولی سي په پوه سي.**

# زرينه غشاء او د درد احساس

**کلمې پر يؤه غشاء چي ډاکټرن هغې ته زرينه غشاء وايي قرار لري، ياد غشا لويه دنده لري: کله چي هم يؤانسان جوش اوبه وڅښني،کلمې دهغوئ ګراموالی،تودوخه نه حس کوي، ځکه الله ﷻ په خپل حکمت سره لويې او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوچنۍ کلمې بيله حسي عصبو پيداکړي دي او دهغه په بدل کي يې کلمې په يؤه غشاء، پوښ سره چي ډېرې دندې لري پوښلي دي.**

**يؤه د دندو څخه ديادې غشاء داده چي کلمې نرمې؛پستي او ارامي وساتي،داسي چي پر خوځښت باندي برلاسي وي، او دا د دقيق ترينو دندو څخه ده ځکه چي کلمي دخوړو په هضم کي ميخانيکي اساسي دنده لري، ديادې غشاء په دننه کي دعصبو مزي او لمفاوي مرکزونه شتون لري، چي دانسان دساتونکي،دفاعي سيسټم منزلونه دي، دبيلګې په ډول که په کلمو کي سخت التهاب رامنځته سي او کلمې سوري سي، زرينه غشاء په دنده پيل کوي، او داسي اوبه جوړوي چي ميکروبونه لمنځه يؤسي، په دې وخت کي انسان د درد احساس کوي، مګر دا درد دکلمو څخه نه احساسوي بلکي دزرينې غشاء څخه وي چي د خطر دزنګ پيليدنې په مانان وي، را پورته کيږي، که چيري په کلمو کي سورى تند،حاد التهاب دکلمودميکروبونو،عفونت سره يؤځاى رامنځته سي، عصبي مزي، اخذې چي په زرينې غشاء کي شتون لري انسان د درد څخه خبروي.**

**ددې هرڅه سربيره په زرينه غشأ،پوښ کي دفاعي مرکزونه هم شتون لري چي ميکروبونه پيژني دهغوئ ضد دوا،زهر جوړوي او ميکروبونه پري وژني او فساد لمنځه وړي.**

**کله چي په قصابۍ کي دکلمو په منځ کي نازکه غشاء پوښ ومومئ، په هغوئ کي به وزګه بلغمي شکله ټولګي چي د غړو دمجموعي په شان وي ووينئ: چي همدا د دفاعي سيسټم ترټولو پياوړي وسلې دي او د داسي سرتيرو لرونکي دي چي د دښمن په پيژندلو کي ترټولو غوره دي، هلته ښه وژونکي وسلې او د وژونکو د درملو،زهرو جوړونې کارخوني هم شتون.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دخيټې،نس ټول دردونه د خطر بيرني زنګ دئ او ټوله يادي غدي چي دانسان په بدن کي حياتي دي، دانسان دبدن،ساتوونکي،دفاعي سيستمونه شميرل کيږي.**

**دالله ﷻ په حکمت په کلمو کي حسي عصب شتون نه لري،ښه نو موږ څنګه دکلمو درد حس کوو؟**

**کله چي په کلمو کي سورى جوړ سي او درد هغې اندازې ته ورسيږي چي دزغم وړ نه وي، الله ﷻ فرمايي: دآيات شريف ورستئ برخه**

**[سُوۡرَةُ محَمَّد : 15] وَسُقُوا مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ**

**او په هغو باندي به داسي ګرمي اوبه وڅښل شي چي کولمې به يې غوڅي غوڅي کړي؟**

*********

**کله چي کلمي سورئ يا پري سي انسان د درد حس کوي، ددې پر بنسټ د لوړ آيات شريف په ځينو موخو موږ دپوهې دتازه لاسته راوړنو په مټ پوه سو، که چيري قرآن کريم دالله ﷻ کلام او پيغام نه واى رسوالله ﷺ نه سواى کولى دغو حقيقتونو ته ورسيږي، ځکه چي په هغه وخت کي علم،پوهه دومره پرمختګ ته نه وه رسيدلي، دغه غشاء چي په ډېر حساسو عصبو سمباله ده، بيله سوري کيدني درد نه احساس کوي، په کلمو کي هيڅ د درد احساس شتون نه لري، داسي چي که انسان ګرمې اوبه وڅښي دهغوئ زيان رسونه نه حس کوي، مګر څه وخت درد احساسوي؟**

**يؤازي هغه وخت چي کلمو کي ټپ،زخم جوړ ياسورى سي. اللهﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ محَمَّد : 15**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**{وَسُقُوا مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ }**

**او په هغو باندي به داسي ګرمي اوبه وڅښل شي چي کولمې به يې غوڅي غوڅي کړي؟**

*********

**انسان چي هرڅومره ډېر دخپل بدن دننه رښتياوو ته رسيږي نو الله ﷻ ته يې دسر د ټيټيدلو په شمېر،د هغه په ياد او خلقتونو کي يې اند ډېرښت مومي.**

**الله ﷻ: دانسانانو پيداکوونکی،حکيمانه چار،نيغه لار،لارښوونکي رڼا، ټينګ،تل پاتی او باوري دليل!**

## معده

**معده چي دانسان په بدن کي ځای پرځای سوي ده خورا لوی بحث او څيرنه غواړي چي دلته يې ليکل ناشونی چار دئ، موږ دلته پرمعدې باندي لږ خبرې کوو هغه خبرې چي دالله جل جلاله دحکمتونو،قدرت ښکاروندوينه کوي!**

**معده دڅلورو پوړونو څخه جوړه سوي ده،الله ﷻ معده په څلورو طبقو چي يوپربل اوډل سوي خلق کړي ده، ددغو پړو څخه ځيني يې عضلي دي، چي په خپل منځ کي بيلابيلې دايروي،سيده او کږي عضلې لري،چي دخوړو دهضم لپاره ښه ځای تري ترتيب سوی دئ.**

**په معده کي 35ميليونه هضمي غدي چي په هر سانتي متر مربع کي په منځني ډول 800غدي کيږي شتون لري، دغه غدې انزايمونه او دمعدې تېزاب،هايډرو کلريک اسيد دترشح کوي چي ټول خواړه حتا کلکي غوښې لا هم تجزيه کوي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مګر يؤ سوال چي تراوسه لاهم دقناعت وړ ځواب نه دئ ورته موندل سوی هغه دادئ: چي ولي معده خپل ځان نه هضم کوي؟**

**غوښې خورو هغه هضم کوي؛ په داسي حال کي چي معده خپله غوښه ده،هغه ماده چي معده يې ترشح کوي غوښه تجزيه کوي،ښه نو دا کوم راز دئ چي خپل دځان پروړاندي هغه څه نه کوي چي دنورو پروړاندي يې سرته رسوي؟**

**دا اړينه پوښتنه ده چي تر اوسه نه ده ځواب سوي، مګر هغه څه چي زموږ پام ځانته را اړوي هغه دادئ چي ځيني پوهان وايي: دويني سره کرويات چي دهډوکو دمغز په کار خونو کي جوړيږي،در هغو چي ويټامين بي 12هغوئ ته ونه رسيږي جوړيدا يې نه بشيريږي، حيرانوونکي خبره خوداده چي ياد ويټامين بيله د يؤه ملګري دمرستې او ملتيا په يؤازي ځان نه سي کولی په کلمو کي جذب او اينه کي ذخيره سي، دياد ويټامين دغه ګران ملګری ګليکو پروټين دی چي خورا کوچنی دئ او اټومي وزن لري، دغه پروټيني ماده دمعدې دخواو دېوالونه،هغه دېوالونه چي دمعدې تېزاب جوړوي ترشح کوي، پوهانو ياده ماده دهغه دموندونکي په نوم نومولي ده.**

**هرکله چي معده ياده ماده ترشح کړي:هغه وخت ويټامين بي 12کولی سي کلمو ته جذب وينې ته داخل او په ځيګر،اينه کي ذخيره سي، کله چي پر مالوم وخت دهډوکو دمغز کار خونو ته ياد ويټامين ورو ورسيږي نو هغوئ په يؤه ثانيه کي د دونيم ميليونو شاوخوا دوينې سره ذرات توليد او کارته يې تياره وي، په اينه کي دياد ويټامين ذخيره،هغه ويټامين چي دسروکروياتو دتوليد نظارت کوونکی دئ، پنځه ملي ګرامه ده چي دانسان لپاره پنځه کاله بسنه کوي، ځکه يؤ انسان په کال کي يؤازي يؤ ملي ګرام ياد ويټامين کاروي؛يا په مصرف رسوي،موږ هره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ د درو څخه در پنځو مايکروگرامه پوري ياد ويټامين ته اړتيالرو، يو مايکرگرام دميلي گرام يومیلیونم برخه کيږي.

که دانسان معده کومه ستونزه پيداکړي دبيلګې په ډول ايچ فايلوري دانتان له کبله زخم پيداکړي: گليکو پروټين نور کلمو،وينې او اينې ته ياد ويټامين نه رسوي، هغه وخت به کومه پيښه رامنځته سي؟

هغه وخت به زموږ بدن به دبيلا بيلو ناروغيو اوستونزو لکه،انيميا،دويني لږيدا،دژبې دالتهاب،دخوړو په تيرولو کي ستونزې، دفعاليت لږيدل،دبدن کهالۍ اوسوستۍ،ډنګريدو،ژورخفګان،دپښو مړاوي کيدل،دبدن لړزيدلو، سردردئ، فشارټيټيدلو،نفس تنګۍ اونورو ناروغيو اوستونزو سره مخ سو.

يادې اونوري ستونزې اوناروغۍ موږته ځکه راپيښيږي چي زموږ په اينه کي دياد ويټامين ذخيره ختمه سوي ده.

سبحان الله څومره دقت سوی دانسان په خلق کيدا؛پيدايښت کي؛سبحان الله

[سُوۡرَةُ القِيَامَة : 36]

{ أَيَحْسَبُ الْإِنسٰنُ أَن يُتْرَكَ سُدًى}

ايا انسان دا انګېرلې ده چي په همداسي حال به پرېښودل شي؟

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اينه په تمامه مانا يؤصنعتي ښار دئ!

اينه چي دانسان دننه دانسان په خېټه کي راسته لورته ځای لري،دانسان دبدن دننه ترټولو لوی غړی دئ.

اينه،ځيګر دالله جلاله دلويوالي؛حکمت،علم او قدرت دنښونښانو څخه يؤه نښه ده چي دانسان په ژوند کي خورا ډېر ارزښت لري: که چيري انسان نه سي کولی پرته دزړه دري دقيقې ژوندی پاته سي،بيله اينې هم د دريو ساعتونو څخه ډېر ژوندی نه سي پاته کيدلی.

اينه کولی سي خپل لمنځه تللي برخي او خرابۍ دويم ځلي جوړ کړي؛ داسي که چيري يؤ جراح ډاکټر داينې څلورمه يا پنځمه برخه تري بيله،پري کړي: په حيرانوونکي ډول اينه هغه دويم ځل جوړوي، ځکه د د ډېر قدرت خاوند دانسان پيداکوونکي هغې ته عجبه دبيا جوړيدنې وړتيا ورکړي ده،هغه ژونکي،حجرې چي ډېرې ګړندۍ ويشل کيږي داينې حجرې دي چي ډېرې دندې پر غاړه لري، ځينو پوهانو ويلي دي چي اينه پنځه سوه دندې سرته رسوي،ځينو نورو بيا ويلي دي چي اووه سوه دندې سرته رسوي، ځينو نورو داينې دندې دزرو څخه ډېري يادې کړي دي او اوسنيوڅېړونو څرګنده کړي ده چي اينه دپنځه زره څخه ډېرې دندې مخته وړي.

ښه نو ديادولو وړخبره داده چي داينې هره حجره په يؤا زي ځان دغه دندې مخته وړي،ددغو دندو څخه يؤه يې ذخيره کول دي، اينه دوينې يؤ لوی ذخيره ځای،ساتن ځای دئ، اينې 1500سانتي مترمکعبويني ته په خپل ځان کي ځای ورکړی دئ، کله چي انسان ناڅاپه دکومې پيښې سره مخ او وينه بهيدنه رامنځته سي لکه دټکر يا ولادت په وخت کي، يؤ هورمون په غوړو کي اينې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاربښوونه کوي: ترڅو دويني يؤڅه اندازه د وينې، د وينې دضايع،کاريدنې سيمې ته واستوي.

دايني يؤبله دنده دقندونو،خوړو، پروتينونو،ويټامينونو ذخيرکول دي، ښه نو ويلی سو چي اينه دخورکي توکو يؤګودام،ذخيره ځای يا ساتن ځای دئ، چي دلوږې په وخت کي؛خوراکي موادو ته دنه لاس رسي په وخت کي هغه که ارادي وي لکه روژه يا غيري ارادي وي لکه قحطي، يا کله چي سخته وينه بهيدنه رامنځته سي، اينه پيښنه سويه تشه يا کمښت په نيکه طريقه پوره کوي.

اينه دهغو موادو ساتن ځای دئ چي انسان هغه ته اړتيا لري، که دلوږې په وخت کي ديؤه انسان دايني وينه په لابراتور کي ووينو: په هغې کي به اړين مواد په بشپړ ډول شتون ولري، که يؤ وږي انسان د ناچارۍ يا په هر دليل چي وي دڅه وخت را په دې خوا څه نه وي خوړلي،څو ساعته دلوږې اوسترړيا احساس نه کوي، ښه نو ويلی سو لوړه په اينه کي د خوړو د ذخيرې دکمښت ده، نه په روانه وينه کي دخوړو دکمښت.

په اينه کي يؤ بله جالبه ځانګړنه شتون لري چي هغې ته پوهان په بل رنګ جوړونه،بل ډول جوړونه وايې،داسي چي اينه کولی سي چي دخوږې څخه پروټين،دپرټين څخه خوږه،دغوړو څخه خوږه او دخوږې څخه غوړي جوړ کړي،حيرانوونکي ده په اينه کي هم چربي يا غوړ،بوره ياقند او پرټينونه شتون لري چي اينه کولی سي داړتيا په وخت کي ياد مواد په يؤ بل بدل کړي، ښه نو بل رنګ جوړونه يا ديؤه شي څخه دبل شي جوړونه دايني يؤه جالبه او اړينه ځانګړنه ده، دغه ټولې چاري،ذخيره او د توکو په يؤبل بدلونه د انسان دژوند ساتلو په پار دسترخالق ﷻ په امر سرته رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بله خبره داده چي اينه دسنجش يا اندزه كه ونې دنده هم په غاړه لري: كله چي قند يا خوږه په لوړ نسبت اينې ته ننوځي، په ځانګړي ډول كله چي خواږه خواړه وخورو، كله چي وينه داينې څخه دباندي وځي دخوږې نسبت په وينه كي 5،1/1000څخه ډېر نه وي، بنه نو اينه په وينه كي دخوږې،پرټينونو،ويټامينونو،اليکټروليتونو او ټولو موادو اندازه كول داينې د دندو څخه يؤه دنده ده.**

**داينې څلورمه دنده شكل وركول؛ډؤل وركول دي: د موادو مايع كول اويا جامد كولو ځانګړنه، اينه ترتيبوي،**

**بنه نو ددغو دوحالتونو په مرسته وينه په مناسبه طريقه ترتيب كيږي،كه چيري اينه په بنه ډول ياده دنده سرته ونه رسوي: وينه په رګونو كي لكه نرم ګل داسي كيږي او كيداى سي دانسان دمړينې لامل سي او يا به وينه داسي؛ سي چي دبدن ديؤه كوچني زخم په پيېنبيدنې سره به ټوله وينه دبدن څخه توى سي.**

**همدا ډول اينه داسي پروټين ترشح كوي چي دبدن دمايعاتو،اوبو دنسبت اندزه ګيري كوي او مالوموي يې،**

**هركله چي دكوم چا اينه خرابه سي يا ورته زيان ورسيږي دهغه دبدن داستسقا،پړسيدنې لامل كيږي، يانې بدن يې داړتيا څخه ډېرې اوبه ذخيره كوي او په پايله كي دانسان دبدن دانساجو دپاړسوب لامل كيږي.**

**اينه يؤبل حيرانوونكى چار  هم سرته رسوي هغه داسي چي دزهري مادې حالت ګوري او ورسته دهغې سره وړ چلند كوي،كه اړتياوي پروړاندي يې كيمياوي غبرګون بنيي، يا هغه په خپل كيد كي راولي، يا هم هغه ليري كوي، يانې داچي اينه دزهري مادي دخطر داندازې سره وړ پريكړه كوي او دهغې پر وړاندې خپل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غبرګون ښيي،داسي لکه چي ته به وايي عقل دئ چي په مناسب وخت او ځای کي کي مناسبه پريکړه کوي؛

اينه داچارڅنګه سرته رسوي؟

داسي چي اينه په خپل لابراتور کي زهر ازمايي، ورسته دپيژندني يا پرهغه کومه ماده پاشي ترڅو خنثا يې کړي، يا هغه محاصره کوي او نېسي يې، که نه هغه دبدن دباندي غورځوي تر څو په کثافاتو کي د بولو سره دباندي ووځي، دغه او دې ته ورته دندې ټولې داينې پر غاړه دي.

اينه دغوړو،چربۍ تجزيه کوونکي زرغونه ماده صفر هم توليدوي، په هره ثانيه کي دونيم ميليونه سره کرويات مري او توري،

د سروکروياتو هديرې ته ليږدول کيږي، ترڅو هلته د سره په خپلو جوړونکو مادو باندي دبيا ځلي جوړيدنې لپاره تجزيه سي، دوينې دسرو کروياتو دتجزيي څخه لاسته راغلي اوسپنه دهډوکو دمغز کارخونو ته دبيا ځلي جوړيدنې او کاريدنې لپاره ليږل کيږي،ترڅو بيا تري دوينې سره کرويات جوړ او دبدن په خدمت کي ورکول سي،

همدارنګه توری دهمدغه مړو سروکروياتو دتجزيي څخه هيموګلوبين په لاس را وړي،اينې ته يې استوي ترڅو اينه يې په صفر بدله ياصفرا تري جوړه کړي، ښه نو، کومه صفرا چي په اينه کي شتون لري: په توري کي دسروکروياتو دتجزيي پايله ده،داسي چي توري کي دمړو سروکروياتو څخه هيموګلوبين لاسته راغلي، ورسته اينې ته ليږل سوي او اينې هغه په يوه بله ماده صفرا بدل کړي دي.

ښايي وپوښتۍ صفر څه دنده لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفرا چي په اينه کي جوړه سي: کيسه صفرا يا ګالبليډر کي ذخيره کيږي دهغه ځای څخه داړتيا په اندازه کلموته ليږدول کيږي او هلته دغوړو،چربی په هضم، جذب کي مرسته کوي، همدارنګه دکلمو دحرکاتو سره هم مرسته کوي او يؤبله دنده هم سرته رسوي چي هغه دکلمو ضدعفوني کول يا دميکروبونو څخه پاکيدنه ده، په همدي خاطر که دکوم چا په صفرا کي ستونزه پيښه سي، دغوړو جذب او هضم دهغه لپاره ستونزمن چار وي.

اينه څنګه دسوځيدنې،خرابيدنې سره مخ کيږي؟

يرقان، ژړی يا داينې التهاب،داينې ابسي يا چرکينې دانې او دې ته ورته ناروغۍ داينې دلمنځه تللو او خرابی لامل کيږي، پوهان وايي: هرکله چي خواړه او دخوړو وسايل په ناپاکو موادو ککړ وي اينه په ناروغی اخته کيږي.

هغه حديث شريف چي دپاکۍ په باره کي راغلی دئ په همدي خاطر دئ، رسوالله ﷺ په ډېر احاديثو کي دناپاکۍ څخه ليروالي او دپاکۍ ته را بللي يوو.

پوهانو ټينګار کړی چي داينې ناروغۍ يؤ لوی دليل لري او دالوی دليل په شرابو معتاده کيدل دي، شراب دخبائث،فساد مور ده، ډېر هغه وګړي چي په شرابو معتاد وي داينې په ناروغی،تشمع هم اخته وي، تشمع يا داينې ناروغي يانې دا چي اينه خپلې دندې سرته نه سي رسوای، يا په بل مانا د خپلو دندو څخه داينې ورسته پاتي والی،

يؤ د دليلونو څخه چي په اسلام کي خمر،شراب حرام دي همدا دئ، ډېر داسي کيږي چي شرابي وګړي داينې په ناروغۍ اخته سوي يا اخته کيږي، الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ المَائدة : 90

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنصَابُ وَالْأَزْلَٰمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَٰنِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**

**اې مؤمنانو! په يقيني توګه شراب، جواري (قمار)، درشلې (بتان) او د فال نيولو غشي ټول ناولي او شيطاني کارونه دي. له هغو څخه ډډه وکړئ، هيله ده چي تاسي ته به برى در په برخه شي.**

*********

**آيا تاسو نه پوهيږئ چي ستاسو په بدن کي دغه خورا ډېر اړين غړى: ټولابراتو،کارخونه،ساتنه ځاى او ذخيره ځاى دئ؟**

**دموادو ذخيره،دموادو په ټوبل اړول، اندازه کول،شکل ورکول،پيژندنه او لمنځه وړنه، ترشح او دنوو موادو جوړونه او ډېرې نوري دندې داينې پرغاړه دي، چي داينې هره حجره په ټوازيوالي، بيله ړغ و ړوغه په ربښتني ډول يادې دندې سرته رسوي.**

**!دغه ده دالله ﷻ دلوري دغوښې ټوه خلق سويه ټوټه ده**

**قصابۍ ته ځئ او دغه غړى رانيسئ، ياني دپسه اينه پيرئ،هو همدغه لوى ذخيره ځاى او فابريکه ده چي تاسو يې وينئ،انسان نه سي کولى بيله اينې د درو ساعتونو څخه ډېر ژوند وکړي. اللهﷻ فرمايي :سُوْرَةُ الطّارق : 5--8**

**فَلْيَنظُرِ الْإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ**

**بيا دي انسان دې ته ځير شي چي له څه شي پيدا کړه شوى دى.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خُلِقَ مِن مَّآءٍ دَافِقٍ**

**له توپ وهونکو اوبو څخه پيدا کړاي شوی دی؛**

**يَخْرُجُ مِنۢ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَآئِبِ**

**چي د شا او د سينې دهډوکو له منځ څخه راوځي.**

**إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجْعِهِ لَقَادِرٌ**

**په يقيني توګه، هغه (خالق) د ده (انسان) په دوهم ځل پيدا کولو قادر دی؛**

*********

**دبې ارزښته اوبو،نطفي،ايني،زړه،مغزو،پښتورګو څخه جوړ سوی دئ.**

**[سُوۡرَةُ الطُّور : 35]**

**أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ أَمْ هُمُ الْخٰلِقُونَ**

**ايا دوی له کوم خالق څخه پرته پخپله پيدا شويدي؟ - يا پخپله د خپل ځان هستوونکي دي؟**

********

**هغه چي انسان يې په پيچلي او ښکلي ډول جوړ کړی، آيا په ريښتياسره دعبادت وړ نه دئ؟**

**په رښتيا سره دمحبت وړنه دئ ؟ او ولې موږ دهغه احکامو ته سرتيټ نه کړو وايې نه ور او وي نه منو؟ دهغه څه څخه يې چي منعه کړي يوو،پرهيز ونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کړو؟ آيا دا به ښه نه وي چي خپل ارزښتمنې شيبې دهغه په عبادت او ياد کي تيرې کړو؟**

**دابن مسعود (رض) څخه روايت سوی دئ چي رسوالله ﷺوفرمايل: (لا تزولُ قدمُ ابنِ آدم يومَ القيامه من عِند ربهِ حتّى ّ يسألَ عن خمسٍ : عن عمرِهِ فِيم أفناهُ و عن شبابهِ فيم**

**أبلاهُ، و مالِهِ منْ أينَ اكتسبه؟ و فيم أنفقهُ؟ و ماذا عملَ فيما علم؟**

**دحديث شريف مفهوم دئ:انسان به دقيامت په ورځ دالله جل جلاله په وړاندي قدم وانه خلي ترڅو دپنځو په باره کي ونه پوښتل سي: داچي عمر،ژوند يې څنګه تيرکړ؟ځواني يې څنګه مصرف او په څشي تيره کړل؟شتمنې يې دکمې لارې لاسته راوړل او په څشي يې مصرف؛ ولګول؟ او په هغه څه چي پوهيدئ څنګه يې عمل په وکړ؟ترمذی (2416**

********

# ښه خښنل

**دانس بن مالک څخه رويت سوی چي: رسوالله ﷺ په لوښي کي دڅښنلو په وخت کي دري ځله ساه اخيستل،يا په بل ما اوبه به يې په دري ځله پس د څه شيبې څښنلې او دغه چاره يې ښه ګڼل، او ويل به يې دا ډېره تنده ليري کوي، سلامتيا ته نژدي دي،داغه رکم څښنل خوارړه او په څښنلو کي هوساينه راولي**

**دابو هريره څخه هم دغسي رويت سوی دئ، رسوالله ﷺ په درو ساه وو اوبه څښنلې،کله چي به يې لوښي مبارکو شوندانو ته نژدي کړ بسم الله او چي کله به يې وڅښنلې الحمدلله به يې ويل،دغه کار يې دري ځله تکراروئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بدن کي ځيني عصب شتون لري چي هغوئ ته پټ،پيچلي عصب وايي،دئوه لوري دمعدې او دبل طرفه په زړه پوري اړيکه لري، ياد عصب د ناڅاپي پيښنو سره سخت حساس دي، دبيلګې په ډول که سړي اوبه مخکي له دي چي يؤار لږ وڅښئل سي ياني بدن ته دخبر په ډول دا څرګنده کړي چي زه يخي اوبه څښم او په يؤځلي بيله دريدلو ځان اوبه کړي، ياد عصب به وار خطا سي،ځکه ددې عصبو لپاره ناڅاپي پيښې سختي دي،زړه ته به پيغام واستوي او کيداى سي زړه خپله دنده پريږدي؛ په نړۍ کي داسي ډېري پيښني سوي دي چي وګړي دناڅاپه عادي پيښنو له کبله مړ او يا يې زړه دريدلى وي؛پوهانو دي ته دعصبي سيستم دنهي نوم ورکړى چي ياد چار دزړا د دريدا او مړيني لامل سوى دئ.

يؤبل ديادولو وړ خبره داده چي انسان بايد په سختي تندي،زياتي ګرمۍ او ډېري ستړيا کي په يؤځل ډېرې اوبه ونه څښني؛ځکه که موږ پر يؤه فلزي ماشين لا د هغه دګرموالي په وخت کي اوبه واچوو دهغه دزنګ وهلو او دپرزو د اوميدلو لامل کيږي،څه لا دغوښې جوړ انسان دئ. الله جل جلاله فرمايي:

[سُوْرَةُ البَقَرَة : 249]

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّى وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّىٓ إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهِۦ ۚ فَشَرِبُوا مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا مَعَهُۥ قَالُوا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا اللَّهِ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّٰبِرِينَ

بيا چي کله طالوت له لښکر سره وخوځېد نو ويې ويل: "يو سيند د الله له لوري پر تاسي ازمېښت کېدونکى دى، څوك چي د هغه اوبه وڅښني، هغه زما ملګرى نه دى، زما ملګرى يوازي هغه څوك دى چي پر هغو (اوبو)خپله تنده ماته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کړي؛ هو که څوك يوه، نيمه لپه وڅښي، نو ودې څښي." - خو پرته له يوې وړې ټولګۍ څخه نور ټول له هغه سيند څخه خړوبه شول. بيا چي کله طالوت او ورسره ملګري مسلمانان له سيند څخه واوښتل، ورانډې لاړل، نو هغو طالوت ته وويل: "نن په موږ کښي د جالوت او د هغه له لښکرو سره د مقابلې وس نشته." - خو د چا چي په دې باور ؤ چي يوه ورځ له خداى سره يو ځاى کېدونکي دي، هغوي وويل: "ډېر ځله داسي شويدي چي يو وړوکې ټولګۍ د الله په امر پر يوې لويي ډلي برلاسه شوېده. الله د صبر کوونکو ملګرى دى.**

********

**دسختي تندې، ډېرې ګرمۍ او ستړيا په وخت کي بايد لږي اوبه هغه هم په تکرار او ځان هوسا کولو وڅيښو، داسي بايد ونه کړو چي په يؤځل په يؤه ايند ډبه،منګى پرسره پورته او خالي يې کړو دازموږ دروغتيا لپاره زيان رسوونکى چار دئ.**

**هغه څه چي لوړ مو وليکل درسوالله ﷺ ځيني هغه لارښوونې وي چي زموږ دروغتيا په پار يې راته کړي وي؛هيله لرم دګټو څخه يې برخمن سئ.**

# ارادي او غيري ارادي کارونه،تنفس

**ځيني پوهان وايي: ښکاره والى او نيژديوالى دحجاب سره ورتوالى لري، ښکاره او څرګندي نښاني دالله ﷻ پر عظمت اولويوالي باندي شتون لري چي زموږ هغوئ ته دډېري مينې او نږډيوالي له کبله پام نه وي، يؤه دهغو نښانو څخه بيله شکه چي زموږ ساه،تنفس دئ.**

**انسان په ښه ډول لوړ کښته ځي په داسي حال چي سږي يې په ځانګړي نظم او ترتيب کارکوي، زړه يې هم همداسي په نظم او ارامۍ غورځي، تپيږي،هضمي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيستم يې هم په ښه ډول او دقت خپله ورسپارل سوي دنده سرته رسوي.

ښه نو که د هضمي سيستم دندي، دويني دگرځيدني سيستم دنده او دزړه او سږو دندي زموږ په اراده زموږ په مداخلې کولو مختته تلای، آيا داسي کوم وګړی به وای چي حتا يؤه شيبه به يې خوب کړی وای؟ يا لږ کار يې کړی وای؟يا هم ديؤې دقيقې لپاره دخپل خواړه ملگري سره کښينستلی وای؟

دغه ټول د غيري ارادي کارونو دډلې څخه دي چي په ښه ډول،پوره دقت، په بې مثاله حکمت،تدبير سره سرته رسيږي.

پوهان ويلي دي: دغيري ارادي کارونو دکنټرول لپاره مرکزونه شتون لري چي دزړه پر غورځيدا، دسږو پرحرکت، دهضم دچار پردوام،دغدواتو پر ترشح او ډېرو نورو کارونو چي يؤازي پري الله ﷻ ښه خبردئ څارنه کوي، داسي لکه، دکوچنيوغدو،پانقراس، ايني؛فوق الکليه غدې، تيروئيډ، هيپوفيز، دبدن دتودوخې د درجې تعادل، دبدن دمايعاتو تنظيمول، دزړه دضربانو ترتيب او دې ته ورته بيخي ډېر کارونه: په غيري ارادي ډول ديادو مرکزونو په مرسته دهمدې مرکزونو در څارنې لاندي په خورا ښه او برابر ډول سرته رسيږي.

پوهانو ويلي دي: دشوکي نخاع په سريا بصل النخاع کي چي دمغز پای دئ يؤ پيچلي تارونو ته ورته جوړښت ځای لري، دتنفس دتنظيم مرکز، دزړه دضربانو دتنظيم او همدغه رکم درگونو مرکزونه چي ددې تنگ او نري ځای څخه تيريږي؛ ځای لري،

همدغه ډول دتيرولو، ژولو،دخوړو دتعادل،دخولو،ناړو،خوب او ويښتيا، پر لاري تلو،دښځينوو دمياشتنی ناروغی دځانگړني، دبدن دتودوخي تنظيموونکي او جنسي غدو مرکزونه ټوله دسپاينل کارډ يا دمغزي ساقي په لاندي لور کي ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، چي یادې ساحې ته دژوند دپیدایښت ځای وایي، چي دانسان دبدن اړینه ترینه برخه ښکی دئ، که چیري په یادې ساحې کي کوم خلل،ستونزه پیښه سي: بیله ځنډه انسان خپل ژوند دلاسه ورکوي، ددې خبرې دلاښه سپړلو توضیح لپاره تنفسي سیستم انتخابوو.

په یاده ساقه کي دو ځایه شتون لري،یؤدساه کشولو اوبل دساه کښلو یا خارجولو لپاره، په وینه کي شته د کاربن ډای اکسایډ ګاز دا دوې پیښې ګرځوي،هرکله چي دساه اخستلو مرکز فعاله کړې دویم هغه یې غیرفعال وي یانې هغه شیبه کار نه کوې، مګر که دواړه په کار پیل وکړي، حالت خرابیږي ځکه دیؤه مرکز دکار په وخت کي دویم هغه باید بند وي، عجبه او حیرانوونکی ظرافت او چار چي داند کولو وړدئ.

یؤه بله دیادولو وړ خبره داده چي ساه کښل،تنفس اردي چار دئ، انسان په خپله خوښه کولی سي ساه واخلي او ساه وباسي.

دتنفس کولو،ساه اخستلو او کښلو لپاره یؤ مرکز شتون لري چي دمغز څخه پیغامونه اخلي.

که څه هم انسان دیاد مرکز دکار څخه بي خبره دئ مګر یاد مرکز په خپله او بیله انسان دفکره کارکوي.

څشي یاد مرکز اداره کوي؟

په حقیقت کي دا په وینه کي شته کاربن ګاز دئ چي هرکله پوره سي او په وینه کي ډېرسي دساه اخستلو او خارجولو چار کي ډېروالی راځي، که چیر یؤ وګړی خپل سر په پټو یا تلتک کي پټ کړي،داکسیجن ګاز لږ او دکاربن ګاز ډېرسي، که چیري پام وکړئ په دې وخت کي دسږو خږ خږ ډېریږي، دغه حالت ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پيښيږي چي په وينه کي دکاربن ډای اکسايډ دګاز اندزه ډېره سي، هرکله چي دياد ګاز اندازه په وينه کي ډېره سي: دساه اخيستلو او خارجولو مرکزونو ته خبر ورکوي او ياد مرکزونه هم خپل کار دوه برابره کوي بيله دي چي انسان ياد حالت احساس کړي يا په پوه سي، موږ انسانان دخپل بدن د بيخي ډيرو خپل سري کړونو څخه بې خبره يوو او دا هغه ويښني سترګې دي چي خوب نه لري.**

**پوهان په دي باوردي چي که دانسان په بدن کي دکاربن ګاز دمعمول څخه دوه په لسو کي ډېر سې: د انسان دتنفس شمير ډېريږي، او که په همدي اندزې لږ سي تنفس درېږي.دا څنګه تعادل دئ؟**

**هرکله چي په وينه کي دکاربن ډای اکسايډ ګاز ډېر سي بېله دي چي دتنفس کولو مرکز ته خبر ورکړي انسان بې هوښه کيږي او لږ ورسته مري، هغوئ چي دبيلګې په ډول په ژمې کي په خپلو کوټو،خونو کي دګازي بخاريو او يا په پخواکي په کليو کي داوبو په ارهډونو کي داوبو دراکښلو دماشينونو دزيات دود څخه مړکيدل،څه علت وو؟**

**علت يې دا دی چي دکاربن ډای اکسايډ اندازه لومړی په هوا او ورسته په وينه کي دخپل معمولي اندازې څخه ډېره لوړيږي چي په پايله کي يې انسان بې هوښه او ورسته مري.**

**سبحان الله! عجب او حيرانوونکی نظم دئ دانسان په بدن کي... انسان بيده وي مګر سږي يې په خپل ځانګړي نظم سره خپله دنده سرته رسوي، انسان بيده وي مګر زړه يې په منظم ډول سره غورځي، غدې؛پښتورګي،معده ،اينه کلمي،توری او دماغ يې په پوره ښه او منظم ډول خپل ورسپارل سوي دنده سرته رسوي حال داچي انسان خبر هم نه وي، په همدي خاطر ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ الذّارِيَات : 21**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**{ وَفِىٓ أَنفُسِكُمْ  أَفَلَا تُبْصِرُونَ}**

**او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه یاست؟**

********

# سږي

**سږي دانسان دسينې په قفس کي امانت ايښودل سوي دي چي دانسان په بدن کي دالله جل جلاله دلويي دنښو نښانو څخه دي.**

**سږي دتفسي پيپ ترخيا په وسطه د دباندي سره په اړيکه کي دي، ترخيا دبرنشي او برانشي بيا په هوايي کڅوړو چي دسږو کوچنۍ برخې دي پای ته رسيږي. هوايي کڅوړې چي دهوا څخه ډکې دي دمايکرومتر څلورمه بره قطر لري، په داسي حال کي چي د ترخيا قطر پنځه سانتي متره دئ داسي لکه ديؤ کوچني فلزي پيپ يا دهغه څخه لږ غټ. دهوايي کڅوړو ټوله مساحت 70متره مربع کيږي چي د ترخيا او ورسته دبرانشيو څخه هوا ورته راځي يا په بله مانا هوا تري اخلي.**

**آيا باور کولی سئ چي په سږو کي 350ميليونه هوايي کڅوړې شتون لري او مساحت يې د ترخيا دمساحت څخه دوه زره برابره ډېر دئ؟**

**جالبه داده چي د ترخيا او برنشي يا د ترخيا په ورستيوکي درويشتو ښاخونو په اوږدو کي تنفسي سيلياوي يا وريښتو ته ورته جوړښتونه شتون لري چي هريؤ يې 6مايکرو متره اوږد او دوه مايکرو متره قطر لري، ياد وريښته ته ورته جوړښتونه دتنفسي لارو څخه هرډول خطر او ټولو نا پيژندل سو شيانو دليري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو او دتنفسي لارو دپاک ساتلو په پار په هره دقيقه کي دزر څخه در پنځلس سو ځلو پوري لوړ لورته حرکت کوي،ترڅو ټول ناپيژندل سوي توکي مخکي له دي چي هوايي کڅوړو ته داخل سي دباندي وباسي.

پوهان تر اوسه نه دي توانيدلي چي دسږو دوريښتو په کرنه، کښت کي بريالي سي؛ياني انسان تراوسه نه سي کولی دبيلابيلو علتونو لکبله لمنځه تللي تنفسي وريښتان دسره وکړي، ځکه نه سي کولی يادې سيلياوي د شته عصبي مزو سره وصل يا په اړيکه کي کړي.

جالبه داده چي دتنفس،ساه په لاره کي دغه خپاره سوي تنفسي وريښته چي دترخيا څخه پيل او په برانشي يا دترخيا په ښاخونو کي شتون لري په ډېري تېزي سره په هره دقيقه کي 18ميلي متره ناپيژندل سوي يا پردي شيان دساه کښلو دلارې څخه ليري کوي، دبيلګې په ډول کله چي دساه لارې ته ناپيژندل سوی شی لکه داوبو څاڅکی ننوځي انسان ته ټوخ پيښيږي، ټوخ څشي دئ؟

هوا په تنفسي لارې کي په يوه ساعت کي د 9سوه کيلومترو په تېزوالي په اندزه په چابکۍ تيريږي ترڅو هر ناپيژنږانده شی چي په سږو کي شتون لري دځان سره دباندي وغورځوي.

هو جالبه ده چي تنفس،ساه کښل د پرلپسي عصبي پيغامونو په مرسته په غيري ارادي ډول سرته رسيږي.

که چيري سترالله ﷻ تنفس،ساه کښل زموږ په اراده کي کړي وای: ياد چار به زموږ لپاره ډېر ستونزمن وای، هغه وخت به موږ نه سوای بيدېدلی ځکه خوب داسي بيلګه لري لکه مرګ، يوډول ډېر کمه پيداکيدونکي ناروغي شتون لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چي دتنفس کولو دپيغامونو دستونزو سره مخ کوي؛ ديادې ناروغي په شتون کي انسان نه سي کولی خوب وکړي، هو يؤډول درمل جوړ سوي دي خو ديادو درمل دخورک لپاره انسان بايد په هر ساعت کي دخوبه راکښيني،ځکه ديادو درملو اغېزه يؤازي يؤساعت دوام کوي.**

**په رښتيا سره چي موږ نه پوهيږو چي موږ ته الله ﷻ څومره نعمتونه راکړي دي.**

# حنجره

**الله ﷻ په خپل کتاب کي فرمايي: سُوْرَةُ القَمَر : 49**

**{ إِنَّا كُلَّ شَىْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ}**

**موږ هر څه له يو تقدير (اندازې) سره پيدا کړي دي؛**

*****

**ډېر دقيق برابروالی په هغو شيانو کي چي الله ﷻ پيداکړي دي شتون لري.**

**[همدغه مانا ددې آيات شريف څخه هم اخيستل کيدای سي: سُوْرَةُ التّغَابُن : 3**

**خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ**

**هغه اسمانونه او ځمکه پر حق پيدا کړي دي؛ او ستاسي صورتونه يې جوړ کړل، ښه ښايسته يي جوړ کړل؛ او د همغه لوري ته په پای کښي ورګرځېدل دي**

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحق څخه بل مانا هم لري چي هغه د ثابت او تل پاتي والي ټکی دئ چي د باطل په مقايسه چي هغه فاني او نه پاتي کيدونکی دئ.

[سُوۡرَةُ الحِجر : 85]

وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِالْحَقِّ ۗ وَإِنَّ السَّاعَةَ لَءَاتِيَةٌ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيلَ

موږ اسمانونه او ځمکه او د هغو ټولي هستئ له حق څخه پرته پر کوم بل بنسټ باندي نه دي پيدا کړي. او د پرېکړي ساعت هرو مرو راتلونکی دی. نو [اې محمده (ص)!] ته (ددغو خلکو پر بابېزه چارو) د شريفانه تېرېدنې څخه کار واخله.

****

دحق څخه بل مانا هم اخيستل کيږي هغه څه چي يؤه موخه ولري او دبې موخيتوب سره يؤ نه وي. الله ﷻ بيا فرمايي :سُوۡرَةُ الدّخان : 38:

{ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِينَ}

دغه اسمانونه او ځمکه او د دوی تر منځ شيان موږ د لوبو لپاره نه دي پيدا کړي؛

****

دريمه مانان يې داده چي دا شی په حقه پيداسوی،ياني ديؤه ډېر پوه،حاکيم ذات دخوا په ډېر ښه او دقيق ډول په اندازه سوی دئ.

دحنجرې په اړه چي دانسان د ږغ سيستم،ګډ کاری دئ، پوهان وايي: دحنجرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دروازه ګئ يا پنجره په ډېر دقت او په دقيقې اندازې سره طرحه سوې ده، داسي چي که داوسني حالت څخه لږهم غټه يا پراخه وايي دانسان بړغ به نه را وتاى يا به نه اوريدل کيداى او همدارنګه که داوسني حالت څخه لږ هم کوچنۍ وايې: ساه اخيستل به ستونزمن واى، ښه نو يا به بړغ سم واى او ساه کښل به ستونزمن واى او يا به ساه کښل سم واى او تنفس،ساه اخيستل به ستونزمن واى، مګر د الله ﷻ په حکمت،قدرت او علم سره دحنجرې اندازه دانسان دپاره خورا سمه او دقيقه اندازه سوي او ورته خلق سوي ده.**

**چا دغه دروازه ګئ په دغې مالومې، دقيقي اوسمې اندازې سره پيداکړي ده؟**

**پاک الله ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ النَّمل : 88**

**وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِىَ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ إِنَّهُۥ خَبِيرٌۢ بِمَا تَفْعَلُونَ**

**نن ته غرونه وينې او ګومان کوې چي ښه کلك ښخ شويدي. خو په هغه وخت کښي به دا د وريځو په څېر الوتونکي وي، دا به د الله د قدرت نښانه وي چي هر شى يې په حکمت سره بر قرار کړيدى. هغه ښه خبر دى چي تاسي څه کوئ**

*******

**ددې ځاى څخه به دحواسو نړۍ ته اند او پام وکړو.**

**سترګې په يوځانګړي چارچوب کي زموږ لپاره ښه اوغوره ليده کولى سي: که چيرې زموږ دسترګو دليد دقت، اندازه ددې څخه ډېره واى يوشى مو سترګو دمايکروسکوپ په ډول څو ځله را نيژدي کولى، ژوند به مو ډېر سخت سوى واى! ښايي پوښتنه وکړئ چي ولې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که موږ په يؤه پاک لوښې کې چې په اوسني کتو راته پکښې پاکې، خوږې او روڼي اوبه ښکارې او به څښلی، موږ به هغه وخت چې زموږ دسترګو دليدو وړتيا د اوسني حالت څخه ډېره وای دا اوبه به مو روڼې، پاکې نه ليدای: موږ به په دې روڼو او پاکو اوبو کې ژوندي موجودات ليدای، دبيلګې په ډول موږ به په يادو اوبو کې په زرګونو بې زيانه باکترياوې اونور ميکروبونه ليدای، هغه وخت به هيڅ چا اوبه نه سوی څښلی او که څښلی يې هم، خوند به يې هيڅکله نه وای پراخيستی،همدارنګه دخپل کوچني ماشوم په مخ کي به يې ژوندي موجودات او درزونه ليدای. الله جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ الْقَمَر : 49

{ إِنَّا كُلَّ شَىْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ}

موږ هر څه له يو تقدير (اندازې) سره پيدا کړي دي؛

***

ښه نو را به سو غوږونو ته: که زموږ غوږونو ددې اوسنې حالت يانې دشل اهتزاز څخه ډېر اوريدای،يايې هغه ږغيزي پريکونسۍ اوريدای چي اوس يې موږ نه اورو زموږ ژوند به دکړاونو څخه ډک سوی وای،دشپې به موخوب نه درلودای،ځکه غوږونو به مو هر ږغ په ښه ډول اوريدای داسي چي دخپل بدن دغړو،کلمو،زړه،پښتورګو ږغونه به مو اوريدای داسي لکه زموږ په غوږونو کي چي د پياوړی ساتيسکوپ ګوشکی وي.

الله جلاله پرموږ باندي دا لورينه کړي چي زموږ دغوږ پرده او دهغې شاوخو جوړښت يې په داسي ډول سره جوړ کړی چي زموږ درحت او هوساينې لپاره ښه او دټولو څخه غوره دۍ، موږ دشل رپا لرونکي ږغ څخه پيل در شل زره رپا،اهتزاز لرونکي ږغونه اورو،سبحان الله څومره بختور يوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه که زموږ دلمس دحس دقت د اوسني حالت څخه زيات وای، موږ به ساکنه بريښنا حس کولی چي دا به خورا ډېر زورنکي وای،ژوند به مو ډېر سخت سوی وای.

دانسان بويايي حس هم الله ﷻ په مناسبه او مالومه اندازه سره خلق او هغه ته وربخښلی دئ، دځينو ژوو دبوي کولو حس دانسان څخه يو ميليون ځله پياوړی دئ، که دانسان بويايي حس دومره پياوړی وای ژوند به بيا هم سخت او کړونکی وای.

الله ﷻ انسان په دوو غوږ، دوو سترګو يوه زړه سره داسي کروړ کړی چي هيڅ وخت به يې په جوړښت کي کوم عيب ونه مونديځ،دلمس،بوی،خوند،ليدلو او اوريدلو حسونه يې هم دهغه لپاره په ښکلي،مناسبه،مالومه او ښه ډول سره هغه ته وربخښلي دي چي په پوره دقيق او دانسان لپاره په غوره ډول ورسپارل سوي دنده سرته رسوي.

## پښتورګي او د نعمت شکر يې

پښتورګي دحجاب عجز لاندي دپريتوان په شا کي دانسان په دوړو اړخونو کي ځای لري، شکل يې لوبيا ته ورته دئ چي ديوه لوی انسان پښتورګي 12سانتي متره اوږده،شپږ سانتي متر برداره دونيم سانتي متر پنډ او وزن يې 150ګرامه کيږي.پښتورګي هرورځ 1800ليټره وينه پاکوي، ښايي ستاسو دتعجب وړ وګرځي، مګر دغه خبره څو باوري سرچينو کي ياده سوي ده، هيڅ دشک ځای نه دئ پکښي پاته سوی او د ناسم دپولي اوښتي او د رښتيا پولو ته داخله سوي ده، دغه اندازه وينه ديوې منځنۍ کورنۍ دټولو دسوځيدنې وړتوکو لکه تيلو يا ګازو سره برابريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتورګو کي کوچنو لوليې پيپونو ته ورته جوړښتونه نفرونونه شتون لري چي اوږدوالى يې 60کيلومتره او شمېريې يؤه ميليونه رسيږي، پښتورګي دانسان داړتيا څخه ډېر دشل برابره نوري وينې دپاکوونې يا تصفيي وړتيا لري په همدي خاطر کله هم ديؤه انسان يؤ پښتورګى دکاره ولويږي، انسان کولى سي په يؤه پښتورګي ژوند وکړي، دا الله جل جلاله لويه مهرباني ده چي انسان باندي يې کړي ده، چي انسان کولى سي په يؤه پښتورګي هم ژوند وکړي،ځکه پښتورګي دانسان دبدن اړين غړي دي،په همدي خاطر يؤ ورته داړتيا څخه اضافه ورکول سوى، عطا سوى دئ.

څوک باور کولى سي چي دانسان ټوله وينه په هرو څلورويشتو ساعتونوکي شپږديرش ځله دپښتورګو څخه دپاکيدني په پار تيريږي، چي پښتورګي دوينې دتصفيي،پاکيدنې لپاره ډېر پيچلي عمليات سرته رسوي،داسي چي قندي مواد،ځيني نور عناصرونه او پروټينونه دوينې څخه اخلي او په منظمو نسبتونو سره يې دځان دباندي وريدونو ته هدايت کوي او داندازې څخه ډېر خوارږه او نور اضافي او زهري مواد دبولو سر دبدنه دباندي باسي.

انسان څنګه پوهيږي چي دشکري په ناروغۍ اخته سوى دئ؟

په بولو کي دخوږې دشتون دډېرښت څخه، يانې داچي پښتورګي يؤه مالومه اندازه خوږه د وينې څخه اخلي او پاتي په بولو کي دبدن څخه دباندي باسي، همدارنګه که انسان ډېره مالګه وکاروي او خپل ادارار،بولې په لابراتوار کي وڅيري وبه وينې چي په بولو کي يې دبدن داړتيا څخه ډېره مالګه بدن دباندي را ايستلي ده.

د پوهانو په وينا پښتورګو انسان ته دا موقه ورکړي ده چي هر شى وخوري، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دانسان په بدن کي دمالګې داندازې نسبت د اتيازرو څخه لوړ سي انسان مري، ښه نو يؤ سيسټم بايد شتون ولري چي دا نسبت په وينه کي ثابت وساتي او دا سيسټم دپښتورګو، بولي سيسټم دئ.**

**څنګه چي پوهانو يې يادونه کړي پښتورګي يؤه هوښ لرونکي کارخونه ده: چي دانسان دبدن داړتيا وړ موادو اندازه په ثابته اندازه کي ساتي،ياني نسبتونه منظم او ښکلي ډول سره ترتيبوي،کله چي هم په وينه کي دمالګې،بورې او نورو زيان رسوونکو يا بې زيانه موادو اندازه ډېره سي پښتورګي داړتيا څخه ډېر مواد په وينه کي نه پرېږدي او د بولو سره يې دبدن څخه دباندي باسي، همدا علت دئ چي دبولو رنګ زموږ په خوړو سره بدلون کوي، ځکه کيداى سي هغه مواد چي موږ يې خورو داړتيا څخه مو ډېر خوړلي وي يا کيداى سي زموږ بدن ته يې په وينې کي دبدن داړتيا څخه ډېره اندازه زيان رسوونکي وي ځکه خو پښتورګي زموږ دبدن څخه داړتيا اضافه توکي د وينې څخه پاک او دبولو سره يې دبدن څخه دباندي باسي.**

**ښه نو پښتورګي چي وزن يې د150ګرامو څخه ډېر نه دئ: بيله ږغ وږوغه بيله هوساينې،بيله کومې پاملرنې خپل ورسپارل سوې دندې ته دوام ورکوي.**

**دانسان پښتورګي دانسان دکار،استراحت،خوب،تجارت،منظري په وخت کي بېله کوم داسي ږغ چي موږ يې واورو کار کوي او هرورځ ټوله وينه 36ځله پاکوي، کاريې هيڅ تکليف انسان ته نه ورکوي لکه کوم تکليف چي مصنوعي پښتورګي،ډياليزماشينونه ورکوي، پښتورګي په هغه هورمونو چي ترشح کوي يې دوينې فشار کنټرولوي، کله چې پښتورګي ستونزه پيدا کړي دوينې فشار هم ستونزه پيدا کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپښتورګو لوړي غدې: فوق الکليه غدې د وينې دفشار دتنظيم،دوينې دلږيدا دمخنيوي او دبدن دمايعاتو دتنظيم لپاره هورمونونه ترشح کوي.

کله چي پښتورګي التهاب پيداکړي دمايعاتو نظم يې خراپيږي چي په هغه وخت کي انسان دبيلا بيلو کړاونو سره مخ کيږي.

آيا دابسنه نه کوي چي موږ دالله جل جلاله دلوی نعمت دپښتورګو دجوړتيا لپاره شکر کوونکي و اوسو،رسوالله ﷺ چي به کله دلاس پريولولو څخه فارغه کيدی فرمايل به يې:( الحمدلله الذي اذهب عنی الاذی وعافاني) الله جل جلاله لره دي ثنا او ستاينه وي چي زما څخه يې کړاو او ازار ليري کړ او ماته يې سلامتي راکړه.ابن ماجه301

که پښتورګي په سمه ډول کار ونه کړي: په وينه کي دادرار،بولو اندازه لوړيږي، ډاکتران پوښتي هغه وخت به څه پيښ سي؟

انسان په تشنج اخته او حافظه يې کمزوري کيږي، په چارو او چلند کي نيمګړتيا پيښيږي، دکوچنيو پيښو سره دمخ کيدو په وخت کي درد ورځي، دهغو وګړو چي ناڅاپه پښتورګي کار پريږدي، په وينه کي يې ديوريا،بولو کچه لوړيږي:
غيرمعمولي چلند کوي، حتی دردې اندزې پوري چي دهغه چلند دکورنی لپاره دزغم وړنه وي.

که دا حالت همداسي دوام پيداکړي او د بولو کچه يې په بدن کي ډېريږي انسان ژر تري مري.

ښه نو دانسان پښتورګي او دهغوئ جوړتيا بيخي لوی اوستر نعمت دئ چي موږ ورڅخه برخمن يوو!

يؤبل اړين غړی دانسان په بدن کي مثانه ده دځينو وګړو مثانه په ځوانی کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوستي پيداکړي او هغه وخت انسان ډېر ورڅخه زوريږي،دخلګو تحقيروونکي خبرې اوري، څوک چي دخپلو ادارو کنټرول نه لري رښتيا هم دا چار دهغه لپاره زوروونکی دئ، ښه نو مثانه هم دالله جل جلاله دلويو نعمتونو دډلې څخه ده

موږ بايد تل دالله جل جلاله شکر ادا کړو روغتيا دالله جل جلاله ستر نعمت دئ او په قدر يې هغه وګړي ښه پوهيږي څوک چي روغتيا نه لري.

کله چي د حاجت څخه فارغه کيږو غوره داده چي ووايوو:( الحمدلله الذي اذهب عنی الاذی وعافاني) الله جل جلاله لره دي ثنا او ستاينه وي چي زما څخه يې کړاو او ازار ليري کړ او ماته يې سلامتي راکړه.ابن ماجه301

راسئ چي ددې دوو اړينو غړو دروغتيا شکر ادا کړو او تل دالله جل جلاله حمد او ثنا ووايو.

# پښتورګي او دبولو پاکول

درسوالله ﷺ چي به کله دلاس پريوللو څخه فارغه سو دادعا به يې ويله:
دانس بن مالک څخه روايت سوی چي رسوالله ﷺ به هغه وخت فرمايل:

خواړه او څښاک څواک،خوند او همدارنګه پاتي شوني يا په بله مانان کثافات هم لري، مګر په سږو کي عجبه چاري مخته وړل کيږي چي په لنډو ټکو کي ورڅخه يادونه کوو: دانسان دمغزو څخه ورسته په دويم ځای کي ترټولو پيچلی سيسټم بولي سيسټم يا پښتورګي دي، ويل کيږي چي په پښتورګو کي 2ميليونه کوچني لوله يي پيپونه، شتون لري، چي په هر پښتورګي کي يوميليونه يادکوچني پاکوونکي پيپونه کيږي،ياد پيپونه بيخې ډېر نازک او نري دي چي پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپل شاوخوا پيچل کيږي ترڅو کروي شکل جوړ کړي، پوهانو يادو لوله يي پيپونو ته ګلوميرولرونه وايي چي ديوې غشا په واسطه پوښل سوي دي**

**بولې څنګه جوړيږي؟ دبولو جوړولو پروسه ډېره پيچلي ده: دويني پلټريدل، دوينې څخه داوبو،مالګو،بوري،يوريا،يوريک اسيد،کرياتينين راټونه او تصفيه کيدنه.**

**ښه نو ياد عمليه ډېره پيچلي ده ولي به نه وي پيچلي موږ وويل چي د انسان دبدن دويمه درجه پيچلی سيستم دپښتورګو سيستم دئ، ددې خبرې د اثبات لپاره دا بسنه کوي چي ووايوو دمصنوعي پښتورګي د طبعي پښتورګي څخه ډېر غټ دئ، ديو وګړی دوينې پاکيدنې لپاره څلور ساعته يا دهغه څخه ډېروخت نېسي چي هيڅکله وينه داسي نه پاکوي لکه طبيعي پښتورګي چي وينه پاکوي،ګلوميرولرونه دومره کوچني دي چي په سترګو نه ليدل کيږي، که ياد پاکوونکي ديوبل سره وتړل سي اوږدوالی يې 160کيلومترو ته رسيږي، که دهغوئ دننه پوښونه سره راغونډ کړو اته متره مربع ځای به ونيسيي.**

**ددواړو پښتورګو وزن د150ګرامو څخه نه ډېريږي يو 75ګيرامه لرونکی پښتورګی هغه کارونه سرته رسوي: چي ماغزه دهفه د درک او پوهيدنې څخه ناتوانه کيږي.**

**که دانسان پښتورګي کار پريږدي هم هغه شيبه يې دمرګ ده او دانسان بدن به دزهرو څخه ډک سي، ځکه خو به سوالله ﷺ دلاس پريوللو ورسته ويل:**

**دپښتورګو ناروغۍ ډېر دي،دغه نازک،محکم سيستم دانسان څخه ازار او کړاونه ليري کوي، آيا دبه ډېره غوره نه وي چي ددې لوی نعمت او دهغه دروغتيا شکر اداکړو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چيرې ياد سيستم کي ستونزه پيښه سي د انسان حالت به څنګه وي؟

دلته چي کوم څه ځخه يادونه وسول دپښتورګو په اړه ډېر کم ويل وه او موخه مو داوه چي انسان بايد خپل دبدن جوړښت ته په غور اند کوونکی او پام کوونکی واوسي؛دخپلې روغتيا دشتون په خاطر هره شيبه الله جل جلاله ياد او شکر وکړي.

## پښتورګي او دمالګې سره يې اړيکه

په حقيقت کي پښتورګي دالله ﷻ دعظمت او حکمت دنښو نښانو ځخه يؤه نښه ده، زموږ بدن موږ ته ترټولو نېژدي شی دئ چي دالله ﷻ په پيچلواو دحکمت څخه ډکو خلقتون کي يی اند وکړو. سُوۡرَةُ الذّاريَات : 21

{ وَفِىٓ أَنفُسِكُمۡ‌ۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ}

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟

****

دپښتورګو يؤه دنده دبدن داړتيا څخه دډېري مالګي دباندي ايستنه ده، مالګه دانسان په وينه کي مالومه اندازه لري چي دهغې اندازې څخه ډېرښت او کمښت يې انسان ته زيان رسوونکي دي، انسان ببله کومې مالومې اندازې او بيله دې چي کمښت او ډېرښت ته يې اند وکړي مالګه خوري، ښايي يؤخورک تريو وي يا داسي کوم خواړه وخوري چي مالګه پکښي ډېره وي، په حقيقت کي د انسان چي څنګه زړه غواړي هغسي مالګه او نور خواړه خوري، مګرپه وينه کي بايد دمالګي نسبت د اويا او اتيازرو په منځ کي وي: که چيرې يې په وينه کي اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دياد نسبت څخه کمه يا زياته سوه د انسان ژوند ته خطر پيښوي،خطر څه چي لمنځه يې ورې، ښه نو همدا پښتورګي چي انسان ورته په کمه سترګه ګوري، لوی او اړين کار سرته رسوي، هغه چار چي دانسان ژوند دهغه سره تړلی دئ: دغه غړي دانسان دوينې څخه داضافي، داړتيا څخه ډېرې مالګې خارجوونکي، ايستونکي دي.**

**پښتورګي دوينې څخه د اضافي مالګې اوبورې په ايستلو کي خپله دنده په خورا ښه، صادقانه او پوره امنتداری سره سرته رسوي، په ياد کار کي ماغزه چي دبدن ټولو غړو ته امر کوونکي دي دپښتورګو سره مرسته کوي،دبيلګې په ډول:کله چي انسان زياته مالګه وخوري، يا کوم بل ډول خواړه په زياته اندازه وخوري ،ماغزه ژر د هيپوفيز غدې دلارې هورموني پيغام وپښتورګو ته استوې ترڅو پښتورګي دهغه ذخيرسوو اوبو خارجيدنه چي دپښتورګو په کوټو کي ستنه کنټرول کړي، ديادونې وړ ده چي پښتورګي دا سي جوړښتونه،کوټې لري چي د اوبو څخه ډکې دي.**

**ښه نوهغه وخت مخاطي غده داسي هورمون ترشح کوي او پښتورګو ته دهورمونونو په واسطه داسي امر کوي چي پرينږدي خپلې دابو کوټې داوبو څخه تشي کړي، ولې؟**

**ځکه هغه وخت به دمالګو غلظت ډېر سي او دانسان ژوند به د خطر سره مخ کړي، په همدې اړو دوړ کي زړه يؤ بل هورمون هضمي سيستم ته مخابره کوي، ترڅو انسان دتندې احساس وکړي چي په پايله کي يې انسان دسختې تندې سره مخ کيږي او دا خو طبيعي ده چي هر هغه خواړه چي تروه وي انسان دهغوئ په خوړلو دتندې احساس کوي او اړ کيږي چي خوږې اوبه وڅښي. دا عجبه نه ده؟ اوبه ژر دمعدې او اړوند هضمي غړو څخه ژر وينې ته جذبيږي اوپښتور ګوته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاربښوونه کيږي چي خپلې ټولې ذخيره سوي اوبه تخليه کړي او داضافي مالګي په لمنځه وړلو او دباندن څخه ايستلو کي مرسته وکړي.

انسان ددې ټولو کارونو او اړودوړ څخه ناخبر وي او خپل ژوند ته

په ارامۍ دوام ورکوي، بيا هم ډېره مالګه او خوړې خوري او خوند ترې اخلي نور کار ددې دقيق اومنظم سيستم پر غاړه دئ چي يؤازي الله جل جلاله دهغه په ميزان ،دقت او نظم باندي ښه پوهه لري.

که موږ دبدن دټولو حجراتو،انساجو،غړو او سيستمونو دټولو کارونو څخه خبر سو موږ به دډېري حيرنتيا څخه دبې هوښۍ در پولو ورسيږو، دا دمره ډېر نظم او دقت او ناخبره انسان!

اتحسب انك جرم صغير* وفيك انطوي العالم اكبرُ

ګومان کوي چي کوچنی جسم يې ای انسانه* ستاپه بدن،تاکي جالبه او لويه نړۍ پټه سوې ده.

ښه ده چي پوه سئ کله چي يؤ غړې اوبه څښئ دجالبو،خورا حيرانوونکو او پيچلو سيستمونو څخه تيريږي، چي انسان يې دتللو دلارو په اړه لا بشپړ پوهه نه لري. الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ النَّمل : 88

وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِىَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِىٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ إِنَّهُۥ خَبِيرٌۢ بِمَا تَفْعَلُونَ

نن ته غرونه وينې او ګومان کوې چي ښه کلك ښخ شويدي. خو په هغه وخت کښي به دا د وريځو په څېر الوتونکي وي، دا به د الله د قدرت نښانه وي چي هر شی يې په حکمت سره بر قرار کړيدی. هغه ښه خبر دی چي تاسي څه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مثانه

الله جل جلاله مثانه داسي خلق کړي، پيداکړي چي دهغې دېوالونه يې په کوچنيو عصبو مجهز کړي دي، کله چي هم دبولو څخه د200تر300ملي ليټرو پوري ډکيږي؛دغه د واړه،کوچني عصبي مزي شوکي نخاع ته خبر ورکوي چي مثانه نور ډکه سوې ده،نخاع هم په خپل نوبت دمثانې سفنکترې عضلاتو ته امر کوي چي سره راغونج،منقبض سي، دويم امر يې دمثانې لاندينۍ محصري يا دروازې ته وي ترڅو بولو ته لار ورکړي چي دباندي ووځي، هغه عضله چي ټينګه تړل سوي وه لمړۍ سوسته او ورسته خلاصيږي، مګر دا کارونه دومره هم ساده نه دي کله چي نخاع دمثانې عضلاتو ته دغونجيدنې او خلاصيدنې امر کوې: ياد امر سمدستي نه مني بلکي هغه وخت دياد امر اطاعت کوي کله چي دلوړ لوري يانې امر کوونکي، مرکزي عصابو دلوري دغه امر تائيد او ټاپه سي،داسي لکه کوم کښته پوړي اداره درهغو يؤ امر نه مني ترهغو چي ديادې ادارې څخه دلوړې ادارې تائيد او ټاپه نه وي پر وهل سوي.

که چيري ديوه وګړي مثانه په يؤه اړينه ناسته يا حساس ځای کي ډکه سي: د مثانې عضلاتو ته يې دنخاع دلوري دخالې کيدنې حکم وسي او عضلات يې حکم ومنې دانسان هغه وخت به انسان په کوم حالت کي وي او څه احساس به کوي؟

ارزښت او درناوی به يې څه په وسي؟ شخصيت ته به يې څه زيان ورسيږي؟ په دې ټولو کارونو کي دالله جل جلاله حکمتونه راغونډسوي دي چي دانسان فکر ورته نه رسيږي!

ښه نو که چيري مغز موافق نه وي څه پيښيږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که چیري دهغو چي مثانه دخپلې اندازې 800ملي لیټرو څخه ډېر ډکه سي، تر دې اندازې پوري چي بولې پښتورګوته ورسیږي: کیدای سي ټوله وینه زهري سي او بولې په ګډې سي.**

**په داسي حال کي نخاع نور دمغزو امر ته نه تمه کیږي بلکي خپله دمثانې عضلاتو ته امر کوي چي سره را غونج سي او لاندې محصرې ته امر کوي چي بولوته دوتلو لار ورکړي،ورسته ترهغه بولې دباندي ځي یؤازي او یؤازي دانسان دژوند ژغورلو لپاره، داڅه ډول نظم او جوړښت دئ؟ دا څنګه دقیق خلقت دئ؟**

**بیله مثانې به ژوند څومره سخت وای؟**

**په هرو شلو ثانیو کي دوه ځاځکي بولې دپښتورګو څخه دحلبونو دلارې مثانې ته څڅیږي.**

**یؤ کثافت ځای چي دیؤنیم لیټر څخه ډېرې بولې ځایوي او انسان کولی سي بیله دي چي بولې وکړي پنځه یا اووه ساعته موټر وچلوي یا په کوم بل کار اخته سي. الله جل جلاله فرمایي: سُوۡرَةُ الطُّور : 35**

**{ أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ أَمْ هُمُ الْخٰلِقُونَ}**

**ایا دوی له کوم خالق څخه پرته پخپله پیدا شویدي؟ - یا پخپله د خپل ځان هستوونکي دي؟**

********

**دا دقیق سیستم چا جوړ کړی دئ؟ بیله شکه الله ﷻ خلق او جوړ کړی دئ!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول کاينات او زموږ بدن الله ﷻ ته درسيدنې، دهغه په قدرت،يوالي،حکمتونو او نعمتونو کي دفکر کولو ښه درشلونه دي، خو زموږ هوښ او بيداري غواړي،غفلت نه.

## دانسان درنګ بيلابيل والی او دهغه اړيکه دميلانين مادي سره

ستر الله ﷻ په خپل کتاب کي فرمايي: سُوۡرَةُ الرُّوم : 22

وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْعَٰلِمِينَ

او د هغه له نښانو څخه د اسمانونو او ځمکي پيدايښت او ستاسي د ژبو او رنګونو بېلا بېلوالی دی. په باوري ډول پدې کښي د پوهانو لپاره ډېري نښانې دي.******

غواړو ددې ايت پردغه برخه ( وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْعَٰلِمِينَ ) لنډ وړغيږو.

پوهان وايي: دپوستکی په مخ کي چوپرکي حجرات يانې چوپرک ته ورته حجرات،ژونکي ميلانوسيټونه شتون لري، ددې حجراتو شمېر په هر انچ مربع ساحه کي شپيتو زرو ته رسيږي، په تور پوستو او سپين پوستو کي ديادو حجراتو په شمېر کي بدلون نسته، دغه حجرات په ټولو انسانانو کي هغه که توروې،سپين وي يا غنم رنګ شمېر يې په ټولو کي يو دئ، درنګو بيلا بيل والی په انسانانو درنګ دمادې ميلانين د ډېرښت او کمښت له کبله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپين او تور انسانان دیادې مادې لکبله چي وزن يې ديؤه ګرام څخه ډېر نه دئ ديؤ بله توپير سره لري.

ديادول وړ ټکی دادئ چي دغه حجرت په هرو دو کالو کي دلس څخه در شل سلنه کميږي،ښه نو موږ ويلی سو چي دانسان دعمر په ډېريدو دهغه پوستکی روښانه او سپين کيږي، مګر زموږ کار ددې سره نه دئ، بلکي زموږ کار ددې رنګې مادې خپريدنه،نفوذ وه هغو حجراتو ته دئ چي چوپړک ته ورته شکل لري او په هر انچ مربع کي يې شمېر شپيتو زرو ته رسيږي.همدارنګه موږ پردې هم ږغيږو چي ديادو حجراتو شمير د ارثي حجراتو د لوري دحجرې په هسته کي ټاکل کيږي.

مګر ولې هغه وګړي چي په استوايي سيمو کي ژوند کوي تورپوستي دي،په داسي حال کي دجنوبي اوشمالي قطب اوسيدونکي سپين پوستان دي؟

دا څنګه تفسيروالی سو؟

دهغوئ دسيمې او رنګ ترمنځ کومه اړيکه شتون لري؟

په دې کي دالله جل جلاله لوی حکمت پټ سوی دئ.

د تياره مادې دځانګړو نو يؤه يې دزيان رسوونکو ماورأ بنفش وړانګو ښه جذب دئ، داستوايې سيمو په شاوخوا کي دلمرووړانګې تېزې اوسيده دمځکې پرمخ موښلې،ځکه خو ديادو سيمو داوسيدونکو رنګ تور او تياره دئ.

دلمر وړانګي چي دپوستکي دتور والي لامل کيږي ددو لارو ياد کارکوي،لومړی: ميلانښن چي دمخه جوړسوي وي په تېزی په کراتينوسيټونو توزيع کيږي، دويم: فعال سوي ميلانوسيټونه دميلانښنو جوړښت ډېر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس به دغه مبارک ايات تلاوت کړو چي فرمايي:**

**{وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْعَٰلِمِينَ**

**او د هغه له نښانو څخه د اسمانونو او ځمکي پيدايښت او ستاسي د ژبو او رنګونو بېلا بېلوالی دی. په باوري ډول پدې کښي د پوهانو لپاره ډېري نښانې دي.**

********

**دانسانانو درنګونو او پوستکي رنګا رنګي دالله ﷻ دعظمت او حکمت دنښو نښانو څخه يؤه نښه ده، دا ددې وړ ده چي په هغه کي اند وکړو ځان پري پوه کړو او په دې رنګونو کي په پټو سوو رازونه کي پلټنه وکړو.**

**که دانسانانو څيهرو ته وګورو موږ به ونه تونيږو چي ديؤه وګړي رنګ دبل درنګ سره ورته وموندو، ياني داسي وګړي به نکړو پيدا چي بس کټ مټ دهغه بل انسان په رنګ وي، مګر که د انځور نيوني په يؤې کيمرې باندې يې انځور ونيسو تقريبًا ټوله په يؤه رنګ مالوميږي، که موږ بيا هغوئ ته په خپلو سترګو وګورو دهريوه رنګ به ځانته ځانګړنې ولري ياني موږ به ښکاره توپيرونه دهغوئ په رنګونو کي وموندو، دانسان سترګې کولی سي په 800 زره رنګونو کي يؤه درجه رنګ دنورو څخه بيل ووينې، داسي چي که موږ اته سوه زر دزرغون رنګ ټوټې ديؤبل خواکي کښيږدو ديؤې سري رنګې ټوټې په ورزياتول زموږ سترګې هغه پېژندلی سي، ښه نو زموږ سترګې دبيلابيلو رنګونو په پېژندنه کي ډېرې دقيقې دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رسوالله ﷺ دلوی اختر په يؤې خطبې کي فرمايلي وه: (يا ايها الناس ان ربكم واحد وان اباكم واحد، الا لا فضل لعربي على أعجمي ولا لعجمي على عربي ولا لأحمر على أسود، ولا لأسود على أحمر الا بالتقوا)**

**اي خلګو وپوهيږئ چي ستاسو دټولو رب(ج) يؤ دئ،ټول ديؤبل ورونه ياست،وپوهيږئ چي هيڅ عربي پر عجمي او هيڅ عجمي پر عربې، هيڅ سور پوستی پر تور پوستي او هيڅ تور پوستی پر سور پوستي، غوروالی نه لري مګر په پرهيزکارۍ، تقوا**

**هم دغه شان دابو هريره (رض) څخه روايت سوی دئ چي رسوالله وفرمايل: (ان الله لا ينظر الى صوركم واموالكم ولكن ينظر الى قلوبكم و أعما لكم)**

**الله جل جلاله ستاسو څيهرو او شتمنيو ته نه کوري، بلکې ستاسو زړونو او کړنو ته ګوري.**

**الله جل جلاله زموږ کورونو،موټرونو اولادونو، شتمنيو او ښکلاو ته نه ګوري،بلکي زموږ زړونو،زموږ خبرو او زموږ چار چلند ته ګوري.**

## دوريښتانوسپينيدل

**دهغو مالوماتو دډلې څخه چي دانسان په اړه موږ ترلاسه کړي دي يؤ يې دادئ چي دهر انسان پر سره دسل څخه در دوه سوه پنځوس يادري سوه زرو وريښتانو پوري شتون لري او هر وريښته د درو کلونو څخه ډېر ژوند کوي، ددې لپاره چي دانسان ټوله وريښتان نوي سي 200ورځو ته اړتيا لري، دانسان دبدن دهر وريښته سره د وريښته جوړونې کارخونه شتون لري؛ياتې داچي زموږ پر بدن چي څومره وريښتان دي هومره دوريښته جوړونې فابريکې هم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شتون لري، بڼه نو هر تاروريښته ځانته يؤه فابريکه لري چي هلته توليديږي، وده او رشد کوي او دخپل عمر ځوانی ته رسيږي،ورسته سپين؛زړيږي او مري،چي مړينه يې دختنې او را لويدنې څخه عبارت ده.**

**هر وريښته يؤ شريان او وريد دځان دمغذي کيدنې او يؤه عضله دخپلې خوځيدنې لپاره لري، همدارنګه هر وريښته يؤ عصبي مزی لري چي تکان ورکوي ترڅو ودريږي او دغه رکم هروريښته يؤه دغوړو او يؤه د رنګ غده لري.**

**بڼه نو دراوسه څيرونکي دوريښتانو دسپينيدو په اړه بشپړ مالومات په لاس کي نه لري؟**

**ځينو پوهانو دخپلو تازه څيرونو ورسته ويلي دي چي د وريښتانو سپينېدل دعصبو څخه سرچينه اخلي: داسي چي سپين کروياټ دوريښته لوړ لورته راځي او سره کروياټ خوري،**

**پوهان پردې خبره ټينګار کوي چي سپينږريتوب يا سپين سرتوب دپوستکي ستونزه ده چي دعصبو څخه سرچينه اخلي.**

**قرآنکريم دې خبرې ته 14نيم سوه کاله مخکي اشاره کړي ده او فرمايي: سُوۡرَةُ المُزمّل : 17**

**{ فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ الْوِلْدَٰنَ شِيبًا}**

**که تاسي له منلو څخه انکار وکړئ، نو په هغه ورځ به څنګه وژغورل شئ چي ماشومان به سپين ږيري کړي؛**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو که ووایو دسپین سرتوب او سپینږرتوب سرچینه دانسان دبدن دننه ویره ده بده به نه وي ځکه موږ په تاریخ کي د دې ته ورته پیښو په اړه لوستلي دي: چي دځینو انسانانو وریښتان یوازي په یوه شپه کي سپین سوي دي دهغو دډلې څخه یوه یې (ماري آنتوانټ) دلوئي شپاړسم دفرانسي دپاچا میرمن یادولی سو چي خبره سول سبا اعدام کیږي تور وریښتان یې په یوه شپه کي سپین سول

دابن عباس (رض) څخه روایت سوی چي ابوبکر(رض)وویل: ای ګرانه پیغمبره سپینږری سوی یی؟رسوالله ﷺ یې په ځواب کي وویل:(شَيّبتني هود،والواقعه،والمرسلات،وعم يتسائلون،واذالشمس كوّرت)

د هود،واقعه،مرسلات،عم یتسائلون او تکویر سورتونو زه سپینږری کړم.

یانې رسوالله وویل زه یادو سورتونو سپینږری کړم،ښه نو الله جل جلاله فرمایي:
سُوْرَةُ هُود : 112

{ فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا  إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ}

نو [اې پیغمبره (ص)!] ته او ستا هغه ملګري چي (له کفر او سر غړوني څخه د ایمان او غاړي ایښودلو لوري ته ) راووښتي دي، پر سمه لاره همغسي برابر ثابت قدم اوسئ، لکه څنګه چي درته حکم شویدی. او د بندګۍ له حد څخه تېری مه کوئ. څه چي تاسي کوئ، هغه ستاسي د رب په نظر کښي دي.

****

دعمر په ډیریدو هرانسان د عصبي ستړیا سره د بوډاتوب دبیلا بیلو اړخونو له کبله مخ کیږي. الله ﷻ فرمایي: [سُوْرَةُ الرُّوم :۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اللَّهُ الَّذِى خَلَقَكُم مِّنْ ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْقَدِيرُ**

**الله پاك هغه ذات دی چي تاسي يې (د کوچني توب) په کمزورۍ بنه پيدا کړئ، بيا له هغې کمزورۍ څخه وروسته يې تاسي ته قوت در وبښه، بيا له هغه قوت څخه وروسته يې تاسي کمزورۍ او زوړوالي ته ورسولاست. هغه چي هر څه غواړي پيدا کوي يې، هغه په حقيقت پوهېدونکی، په هر څه باندي قدرت لرونکی دی.**

********

**امام (رح) د (النذير ) کلمه په بوډاتوب سره تفسير کړي ده.**

**دا د بنده دپام را اړولو يؤه نازکه اشاره ده چي الله ﷻ خپل بنده پوهوي چي بنده: ليدنه دي د الله ﷻ سره نبږدي ده،ته دالله ﷻ سره دليدني لپاره څه دځان سره لري؟ ای انسانه! ملا دي کړوپه،وريښتان دي سپين،سترګې دي کمزوري سوي ښه نو بيا ولي دالله ﷻ څخه نه شرمېږې؟**

**دا دالله ﷻ حکمتونه دي چي ولې دسر او ږيري وريښتان ژر او دورځو وريښتان ژر نه سپينږي، په پزه کي وريښتان راشنه کيږي مګر پر غاښو نه، دلاسو پر لوړه خوا وريښتان راشنه کيږي مګر پر ورغو نه،ولې؟**

**فوا عجباً کيف يعصي الإلهُ**

**أو کيف يجحده الجاحد**

**و في کل شيءٍ له آيه/ تدلّ علي أنّه واحدُ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ټولو اياتونو سره،جالبه ده چي څنګه دالله ﷻ نافرماني کيږي،او څنګه يؤڅوک انکار تري کوي،په هرشي کي څرګنده نښي نښانې دي چي وايي، هغه خداى او يؤازنى پيداکوونکى دئ.

## په پوست کي د احساس ځايونه

الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ النِّسَاء : 56

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِـَٔايَٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا

کومو خلکو چي زموږ د ايتونو له منلو څخه انکار کړيدی، هرومرو به يې اور ته ننباسو؛ او کله چي د هغوی د بدن پوټکي واليېل (وسوځول) شي؛ نو د هغو پر ځای به نور پوټکي ورکړو چي د عذاب خوند ښه وڅکي. الله ډېر زورور دی او د خپلو فېصلو د عملي کولو په حکمت ډېر ښه پوهيږي.

****

ګويا هغه ځايونه چي درد حس کوي په ځانګړي ډول دسوځيدني درد چي پوست کي سته ددې لپاره چي عذاب وڅکي.(كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ )او کله چي د هغوی د بدن پوټکي واليېل (وسوځول) شي؛ نو د هغو پر ځای به نور پوټکي ورکړو چي د عذاب خوند ښه وڅکي.

****

پوهان باور لري پوست ددوو پوښونو څخه جوړ سوی دئ، دپوست مخ چي د يؤشی سره داړيکې په وخت کي دهغه په اړه مالومات مغز ته ليږي، لکه ديؤشي دسوړوالي،ګرموالي،نازکوالي توپيرکوي، دغه پوښ خپل د درو لايو کي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړسوی دئ،باندنی پوښه،منځنی پوښ او لاندينی پوښ،دپوستکي دويم پوښ چي په همدي پوښ کي حيرانوونکي او جالب څه شتون لري.

دغه پوښ دنسجونو څخه جوړ دئ چي دکوچنيورګونو، عصبي رګونو،دغوړو دترشح لپاره غدې، دخولو توليدونکي غدې او دننه دغوړو،چربۍ لايي، په واقعت دپوستکی فعال پوښ همدادئ چي ياد شيان شتون پکښي لري.

دپوستکي دويمه برخه، ددوو برخو څخه جوړه: پاپيلائي او رتيکولر،په پيلائي برخه کي دوينې رګونه او حس کوونکي حجرې شتون لري همدارنګه په رتيکولر برخه کي يې دوريښتان، دغوړيو غدې، دخولو غدې، دردې پوښ لاندي هيپو درم برخه شتون لري چي په هغې کي دوريښتانو پيازوونه او دچربۍ،غوړيو نسجونه په زياته اندازه شتون لري.

کله چي انسان په اوبو او ګرمي هوا کي وي دتيروييډ غده حجروته هورمونونه استوي ترڅو هغوئ خپل کار ډېر او ګړندی کړي، ديادې غدې د فعاليت سره دحجرو هغه تودوخه چي دوئ يې منعکسه کوي ډېرېږي او په همدې ډول بدن د تودوخې سره اموخته يا عيار يږي.

يؤبله ډېره جالبه او حيرانوونکي خبره داده: که چيري انسان په مثبت څلويښت درجې تودوخه کي وي څه پيښيږي؟

پوهان وايي دوه سوه ذري دپوستکي په بيلابيلو برخوکي ځای پرځای سوي دي کله چي يې د شاوخوا تودخه دمعمول څخه پرته سي يادې ذرې دعصبي تارونه په مرسته مغز ته خبر ورکوي،مغز دبدن دټولو کوچنيو رګونو دخلاصيدنې امر ورکوي په همدې خاطر کله چي دتودوخې درجه لوړه ځي دانسان بدن سور کيږي او رنګ يې سره لمبه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سره کرويات

دهر وګړي هغه که ښځه وي يانر،کوچنی وي يا لوی: وينه يې په شريانونو او وريدونو کي روانه ده، که څه هم ډېر انسانان نه پوهيږي: چي وينه ده څشي؟ دڅه شي څخه جوړه سوې ده؟څومره ده او کوم رازونه په وينه کي پټ دي؟

ښه نو که چيرې په رګونو کي د روانې وينې په حقيقت انسان وپوهيږي بيله شکه سربه خپل خالق ﷻپر خاورو پر سجده کښيږدي او ستاينه به يې وکړي.

څوک باور کولی سي چي دانسان دبدن په وينه کي 25ميليونه،ميليونه سره ذرات شتون لري چي په شريانونو او وريدونو کي دوينې سره مله دي په داسي حال کي چي سره کرويات دوينې يؤه کوچنۍ برخه ده، ديادو کروياتو شمير په هر مليمتر مکعب کي دپنځه ميليونو څخه کم نه دئ؛څومره ډېر او جالب!

دسرو کروياتو په اړه ويل کيږي چي هيڅ وخت ستړيا نه پيژني او تل دبدن حجرو،نسجونو،غړو او هرې برخې ته بيله کومې دمې اکسيجن رسوي.

په رښتيا چي دا لوی کمال دئ چي هيڅ ستړيا نه پيژني! هرورځ سره کرويات په بدن کي پنځلس سوه ځله ګرځي، ځي او راځي،ددوئ ژوند دپنځويشتو ورځو څخه لږ ډېر دئ او ورسته درهغه مري توري ته ليږدول کيږي مړي يې تجزيه او بيا ددوئ او صفر دجوړيدنې وړ مواد ورڅخه جلا، اينې او دهډوکو مغز ته ليږدول کيږي،په دغه پنځويشت ورځنې ژوند کي دوئ 1150کيلومتره لار طی کوي او 600ليټره اکسجن دځان سره وړي او ځای پرځای کوي يې په داسي حال کي چي دهرې سرې ذرې قطر د اووه مايکرو مترو څخه ډير نه دئ.

که موږ دسروکروياتو جوړښت ته پام وکړو وبه موندو چي هره سره ذره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د250ميليونه ماليکوله پروټينونه لري چي داوسپنې لرونکي دي او هيموګلوبين

ورته وايي او دا توان لري چي څلور ماليکوله اکسيجن دځان سره وليږدوي چي په دې حساب دوينې هره سره ذره يؤبيليون ماليکوله اکسيجن دځان سره ليږدوي،هر هِموګلوبين د 4پلي پپتيد،دوه 146آمينو اسيد،دو141آمينواسيدچي ټوله 5740آمينو اسيده کيږي څخه جوړ سوی دئ.

سره کرويات په پنځو يا دهغه څخه په کمو ورځو کي دهډوکو دمغز په کار خونو کي جوړيږي.

ښه نو د هډوکو په منځ کي دوينې دسرو کروياتو فابريکه ده، آيا باور کولی سي چي يادې کارخونې په هره يؤه ثانيه کي دونيم ميليونه سره کرويات جوړوي،ترټولو فعاله کار خونې يې لومړی دملا دهډوکو کي او ورسته تر هغه دسينې دقفس په هډوکو کي دي.

الله جل جلاله يؤازي دسروکروياتو دجوړيدنې لپاره دهډوکو دکارخونو په خلق کيدو بسنه نه ده کړي بلکي دانسان په بدن کي يې احتياطي کارخانې هم جوړې کړي دي که دکومې ستونزې له کبله دهډوکو دمغز فابريکې کاروځنډوي دوينې سره کرويات هغه وخت په اينه او توري کي جوړيږي.

يؤه بل اړين ديادولو وړټکی دادئ چي: دوينې داندازې،سنجش اوپه هغې کي د سته موادو دشتون او ميزان دکتنې مرکز په پښتورګو کي شتون لري چي په پرلپسي ډول د وينې څخه ساتنه کوي، هرکله چي وينه او په هغې کي سته مواد دطبيعي اندازې څخه کم سي پښتورګې دهغوئ دجوړيدا فابريکو ته هورمونې پيغام استوي،چي دوينې دجوړيدنه زياته کړي او هرکله چي دسروکروياتو اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وینه کي ډېره سي یاد مرکزونه دهډوکو دمغز فابریکوته دسروکرویاتو دجوړیدنې دلړیدا خبر ورکوي،

دوینې دفشار او پښتورګو دالتهاب ترمنځ چي کومه اړیکه ده دهمدې ځایه سرچینه اخلي، مګر دا څنګه اړیکه ده؟

په پښتورګو کي یؤ ډېر حساس مرکز شتون لري، چي په پرلپسي ډول سره دوینې څخه ساتنه کوي، د اریتروپویتین په نامه د یؤه هورمون 90سلنه جوړیږي چي دوینې دجوړیدنې په کارخونو کي دسروکرویاتو پر زیاتې جوړیدنې اغیزه لري.

دوینې په کښلو،حجامت سره دوینې سره کرویات کمیږي او دا کمښت ددې لامل کیږي چي ددپښتورګو دسنجش مرکز دوینې دجوړیدنې فابریکو ته دوینې سروکرویاتو د ډیرو جوړیدنې خبرورکوي، په همدې اساس دوینې سره کرویات د انسان دعمر سره مطابق جوړیږي، دغه پلان او نظم دچا دلوري دئ؟

چا دغه کارخونې جوړي کړي دي؟ چا دغه لابراتورونه دانسان په بدن کي دننه جوړ کړي دي؟ آیا هغه په رښتیا سره دستاینې او عبادت وړ نه دئ؟ آیا باید دهغه حکمونه ونه منل سي؟ ولې موږ دهغه حکمونه ونه ومنو؟ ولې باید دهغو څخه چي الله جل جلاله منعه کړي یؤ پرهیز ونه کړو؟ الله جل فرمایي: سُوْرَةُ الذّاريَات : 21

{ وَفِىٓ أَنفُسِكُمۡ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ}

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ایا تاسي په ځیر کتونکي نه یاست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوينې بحث په يؤې او څو ليکنو کي نه بشپړه کيږي، د وينې په اړه ډېر کتابونه ليکل سوي دي، په طب کي هم يؤه تخصصي برخه دوينې دناروغيو په نوم شتون لري.

## بيله درملو روغتيا موندل

روغتونونه او روغتيايي امکانات که هغه درمل وي يا روغتيايي مرستې او اړوندن تکنيکونه، يؤازي يؤ پر څلورمه برخه ناروغيو د درملنې زمينه ډاکټرانو ته برابره وي، پاتي ناروغۍ يا خو هيڅ درملنه نه لري يا په خپله ښه کيږي.

هيڅ ډاکټر به نه وي چي نه يې وي ليدلي يا اوريدلي چي يؤه مزمنه،دوامداره ناروغي بيله کومه ښکاره طبي دليله خپله ښه سوي وي.

دهغه وخته چي طبي پوهه رامنځته سوې ده تل مزمنې او نا پيژندل سوي ناروغۍ بيله کومې درملنې ښه سوي دي.

مګر روغتيايي پوهې هغو ته ځانګړې پام نه دئ کړی، ځکه ځيني ډاکټران دې سکالو ته په غيري علمي ډول راګرځي، رجوع کوي، په داسي حال کي چي دا په حقيقت کي دالله جل جلاله دلوري پرخپلو بنداګانو رحمت او نعمت دئ چي کوي يی.

الله جل جلاله فرمايي: سُوْرَةُ الشُّعَرَاء : 78

{ الَّذِى خَلَقَنِى فَهُوَ يَهْدِينِ}

چي هغه زه پيدا کړي يم، بيا هماغه راته لارښوونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**[سُوْرَةُ الشُّعَرَاء : 85]**

**{ وَاجْعَلْنِى مِنْ وَرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيمِ}**

**او ما له نعمتونو څخه د مالامال جنت له وارثانو څخه وګرځوه؛**

********

**ليكوال وايي: يو ځانګړی سيستم شتون لري چي دانسانانو دناروغيو درملنه خپله كوي چي دهغه نوم په طبي كتابونو او كتاب غونډون،دايرالمعارفونو كي نه دئ ياد سوی.**

**داسي حالتونه شتون لري چي سختي ناروغی بېله كوم مالوم سببه او درملني روغي سوي دي، ددې سيستمونو د ډلې چي دا ډول درملنه كوي يو يې دانسان دبدن ساتونكی، دفاعي سيستم دئ چي خپله يو جالب او حيرانوونكی سيستم دئ چي الله ﷻ پيداكړی دئ، ياد سيستم په بدن كي هيڅ مالوم ځای نه لري، يو چمتو سيستم دئ چي داسي جوړ سوی دئ چي: هرډول بېګانه حجره وپيژني او دهغه دلمنځه وړني لپاره لاس په كارسي، اړين شی چي په ياد ګډكاري كي ستره پياوړی يادابنت يا حافظه ده، ځكه هيڅ وخت هيره نه لري، په حقيقت كي دا يو وسله ده چي دوختونو څخه د دښمن پروړاندي په جنګ كي كار تري اخيستل كيږي، كارول كيږي، كه چيري ياد سيستم دغه ركم پياوړی يادابنت نه درلودای، دناروغيو د فعاليت پروړاندي به يې هيڅ ښه اغېزه نه درلودای.**

**دغه دفاعي حجري دهډكو په مغز كي جوړيږي او په ځانګړي ډول دسينې درهډكو لاندي دتايموس په غده كي روزل كيږي، داسي چې ياد غده دسپينو كروياتو دتې سيل دفاعي ډلې جنګي روزن ځای دئ او ديادې روزنې ورسته همدا ډله دانسان دبدن په لومړيو دفاعي كرښو كي دنده سرته رسوي او دبيلابيلو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويرسونو،ميکروبونو او سرطانونو څخه دانسان دبدن ساتنه کوي،ددې ژونکو په منځ کي يؤه ډله دنده لري ترڅو دښمنان ومونډي،وپيژني ياني ياده ډله پلټونکي ډله ده، ياده ډله د دښمن وسلې او دهغوئ دځانګړونو په اړه وسلې جوړونکي ډلې ته مالومات ورکوي ترڅو دهغوئ دلمنځه وړلو لپاره دهغوئ دوسلو څخه پياوړي وسلې جوړي کړي، يؤبله ډله د دفاعي حجرو څخه يؤ ډول زهر،يا درمل دناروغيو پروړاندي جوړوي ترڅو ناروغی لمنځه پر ويسې.

يؤه بله ډله د دفاعي حجرو څخه شتون لري چي هغه جنګ کوونکي لښکر دي وسلې را اخلې او دجنګ ميدان ته د دښمن دلمنځه وړلو لپاره ځي ترڅو ويرسونه او ميکروبونه لمنځه ويسې، ځيني ديادو حجرو څخه وژونکي دي او ځيني دنورو پوځيانو روزونکي.

،ايډز ناروغی ديادو دفاعي حجرو لوی قاتله ده،ياد ويروس دانسان دبدن پردفاعي سيستم حمله کوي او لمنځه يې وړي، په همدې خاطر دايډز ناروغي دانسانانو لپاره ترټولو خطر ناکه ناروغي ده، دايډز ناروغي دبدن ساتونکي يا دفاع کوونکي حجرې لمنځه وړي، هغه سيستم چي دناروغيو په لمنځه وړلو،درملنه کولو کي مرسته کوونکی سيستم دئ.

ددې حجرو يؤه دښکلو دندو څخه داده چي: چي ځيني دهغوئ څخه سږو ته ځي او هلته دسګريټو څخه رامنځته سوي اغېزې پاکوي.

ديادو حجراتو په اړه نوي خبره داده چي ديادو حجراتو يؤه ډله چي په اتيايمه لسيزه کي وپيژندل سول، په فطرتي ډول د را جذبوني،راکشيدني ځانګړنه لري،

ياني کولی سي ناپيژنده حجرات مخکي تر دې چي هغوئ په کار پيل وکړي مالوم او دلمنځه وړلو لپاره يې لاس په کار سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دبدن دساتونکي،دفاعي سيستم په اړه ترټولو اړينه خبره داده چي دياد سيستم درشا دبدن څخه دباندي قدرت دئ، هغه دياد سيستم جوړونکی دئ او هغه ته امر کوي، ښه نو زموږ دبدن دفاعي ځواکونه زموږ دبدن د دباندي څخه رهبري کيږي نه زموږ دبدن دننه.**

**ځيني پوهان وايي: غم او خفګان،رواني ستونزې، سستي او ناباوري ياد سيستم کمزوری کوي، مګر اميد،دعا او هيله ددې سيستم په پياوړتيا او ښه چار کي خورا ډېره مرسته کوي، شرک او کفر دغه سيستم ډېر کمزوری کوي، الله جل جلاله په خپل کتاب کي فرمايي: سُوۡرَةُ الشُّعَرَاء : 213**

**{ فَلَا تَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُعَذَّبِينَ}**

**نو [اې محمده (ص)!] له الله سره کوم معبود مه بله، کنه نو ته به هم له سزا موندونکو څخه شې.**

*******

**دمؤمن انسان کار توکل، او دالله جل جلاله امر ته غاړه ايښودنه،تسليمېدنه ده. سُوۡرَةُ هُود : 123**

**وَلِلَّهِ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُ ٱلۡأَمۡرُ كُلُّهُۥ فَٱعۡبُدۡهُ وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ**

**په اسمانونو او ځمکه کښي چي څه پټ شويدي، ټول د الله د وس واك په موټي کښي دي او ټوله معامله د همغه لوري ته ورګرزول کيږي. نو [اې پېغمبره (ص)!] ته د هغه بندګي وکړه او پر همغه توکُل ولره. څه چي تاسي کوئ، ستا رب له هغو څخه بې خبره نه دی***.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله ﷻ پريؤالي ايمان درلودل يؤ ډول سلامتي او جوړتياده، ځکه: راتلونکي ته ښې هيلې لرل، دامنيت او امان هيله دالله ﷻ څخه لرل، ايمان، هغه سيستم چي الله ﷻ دناروغيو څخه د روغتيا لپاره پيدا کړى دئ پياوړى کوي، مګر بې ايمانې،شرک او کينه دياد سيستم په سستۍ او کمزورۍ کي لويه ونډه لري، ښه نو ياد ګډکارى دانسان دروغتيا سره نيغه اړيکه لري او دروغتيا ساتونکى يې دئ.

## په اسلامي نړۍ کي دطبابت علم،پوهه

اسلام دانساني فطرت سره سم دين دئ، اسلام په خپلو لارښوونو کي پر سلامتۍ، روغتيا او پاکۍ ټينګار کوي، اسلام دمادي او روح ترمنځ يؤ شان والى رامنځته کوي چي موخه يې ددې نړۍ او اخرت سمون دئ، ځکه چي دا نړۍ هغه سپرلۍ ده چي موږ اخرت، هغې دونيا ته رسوي.

دبدن روغتيا دراتلونکي دلوړتيا، دروح دسلامتۍ او دعقل په غوره والي کي کيداى سي ښه پايله ولري.

په همدې اساس الله ﷻ دبدن روغتيا، سلامتي،توان مندي، ښه پوهيدنه او عقل د روح دپاکۍ او صفايي علت ګڼلى دئ. الله ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ البَقَرَة : 247

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ قَالُوٓا أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ۚ قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِى الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ۖ وَاللَّهُ يُؤْتِى مُلْكَهُۥ مَن يَشَآءُ ۚ وَاللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ

د هغو پېغمبر ورته وويل: "الله طالوت ستاسي باچا ټاکلى دى." ددې خبري په اوريدو هغوى وويل: "هغه څنګه پر موږ باندي د باچا کېدو حق موندى؟ - د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه په پرتله موږ د باچاهۍ زيات وړ يوو، او هغه کوم زيات شتمن سړی نه دی." - پېغمبر ځواب ورکړ: "الله پر تاسي هم هغه غوره کړيدی او هغه ته يې روحي او جسمي دواړه ډوله پراخ اهليت وربښلی دی. او الله واکمن دی چا ته يې چي خوښه شي خپل ملك ورکوي. له خدای سره ډېره پراخي ده او پر هر څه عالم دی.**

********

**الله جل جلاله دانسان لپاره دا روښانه کړي ده چي، قدرت او امانت داري، په اصطلاح ښه توب اوپاکي دهغو وګړو دپېژندني ځانګړني دي چي موږ غواړو په چارو کي دهغوئ تقليد وکړو ياني پر پله يې قدمونه کښيږدو؛يا غواړو کوم کار هغوئ ته وسپارو بايد لومړی دا دوه ځانګړنې په هغوئ کي ومومندو،يا په بله مانا دا دوې ځانګړنې بايد هغوئ ولري،دغه دوه معيارونه په قرآن کريم کي ذکرسوي چيري چي فرمايي.**

**[سُوْرَةُ القَصَص : 26]**

**{ قَالَتْ إِحْدٰهُمَا يٰٓأَبَتِ اسْتَـْٔجِرْهُ  إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَـْٔجَرْتَ الْقَوِىُّ الْأَمِينُ}**

**له هغو دوو ښځو څخه يوې خپل پلار ته وويل: "پلاره جانه، دغه سړی نوکر ونيسه؛ دی تر ټولو يوه غوره څوک دی چي نوکر يې نيسې، ځکه چي قوی او امانتدار دی.**

**********

**همدغه رکم رسوالله ﷺ هم فرمايي: «المؤمن القوي خيرٌ مِن المؤمن الضعيف»ياني: پياوړی مؤمن خير دئ ښه،بهتر دئ در کمزوري مؤمن**

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي نه دي ويلي چي پياوړی انسان در کمزوري مؤمن غوره دئ،ځکه بيله

ايمانه پياوړتيا او قدرت خپل دهم هغه وګړي او ټولنې دبربادۍ او تباهۍ لامل کيږي، مګر که دپياوړتيا سره ايمان مل وي په ټولنه کي دخير او نيکئ په لار کي معجزې رامنځته کوي.ددې څخه مخکي رسوالله ﷺ دبدن سلامتي يؤ پردريم د دونيا بللې ده.

ديؤه حسن حديث شريف مفهوم دئ: هر څوک چي دايمان او بدن دسلامتۍ څخه برخمن وي او دورځې خواړه هم ولري،داسي بيلګه لري لکه نړۍ چي ورته راغونډه سوي وي.

علي (رض) وايي: ناروغي دتنګ لاسۍ څخه سخت او دکفر څخه آسانه مصيبت دئ، دده په ناروغي دشتمنۍ څخه لوی نعمت دئ.

بيا هغه وايي: وپوهيږي چي محتاجي،اړکيدل مصيبت دئ او دبدن ناروغي دتنګ لاسۍ او محتاجۍ څخه سخته ده او سخته ناروغي دزړه ناراحتي ده، وپوهيږئ چي شتمني دالله ﷻ يؤ نعمت دئ،مګر دبدن روغتيا ښه او غوره ده دډېرې شتمنۍ څخه او دزړه پرهيزکاري بهتره او ښه ده دبدن دروغتيا څخه. اسلامي طب څلور برخي لري: طبيعي روغتيا،رواني روغتيا،دناروغيو څخه مخنيوئ او درملنه.

په طبيعي طب کي ددې ټکي يادونه اړينه ده چي دمسلمان وګړي شخصيت پر بخشيش بنادئ نه پر بخل، مسلمان وګړی تلاښ کوونکی هڅه کوونکی دئ نه لټي کوونکی بيکاره او دنورو د ملاتړ څخه استفاده کوونکی، يؤازي په خيالو کي نه دئ ورک بلکي په درښتيا په ميدان کي هم کار کوونکی وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورته هم خير رسوونكى وي نه يؤازي ځان غوښتونكى او خوښوونكى، نيكي كوونكى وي نه بدې كوونكى،صابر وي نه تمه كوونكى، په رښتيا سره چي هڅه،كوښښ پر خپل ځاى روغتيا او سلامتيا ده.

په ځو علمي او طبي جرګه ګيو كي چي دزړه دناروغيو په اړه جوړي سوې وي ټولو ګډونكوونكو پردې خبرې يؤالى درلودئ چي: هڅه،تلاښ،كار اوروانې روغتيا دناروغيو مخه نيسي او د انسان بدن روغ ساتي، سوستې لټي،روانې ناارامي او بې كاري،په ډېرو هيوادونو كي د زړه دناروغيو ته لار خلاص كړي او يؤ لوى لامل يې دئ.

هڅه،تلاښ او كار دزړه او نورو نارغيو مخه نيونكي او زموږ بدن ته دروغتيا ډالۍ كوونكي دي، په دې خبره كي زموږ خوږ پيغمبر زموږ لپاره ښه درس راته پريښى دئ، دهغه په ځينو غزاګانو كي دي ته پام سوى وو چي د صحابو په اندازه يې په لښكر كي دسپريدو لپاره اوښان نسته، ځكه خو يې فرمايلي وه،هر دري نفره دي په نوبت پر يؤه اوښ سپريږئ او بيا يې فرمايلي وه: <<أنا وعلى و ابو البابه على راحلةٍ>>

زه او علي او ابولبابه پريؤه اوښ سپريږو.

په دې كارسره رسوالله ﷺ خپل ځان په تلاښ او هڅه كي دخپلو ملګرو سره يؤشان كړ، كله چي درسوالله ﷺ دپياده تګ نوبت را ورسيدئ: دوو ملګرو علي(رض) او ابو لبابه (رض) ته دا سخته وه چي رسوالله ﷺ داسلامي امت دسر تاج پرپښو پياده روان وي،

نو ځكه خو يي ورته وويل: اى دالله رسوله مه پياده كيږه،همدلته يې مشهوره خبره پر ژبه راوړل او وي فرمايل: يعني

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما أَنْتُما بأقوي منِّى علَي السيرِ، ولا أنا بأغني منكما عن الأجر»دحديث شريف » مفهوم دئ:**

**يانې تاسو دوه تنه پر لارې تلو کي زما څخه قوي تره او دخير اوثواب په لاسته راوړلو کي ډېر هيله کوونکي نه ياست.**

**ښه نوتلاښ او هڅه کول خپله،درواني،زړه او دبدن دنورو غړو دروغتيا لامل کيږي، ددې نړۍ حقيت دادئ چي : دا نړۍ دزحمتونو،کار،تلاښ اوستړيا ځای دئ مګر اخرت ددې هر څه دبدلې ورکول ځای دئ، په زيات زحمت او تلاښ سره ډېر غوره څه لاسته راوړلی سو،داد دطبيعي طب روغتيا پوهنې يؤه کوچنی برخه وه چي ومولوستل.**

# رواني طب

**ددې برخې په اړه يؤ اړينه خبره داده چي: ډېري وژونکي او مزمنې ناروغۍ لکه: د زړه او رګونو ناروغی،دهاضمي سيستم ناروغی،دپښتورګو ناروغۍ او ځيني نوري رواني ،روحي اوعصبي ناروغی،بنسټ او سرچينه روحي او رواني ګډوډۍ دي، چي زيات مشرکين همدا اوس ددې ناروغيو څخه کړيږي.**

**هر څوک چي دحق څخه منکر سي؛بې ايمانه او مشرک سي الله جل جلاله دهغه زړه دويرې او خفګانه ډکوي،الله ﷻ فرمايي:سُوْرَةُ آل عِمرَان : 151**

**سَنُلْقِى فِى قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَآ أَشْرَكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا وَمَأْوَىٰهُمُ النَّارُ ۚ وَبِئْسَ مَثْوَى الظَّٰلِمِينَ**

**هغه وخت ډېر ژر راتلونکی دی چي موږ د حق نه منونکيو په زړونو کښي ويره وغورځوو، ځکه چي هغو له الله سره په خدايی کښي هغه څه شريك انګېرلي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چي د هغو پر برخه والي الله کوم سند نه دی نازل کړی. د هغو وروستی استوګنځی دوږخ دی؛ او ډېر بد هغه استوګنځی دی چي ظالمانو ته به ور په برخه وي.**

********

**ښه نو دکړاو او مصيبت انتظار خپله لوی کړاو او مصيبت دئ، ځيني انسانان دتنګ لاسی دو بيري،ډار لکبله دتنګلاسی سره مخ سي، ځيني وګړي دناروغی دبيري په ناروغی اخته سي، الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ المعَارج : 19**

**{ إِنَّ الْإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا}**

**انسان کم حوصله پيدا کړ شوی دی؛**

**[سُوۡرَةُ المعَارج : 26]**

**{ وَالَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ}**

**هغه کسان چي د جزا ورځ بر حقه مني؛**

*******

**ځيني ډاکټران په دې باور دي چي دويني لوړ فشار په حقيقت کي دغم،اندېښنې او فکر دخرابولي فشار دئ، کله چي انسان دالله ﷻ ديؤالي څخه منکر سي او دشرک لور ته مخ کړي دا هغه وخت وي چي دهغه پرمخ درواني، روحي عذاب دراوزې خلاص سي،الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ الشُّعَرَاء : 213**

**{ فَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ}**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو [اې محمده (ص)!] له الله سره کوم معبود مه بله، کنه نو ته به هم له سزا موندونکو څخه شې.

*****

ښه نو دايمان لره چي الله ﷻ زموږ او ټولو مخلوقاتو پيداکوونکی دی،لاښوونکی،پالونکی دئ او ټوله کارونه دهغه په خوښه سرته رسيږي،خير او شر دهغه ﷻ دلوري څخه انسان ته ورپيښيږي، انسان ته امنيت،سکون او ارامښت ورکوي، زموږ په ژوند کي ارزښتمن،غوره اوښه شی زموږ روحي،سکون او روان دئ،اضطراب،خستګي،ناخوښي،ناشکري،بې ارامي زموږ ژوند دکړاونو ډکه وي او ددې نړۍ په دوږخ يې بدلوي،الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ الأنعَام : 81__82

وَكَيْفَ أَخَافُ مَآ أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُم بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا فَأَىُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالْأَمْنِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ

او زه ستاسي له انګېرلېو خدايانو څخه ولي ووېرېږم، چي کله تاسي له الله سره په خدايی کښي د هغو شيانو په شريکولو نه وېرېږئ چي پر تاسي يې (د شريک نيولو) کوم سند نه دی نازل کړی شوی؟ زموږ دواړو ډلو څخه کومه يوه زياته د نه وېرېدو او ډاډينې وړ ده؟ راوښيئ که تاسي څه علم لرئ!

{ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوٓا إِيمَٰنَهُم بِظُلْمٍ أُولَٰٓئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ}

په حقيقت کښي خو امنيت د هماغو کسانو لپاره دی او پر سمه لاره برابر هماغه کسان دي چي ايمان يې راوړی، او خپل ايمان يې په ظلم نه دی ملوث کړی.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو اوس چي ارامي،سلامتي؛سکون دمصيبت دنه راتلو سره برابردي، امنيت هم د مصيبت دنه انتظار سره برابردئ،

الله جلاله فرمايي: سُوْرَةُ التّوبَة : 51

{ قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَٰنَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ}

دوی ته ووايه: "موږ ته هيڅکله څه (ضرر يا ښېګڼه) نه رسيږي. مګر هغه چي الله راته ليکلي دي، هماغه الله زموږ مولا دی، او مؤمنان بايد په هماغه توکُل وکړي.

***

دغسي ايمان زموږ روح د ارامی،سکون او ډاډ څخه سراسر ډکوي، دالله جلاله پر عدالت باندي ډاډ، داسي چي ټولې،دټولو کارونو کيلی دهغه سره دي،خير او شر دهغه دلوري موږ ته راپيښيږي، هيڅ وخت پر خپل بنده باندي ظلم او زياتی نه کوي، موږ دهر اړخه په سکون کوي.

[سُوْرَةُ الأنبيَاء : 47]

وَنَضَعُ الْمَوٰزِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِينَ

د قيامت په ورځ به موږ برابري تول کوونکي تلي کيږدو. بيا به پر هيچا يو بڅری ظلم نه وي. د چا چي د سپيلني د دانې په اندازه هم څه کړه وړه وي، هغه به موږ ور مخي ته کړو او د حساب کولو لپاره موږ کافي يوو.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الله ﷻ دايمان لرونکو مل دئ، دهر غم،کړاو او مصيبته هغوئ باسي، دهغوئ د دښمنانو پر د وړاندې هغوئ مرسته رسوي.**

**ايمان دانسان روح او روان، دبرياليتوب داحساس څخه ډکوي،نېکبختئ ته رسيدنه، د الله ﷻ خوښې او رضا دمځکې پر مخ ترټولو قيمتي،ډېره ازښت لرونکي، بريا ده چي انسان يې ترلاسه کوي،پرالله ﷻ ايمان،دهغه ﷻ پر قدر اوقضا باور لرل،هغه ته ځان تسليمول،پرهغه ريښتنی توکل کول، هغه ډېرې ارزښت لرونکي کړنې دي چي انسان ته په نړيو کي بريا او تل پاتي خوښئ ورکوي.**

**په روايتونو کي راغلي دي: «الإِيمان بِالقدر يذهب الهم والحزن پر قدر او قضا ايمان درلودل غم او خفګان لمنځه وړي.**

**يادې کړنې يؤه انسان ته هغه خوښي ارام او خوشحالي ورکوي چي هيڅوک دهغو احساس نه سي کولی بيله هغو وګړو چي دهغوئ خوند يې څکلی وي، همدا علت دئ چي رواني روغتيا او سکون دانسان دسلامتئ بنسټ دئ.**

**ځيني ډاکټران وايي: چي رواني مهرباني دزړه د درزا دکنټرول،دهغه وه عادي حالت ته راتلو او دويني دلوړ فشار وطبيعي حالت ته دتيټيدو لپاره بسنه کوي.**

## دناروغيو څخه مخنيوئ کول

**دناروغيو څخه مخنيوي اصل پردې ټکي بنا دئ چي د ناروغئ سبب لمنځه وړل ددې څخه ډېر ګټور او آسانه دئ چي موږ دنارغئ علايم او خپلع ناروغي لمنځه يوسو،که څه هم يؤ ناروغي ښه درملنه او درمل ولري خو کيدای سي په راتلونکي وخت کي خپله درمل او د ناروغئ لمنځه وړونکي وسيلې جانبي بدې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغېزې ولري،په همدې اساس وقايه او دناروغيو دپيښېدو وړاندي دهغوی سبب لمنځه وړل دټولو روغتيايي علومو دسر او خوښ ټکي دي.

بيله شکه په کومه ټولنو کي چي ناروغۍ ځای ونيسي دهغوئ په منځ کي ناروغۍ رامنځته سي هغوئ ته لوی زيان او تاوان رسوي، دا زيان که دناروغو وګړو دکار څخه رخصت او ناسوبتيا وي چي دخپل ټولنې لپاره کارکوي او که دناروغۍ دلمنځه وړلو لپاره دماديا‌تو مصرف وي، هغه چي يادې ټولنې همدا شتمنې په نور پرمختيايي چارو کي لګوالی سول خو دناروغيو د درملني لپاره يې هغه په پرمختيايې چارو ونه لګول.

دبيلګې په ډول دټي بي يا سيل ناروغي لږ ترلږه شپږ اويا لس مياشتې درملنې ته اړتيا لري،چي زيات لګښت يې پر ناروغ او دولت راځي، دا خولا پريږده چي ناروغ څومره کړاونو تيروي په داسي حال کي چي ديادې ناروغۍ واکسين چي ديادې ناروغۍ پر وړاندي انسان وقايه کوي په ډېرو هيوادونو کي وړيا او يا په ډېر کم لګښت دلاس رسي وړ دئ، په همدې ساده ډول کولی سو ديادې ناروغۍ څخه مخنيوی وکړو.

دناروغيو يؤه ښه او بې لګښته لاره بېله شکه چي پاکي،نظافت دئ چي اسلام پر هغه ټينګار کړی دئ،دپاکۍ او نظافت په مرعاتول کولی سو د ډېرو ساري ناروغيو لکه: کولرا،وينې لرونکي نسناستې،دکلمو چينجيان چي دځلو دلاري انتقاليږي،کرونا،جنسي ناروغيو او ورته ډېرو ناروغيو مخه ونيسو، ددې سربيره پاکي او نظافت دعصبو دوړتياو دډېريدا او دوينې د دوراني سيسټم دروغتيا سره مرسته کوي،دپوستکي دناروغيو په مخنيوي کي ونډه لري،همدارنګه پاکي او نظافت مرعتول دشخصيت په جوړونه او دټولنيزو اړيکو په غوړيدا او رغونه کي ونډه لري، موږ مسلمانان الله جل جلاله دنظافت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مرعاتولو ته تشويق کړي يوو او هغه يې دخپل محبت دجلب سبب ګڼلی دئ. الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ البَقَرَة : 222**

**وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِسَآءَ فِى الْمَحِيضِ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّبِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ**

**او دوی ستا څخه پوښتنه کوي: "د حيض څه حکم دی؟" – ورته ووايه: "هغه يو د پليتۍ حالت دی، په هغه کښي له ښځو څخه بېل اوسئ او هغو ته مه نژدې کيږئ؛ تر څو هغوی پاکي او سوتره شوي نه وي. بيا چي کله هغوی پاکې شي، نو له هغو سره هغه شان يو ځای شئ چي الله درته امر کړيدی. د الله هغه خلک خوښيږي چي له بدۍ څخه لاس واخلي او سپېڅلتياغوره کړي.**

*****

**امام محمد غزالي (رح) دغه ايات په څلورو سطحو کي تفسير کړی دئ: لومړی دناپاکي او چټلۍ څخه دظاهر پاکوالی،دويم: دبدن دغړو پاکې دګناه او نافرماني څخه،دريم: د روان او خوئ پاکول دبدو اخلاقو او ناخوښو کارونو څخه او څلورم: دروح پاکي د غيرالله څخه.**

**رسوالله صلی الله عليه وسلم هم دخوړو برکت مخکي دغذا دخوړلو او ورسته دخوړلو څخه دلاسونو په پريلولو کي ګڼلی دئ،**

**<<دبرکَه الطعام الوضوء قبلَه و الوضوء بعده»**

**دحديث شريف مفهوم دئ: دخوړو برکت دخوړلو څخه مخکي او ورسته په اودس کولو،دلاس او خولې په پريوللو کي دئ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رسوالله دجمعي دورځې دغسل کولو لارښوونه کړي ده:**

**"«حقٌ علَي کُلِّ مسلم أن یغتسلَ في کلّ سبعه أیام یوماً یغسلُ فیهِ رأسه و جسده**

**دحدیث شریف مفهوم دئ: هرمسلمان باید هره اونۍ یؤه ورځ خپل سر او بدن پریولي.**

**هغه چي در هر دلیل ډېر او په غوره ډول په اسلام کي دپاکۍ په اړینوالي دلالت کوي هغه دادئ چي قرآنکریم پاکي دلمانځه د صحیح والي شرط ګرځولې ده**

**لوی الله جل جلاله فرمایي: سُوْرَةُ المَائدة : 6**

**يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوَا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَٰوةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَآئِطِ أَوْ لَٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَآءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ**

**اې مؤمنانو! کله چي تاسي د لمانځه لپاره پاڅېږئ؛ (او بې اودسه یاست) نو باید چي خپل مخونه او لاسونه تر څنګلو پوري ووینځئ، پر سرونو باندي لاسونه را کاږئ او پښې تر پړکبو (بیچلکو) پوري ووینځئ. او که د جنابت په حال کښې یاست؛ نو په لمبلو (غسل کولو) ځان پاك کړئ. که ناروغان یا مسافر یاست، یا ستاسي څخه کوم څوك له حاجت پوره کولو څخه راشي یا تاسي پر ښځو لاس لګولی (جماع مو کړي) وي، او اوبه ونه مومئ؛ نو له پاکي خاورۍ څخه کار واخلئ، پر هغې لاسونه ووهئ، پر خپلو مخونو او لاسو یې را کاږئ. الله نه غواړي چي ژوند دربانديِ تنګ کړي، هغه خو غواړي چي تاسي سوتره کړي او خپل نعمت پر تاسي پوره کړي، ښایي چي تاسي شکر ایستونکي شئ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ پاکي اوبه انسان ته لوی انعام او نعمت ورکړي دي،هغه اوبه چي انسان هغه کاروي او ځان په پاکوي. الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ الفُرقَان : 48

{ وَهُوَ الَّذِىٓ أَرۡسَلَ الرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَىۡ رَحۡمَتِهِۦ‌ۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً طَهُورًا}

او هماغه ذات دی چي د خپل رحمت په مخکي يي بادونه د زيري په توګه ليږلي. بيا موږ له اسمانه پاکي اوبه نازلي کړي دي

***

همدغه ډول بيا فرمايې: سُوۡرَةُ الأنفَال : 11

إِذۡ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنۡهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيۡكُم مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذۡهِبَ عَنكُمۡ رِجۡزَ الشَّيۡطَٰنِ وَلِيَرۡبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمۡ وَيُثَبِّتَ بِهِ الۡأَقۡدَامَ

هغه وخت (ياد کړئ) چي کله الله د خپل لوري څخه د پرېشانۍ په بنه کي پر تاسي د ډاډيني او نه وېرېدو کيفيت خور کړ؛ او له اسمانه يې پر تاسي اوبه راورولې، تر څو چي تاسي پاك کړي؛ او ستاسي څخه د شيطان اچولې پليدي (وسوسه) ايسته کړي او ستاسي همت پياوړی کړي او د هغه په وسيله ستاسي قدمونه ټينګ کړي.

****

همدا ډول ميانه روي په خوړلو،څښلو او نورو حلالو شيانو کې يو بل ډول دناروغيو څخه دمخنيوي لاره ده.الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ الأعرَاف : 31

يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ خُذُوا زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٍ وَكُلُوا وَاشۡرَبُوا وَلَا تُسۡرِفُوٓا‌ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ الۡمُسۡرِفِينَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اې د ادم اولادې! د هر عبادت په وخت کښي په خپله ښکلا سينګار اوسئ او خورئ، څښئ او له حد څخه تېرى مه کوئ. الله، له حده تيري کوونکي نه خوښوي.**

********

**ياد آيات شريف هم په خوړلو او څښلو کي ميانه روئ کولو غوښتنه کوي، مګر داسراف څخه منعه يؤازي په خوړو کي نه ده بلکي په هر څه او کار کي اسراف ښه کړنه نه ده.**

**ډاکټران وايې: هغه خواړه چي موږ يې خورو دهغو لسمه برخه د يؤه انسان دژوندي پاتي کيدولپاره بسنه کوي.**

**رسو الله دغه موضوع روښاته کړي ده، او ويلي دي چي ؛دخوړو خوند په قيمتې او خوندورو خوړو لاسته نه راځي بلکي دخوړونکی په حالت پوري اړه لري، او هغه لوږه ده.**

**دناروغيو دمخنيوي په طب کي د لوږي لکبله دخوړو خوړل اصلي علت دئ،ځکه د داړتيا پرته دخوړو خوړل په وخت دهغوئ دهضم چار ښه سرته نه رسيږي.**

**په اسلامي طب کي د درملنې برخه هم شتون لري،چي د درملو دخوړلو او دهغو لارچارو کارول پکښي ګډون لري چي دناروغی دروغتيا لامل کيږي، هغه وخت درمل او د درملنې وسايل په کار اچول کيږي کله چي دهغوی دزيان څخه ګټه ډېره وي. الله جل جلاله فرمايي: سُوْرَةُ الشُّعَرَاء : 80**

**{ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ}**

**او کله چي ناروغيږم هماغه مي روغوي؛**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رسوالله ددې آيات شريق مضمون روښانه کړی دئ او فرمايلي دي:**

**درسوالله ﷺ دحديث شريف ديؤې برخې مفهوم دئ: درملنه وکړئ، الله ﷻ چي هر درد،زهر را استولي دهغه درملنه،درمل يې هم نازل کړي دي.**

**همدغه ډول رسوالله ﷺ بيان کړي چي دناروغيو درملنه دوو شرطونو ته اړتيا لري: لومړی دناروغۍ ښه پيژندل او د اړوند سمو درملو انتخابول دهغې لپاره او دويم دالله ﷻ اراده چي ده چي وغواړي ناروغي جوړه سي يانه.**

**«لِکُلِّ داءٍ دواءفَإِذا أُصيب دواء الداء برأ بإِذن اللهِ تعالي»دحديث شريف مفهوم دئ: ياني دهر درد،زهر درملنه لري،که چيري درملنه سمه وي دالله ﷻ په اراده،خوښه ناروغي رغيږي.صحيح مسلم2204**

**درملنه کول پرايمان،قضا،قدر او توکل باور ته کوم زيان نه لري.ديؤې پيښې دکيسې لنډيزدئ:**

**عمر (ر ض) شام ته ولاړئ چي هلته اوبا خوره وه،دمسلمانو په منځ کي دعمر (ر ض) د اوبا سيمې ته په تللو کي دنظر اختلاف پيښ سو،عمر (ر ض) دمهاجرو سره مشوره وکړل،ستونزه حل نه سول،بيا يې دانصارو سره مشوره وکړل خو هغوی هم سيمې ته دتللو اونه تللو په اړه دنظر اختلاف دردئ، بيا يې دقريشو دسپينږرو سره مشوره وکړل خوستونزه حل نه سول،عمر (ر ض) خلکو ته وويل زه ځم او تاسو هم همدغه کار وکړئ، ابوعبيد جراح(رض) وويل: دالهي قضا څخه تښتئ؟ عمر (ر ض) ورته وويل: ای ابو عبيده! کاش دا خبره مې ستاڅخه نه وای اوريدلي.**

**هو ددغې الهي قضا څخه بلې الهي قضا ته تښتم،که ته يؤې دښتې چي يؤه يې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وچه وي اوبل يې وابنه لرونکي اوشنه وي داوبنانو دګلي سره ولاړسي؛ که په شنه دبنته کي هغه وځروي دا الهي قضا ده او که په وچه دبنته کي هغه وځروي ،آیا دا الهي قضا نه ده؟

په دې وخت کي عبدالرحمن بن عوف ناڅاپه دهغه کار راغلی چي پسي تللی وو، او وي ويل زه په دې باره کي يو په يوڅه پوهيږم،درسوالله څخه مي اوريدلي دي چي وي فرمايل:

إِذا سمِعتُم بِهِ بِأَرضٍ فلاتقدموا علَيهِ

و إِذا وقَع بأَرضٍ و أَنتُم بِها فَلاتخرجوا فراراً مِنه

دحديث شريف مفهوم دئ: :کله چي مو واوريدل په يوه مځکه،سيمه کي وبا ده هلته مه ورځئ،مګر که هغه مځکه،سيمه کي چي تاسو پکښني شتون لري وبا خپره سوي وي مه ترينه تښتئ.صحيح بخاري:5397

ابن عباس (رض) وايي: دالله شکر ادا کړ او خپل په کار پسي ولاړئ.

ځای ددې دئ چي داخبره ياده کړو چي طب په اسلام کي يو برخه دزده کړو،تخصصي برخه ده،رسوالله ﷺ فرمايي: من تطبب و لَم يعلَم منه طِب قبل ذلك – أي معرفه بالطب – فَهو ضامن

دحديث شريف مفهوم دئ: هرڅوک چي خپل پرسر بيله دې چي مخکي په طب نه پوهيدئ،يانې په طب کي پوهه و نه لري،دغه کار طبابت وکړي،کوي، دهمدي کار ضامن او مسؤل دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هر درد درملنه او درمل لري

دنبوت د دلايلو د ډلې څخه يؤ دليل هغه حديث شريف دئ چي جابر (رض) بخاري شريف کي روايت کړی دئ، هغه وايي:چي رسوالله ﷺ وفرمايل : «لِكُلِّ داءٍ دواءفَإِذا أُصيب دواء الداء برأ بإِذن اللهِ تعالي»دحديث شريف مفهوم دئ :ياني دهر درد،زهر درملنه لري،که چيري درملنه سمه وي،درمل سم انتخاب سي دالله جل جلاله په اراده،اِذن ناروغي رغيږي.صحيح مسلم2204

په دې حديث شريف کي ډېره اړينه مانا پټه سوي ده:همدغه خبره چي هر درد درملنه لري، دنارغو معنوي حالت او روحيي باندي دهغه د درملنې لپاره ډېره رغوونکي او ښه اغېزه لري،مرسته ورسره کوي ترڅو روحيه يې پياوړي سي او ذهنً په دې باور سي چي زما ناروغي درملنه لري؛ښه کيږم.

همدغه ډول ياد حديث شريف پوهان او ډاکټران دې ته تشويقوي چي دهرې ناروغۍ د درملنې لپاره دهغې د روغتيا په لارچارو موندلو او درمل پيداکولو کي لا ډېر هڅه وکړي،همدغه ډول په دې حديث کي خبرداری دئ چي که درملنه سمه وي،درمل سم انتخاب سي ناروغي هغه وخت رغيږي،دا برخه دې ته اشاره کوي چي ناروغي هغه وخت ښه رغيږي چي دنارغۍ تشخيص سم وسي او په مناسب وخت کي وړ درمل په خپل اندازه دناروغۍ لپاره انتخاب سي،پرهيز يې سم او دقيق وي،خو دا هرڅه،دنارغۍښه تشخيص پرمناسب وخت مناسب اوښه درمل کارونه هم د نارغۍ درملنه نه سي کولی دا يؤازي دنارغۍ د درملنې اړين شرطونه دي او بس اصلي درملنه هغه وخت کيږي کله چي الله جل جلاله وغواړي درملو ته دا توان ورکړي چي دنارغۍ درملنه وکړي يا يې کمه کړي که نه هيڅ درمل به دالله جل جلاله دخوښي پرته کومه ښه اغېزه ونه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسوالله ﷺ دې خبرې ته هم اشاره کړي ده :(بإِذنِ اللهِ تعالي) دالله جل جلاله په خوښه سره به روغتيا پيداکړي.

يؤبل د يادولو وړ ټکی دادئ چي: دنارغۍ په وخت کي سر په سجده کيدل او دعا کول دنارغيو په درملنه کي دنارغۍ د درملنې دشرطونو پوره کول دي،یانې دعا کول دنارغۍ په درملنه کي بشپړه ونډه لري،په دې باره کي درسوالله ﷺ څخه روايت سوی دئ: «داووا مرضاکُم بِالصدقاتِ»بيهقي په کي اسنن6385

يانې په صدقو سره مو خپل دخپلې ناروغۍ درملنه وکړئ

همدغه ډول بيا فرمايي: «باکِروا بالصدقه فإِنّ البلاء لايتخطّاها»شعب الا يمان3353.دحديث شريف دژباړي مفهوم دئ:

په صدقه ورکولو مخکي والی وکړئ ځکه داسي ساتونکی دېوال جوړوي چي بلا نه سي کولی دهغه څخه تېره سي؛يا وا وړي.

## عبادت دډېرو نارغيو درملنه کوي

امام شافعي رحمه الله وايي دعبادت شتون دوګړو ګټه،نفعه ده.یانې هغه ډول چي الله جل جلاله غوښتي وي عبادت او فرايض سرته ورسيږي، په ايمان داره مؤمن کي بې بيلګې شخصيت رامنځته کوي داسي چي نړۍ خپل ځان ته جذبوي او دسترګو هغه ته پام کيږي، زړونه دهغه په رڼا هدايت پيدا کوي.

که عبادت داسي وسي لکه څنګه چي الله جل جلاله غوښتي وي: مؤمن انسان به روښانه ذهن لرونکی،روښانه زړه لرونکی او تېز ليدونکي انسان باندي بدل سي داسي چي په ژور فهم،درک او عاطفه کي به نغاړل سوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چيري عبادت په هغه ډول چي الله ﷻ حکم کړی دئ وسي: مؤمن مسلمان به لوړ سي، ښه پريکړه نيوونکی،تصميم نيوونکی به سي، په داسي مقام کي به د خوشبختی او نيکبخۍ په نړۍ کي غوټه سي چي دنړۍ هيڅ شی به ونه سي کولی هغه دهغې نړۍ څخه را وباسي، همدغه ډول داسي ښکلو او نيکو اخلاقو ته به ورسيږي چي نه به يې ځلانده لمر، نه به يې سره او سپين زر او نه به يې نور فشارونه داخلاقو مانۍ ته کوم زيان ورسولی سي.

رښتنی مؤمن: په لوړوالي کي دغره، په کروړوالي اوسختۍ کي د ډبرې، په ځليدا کي د روښانه لمر،په ژوروالي کي دسمندر، په پاکوالي کي دهسک، په خوښۍ او خوشحالۍ کي د پسرلي، په بهيدنه کي داوبو او دزړه په نرموالي کي دماشوم سره ورتوالی لري.

مګر کله چي انسان خپل دفطرت څخه وتښتي او دخپل خالق ﷻ بندګي او اطاعت ونه کړي، دګناهونو او د انساني پولو څخه دباندي ووځي: دننه ثبات به يې لمنځه ولاړ سي، روحي،رواني ستونزې به ورته پيښې سي، د داسي احساس سره به لاس او ګريوان سي چي روحي،رواني روغتيا به يې لمنځه يوسي.

دغه حالت ته روان پوهان او رواني ډاکټران، رواني نارحتي،نا ارامي وايي، چي ياد حالت د ډېرو نورو رواني،روحي او جسمي ناروغيو لوی لامل کيږي.

ددې مطلب څخه لوی رښتيا ته رسيږو او هغه دا دئ چي د ډېر ناروغيو لامل په روحي،رواني ستونزې او عضلي سوستوالي کي پټ سوی دئ.

د عضوي ناروغيو د ډلې چي رواني ستونزې يې لوی لامل جوړوي ديادو ناروغيو نوم يادولی سو: دزړه د ضربانو ډېريدنه، دزړه په نظم کي ګډوډي، دشريانونو تنګيدل، دوينې دلوړ فشار ناروغي دعصبي ستونزو لکبله، دهضمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سیستم زخمونه، حساسیتي ناروغۍاو بیلا بیلې عصبي ناروغۍ، مګر کله چي**

**انسان دخپل رب ﷻ سره ښه اړیکه لري، دګناهونو څخه توبه وکړي، دالله ﷻ د احکامو منوونکی وي، هغه ته دنږدي کیدلو لپاره نیکي چارې سرته رسوي: داسي احساس به کوي چي دغره په اندازه یو لوی بار یې د زړه څخه ایسته سوی دئ او د تاریکیو څخه در ښا لورته ستون سوی دئ.**

**ایمان داره مؤمن خوښئ احساسوي، داسي خوښئ چي وصف یې په قلم نه سي کیدای، داسي احساس کوي چي ټول غمونه او دردونو یې لیري ګډه تري کړي وي چي بیا د بیرته را ستنیدو وړ نه وي پاته سوي، داسي خوښئ یې په برخه وي که دیوه هیواد پر ټولو وګړو یې وویشو ټول به خوښ او نېکمرغه کړي،**

**په دغو رواني سلامتیو کي ونډه به د ډېر عضوي نارغیو مخه نیوونکی چار وي**

**توبه او نیکي کړني د رواني سلامتی بنسټ جوړوي، که څوک غواړي د رواني روغتیا څخه برخمن سي باید دالله جل جلاله سره دوستي وکړي کله چي دالله جل سره یې ښه اړیکه او دوستي جوړه کړل ټول ژوند به یې دخوښئ او ښه والي څخه برخمن وي، په همدې اساس درسول ﷺ څخه روایت سوی دئ چي فرمایي: (استقیموا ولن تحصوا) یاني ښه،سم اوسئ پري پاته سئ ترڅو ډېرې ګټي لاسته راوړئ، په بله مانا انسان چي کله نیک چاری وي هیڅ وخت نه سي کولی کومې نیکۍ چي دنیکی او پرهغه د پاتې کیدنې څخه په لاس راوړي وشمېرې.**

**بیله شکه عبادت لکه لمونځ،روژه،زکات،حج دهغو عبادتونو دډلې څخه دي چي الله ﷻ موږ په هغو امر کړي یوو او په قرآن کریم کي یې په ښه ډول دهغو علت او توجیه بیان کړي ده: سُوْرَةُ التَّوبَة : 103**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خُذْ مِنْ أَمْوٰلِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ**

**اې پېغمبره (ص)!] ته د هغوی له مالونو څخه د صدقې په اخيستلو سره ] هغوی پاك کړه او (د نېکی په لاره کښي) هغوی وهڅوه. او د هغو په حق کښي د رحمت دُعا وکړه، ځکه چي ستا دُعا به د هغو لپاره د ډاډيني وسيله وي. الله هر څه اوري او په هر څه پوهيږي.**

**********

**همدا ډول بيا فرمايي: سُوۡرَةُ العَنكبوت : 45**

**اتْلُ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ  إِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنكَرِ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ  وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ**

**اې پېغمبره (ص)!] هغه کتاب ولوله چي تا ته د وحيي په واسطه درليږل ] شويدی او لمونځ قايم کړه. په باوري ډول لمونځ له بدلمنۍ او ناوړو چارو څخه منع کوي، او د الله ياد له دي څخه هم ډېر لوی شی دی. الله په هغه څه پوهيږي چي تاسي يې کوئ.*****

**همدا ډول بيا فرمايي: سُوۡرَةُ البَقَرَة : 183**

**{ يَٰأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ}**

**اې مؤمنانو! پر تاسي روژې فرض کړای شوې، لکه چي ستاسي څخه د مخکني پېغمبرانو پر پيروانو فرض کړای شوي وې، ددې لپاره چي په تاسي کي د پرهېزګاری صفت پيدا شي***.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله جلاله ددې عبادتونه حکمتونو بيان کړي دي، مګر هغه څه چي الله جلاله روښانه کړي دي، ددې مانع نه دي چي يادو عبادتونو کي ډېر نور حکمتونه پټ دي، دبيلګې په ډول دبدنې روزنې کار پوهانو د داسي تکړښتونو،بدنې حرکتونو لار ښوونه کوي چي ټوله وګړي په هر عمر او هر ځای کي هغه سرته رسولی سي، بېله دي چي هغه حرکتونه زړه ته زيان ورسوي يا دعضلاتو د وچيدنې او هغوئ ته دزيان لامل سي، ياد حرکتونه داسي حرکتونه دي چي دلمانځه دحرکاتو سره توپير نه لري، ښه نو موږ چې الله جلاله په لمانځه سره امر کړي يوو دغه کار موږ هغه ته نيژدي کوي، موږ ته الله جلاله را پياد وي، لمونځ: زموږ او دالله جلاله ترمنځ ديؤه پله په شان دئ، همدا رنګه په لمانځه کي دمعنوي ګټو ترڅنګه زموږ دبدن لپاره هم ډېرې ګټې پټې سوې دي، هغه حرکات چي په لمانځه کي شتون لري لکه: ناسته ولاړه،رکوع او سجده کول،ياد حرکتونه زموږ دبدن دروغتيا لپاره ډېرې ګټې لري.

په ځينو هيوادونو کي وګړي دځينو نارغيو څخه کړيږي، چي ځيني دهغو څخه يې دسترګو،پوستکي ناروغی دي مګر په اسلامي هيوادونو کي يادي ناروغی د اوداسه تازه کولو لکبله لږ دي، آيا څوک باور کولی سي چي اودس کول او دلمانځه حرکتونه چي زموږ موخه دهغوئ څخه د الله جلاله عبادت دئ نه بل څه، دخپل ځان سره ډېري ګټې لري او ډېرې زياتې ناروغی دانسان څخه ليري کوي.

ماته ياد دي: يؤه ښځه چي د ميګرين،نيم سري ناروغی څخه کړيدل، يؤه اروپايې هيواد ته د درملنې لپاره تللې وه،ډاکتر چي يؤ کافر وو دهغې څخه پوښتلي وه: دکوم ځايه راغلي يې؟

ښځې ځواب ورکړی وو: دسوريي څخه، ډاکتر پوښتلي وه: آيا لمونځ کوي؟ ښځه: نه، ډاکتر ويلي وه ولاړه سه لمونځ وکړه درد به دي ليري سي، ښځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حيرانه سوي وه داچي هغې زرګونه پيسي خرڅې کړي وي او اروپاته د درملنې لپاره تللې وه،ډاکټر هغې ته يؤازي دلمانځه کولو وايي، دهغې حيرانتيا هغه وحت ليري سوي وه چي ډاکټر هغې ته ويلي وه: د ميګرين،دسر دنيمې برخې د سخت درد يؤ علت په مغز کي د شريانونو درواني ضعف دئ، سجده کول ياد شريانونه پراخ او روان ساتي، سجده په سر کي دوينې حرکات سموي.

ښه نو اودس کول، لمنو نځ کول ټول عبادتونه دي، انسان الله جل جلاله ته نږدي کوي،کله چي دبدنې روزنې کارپوهان،ډاکټران هغه څيري د انسان د روان او بدن لپاره په هغوئ کي ډېرې ګټې موندي چي ښه لمونځ کوونکی انسان دهغوئ څخه برخمن کيږي.

## لمونځ اودروغتيا سره يې اړيکه

ديؤه روغتيا مرکز په کتنځای کي چي ديؤه لوی پوهنتون اړوندو يؤې ښځينه ډاکټري خپل يؤې 45کلنه ناروغه چي تازه يې دزړه حمله تېره کړي وه او دوامداره نفستنګي يې درلودل وکتل، دپوره معايناتو ورسته څرګنده سول چي ناروغ هيڅ درملو ته اړتيا نه لري، د درملو پرځای يې هغې ته د داسي يؤې درملنې لار ښوونه وکړل چي په ډېر وختونه يې د درملنې ډېر پياوړتيا څرګنده سوي وه، مګر داکومه درملنه وه؟

ډاکټرې دناروغ څخه غوښتنه وکړل چي دالله جل جلاله لپاره لمونځونه ادا کړي، د همدې توصيې په کولو يادو دوو ښځو ديؤبل څخه خدای پامانې وکړل، او لمونځ ادا کول يې پيل کړل.

دغه ليدنه او دغه درملنه د سکون يؤه خبره دځان سره درلودل چي روغتيايي مسلک هغه ليدلی سوای؛ يانې داچي ډاکټر د ناروغۍ درملنه په کي وليدل، داچي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغ يې بايد دالله ﷻ سره اړيکه ټينګه کړي او دهغه سره دوستي وکړي، دا د درملني هغه ډول وو چي داسلامي شرعت دنظر نه بلکي دتجريبې دلارې کشف سوی دئ.

هيڅوک نه پوهيږي چي څومره ډاکټران خپلو ناروغانو ته دلمانځه کولو لاربنوونه کوي، مګر هغه څه چي پوره روښانه دي هغه دادي چي دامريکا په شاوخوا کي ډېر ډاکټران د دين او علم څخه په ليروالي باور نه لري او په لمانځه کي ډېرې د درملنې پايدې ويني.

يؤه نظر پوښتنه چي په هغې کي دوو سوو ډاکټرانو برخه اخيستې وه: 99سلنه ډاکټران په دې باور وه چي کله ناروغانو ته دلمانځه سپارښتنه کوي:
پرځای،څرګنده او مثبت پايله لاسته راوړي.

په يؤبل پوهنتون کي چي په يؤه جرګه کي، دزرو څخه ډېرو روغتيا پالانو برخه اخيستي وه، هغوئ دا ټينګار وکړ چي دلمانځه او روغتيا،درملنې ترمنځ اړيکه شتون لري.

يؤډاکټر وايي: اوس څوک بشپړ جؤرت نه لري چي دلمانځه پر قدرت او اغېزې کولو منفي اعتراف وکړي.

کله چي ناروغ داللهﷻ سره په اړيکه کي وي، دهغه ﷻ سره دوستي وکړي، دبدن دفاعي سيستم يې پياوړی کيږي، دا يؤ علمي حقيقت دئ.

دفاعي سيستم هغه ښکلی او حيرانوونکی سيستم دئ چي اللهﷻ دانسان په بدن کي ځای پرځای کړی دئ ترڅو دبيلابيلو ميکروبونو،ويروسونو او سرطانې حجرو سره مقابله وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ياد سيستم دالله جل جلاله سره په اړيکه جوړونه، دهغه جل جلاله په احکامو منلو او دهغه سره په دوستی،سکون، ارام کولو پياوړی کيږي او په زړه نازړه توب،اضطراب،خپګان باندي کمزوری اوسوست کيږي، ښه نو ايمان، صبر او پوره باور ياني سلامتي او روغتيا.**

**يؤبل ډاکټر چي د علمي طبي پلوټونو ددلې مشر دئ وايي: ما داګومان کوئ چي ددين موضوع دخپلو ناروغانو سره شريکول د ډاکټری د ادابو مخالفه کړنه ده، مګر اوس دا يؤه اړتيا ده،چي خپله طبيعت او رواني پوهنه هغه فرض کوي.**

**زر نفره د دلمانځه او د ناروغۍ دروغتيا په اړه وپوښتل سول:64سلنه وويل ددين او دروغتيا ترمنځ ژوره اړيکه شتون لري.**

**ځيني علمي څيړنې دا په ډاګه کوي چي لمونځ کولی سي ډېرې ناروغيو او دردونو په کميدو کي مرسته وکړي، حتا دهغو ناروغيو چي مزمنې او بې درملنې نارغۍ وي.**

**يؤې بلې څيرنې دا څرګنده کړي ده چي: ډېر وخت دښه لمونځ کوونکو فشار او زړه سالم،روغ وي، ځکه دلوړ فشار يؤ لوی علت غم،خپګان، او روحي نا ارامي وي،دنيکانو اندونه،فکرونه دالله جل جلاله سره مشغوله وي او نورو فکرونو ته وخت نه سي پيداکولی.**

**ښه نو راسئ دا کوښښ وکړو چي خپل ټوله فکرونه يؤه ته را غونډ کړو د الله جل جلاله په خلقتونو کي فکر،داخرت لپاره اند او دعبادت دښه والي اند دا فکر به موږ دنورو عبث او نه پاتي کيدونکو فکرونو غمونو څخه وژغوري، يؤازي به ديؤې موخې لپاره کار وکړو دالله جل جلاله د خوښی او رضا دموندنې لپاره کار دا کار به زموږ ټولې چارې راسمي کړي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيرونو دا هم په ډاګه کړي ده چي هغه ناروغان چي لمونځ کوي ذهني نا ارامي يې لږ وي،ځکه هغوئ لږ د غم خپګان او دردونو سره مخ کيږي او په ډېره نادره توګه به هغوئ دځان وژنې هڅه کوي.

دلمنځ کوونکي او ديندراه وګړو فشار نارمل،زړه يې سالم او قدرت مند وي ځکه هغوئ پر خپل خالق ﷻ پوره باور لري او تقدير ته په بشپړ ډول تسليم وي.

[سُوْرَةُ التّوبَة : 51]

{قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَٰنَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ}

دوی ته ووايه: "موږ ته هيڅکله څه (ضرر يا ښېګڼه) نه رسيږي. مګر هغه چي الله راته ليکلي دي، هماغه الله زموږ مولا دی، او مؤمنان بايد په هماغه توکُل وکړي.

****

هغوئ خپل دژوند چار چلند سم،ريښتنئ ګڼي او خپل چارې الله ﷻ ته سپاري.

13- عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ (رض) قَالَ: كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ (ص)، لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ إِلاَّ مُؤْخِرَةُ الرَّحْلِ، فَقَالَ: «يَا مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ». قُلْتُ: لَبَّيْكَ رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ، ثُمَّ سَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ: «يَا مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ». قُلْتُ: لَبَّيْكَ رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ، ثُمَّ سَارَ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَ، «يَا مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ». قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ، قَالَ: «هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ». قَالَ: قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «فَإِنَّ حَقَّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلاَ يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا». ثُمَّ سَارَ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَ: «يَا مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ». قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ، قَالَ: «هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ إِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ»؟ قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «أَنْ لاَ يُعَذِّبَهُمْ».صحيح مسلم م/30

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دصحيح البخاري شريف دحديث شريف مفهوم دئ :دمعاذ(رض)څخه روايت سوی دئ چي زه او رسوالله ﷺ پر لاره تللو چي رسول الله ﷺ وفرمايل: آيا پوهيږي چي الله جل جلاله پرخپل بندګانو څه حق لري او بندګان پر الله جل جلاله څه حق لري؟ ومې ويل الله جل جلاله او دهغه پيغمبرﷺ ښه پوهيږي: وي فرمايل: د الله جل جلاله حق پر بندګانو دادئ چي دهغه عبادت وکړي او هيڅ شی دهغه سره شريک نه کړي او دبندګانو حق پرالله جل جلاله دادئ هغوئ چي دهغه سر شريک نه وي نيولی عذاب ورته ورنه کړي، هغه وخت ما وپوښتل ای دالله رسوله آيا دښه خبر خلګو ته ورنه کړم،نه هغوئ ته مه وايه چي خپله توکل ولري. بخاري 2701**

**الله جل جلاله زموږ حق په خپل بلا کيفه نظر کي نيولی دئ او هغه دادئ چي موږ ته عذاب رانه کړي، ښه هرکله چي مؤمن دالله جل جلاله سره اړيکه ولري دژوند په ټولو چارو کي دهغه جل جلاله اطاعت کوي،دسکون او ارامۍ احساس به لري، الله جل جلاله فرمايي:**

**[سُوۡرَةُ الأنعَام : 81_82]**

**وَكَيْفَ أَخَافُ مَآ أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُم بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا فَأَىُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالْأَمْنِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ**

**او زه ستاسي له انګېرلېو خدايانو څخه ولي ووېرېږم، چي کله تاسي له الله سره په خدايۍ کښي د هغو شيانو په شريکولو نه وېرېږئ چي پر تاسي يې (د شريک نيولو) کوم سند نه دی نازل کړی شوی؟ زموږ دواړو ډلو څخه کومه يوه زياته د نه وېرېدو او ډاډينې وړ ده؟ راوښيئ که تاسي څه علم لرئ!**

**{ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوٓا إِيمَٰنَهُم بِظُلْمٍ أُولَٰٓئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ}**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقيقت کښي خو امنيت د هماغو کسانو لپاره دی او پر سمه لاره برابر هماغه کسان دي چي ايمان يې راوړی، او خپل ايمان يې په ظلم نه دی ملوث کړی.

****

ښه نو دا دهغو څيرونو په اړه يؤ لږ مالومات وه چي هغه ناروغان چي اړيکه دالله ﷻ سره سمه وي ناروغي يې دهغو وګړو په نسب چي خپل اړيکه يې دخپلو ګناهونو لکبله دالله ﷻ سره شکولي وي ژر رغيږي، هغه وګړي بريالي،سلامت او په رحت وي چي خپلې چاري يې الله ﷻ ته سپارلي وي او دهغه اطاعت کوي.

## حجامت، دوينې کښل او ګټې يې

دانس (رض) څخه روايت سوی دئ چي رسوالله ﷺ وفرمايل: «إِنَّ أمثَلَ ما تداويتُم بِهِ الحجامه» بخاري5371دحديث شريف مفهوم دئ: غورشی چي په هغه درملنه وکړئ حجامت دئ.

همدارنګه مسلمانو پوهانو هم دښکرلګولو،حجامت او دهغه دکړونو په اړه ويلي دي:دحجامت لومړی کار د ويني دپر جوش راتللو،تحريک مخنيوی دئ، دويني تحريک،جوش يانې: دوينې دېريدل،يا دوينې دېر تحريک څخه دفشار لوړيدل دي يا په علمي اصطلاح تصلب الشرايين دئ.

دوينې دلوړ غشار دښنو نښانو څخه ځيني وخت دسر درد،سردروند احساسول، ګنګستيا، دسترګو په ليدو کي ګډوډي داضطراب دېريدنه او نور دي.

ځيني ډاکټران دوينې لوړ فشار دغم،اضطراب او يا دفکر مشغولتيا څخه ګڼي، کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي غمونه،اندېښنې او ناسم اندونه انسان ته ورسېږي وينه تحريک کيږي، جوش کوي او اندازه يې ډېرېږي په تيره بيا د پسرلي او دگرمۍ د پيل په موسم کي. ديؤه حديث شريف مفهوم دئ: هرڅوک چي غواړي حجامت وکړي،دمياشتې اولسمه،نولسمه او يا يويشتمه ورځ دي ورته انتخاب کړي،مه پرېږدئ چي وينه مو په جوش راسي او دمرگ دخطر سره مو مخ کړي.بخاري 5374

سردرد او سر دخواو ددرد ځيني وخت دلوړ فشار سره ملگرى وي.

دسر يؤ بل ډول در هم شتون لري چي د مغز دشريانونو دتگيدا څخه پيښيږي، ابو داود درسوالله ﷺ څخه رويت کړى دئ چي هر چا به رسوالله ﷺ ته دسر د درد شکايت وکړ، هغه ته به يې ويل: حجامت وکړه.ابوداود3858

همدارنگه حجامت کول په ميگرين نيم سري کې هم گټور تمام سوي دي،ددې سربيره حجامت،وينه کښل په نورو ناغيو کي کيږي، مگر هغه څه چي دپام وړ دي هغه دادي چي څوک چي لمونځ کوي د رکوع او سجدې په وخت کي هرورځ،اونۍ،مياشت او ټول کال سر يې لاندې خواته کښته کيږي، دغه دسر پورته کښته کول دمغزو دشريانونو دښه خلاصيدنې او دوينې دلاښه بهيدنې لپاره لار هواره وي، کله چي سر ټيټوي وينه دمغزو په شريانونو کي سره يوځاى کيږي هر کله چي سر ناڅاپه پورته کوي فشار يې لوړ ځي، همدغه د فشار ډېريدل او کميدل د مغزو په شريانونو کي دوينې دښه جريان سره مرسته کوي او دهغوئ دتنگيدا،چاوديدو او په ډېوالونو کي يې دغوړو د مېنليدنې رسوب څخه مخنيوى کوي.

هغه چي موږ ډېر اورو د مغزو ديؤه شريان چاوديدل، ياشکيدل دي، چي ډېروخت دانسان دفلجيدا او مړينې لامل کيږي، مگر ولې دمغزو شريانونه شکيږي چاوديږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مغزو دشريانونو پټاويدل دلوړ فشار لکبله رامنځته کيږي، هغه وګړي چي لمونځ ګوزاره وي که دهغوئ فشار هم لوړ سي دمغزو په شريانونو کي يې بشپړه نرميدنه وي چي هغوئ د چاوديدو او سوري کيدو څخه ساتي.

بله اړينه خبره داده چي په مغز کي د وينې ښه ګرځيدنه او روان دانسان د سلامتئ او روغتيا لپاره ډېر اړين دي، دلمونځ کوونکي دسجدې حالت په وينه کي حرکت رامنځته کوي، چي په پايله کي يې شريانونه کشيږي، پراخيږي، دسر ډېرې ناروغئ د مغزو دشريانونو دپټاويدو او چاوديدو لکبله وي، کوم وګړي چي دالله جل جلاله لپاره سجدې کوي که څه هم چي نه پوهيږي چي سجده کول يې دمغز شريانونه يې د شکيدلو،چاوديدلو او نابوديدلو څخه سالم ساتي.

پوهان پردې خبره باور لري چي دوينې سره کرويات دهډوکو په مغز کي جوړيږي، ځکه دهر هډوکي دننه خالي ځای شتون لري چي دوينې دسرو کروياتو کارخونې په همدې خالي ځايونو کي ځای پرځای سوي دي چي په هره ثانيه کي دونيم ميليونه سره کرويات جوړوي، همدارنګه لوی الله جل جلاله د انسان په بدن کي دوې نوري مرسته کوونکي کار خانې هم جوړي کړي چي کله هم په هډکو کي دوينې دسرو کروياتو جوړيده ودريږي نو په توري او اينه کي دوينې سره کرويات جوړيږي.

دوينې دکميدا يوه بې لامله ناروغي شتون لري چي هغه وخت پيښيږي چي کله دوينې دسرو کرياتو کارخانې ببله دې چي علت يې څرګند سي دکاره لويږي، ښه نو څشي ديادو کارخانو ساتنه کوي او کوم شی يادې کارخونې فعاله ساتي؟

تازه پوهانو دا مالومه کړي چي دوينې په شريانونو کي دوينې کمښت يادې کارخونې دې ته اړ باسي چي ډېر سره کرويات جوړ کړي او دا کار ددوئ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتنه کي مرسته کوي، چي دوينې کښل حجامت يا ښکر لګول په دې کارکي خپله ونډه لري.

چي هر کله هم په شريانونو کي د وينې دکښلو لکبله دوينې کمښت راسي، ياد کمښت د وينې دسرو کروياتو کار خوني تحريکوي، چي په پايله کي يې رګونه خوندي پاته کيږي او دوينې دسرو کروياتو دجوړونې دکار خونو کار ډېرېږي، ځکه خو پوهان وايي دوينې منظم کميدل دوينې دسرو کروياتو دکارخونو په ساتنه کي ونډه لري.

دغه ستونزه په ښځوکي دمياشتنۍ ناروغي لکبله حل کيږي، ځکه ښځه هره مياشت يؤه اندازه وينه دلاسه ورکوي، چي په پايله کي يې ديادو سر درديو څخه خوندي پاتي کيږي، ډاکټران پوهيږي چي ښځې نسبت نارينو ته په يادو سر درديو کمې احته کيږي،مګر په بدل کي يې نارينو ته دوينې ورکوونې يا حجامت کولو لارښوونه سوي ده.

دحجامت دکولو په اړه اولس حديثونه سته دا هغه چار دئ چي الله جل جلاله خپل پيغمبر ته ښوولی دئ، رسوالله ﷺ فرمايي:

منْ أَراد الحجامه فَليتحرَّ سبعه عشر، أو تسعه عشر، أو إِحدي و عشرين » ولايتبيغَ بِأَحدكم الدم فيقتلَكم«

هرڅوک چي غواړي حجامت وکړي،دمياشتې اولسمه،نولسمه او يا يويشتمه : ورځ دي ورته انتخاب کړي،مه پريږدئ چي وينه مو په جوش راسي او دمرګ دخطر سره مو مخ کړي.بخاري 5374

دحجامت کولوښه وخت پسرلی دګرمۍ پيل دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بدن کي يؤ ډېر اړين سيستم پر وينې دنظارت کولو سيستم شتون لري، چي تل دوينې دميزان ساتونکى وي، که په وينه يا دهغوئ په اجزاو کي هر کمښت او ډېرښت رامنځته سي پري پوهيږي،ښه نو کله چي اندازه لږ سي: ياد سيستم دهډکو دمغز کارخونو ته خبر ورکوي ترڅو دوينې دسرو کروياتو دجوړيدا کار ډېر کړي، ترڅو وينه خپل طبيعي حالت ته را ستنه سي، حجامت کول يؤ سنت کار دئ چي موخه تري دانسان دبدن روغتيا ده.

ديؤه غير مسلمان څيرنه چي نه پوهيدئ چي په اسلام کي په کال کي يؤ يا دوه ځله دويني کښل،حجامت شتون لري مطالعه مې کړ، ياد غربي ليکوال ليکلي وه: په منظم ډول دوينې کمښت،کښل دزړه د حملې پروړاندې دانسان دمقاومت لامل کيږي.

يؤه بشپړ مقاله د وينې د اوسپنې په باره کي ليکل سوي چي ليکلي يې دي، د وينې داوسپنې دميزان ډېريدا دزړه دعضلو دکمزورى لامل کيږي،چي د ځينو دزړه نارحتيو سبب کيږي، همدارنګه يؤ کتاب چي د دوو زرو پاڼو څخه ډېرې پاڼې لري دوينې دنارغيو په اړه ليکل سوى دئ، ښه نو ويلى سو چي وينه ځانته يؤه نړۍ ده، دوينې پلازما،سره او سپين کرويات اونور دهغوئ دندې په رښتيا سره حيرانوونکي شيان دي. الله جل جلاله فرمايې: سُوْرَةُ الذّاريَات : 21

{ وَفِيَ أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ}

او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يؤ بل ډيادولو وړ خبره داده چي حجامت در (فصد) درګ دلارې دوينې درکښلو دماشومانو او هغو کسانو لپاره چي د وينې دکښلو ورکولو توان نه لري غوره دئ، په تيره بيا په ګرمو سيمو کي حجامت د درګ دلارې دوينې در ورکولو غوره دئ.**

**دابن سنا دقانون ليکوال وايي: دمياشتې په لومړيو کي د حجامت کولو سپارښتنه نه کيږي، او دمياشتې په پاى کي هم دحجامت کول ښه نه دي بلکي دمياشتې په منځ کي حجامت کول ښه دي ځکه دوينې ترکيبات به تحرک سوي وي او خپل لوړې درجې ته به رسيدلي وي، درسوالله صلى الله عليه وسلم څخه روايت سوى دئ: «خير الدواءِ الحجامه و الفصد»خير،بهترينه درمل درګ دلارې دوينې کښل،فصد او حجامت دي. زادالمعاد4/53**

**ډيادونې وړ ده چي حجامت کول بايد دروغتيايي لارښووونوپه پام کي نيولو سره وسي ترڅوحجامت کوونکى دايډز تورژړي اونورو ناروغيو د اخته کيدنې څخه خوندي پاته سي.**

# دچاپيريال او د بدن دناپاکى،چټلى سره تړلي ناروغۍ

**يؤې نړيوالي روغتايي څيرنيزي موسيسې په ټوله نړۍ کي درڅيرنې ورسته داسي پايله ترلاسه کړي چي: دچټلى،ناپاکى څخه رامنځته کيدونکي ناروغۍ چي د لاسونو،چاپيريال څخه اوبو او خوړو ته رسيږي په ډيره لويه کچه هضمي سيستم ته زيان رسوي،دهمدې چټلى لکبله په ټوله نړۍ کي د 30ميليونو وګړو څخه زيات وګړي په محرکي،لويي تبې ټايفوئيډ، 600ميليونه وګړي د کلمو په التهاب، 250ميليونه په کلورا او دپنځو ميليونو څخه زيات وګړي داينې په ناروغۍ اخته،مبتلا دي، چي هر کال دپرش ميليونو وګړي دهمدې ناروغيو له کبله خپل ژوند دلاسه ورکوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې موږ ددې مرګونو څکه بې خبره او پام کي مو نه راګرځي چي هرورځ دجنګ،ټکرونو او زلزلو کي د وژل سو خبرونه اورو مګر زموږ د یادو 30میلیو څخه زیاتو وګړو مړینې ته چي یؤازي دچټلۍ ناپاکۍ او دسنت نه مرعاتولو لکبله مري پام نه ور اوړي،دیادو مړینو نیمه برخه یې ماشومان دي.

دغه ټولې ناروغۍ زموږ دځاني ناپاکۍ څخه موږ ته راپیښږي، چي په علتونو کي یې دلاسونو نه پریولل، دنوکانو نه پریکول، د پاکو خوړو او او بو نه کارول شامل دي، مګر موږ یاد کارونو ته پام نه کوو،درسوالله ﷺ څخه روایت سوی دئ چي وي فرمایل:

برکه الطعام الوضوء قبله و الوضوء بعده>> ترمذی 1846یاني دخوړو برکت » دخوړو څخه مخکي او ورسته په وضوء،اوداسه کي دئ. دخوړو اودس عبارت دلاسو پریولل مخکي دخوړو دخوړلوڅخه. او دلاسونو خولې او سمي استنجا وهل استنجا یانې د انسانې حاجت دپوره کولو څخه ورسته په پام سره پاکي کول سنت دي.

دیؤبل حدیث شریف مفهوم دئ: که کوم څوک اوبه څښني باید ساه پکښني ونه کاږي،او که څوک اودس ماتي ته ولاړسي باید اودس په راسته لاس وچ نه کړي.صحيح البخاري 152

داوبو یابل کوم شي پوکل او ساه پکښني کښنل میکروبونو ته لار هواروي چي لوښني ته دننه سي او خپل ځیښونکي یابل کس ته ولیږدول سي،

همدارنګه دابو سعید خدری (رض) څخه روایت سوی دئ چي رسوالله ﷺ د لوښني دماتي خوا څخه دڅښنلو او په لوښني کي دپوکولو څخه منعه فرمایلي ده.ابوداوود3722

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه رسوالله ﷺ موږ ته دنوکانو دپريکولو،لنډولو امر کړي يوو همدارنګه يې په راسته لاس داودس وچولو څخه منعه کړي يوو،ځکه په راسته لاس خورک کيږي او خلګو ته درغيږ په پار ورکول کيږي، که په راسته لاس کوم څوک اودس وچ کړي کيداى سي ځان او نورو ته ميکروبونه وليږدوي.

همدارنګه دابوهريره (رض)څخه روايت سوى دئ چي درسوالله ﷺ څخه مي وا وريدل چي وي فرمايل.

لايبولَنَّ أَحدكم في الماء الدائم الذي لايجري، ثم يغتسل فيه>>بخاري236دحديث شريف مفهوم دئ:

ياني هيڅوک دي په ولاړو ابو هغو اوبو کي چي رواني نه وي اوغسل پکښي کوي بولې نه کوي. همدارنګه رسوالله ﷺ په درو ځايونو کي دقضاي حاجت څخه منعه فرمايلي ده،دهغې سايي لاندې چي خلګ ګټه ځني اخلي،لارې او ولاړو ابو کي قضاي حاجت پورکول.

دا درسوالله ﷺ د هغو روغتيايې سپارښتونو يؤه کوچنۍ برخه وه چي هغه وخت هيڅ چا ميکروب،ويروس پرازيټ نه پيژندئ او نه يې په اړه مالومات درلودل، او هغه دهغې ځيرنيزې اداري،څېړنيز راپورو چي ليکلي وه هرکال 30ميليونه وګړي دشخصي حفظ الصحي دنه مرعت کولو لکبله خپل ژوند دلاسه ورکوي، ښه دا دين اسلام ددې لپاره راغلی چي سيده،نيغه لار انسانانو ته وښيي،همدارنګه قرآن کريم دانسانانو دښه ژوند او برياليتوب لارې انسانانو ته ور ښيي او الله ﷻ توبه کوونکي؛پرهيز کاران او پاک سوي وګړي خوښوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# روني نا ارمي

د اراپوهنې، یاروان پوهنې په ځانګړي ډول دروانې ناروغیو په کتابونو کي راغلي دي: روانې نا ارامې يوډول پرياشنې ده چي هيڅ اساس،بنسټ يې بدن پوري اړوند نه دي بلکي يو ډول روحي،روانې يا دچلند ناروغي ده،چي هيڅ عضوي اساس نه لري،په ياده ناروغۍ کي رواني اضطراب دعقل دتوان په ساتنې منځ ته راځي.

پوهان په دې باور دي چي يو د لويو ډولونو څخه دروني رنځ يا رونې نا ارامۍ ديوشي په اړه ډېره اندېښنه کول دي چي ډېر عام ډول يې دئ او لنډمحاله او اوږد محاله ډولونه لري.

ځيني دا حالت داسي تعريفوي: اندېښنه کول يو عمومي احساس دئ چي انسان ته ازار ورکوي،د خطر او زيان احساس کول دهغه خطر څخه چي لا نه وي ورپيښ سوی مګر يو وګړی يې انتظار کوي او نه پوهيږي چي دکومه ځايه سرچينه اخلي.

يوه مشهوره ادپال دخپل يوه ملګري يادښتونه چي شتمن،توان لرونکی،دځای او مقام څښتن وو ولوستل،ملګرې يې ليکلي وه: زه تل بيريږم دخلګو،شيانو او حتا ځان څخه، هيڅ شی ماته ارام او ډاډ نه بخښي،نه شتمنې،نه ځای او مقام،نه روغتيا، نه نارينتوب،نه ښځه،نه دلمر وليدلو ليدل هرڅه مې وازمويل خو دټولو څخه په تنګ سوم،زما دخپله ځانه بد کيږي،دخپله ځانه بيريږم،آيا ته دتورو او تاريکو شپو څخه نه بيريږې، دا ټوله بيره دڅشي له کبله ده؟

که غم،فکري ګډوډي ونه لرم هرڅه لرم،هرڅه راته رسيږي،دژوند ټوله امکانات راته برابر دي: ښه نو بيا ددې هرڅه سرببيره ولې بيريږم، کيدای سي ډار او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيره مې ددې کبله وي چي دهيڅ شي څخه نه بيريږم، زه دهغه ناپيګېږندل سوي شي څخه بيريږم چي نه پوهيږم هغه څشي دئ، په رښتيا سره چي په ژوند کي سر ګردانه او حيران يم، ځکه دژوندانه اوج ته رسيدلی يم او اوس ژوند زما ورستی دښمن دئ، زه حتا خپله دژوند څخه بيريږم

ارواپوهان دژوند د انسان داړتياوو په اړه وايې: انسان امنيت او هوساينې ته اړتيا لري،مګر دا هوساينه چيري ده؟

ډېري وګړي د نارغيو او نوري بيري؛دار دماتي دانديښنې او مات والي سره مخ کړي دي، دپښتورګو د خرابی څخه بيره، دزړه دحملي څخه بيره، دناتونی څخه بيره، دفلج څخه بيره، دمسکنت او غريبی څخه بيره، په رښتيا چي انسان امنيت او ارامی؛سکون ،برياليتوب او مينې ته اړتيا لري،کيدای سي اراپوهانو دا هير کړي وي چي انسان دبل هرشي څخه ډېر ايمان ته اړتيالري، ځکه که چيري انسان ايمان ولري: ډاډ اطمنان ته رسيږي،که چيري ايمان ولري دخپل شتون وه راز ته په رسيدا کي بريالی کيږي.

پوهانو ډار بيره پردوو برخو ويشلې ده: منفي بيره او مثبته بيره او ددې دوو ترمنځ پر توپير سره يؤلی لري، څوک چي دالله جل جلاله څخه بيريږي، دهغه جل جلاله په احکامو عمل کوي: ډاډ؛ اطمنان ته رسيږي، ښه نو دالله ﷻ څخه ډار؛ بيره : ډاډ؛اطمنان،خوښی،نېکمرغی،برياليتوب،امنيت او سکون ته درسيدا يؤازنئ لاره ده،مګر څوک چي غير دالله ﷻ څخه بيريږي، درواني نا ارمتيا،نا رحتی او ناکامی لور ته يې قدم ايښی دئ.

الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ الرّعد : 28

{ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ}

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدغه (د الله لوري ته ګرځېدونکي) خلك هغه کسان دي چي (ددې پېغمبر بلنه ) يې منلې ده او د هغو زړونو ته د الله په ياد سره ډاډينه ور په برخه کېږئ.**
**خبردار اوسئ! همدغه د الله ياد هغه شی دی چي زړونو ته ډاډينه ورپه برخه کوي.**

********

**ښه نو دالله جل جلاله ياد زړونو ته سکون ارمښت ورکوي، نه کوم بل شی،په همدې خاطر په نورو اياتونو کي فرمايي: سُوْرَةُ المعَارج : 19**

**{ إِنَّ الْإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا}**

**انسان کم حوصله پيدا کړ شوی دی؛**

**[سُوْرَةُ المعَارج : 30]**

**{إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ}**

**پرته له خپلو مېرمنو يا له خپلو مينزو څخه چي د هغو څخه په نه ساتنه کښې څه پړه وربادي نشته.**

********

**اره موضوع،سکالو دادئ چي ترټولو ارزښتمن او قيمته احساس په ژوند کي د ډاډ اطمنان احساس دئ، يؤه ظالم پا چا دخپل وزير څخه وپوښتل: پاچا څوک دئ؟ وي ويل: ته يې، پا چا ووېل نه اصلي پاچا هغه څوک دئ چي نه زه هغه پېژنم او نه هغه ما پېژني،يؤ کوچنی کور لري چي په هغه کي دخپلو ماشومانوسره خوښ وي،دومره خورک ولري چي بسنه ورته کوي،که هغه ما**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وپيژنې زما دخوشحالولو هڅه کوي،که زه هغه وپيژنم دهغه دخوار کولو کوښښ کوم**

**څومره چي پوهه پرمختګ کوي دا په ډاګه کوي چي روني فشار،انديښنه او غم کي ډيرې ناروغۍ پټي سوي دي، سکون ارام او امنيت زموږ دسلامتۍ،روغتيا ضامن دئ، ښه نو:بل هيڅ کوم شی شتون نه لري بې‌له دالله جل جلاله پر وحدانيت دايمان څخه چي انسان ته سکون امنيت او خوښي وربخښي، هيڅ شی دشرک په رکم زړه دبي اطمنانی،روحي،رونې فشار اوبيري څخه نه ډکوي ، الله جل جلاله فرمايي: سُوْرَةُ الشُّعَرَاء : 213**

**{ فَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ}**

**نو [اې محمده (ص)!] له الله سره کوم معبود مه بله، کنه نو ته به هم له سزا موندونکو څخه شې.**

*********

**دحبوباتو اوميووڅخه دپوستکو او فيبر ليري کولو څخه پيښيدونکي ناروغۍ**

**انسانانو لومړی دا وموندل چي ميکروبونه خورکي توکي ککړوي چي د ډيرو ناروغيو لامل کيږي،دويم دزيان رسوونکو موادو کشف وو دبيلګې په ډول دځينو خوړو په خوړو کي ډيربښت ياني داړتيا څخه ډېر دځينو خوړو خوړل، دا د روغتيا او خوړو په تاريخ کي يؤ بل اړين ټکی وو،همدارنګه ډيري ناروغۍ شتون لري چي دځينو غذايي موادو دکمښت څخه رامنځته کيږي.**

**تازه چي څه کشف سوي دي هغه د فيبر دکمښت ناروغي ده، اوس وخت کي دوګړو طبيعت داسي دئ چي پاک او تيار سوي خواړه ډېر خوښوي، دبيلګې په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول هغه بوره چي بشپړ سپينه وي، اوړه بشپړ سپين اوړه دهغو غنمو اوړه چي

پوستکي ځني اړول سوي وي او ډوډۍ يې هيڅ ځېروالی ونه لري،همدارنګه دميو يؤازي اوبه او شيره خوښوي،لنده دا چي د ډېرو حبوباتو او ميوو ډکي؛پوستکي چي الله جل جلاله په هغه کي جوړه کړي وي تري اړوو او نه يې خورو.

ډېر لږ وګړي پوهيږي چي دغه دميوو غوښينه برخه چي دميوې شکل جوړوي ياد دغنمو پوستکی چي الله جل جلاله په هغه کي غنم را نغاړلی دئ، ډېري زاياتي ګټې لري مګر موږ هغه تري بيلوو،ياني دميوو څخه اوبه باسو او دغنمو څخه پوستکی اړوو او غورځوو يې هغه بې ګټې ګڼو،دميوو روڼي اوبه څښو،دغنمو تکه سپينه ډوډۍ هغه ډوډۍ چي هيڅ ځيروالی ونه لري دترميده اوړو ډوډۍ خوښوو،خالصه سپينه بوره کاروو،دغه د خپلو ځانګړو څخه اوښتي دپوستکو او فيبر څخه پاکو سوو خوړو خوړل دنن زمانې رواج دئ چي زموږ دبدن د ډېرو مغذي موادو دکمښت او ناروغيو لامل کيږي.

پخوا داسي اند کيدی چي دغلو دانو او ميوو پوستکي بالابود توکي دي چي دهضم او خنډ په عمليه کي ستونزې پيښوي،هغوئ چي په کومه اندازه درک کړي وه هغومره يې وويل چي خواړه دپوستکو سره دهضمي لارو څخه په تکليف تيريږي، جذب او هضم يې ستونزمن کيږي او پر هضمي سيستم بار ډېريږي، په همدې خاطر ځينو پوهانو دا سپارښتنه کول چي دپوستکو او فيبر پرته خواړه دي وخوړل سي.

د فيبر او پوستکو پرته خوړو خوړلو لومړی زيان قبض دئ، ځکه دميوو پوستکي؛غوښينه برخه او هسته دکلمو چار اسانه او هوسا کوي،معده دې ته اړتيا لري چي دميوې او يا خواړو پوستکی،فيبر ريښي يا ځيړه برخه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوالونه يؤڅه تحريک کړي،کله چي دميوو يوازي اوبه وي غوښينه برخه يې نه وي همدارنګه دحبوباتو او غلو څخه پوستکی بيل سوی وي ياداسي اوړه تري جوړ سوي وي چي خالص سپين وي ياني دغنمو ترميده وړه وي دمعدې دېوالونه نه تحريک کيږي او دقبض لامل کيږي.

يؤ بل ديادولو وړ ټکی دادئ چي دا سلولزي مواد، پوستکی او فيبر اوبه ځانته جذبوي او هغه دځان سر ساتي ترڅو دهضم او جذب چار په اسانۍ سره سرته ورسيږي، ښه نو ياد مواد دنرم کوونکو موادو په شان کار کوي.

بله ديادولو وړ خبره داده چي فيبر يا ياد سلولزي مواد دکلسټرول ،چربۍ،غوړ ځانته جذبوي، دوينې لوړه اندازه غوړ يا لوړ کلسټرول په وينه کي درګونو دبنديدا لامل کيږي چي پايله کي يې دزړه يؤه خطر نامه ناروغي انجينا فکټوريس ناروغي چي يؤه زيان رسوونکي ناروغي پيښيږي، درنګونو دتنګيدا ناروغي د ننني عصر خطر ناکه ناروغي ده.

ځيني پوهان په دې باور دي چي د انسان عمر دهغه دشريانونو دعمر سره اړيکه لري او کله چي دهغوئ ظرفيت راکم سي او غوړ مواد په هغوئ کي ځای پرځای سي، زړه سټړی،مړاوی کيږي،ښه نو دميو چي اوبه ځيښو غوښينه برخه يې غورځو دغنمو،ترکاريو پوستکی اړو ترميده اوړه تري جوړوو او حيواناتو ته يې دوښو په ډول ورکوو په حقيقت کي موږ هغو ته سخته اړتيا لرو، ځکه دويني غوړ موجذب او په وينه کي سته غوړو ته موبدلون ورکوي

دځينو عصارو په پرلپسي ډول ترشح کيدل لکه دصفرا دځينو ناروغيو لامل کيږي؛مګر که موږ دسبو،ميو، غلو او دانو پوستکي او فيبر تري ليري نه کړو زموږ بدن به دصفرا او نورو تجزيه کوونکو مواد ډېر ترشح ته اړتيا پيدا نه کړي ځکه دهغوئ دنده به ياد موادو سرته رسولي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني پوهان وايي: دويني دکلسترول،غوړ لوړيدل او دهغوئ رسوب په رګونو کي،دلويو کلمو دکولون دبرخي سرطان،ځيني دزړه او رګونو
نارغی،قبض،دواريس ځيني ناروغۍ، د ډيافرګم او اپنډيکس ناروغۍ په خوراکي توکو کي دفيبر،پوستکو غوښينوبرخو،تارونو دکمښت له کبله رامنځته کيږي.

ښه نو موږ چاره نه لرو دهغه څه څخه چي الله جل جلاله خلق کړی دئ چي ورته را ونه ګرځو،ښه نو ډيرشيان چي الله څنګه جوړ کړي دي وي خوروئ، دهغوئ په جوړښت کي ډيرښت او کمښت مه راولئ؛څنګه چي الله جل جلاله خلق کړي په خوند يې وخورئ.

دغلو او ځينو ميوو او ترکاريو،سبو پوستکي مه غورځوئ،وګړي ګومان کوي چي ياد سلولزي مود ګټه نه لري مګر په حقيقت کي داسي نه ده.

موږ بايد دالله جل جلاله په دخلقتونو په حکمتونو کي ژور اند وکړو او دهغوئ دبدلون هڅه ونه کړو.

## دHIV ايډز ناروغي

دميکربونو،ويرسونو نړۍ څه موده مخکي کشف سول. د (جرثوم) ميکروب وييي اصل دهغه شي دريښې په مانا سره دئ چي په سترګو هغه نه ليدل کيږي او په حواسو هغه نه درک کيږي، ميکروبونه دناروغيو سرچينې، بنسټونه دي.

په قرآنکريم کي کوچنۍ اشاره هغوته سوي چيري چي فرمايي: سُوْرَةُ الحَاقَّة : 38_39} فَلَآ أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ

{ نو زه په هغو شيانو قسم خورم چي تاسي يې وينئ ،(وَمَا لَا تُبْصِرُونَ

او په هغو شيانو هم چي تاسي يې نه وينئ،***؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه چي نه وينو نسبي غيب دي، مګر غيب مطلق هغه دي چي زموږ دژوند په چارچاپيره کي شتون نه لري، دغيبي نسبي پر خلاف چي زموږ دژوند په محدوده کي هغه سته: مګر زموږ حواس دهغوئ د درک او ليدو څخه ناتوانه وي.

پوښتنه داده چي دغه کوچني موجودات چي زموږ دژوند په هره برخه،خوړلو او څښلو په توکو،تنفس کولو، دانسانانو سره دمخ کيدنې، او دهغوئ په حرکات کي شتون لري،نه بايد په شريعت کي ددې کوچنيو موجوداتو په اړه يؤڅه شتون ولري؟

دانسان په وينه کي دري ټولګي حجرات شتون لري،سره کرويات چي ځانته تفصلي بحث غواړي، سپين کرويات او پلاتليتونه ،دموي صفيحات.

سپين کرويات هغه لښکر دئ چي يؤ ډېر اړين کار دبدن څخه دميکروبونو،ويرسونو، پرازيټونو او نورو بيګانه،ناپېژاندو شيانو دبريد،حملې پروړاندي دبدن څخه دفاع کوي، ډاکټران هغوئ ته دبدن دفاعي؛ساتونکي سرتيري وايي.

دغه سپين ذرات تل په وينه کي دګرځيدا په حال کي وي؛ ځانته ځانګړی وضعت لري: کولی سي دويني بهيدنې پر عکس يا خلاف لوري تګ وکړي، دوينې درګونو څخه دباندي ووځي،عضلاتو او پوستکي ته ځان ورسوي، همدارنګه کولی سي په بدن کي ټول شته ټينګ انتظامات پري کړي او دهغوئ څخه تيرسي

ښه نو ددې ځای دئ چي وپوښتو دغه سپين ذرات څشي دي؟

کلاګانې لري چي په هغوئ کي پناه اخلي او تري را وځي، مګر دا کلا ګانې څشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي؟ نغښتي لنفاوي دي چي کلاګانو ته ور ته جوړښتونه دې چي زيات شمېر سپين کرويات په هغوئ کي شتون لري.

ځيني پوهان وايي: يؤ ډله ديادو کروياتو څخه دراپور،مالوماتو اوخبرونو راټولونکي ده، هرکله چي هم بدن ته ناپيژنده،بېګانه ميکروبونه داخليږي دغه ډله ميکروبونو ته دهغوئ دښه پېژندنې په پار نېژدي کيږي، ترڅو دهغه ترکيبي جوړښت او دکمزورئ ټکي وپېژني او وپوهيږي چي څشي هغه د مينځه وړلی او دکاره اچولی سي،يا څنګه کولی سي هغه ونيسي.

دغه سپين کرويات لکه عقلي موجودات په لوړه کچه هوښيار او ځيرک دي، کله چي دميکروب په اړه په هرڅه پوه سول خپلو اصلي ځايونو: په نغښتو لنفاوي کلاګانو ته راځي ترڅو هغو کارخونو، ازموين ځايونو ته چي دميکروبو،ويرسونو پر وړاندې دهغوئ دپېښو څخه دغورځولو او لمنځه وړلو وسلې جوړوي د راغلي بېګانه ميکروب په اړه بشپړه مالومات ورکړي.

دسپينو کروياتو يؤه بله ډله شتون لري چي دميکروبو پر ضد دهغوئ دلمنځه وړلو لپاره مناسبې وسلې جوړوي،لومړئ ډلې استخباراتي دنده درلودل او د دښمن اړوند مالومات يې راټولول،

دې ډلې وسلې جوړولي،ياني په دې کلاګانو کي داسي کيمياوي وسلې جوړيږي چي کولی سي ميکروبونه او ويروسونه لمنځه يوسي.

يؤه بله ډله ديادو پوځيانو څخه شتون لري چي دېروژونکی طبيعت لري، دغه جوړې سوې کيمياوي وسلې دځان سره وړي دميکروبو لورته ځي هغه محاصره کوي او لمنځه يې وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوينې په يو مايکرو ليټر کي 7زره سپين کرويات او دري لکه پلاټيليټونه شتون لري.**

**هرکله چي انسان پر خپل بدن سپيني لکې ووينې بايد وپوهيږي چي هلته د سپينو ذراتو يا دبدن د دفاعي پوځيانو او بېګانه ميکروبونو ترمنځ سخت جنګ روان دئ.**

**په بدن کي دفاعي کربښې شتون لري چي په لومړۍ کربښه کي استخبارتي،مالومات راغونډونکي پوځيان او په دويمه ليکه کي لنفاوي نغښتي ټولګې شتون لري، کله چي ميکروبونه د دويمې ليکې څخه تير سي په بدن کي عمومي جنګ ته د تيارسي يا دعمومي جنګ اعلان کيږي، چي په پايله کي يې دبدن دتودوخې درجه لوړيږي: تبه رامنځته کيږي، بدن دورځنيو کارونو په سرته رسولو کي کمزورۍ کيږي او بلاخره په بدن کي دميکروب پر شتون باندي ښکاره دلالت کوونکي علامه څرګنديږي.**

**دا دانسان دبدن دفاعي سيسټم دئ د دري اساسي مادو يا ډلګيو درلودونکی دئ: استخبارتي يا مالومات راغونډونکي ډلګۍ،دوسلو جوړونکي او دوسلو کارونکي وژونکي ډللګۍ، دغه دري ډلې دمرکزي امر کوونکي او پوهيدونکو دفاعي ليکو: د بدن دفاع د ناپيژندو حجراتو او بې ګانه ميکروبونو څخه کوي، مګر دغه پوځ يا دغه دفاعي سيسټم ځيني وخت خپل در بريد لاندي راځي او کيدای سي لمنځه ولاړ سي، لکه دايډز دخطرناکي ناروغي په شان چي ياد پيښنه پکښي رامنځته کيږي، چي نن ورځ په ټوله نړۍ کي دهغه په اړه بحث کيږي، دبل لوري وژنکی ناروغي دسږو التهابي حالت پيښوونکي: سارس ويروس چي څه موده مخکي مشهور او خپور سوی دئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موږ باید هیر نه کړو چي دالله جل جلاله سنت د خپلو مخلوقاتو په منځ کي بر قراره دي، مګر هغه څه چي زموږ پام ځانته را اړوي هغه دادي چي رسوالله ﷺ دیادي ناروغۍ اونورو بدو افتونو په اړه دځینو شیانو یادونه کړي ده، دبیلګې په ډول دعبدالله بن عمر(رض)څخه روایت سوی دئ چي رسوالله ﷺ زموږ خواته راغلی او وي فرمایل:**

**یا معشرَ المهاجرینَ خمس إِذا ابتُلِیم بهِنَّ و أَعوذ بااللهِ أَنْ تدرکوهنَّ، لَم تَظهرِ « الفاحشه في**

**قومٍ قطّ حتي یعلنوا بها إِلّا فشا فیهم الطاعون و الأوجاع التي لم تکن مضَت في أَسلافهم الذینَ مضوا، ولَم ینقصوا المکیالَ و المیزان إِلّا أُخِذُوا بالسنین و شده المؤونه و جور السلطان علیهم، ولَم یمنعوا زکاة أَموالهم إِلَّا منعوا القطر مِن السماءِ و لو لاالبهائم لَم یمطروا، و لم ینقضوا عهداللهِ و رسوله إِلّا سلّط الله علَیهم عدواً مِن غَیرهم، فَأَخذوا بعض ما في أَیدیهم، و مالَم تحکُم أَئمتُهم بِکتاب اللهِ، و یتخیروا مما أنزلَ اللهُ إِلّا جعلَ اللهُ بأسهم بینهم»{ابن ماجه 4019**

**دحدیث شریف مفهوم دئ :**

**ای دمهاجرینو ټولی پنځه شیان دي چي دخدایه غواړم ستاسو په منځ کي خپاره،ښکاره نه سي اول هرکله چي په یؤه قوم کي فحشا پیدا ،ښکاره سي، داسي طاعون،لوږه،قحطي به پکښي پیښه سي چي په مخکنیو کي يې نه وه، که په پیمانه،وزن او ترازو کم کړي په ګرانۍ، دپا چا په خرج او ظلم به مبتلا سي، که دمال زکات ونه باسي،دباران درحمت او نعمت څخه به بې برخې سي که دچارپایانو حیواناتو په خاطر نه وي هیڅ باران به يې پر سیمه ونه اوریږي،او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چيري دالله او دهغه درسول سره وعده،عهد ماته کړي خداى جل جلاله به پر هغوئ بيګانه دښمن مسلطه کړي ترڅو چي هرڅه لري تري وا يې خلې او که چيري امران، مشران يې دالله جل جلاله په کتاب حکم ونه کړي او هغه څه چي الله جل جلاله را استولي غوره ونه ګڼي الله جل جلاله به يې زيان او تاوان ددوئ په منځ کي واچوي.

ايدز ساري ناروغي ده چي لامل يې يؤ ناپيژانده ويروس دئ، تولې نړۍ کي خپره ده، په 2004ميلادي کال کي په ياده ناروغۍ څلويښت ميليونه وګړي اخته وه،په 2010ميلادي کال کي تخمين دونيم ميليونه ماشومان يوازي په جنوبي افريقا کي په يادو ويروس ککړ وه، کار پوهان اټکل کوي چي کيداى سي په ايدز داخته ناروغانو دقيق شمېر دياد شمېر دوه برابره يا ددې څخه زيات وي، هغه څه چي دا حالت نور هم ددې څخه بدتره کوي ديادې ناروغۍ دمخنيوي دواکسين او درملو په جوړيدنه کي دټولې نړۍ، مرسته کوونکو موسيساتو او څيرونکو او ډاکټرانو ناتوانې ده، يانې هيڅوک تر اوسه نه دئ توانيدل دايډز ناروغۍ واکسين يا بشپړه درملنه کوونکي درمل جوړ کړي.

ايدز وايروس په ډېرو حالتونو کي د بې حيايې،فحشا يا په بله مانا دجنسي اړيکو دلارې او د نشه ئې موادو د پيچکاريو دلاري چي بيله تعقيمه،بيله دې چي هرځل در کارونې ورسته وغورځول سي او نوى سورنج وکارول سي ديؤه کس څخه بل کس ته ليږدول کيږي.

ياده ناروغي په لومړۍ درجه کي دشخص پر چلند مربوط کيږي او حيرانوونکى تناقض په ياده ناروغۍ کي شتون لري، ديؤه اړخه وينو چي ديادې ناروغۍ درملنه ډېره سخته يا په بله مانا ناشوني ده چي دهر ناروغ پايله يې هتمي مرګ دئ او دبله اړخه ديادې ناروغۍ څخه ځان ساتنه او مخنيوى ډېر آسانه،هوسا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ، داسي چي هر کس چي در اوسه په ياده ناروغۍ نه وي اخته سوی: کولی سي دالهي احکامو په عملي کولو پايبندئ سره دعفت، پرهيزګاری،دخپل شهوت په مهار او صبر سره په بشپړ ډول په ياده ناروغئ د اخته کيدو څخه دځان ساتنه وکړي، ځکه الله ﷻ چي هر شهوت په خپل بنده کي پيدا کړی دئ: سمه او دزيان څخه خالي لاره يې هم دهغه لپاره پيداکړي ده.

ښه نو ديني لارښووني زموږ د بدني،روحي او رواني روغتيا سلامتئ ضمانت کوي .

جالبه داده چي ياد ويروس کولی سي هر وخت خپل ښکاره قيافې، شکل،کوډونو اوځانګړونو ته بدلون ورکړي، ښه نو که ميلياردونه ډالر د ياد ويروس څخه دژغورني په پار مصرف سي:

ټول لګښتونه به بې ګټې ولاړ سي او هيڅ اغېزمن وکسين به ونه موندل سي، دمخکي څخه ياد ويروس ډېر نسلونه لري که يو انسان يې ديوه نسل څخه ځان وژغوري دويم نسل به يې ديښنو وغورځوي، ښه نو الله ﷻ اراده کړي ده چي انسان داخلاقي ارزښتونو منونکی، پايبنده و اوسي، ترڅو انسان په پاک لمنئ،نيک چار چلند ديادې وژونکي ناروغئ څخه ځان وژغوري نه په واکسين او درملو.

الله ﷻ فرمايي: سُوۡرَةُ الرُّوم : 41

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِى عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ

په وچه او لمده کښي د خلکو (د لاسونو) په عملونو سره فساد ښکاره شويدی؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو (الله) په دوی باندي د هغو عملونو (د سزا) خوند څکي چي دوی کړي دي، ښايي چي دوی راوګرځي.**

********

**همدارنګه پوهان باورلري که په پنځو راتلونکو کلونو کي دپوهانو پرلپسي تلاښونه کومي پايلي ته ورسيږي او ديادې ناروغۍ ويروس جوړ کړي، دېوه ناروغ پر درملنه به لس ميليونه ډلر لګښت راسي.**

**يوه څيړنه کي چي په يوه داسي هيواد کي سوي چي بې حيايي،زنا،ناروا اړيکي نيول پکښي ډېر دي څرګنده سوي ده چي په هرڅانيه کي يو دايډز نارغ خپل ژوند دلاسه ورکوي، دغه څيړنېز راپور دځينو نړيوالو رسنيو دلارې خپور سوی دئ.**

**ديادې ناروغۍ د زيات مرګ علت دادئ چي ياده ناروغي په هندسي تصاعد،لوړوالي خپريږي چي دخپريدو ميزان يې نه ښکاره کيږي، دغه ناروغي ديوې لوی چاودنې دپرزو په شان خپريږي، ځينې څيړنې په ډاګه کوي چي په دوه زرم کال کي په نړۍ کي ديادو ناروغانوشمېر 120ميليونه نفره وو،دغه شمېرنه د دمشق په يوې ورځپاڼې کي خپور سوی وو، په ايډز ناروغۍ باندې اخته کس خپل ديادې نارغۍ ليږدونکی دئ، هغه وګړی چي ياد ويروس لري په بشپړ ډول په ياد ويروس ککړ دئ، مګر داچي دياد ويروس نښي نښانې نه دي پر څرګندې سوي دا په دې مانا نه ده چي دئ نورو وګړو سره دجنسي اړيکو دټينګولو، دده وينه ناروغ ته په لګولو، دده د سر خريلو د چړې څخه په کار اخيستني، دده بدن ته د ننوتلي نيډل، ستنې دننوتنې ورسته بل کس دهغه ستنې په کارونې، دده دجراحۍ دچړو او ياد غاښ ايستنې د وسايلو دکارونې ورسته بل کس ته ديادو وسايلو په کارونې ياده ناروغي نه انتقال،ليږدوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي ياد ويروس يؤ وګړي ته داخل سي دول يا شپاړس مياشتي وخت نيسي ترڅو دياد کس دوينې لابراتوري ازموينې کي دا څرګنده سي چي ياد وګړی په ايډز ويروس ککړ دئ، او په ياده مرحله کي ياد وګړی نورو کسانو ته ياد ويروس ليږدولی سي، کله چي ياد ويروس بدن ته داخل سي نو ناروغ دانفلونز دناروغۍ په شان علايم لري: دسردرد،دبدن درد،دستونې درد،دلنفاوي غدو لويدل، دخولې زخمونه او اسهال کيدای سي ولري.

دايډز دناروغۍ علايم ښکاره کيدل ځيني وخت څو کاله وخت نيسي نو ديادو ناروغانو قرنطين او بيلوالی اصلاً کومه ګټه نه لري، هغه وګړي چي په ايډز اخته وي او علايم يې پر ښکاره سوي وي او پرهغو چي علايم يې نه وي پر ښکاره سوي ديؤبل سره دناروغۍ دليږد داړخه کوم توپير نه لري.

پرمختللې هيوادونه په خپلو ټولو اقصادي او علمي امکاناتو په کار اچولو سره ديؤه کمزوري ويروس مخنيوی نه سي کولی او ترټولو کوچنی کار يې هم دمخنيوي او درملنې لپاره په توان کي نسته په داسي حال کي چي ياد وېروس ميليونونه هغه وګړي چي په اخلاقي بد لارې زنا او لواطت اخته وه تار او مار کړل، داسي لکه دا چي دخدای جل جلاله لښکر وي: سُوْرَةُ المدَّثِّر : 31

وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحٰبَ النَّارِ إِلَّا مَلٰٓئِكَةً وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ الَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِيمٰنًا وَلَا يَرْتَابَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُونَ وَلِيَقُولَ الَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْكٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ اللَّهُ بِهٰذَا مَثَلًا كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَنْ يَشَآءُ وَيَهْدِى مَنْ يَشَآءُ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ وَمَا هِىَ إِلَّا ذِكْرٰى لِلْبَشَرِ

موږ د دوږخ دغه خدمت ګاران پرښتې ګرځولي دي او د هغو شمېر مو د کافرانو لپاره ازموينه ګرځولې ده، تر څو چي د اهل کتابو باور راشي او د مؤمنانو ايمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات شي، همدارنګه اهل کتاب او مؤمنان په کوم شك كي پاتي نه شي. د زړه ناروغان او کافران دا ووايي چي ښه نو، د الله د دې عجيبه خبري څخه څه مطلب کېدای شي. په دې ډول چي د الله چا ته خوښه شي ګمراه کوي يې او چا ته چي يې خوښه شي لاره ورښيي. او ستا د رب لښکري پخپله له هغه پرته بل څوك نه پيژني؛ او د دوږخ يادونه له دې پرته د کوم بل غرض لپاره نه ده شوې چي خلکو ته پند وي.

****

کيدای سي الله جل جلاله ياده ناروغي دهغو وګړو لپاره چي دسالم ژوند څخه يې ښه دباندي ايښي ده، ګمره سوي دي او نور وګړي يې ګمراه کړي دي، فاسد سوي دي او نور يې فاسد کړي دي، بې حيا سوي اونور يې بې حيا کړي دي د اخرت دعذاب څخه مخکي عذاب او سزا ټاکلي وي، ځکه چي ديادې ناروغۍ څخه دخلاصون يؤازنۍ لار نيک اخلاق،ښه سيرت، حيا، دزنا او لواطت څخه ليروالى دئ، هغه ټکی چي موږ مجبوره کوي پر لوړو خبرو ټينګاروکړو هغه دا حيرانوونکی چار دئ، غوماشه دايډز ناروغ چيچي دهغه څخه څه اندازه وينه اخلي يانې داچي دغوماشي نيښ دناروغ انسان په وينه ککړيږي همدا غوماشه ځي او ديؤه روغ انسان بدن ته خپل په ويروس ککړ نيښ داخلوي په ويروس ککړ وينه د پاکي وينې سره يؤځای کيږي مګر دايډز په ناروغۍ باندي روغ انسان نه اخته کيږي، دا ډېره حيرانونکي ده، په دې کوم راز پټ دئ چي دغوماشو دلاري ياد ويروس دناروغ کس څخه روغ کس ته نه ليږدول کيږي؟

آيا دا ددې خبرې څرګندونه نه کوي چي کيدای سي سترالله جل جلاله دا ناروغي يؤازي داخلاقي فساد کوونکو لپاره يؤه سزا ټاکلي وي هغه سزا چي په دونيا کي ورکول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که چيري ديؤه ښار اوبه ککړي سي او يؤه ساري ناروغي دخلګو په منځ کي پيداسي،آياد سالم عقل او حکمت غوښتنه داده چي پريږدو دناروغۍ په ميکروب ککړي اوبه دښار او سيدنکي لمنځه يوسي، ښه نو آيا موږ لومړی د ناروغۍ درملنه پيل کړو درمل ومومندو،ډاکټر پيداکړو،روغتونه جوړ جړو اړوند طبي وسايل ومومندو او که لومړی د ککړو اوبو څخه ګټه وانخلو اوبه دناروغۍ دککړتيا څخه پاکي کړو؟**

**سالم عقل او ماغزه لومړی دناروغۍ ريښه لمنځه وړي دښار اوبه پاکوي يا دهغوئ څخه ګټه نه اخلي او ورسته دناروغانو د درملنې چار مخته وړي،**

**متاسفانه دغه ټکی په نړۍ کي نه رعايت کيږي، نړيوال دناروغۍ د عامل پرووراندې نه دريږي، بلکي دا ښه ګڼي ديادې ناروغۍ علايم، او پايلې لمنځه ويسې، په داسي حال کي چي د ناروغۍ در درملنې دناروغۍ مخنيوی غوره او کم لګښته دئ. سُوۡرَةُ الجَاثِيَة : 23**

**أَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَٰهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ اللَّهِ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ**

**نو ايا تا کله د هغه چا په حال باندي غور کړی دی چي خپل نفسي خواهش يې خپل خدای وګرځاوه؟ او الله له علم سره، هغه په ګمراهۍ کښي وغورځاوه او د هغه پر زړه او غوږونو باندي يې مُهر وواهه او د هغه پر سترګو يې پردې وغوړولې. له الله څخه وروسته اوس بل څوك دی چي هغه ته هدايت وکړي؟ ايا تاسي څه درس نه اخلئ؟**

********

**کوم ځوان چي دکار لټوونکی وي او د نيکې ميرمنې لټه هم کوي، هغه په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښکاره دخپل مقام او ارزښت په لټه دئ او خپل حلالې غوښتنې په نظر کي نيسي، ياد ځوان په حقيقت کي دخيل ټولنې او هيواد په ښه جوړوني کي برخه اخلې، ځکه يؤه پاکه او پايبنده کورنۍ ديؤې ښې او پرمختللي ټولنې بنسټ جوړوي.**

**هغه ځوان چي خپل کار او شغل کي بې پامه وي، خپلې هيلې دنا روا لارې پوره کوي، دخپل شخصيت او مقام دخرابولو او لمنځه وړلو سره سره دټولنې دورسته پاتي والي، لمنځه وړلو او فساد لامل کيږي.**

**يؤه ټولنه په پاکو،پياوړو اوريښتينو ځوانانو او پيغلو په مټ خپل اصلي ځاى او پرمختګ ته رسيداى سي.**

**پوهان په دې باور دي چي ديادې ناروغي لومړى لامل په يؤه ټولنه کي دبېحايې، فحشا ډېر رواجيدل او دټولنې د اوسيدونکو په منځ کي دلواطت او زنا ډېرښت او عام کيدل دي،رسوالله صلى الله عليه وسلم ځکه فرمايلي وه :، لَم تَظهِرِ الفاحشه في**

**قومٍ قطّ حتي يعلنوا بها.... که چيري فحشا په يؤقوم کي پيدا سي او هغه ښکاره کړي: داسي چي هغه په ورځ پاڼو،مجلو تلويزونونو کي ښکاره کړي، دبيلګې په ډول په غربي او هغو هيوادونو کي چي ارزښتونه يې درپښو لاندي کړي دي، دفحشا وسايل، دفحشا مرکزونه او داخلاقو څخه ليري کارونه په رسنيو کي اعلانيږي،(داسي طاعون،لوږه،قحطي به پکښي پيښنه سي چي په مخکنيو کي يې نه وه****

**دانسان دبدن دفاعي يا ساتونکى سيسټم دغه حيرانوونکى جوړښت، دايډز ناروغۍ له کبله دکاره لويږي او خپله دنده سرته نه سي رسواى، دهغه ويروس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکبله چي تر اوسه یې تولې ځانګړنې نه دي پېژندل سوي او حقیقت یې پټ پاته دئ یاد انسان ژغورونکی ګډکاری تبا او بربادیږي.

په 1981کال کي پنځه نفره ومو‌ندل سول چي په ایډز اخته وه،ورسته 35تنو ته ورسیدل او داسي وسول چي هره اونۍ سل نوی پیښي ثبتیدلي، تردې چي په 1984میلادي کال کي په ایډز اخته ناروغانو شمېر 12زرو تنو ته ورسیدئ چي نیمو یې خپل ژړند دلاس ورکړ،څیړونکي وایي چي په امریکا کي څلور میلیونه کسان په یاد وژونکي ناروغۍ اخته دي.

دایډز ناروغي دفرانسي دلارې اروپا ته ننوتل او په هر هغه ځای کي خپره سول چي همجنس بازي،لواطت،زنا، دنشه یي موادو کارونه پکښي عامه وه، ځیني وختونه د وینې دورکړي دلاري هم یاده ناروغي دناروغو وګړو څخه روغو وګړو ته ولېږدول سول.

جالبه داده چي نړیوال در اوسه نه دي توانیدلي چي حتا په یاده ناروغۍ باندي داخته یوه کس بشپړ درملنه وکړي، بلکي د ډاکټرانو توله هڅه دا وي چي یوازي داخته کس ناروغي کنترول کړي.

که یوڅوک په یاده ناروغي اخته سي کیدای سي چي اتلس څخه در 125اونیو یانې دڅلورو میاشتو څخه در دووکلو ژوندی پاته سي، ځیني ناروغان په ناروغۍ داحته کیدو ورسته دېرژر خپل ژوند دلاسه ورکوي.

یوار بیا غواړو دیادې ناروغۍ دځینو نښو نښانو څخه یادونه وکړو: دوزن دلاسه ورکول،دبدن دتودوخې د درجې لوړیدل،دومداره اسهال،دېرې خولې کول،دبدن عمومي کمزوري،د تمرکز دلاسه ورکول،دوینې لږیدا،دبدن دحجراتو دلاسه ورکول یانې داچي کرار کرار انسان اوبه کیږي او ورسته مري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ بنىٓ اسرآئيل/الإسرَاء : 15

مَّنِ اهْتَدٰى فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرٰى ۗ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُولًا

څوك چي سمه لاره غوره كړي، د هغه سم تګ په خپله د همغه لپاره ګټور وی. او څوك چي ګمراه وي، د هغه د ګمراهۍ وبال پر همغه دی. هيڅ پېټی اخيستونكی به د بل پېټی وانخلي. او موږ عذاب وركوونكي نه يوو، تر څو (د حق او باطل پر توپير د خلكو د پوهولو لپاره) يو پېغمبر (له پيغام سره) ونه لېږو.

****

غربي نړۍ دين يؤې خواته غورځولی، داباور لري چي دين يؤ غيبي چار او دلومړنيو وګړو دژوند تګلاره ده، ددوئ ټوله نړۍ د ژوند څخه دخوند په اخيستلو كي خلاصيږي،يانې ژوند هر څه بولي پر اخرت عقِده نه لري، نو دوئ داسي كارونه وكړل چي كولی يې سوای يا يې هغه كارونه وكړل چي خوښه يې وه، په پايله كي يې داسي بلا پر سرنازله سول چي دهوا مرغانو يې پر حال وژړل، ښه نو موږ بايد هيڅكله دياده ونه باسو چي صبر او دالله جل جلاله احكاموته غاړه ايښودنه خپله روغتيا او خلاصون دئ، دصبر او پرهيزګارۍ په مرسته انسان كولی سي دځان لپاره ښه او رحته ژوند ومومندي، كه كوم څوك بې صبري وكړي، دانساني فطرت څخه پېښه وا ړوي دخالق جل جلاله احكاموته غاړه كښنيږدي: مخكي له دي چي په اخرت كي عذاب او سزا وركول سي په دونيا كي به ورته عذاب وركول سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ياده ناروغي ديؤه انسان څخه بل انسان ته دلواطت،زنا،دناروغ دويني لګول روغ انسان ته دجراحی دناتعقيم سوو سامان الاتو،دغاښنو کښلو دسامان الاتو،دناروغ انسان دېرري،سرخريلو دنا پاکو،ناتعقيم سو چړو، ناروغ ته دلګول سوي ستنې کارول روغ کس ته دلاري ليږل کيږي.**

**يادې خطرناکي ناروغی ايډز چي ټوله نړی يې لړزولې ده، ويره او وحشت يې په زړونو کي اچولی دئ، داسي چي انسان اوس ديادې ناروغی له کبله دهر بد کار څخه بيريږي،ياد مرض،ناروغي دهغه ځايه راغلل چي اوسيدونکو يې دالهي احکامواو قوانينو څخه تيرسول، شريعت ته يې پاملرنه ونه کړل،ټولنيزي اړيکې يې چټلي کړي، چي په پايله کي يې ياد وژونکي ناروغي پيدا سول.**

**يا معشرَ المهاجرينَ خمس إِذا ابتُلِيم بهِنَّ و أَعوذ باللهِ أَنْ تدركوهنَّ، لَم تَظهرِ الفاحشه في**

**قومٍ قطّ حتي يعلنوا بها إِلّا فشا فيهم الطاعون و الأوجاع التي لم تكن مضَت في**

**أَسلافهم الذينَ مضوا،**

**دحديث شريف مفهوم دئ:**

**ای دمهاجرينو ټولی پنځه شيان دي چي دخدايه غواړم ستاسو په منځ کي خپاره،ښکاره نه سي اول هرکله چي په يؤه قوم کي فحشا پيدا ،ښکاره سي، داسي طاعون،لوږه،قحطي به پکښي پيښنه سي چي په مخکنيو کي يې نه وه،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دايډزڅخه ورسته دانساني فسادڅخه رامنځته سوي بله خطرناکه ناروغي

په 1994 کي په بريتانيا يؤه نارغي پيښه سوه؛يادې ناروغۍ ته يې دانسان دغوښې خوړونکي ناروغي وويل ديادې ناروغۍ لامل مايکرو سکوپي حجري لرونکي ميکروبونه وه، ياده ناروغي دانسان د نافرمانۍ سرکښۍ څخه رامنځته سوي ناروغۍ ايډز څخه چي انسانان تري کړيږي دويمه خطرناکه ناروغي ده.

په يؤه مياشت کي شپږ نفره ددې ناروغۍ له کبله مړه سول او څه موده ورسته يؤه بله ښځه هم ديادو کسانو لوري ته ولاړه

دا څنګه ناروغي ده؟

په ياده ناروغۍ کي ميکروبونه په هر ساعت کي يؤ انچ په اندازه دناروغ پوستکی،غوښي او عضلي خوري او درشا داسي نښې دناروغ پر بدن پريږدي لکه هغه ځای چي سوځيدلی وي، چي ورسته درهغه ناروغ مري، په ناروغۍ داخته کيدا او دناروغ دمړينې ترمنځ وخت دناروغ دبدن په ناروغۍ اخته سوي برخې ترمنځ توپيرکوي؛ دبيلګې په ډول که ياد ميکروبي سوي ساحه يې عصبي وي ژوند يې يؤ يادوو ساعتونو څخه ډېر دوام نه کوي، ايډز انسان ته يؤ يا دوه کاله وخت ورکوي مګر ياده ناروغي ناروغ ته د يؤه يا دوو ساعتونوڅخه ډېر وخت نه ورکوي،مګر که ياد دميکروبونو خوړل يې دبدن داطرافو څخه پيل سي نو کيدای سي يؤه يادوې ورځې يې ژوند دوام وکړي،مګر په ټوليز ډول ديادو ناروغان ژوند ديؤه او دوو ساعتونو څخه ډېروخت نه نيسي.

ديادې ناروغۍ درامنځته کيدنې او په اخته کيدنې سبب ايډز ناروغۍ ته ورته دئ،يانې: شراب څښل،مخدره توکي کارول،فحشا او اخلاقي فساد

دغه ناروغي په بريتانيا،امريکا او جاپان کي ښکاره سوي او خپره سوي ده،ياد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميکروبونه چي دانسان دغوښو خوړونکو ميکروبونو په نوم،نومول سوي ديؤ انسان څخه بل انسان ته دليږديدنې وړه دي.

درسو الله ﷺ ديؤه حديث شريف مفهوم دئ:( که فحشا،بې حيايي په هرملت کي پيداسي او هغه ښکاره سي په منځ کي به يې طاعون او لوږه پيدا، ولويږي چي په مخکنيو کي يې نه وه) څومره رښتيا دا خبره!ياده مرګوني نارغي په مخکنيو وګړو کي نه وه،الله ﷻ وغوښتل فساد کوونکو ته سزا ورکړي، دغه مرګوني او ورته ناروغۍ دبشريت دبې حيايي او فساد ځواب دئ چي کولی سي نور هم اخته کړي،دا دالله ﷻ دمهربانۍ يؤبيلګه ده دانسان لپاره که الله ﷻ ګناهګارانو ته به يې يؤازي په اخرت کي سزا ورکولی مګر دا او نور دنياوي عذابونه او تکليفونه يؤ عبرت دئ دنورو ګناهګارانو لپاره ترڅو پر خپل کړونو پښيمانه سي همدارنګه تکليفونه او عذابونونه نيکو وګړو لپاره نور هم په نيکيو دټينګيدا يؤ تشويق دئ ترڅو دالله ﷻ په ښوول سوي لار لا نور ښه او ډېر مخته ولاړسي،په رښتيا سره دا تکليفونه زموږ انسانانولپاره دخالقﷻ د مهربانۍ څخه سرچينه اخلي، دا امکان وو چي په نړۍ کي هيڅ ناروغي،درد او غم نه وای، ځکه الله جل جلاله پر هر کار برلاسی دئ،دا امکان هم وو چي حساب او کتاب يؤازي دقيامت ورځې ته پريښودل سوی وای،مګر حکيم الله ﷻ داسي وغوښتل چي دځينو غفلتونو او فسادونو لپاره يؤڅه عذاب په دونيا کي هم په نظر کي ونيسي ترڅو دا عذاب دګناهګارانو او هغو وګړو لپاره چي دګناه هوډ لري دخطر يؤ زنګ وي،همدارنګه يؤڅه انعام نيکو کارنو ته ورکړي ترڅو دنورو نيکانو او دنيکی دهوډ کوونکولپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان چي دهرې ستونزي څخه په يؤازي ځان يا په توليز ډول کړيږي: د ژوند داري،اصلي او هغي سمي لارې څخه او ښتل دي چي الله ﷻ دانسان لپاره سمه ګڼلي او ټاکلي ده، هر کړوالی دسم چلند څخه د هغې ناپوهۍ دجامې له کبله دئ چي ځينو انسانانو پر تن کړي ده.

## دتخت،بستر زخم

ځيني ډاکټران وايي: دتخت،بستر زخم دهغو سختو ناروغيو دډلي څخه دئ چي ناروغ په رغتونونو کي دهغې څخه کړيږي، هغه وګړي چي دځينو رنځونو له کبله لکه دلګن خاسري دهډوکي دماتيدا،دملا دهډکو دماتيدني، دماغي وينې بهيدنې او ضربي،فلج،اوږدي بې هوښۍ او کوما له کبله په رغتونونو کي پر کټونو،کوپالونو،داوږدي مودې،ورځو اومياشتو لپاره بستري وي: دتخت يابستر دزخم لامل يې کيږي.

ښه نو ياد وګړي چي په يادو ناروغيو اخته وي داوږدي مودي لپاره پر تخت،کټ،بستر پريوتلو له کبله يؤ بل بار پر اوږو ورلويږي چي هغه دبدن دځينو برخو زخمونه وي،دبستر زخمونه.

ياد حالت نځکه رامنځته کيږي چي پوستکی او غوښه د داخل څخه د هډوکو دفشار او د دباندي څخه د سطحي دفشار لاندي راځي چي د نسجونو دکار او روان مخ ډب کوي چي په پايله کي يې ياد نسجونه دکاره لويږي او پرشاوخوا سخت ټپونه رامنځته کيږي.

ډاکټران ديادو ټپونو او زخمونو دمخنيوي لپاره هغو وګړو ته چي د ډېرمودې لپاره بستري کيدا ته اړتيا لري سپارښتنه کوي ترڅو هر دوه ساعته ورسته ديؤه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخ څخه پر بل اړخ واوړي، ځکه که یؤڅوک د دولسو ساعتونو څخه ډېر وخت پر یؤه اړخ یؤه حالت پریوځي پر پوست یې یاد زخمونه پیدا کیږي او ددپوستکي لاندي نسجونه یې کراکرار مړه کیږي، ښه نو یؤازنۍ لار دبستري ناروغ دیادو زخمونو څخه دژغورنې په پرلپسي ډول پر اړخ اړول، پراړخ اوښتل دي.

هغه چي ډېر دتعجب او حیرت وړ دي الله جل جلاله د سمڅې ملګري اصحاب کهف 309ه س کلونه په سمڅه کي خوندي او جوړ وساتل، بیله دي چي په بدن کي یې کوم ټپ زخم پیدا سي. سُوْرَةُ الكهف : 18

وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَذَاتَ الشِّمَالِ وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا

تا به د هغو په لیدلو انګېرلې وای چي ویښ دي، پداسي حال کښي چي هغوی ویده پراته ول. موږ هغوی په ښي او کیڼ اړخ باندي اړول رااړول او د هغو سپی د څمڅي په خوله کښي څنګلي غوړولي ناست ؤ. که تا چیري په یو پټ غوندي نظر هغوی لیدلي وای، نو په شا به ورڅخه په تیښته راګرځېدلی وای او پر تا به د هغو له لیدني څخه هیبت ناست وای.

***

که چیري دغه پر اړخ اړول را اړول نه وای: پوستکی به یې زخمي سوی وای،نسجونه به یې دکاره لویدلي وي چي ورسته یادحالت ددوئ دمرګ لامل کیدای سواي.

دا قرآني اشاره ده ترڅو موږ وپوهیږو چي دا ښه نه ده چي بدن پر یؤه حالت پاته سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهان وايې: دبدن هغه برخي چي ډېر ديادې ناروغۍ دخطر سره مخ دي هغه دملا او ځيګر برخې دي، ځکه هډوکي د کټ يا بستر پر کلک برخه ډېر فشار راولي چي په پايله کي يې غوښه کوټل،کښيکښل کيږي او دويني بهيدنه دستونزو سره مخ کيږي، هغه وخت ژونکو او حجرو ته پروخت غذا نه ورسيږي،نسجونه دکاره لويږي توريږي او ديادو زخمونو دمنځته راتګ لامل کيږي.

بيله شکه هغوئ چي دمرګ مخکي د ډېروخت لپاره پر کټ،تخت بستر سوي وي: غوښه يې پري پري سوي وي، الله جل جلاله فرمايي:{وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَذَاتَ الشِّمَالِ وَكَلْبُهُم بَسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا

تا به د هغو په ليدلو انګېرلې واى چي ويښ دي، پداسي حال کښي چي هغوى ويده پراته ول. موږ هغوى په ښي او کيڼ اړخ باندي اړول رااړول او د هغو سپى د ځمځي په خوله کښي ځنګلي غوړولي ناست ؤ. که تا چيري په يو پټ غوندي نظر هغوى ليدلي واى، نو په شا به ورځخه په تيښته راګرځېدلى واى او پر تا به د هغو له ليدني څخه هيبت ناست واى.

***

دا دالله جل جلاله کار او وينا ده که نه څنګه يؤ انسان پر يؤځاى دري سوه هجري لمريز کلونو دخوب کولو ورسته هم دهغوئ پربدن زخم نه پيدا کيږي، په دې کار کي عجبه حکمت او اشاره سته،پوهان يؤه شپه يؤ بيده کس در نظر لاندي وساتئ او وي ليدل چي هغه بيله دي چي پوه،خبر سي 36ځله پر اړخ وا وښتئ ،ترڅو دهغه غوښه دهډوکو او بسترې درفشار لاندي را نه سي او دوينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهيدنې منځ کي خنډ رامنځته نه سي، دا په عادي حالت کي دانسان دپر اړخ اوښتل وه،مګر هغه کسان چي ناروغان وي بايد دنورو خواخوږ په مرسته پر اړخ واړول سي ترڅو دبستر د زخمونو ټپونو په ناروغۍ اخته نه سي.

دا دالله جل جلاله دکلام يؤه اشاره ده.

# سګريټ څکول په نړۍ کي خطرناکه ساري ناروغي ده

تازه يؤکتاب {سګريټ څکول په نړۍ کي خطرناکه ساري ناروغي ده}خپور سوی دئ، ښايي کوم څوک ووايي په دې عنوان کي مبالغه سوي ده، مګر که په ياد کتاب کي څرګند سوي حقيقتونه ووينئ: نور به يې مبالغه ونه ګڼئ،دسويس چاپ يؤې مجلې ورسته دريؤې دقيقي څيړني په 1978زيږدېزکال کي وليکل: دسګريټو جوړونې کارخونې دهر وګړي لپاره دوه سګريټه توليدوي،دنړۍ دنفوسو شمېر اته ميلياردە وګړي ګڼو ،نو ددې پر بنسټ دسګريټ جوړولو فابريکې هره ورځ شپاړس ميلياردە سګريټ توليدوي،که په يادو سګريټو کي شته زهري مواد په يؤځل دټولو انسانانو وينې ته سيده پيچکاري سي ټول بشريت به لمنځه يوسي او ديؤه اتومي بم څخه به ډېرې خربوونکي اغېزې ترشا پريږدي.

ښه نو که دسګريټو زهري مواد بيل سي او مستقيم وريد ته پيچکاري سي يؤ روغ انسان به دېښو څخه وغورځوي.

نړيوال روغتيا سازمان په 1975کي يؤ راپور خپور کړ چي په يؤه برخه کي يې ليکل سوي وه:دهغو کسانو شمېر چي دسګريټو څکولو لکبله مري دهغو کسان دشمير څخه ډېردئ چي په : طاعون،ټي بي،وبا،جذام محرقې او ملاريا مري او دسګريټ څکوونکو دمړينې شمېر د ټولو ساري ناروغيو دمړينو دشمير څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر دئ، دغه خبرې دنړيوال روغتيايي سازمان دراپور په يوې برخې کي ليکل سوي وي.

لوی هيوادونه چي ځومره ماليات دسګريټو دتوليدونکو شرکتونو څخه لاسته راوړي، دهغو لګښتونو څخه ډېر کم دي کوم لګښتونه چي دوئ دسګريټو څخه دپيښيدونکو ناروغيو پر درملنه لګوي،ښه نو: دهغو مالياتو اندازه چي هيوادونه يې دسګريټ څکوونکو څخه اخلي دهغو لګښتونو څخه يې اندازه ډېر لږده ده چي بيرته يې دهغو ناروغيو د درملنې لپاره لګوي کوم چي دسګريټو دڅکولو څخه پيښيږي.

په 1978کي يوې بريتانوئ روغتيايي مجلي کي داسي مطلب خپور سوی وو چي ليکلي وه: چي دهرو درو سګريټ څکوونکو دډلې څخه يؤ تن دسګريټو دبدو اغېزو لکبله خپل ژوند دلاسه ورکوي.

لوی هيوادونه د ساري ناروغيو دخپريدا له کبله د ډېرې اندېښنې او اضطراب سره مخ کيږي؛ که چيري يؤه وبا په يادو هيوادونو کي خپره سي:ډېر وخت يې روغتيايي  مسؤلين چاره کوي اونه پريږدي چي وبا وګړوته ډېر زيان ورسوي، مګر ولې په پيل کي ددې زيان،لوی خطر او دسګريټ دوژنکو پايلو سره مبارزه نه کوي؟

ځواب دادئ چي دسګريټ دلګولو سره سم لاسي دسګريټو زيان رسوونکي پايلي نه  ځرګنديږي بلکي د شلو،پنځويشتو يا دهغه څخه ډېرو کلونو ورسته ځرګنديږي.

ځوانان سګريټ څکوي او نه پوهيږي چي کوم کار کوي، مګر دشلو کالو ورسته به دسګريټو بدو او ډېرو زيان رسوونکو پايلو باندي خبر او وپوهيږي ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوئ به یې خپله تجربه کړي، دانسان فطرت داسي جوړ دئ چي خطر سیده ووینې بیا یې پام ور اوړي، مګر راتلونکو خطرونو ته یې پام نه ور اوړي.

په یاد راپور کي هم دارنګه دا هم ویل سوي چي یو سګریټ د شریانونو دعمر په نسبت دهمدې سګریټ دڅکولو دوخت په اندازه دانسان عمر کموي.

ښه نو په دې حساب که یو وګړی د ورځې شل سګریټ وڅکوي، زموږ مسلمانانو په حساب نه بلکي دشریانونو د تنګیدا او نازکوالي په حساب، دژوند پنځه کاله به یې کم سي.

هغه شیدې خوړونکي ماشومان چي د سګریټو د دود څخه په ډکو کوټو کي لویږي، نسبت هغو ماشومانو ته چي په پاکه هوا کي غټیږي، ډېر دسږو دالتهاب او برونشیټ ناروغیو باندي اخته کیږي، پردې اساس هغه پلرونه چي سګریټ څکوي، خپلو وړو ماشومانو ته لوی زیان،تاوان رسوي، دا دطب او رغتیا پوهنې یوه ثابته سوې خبره ده.

حکومتونه دسګریټ جوړولو شرکتونه مجبوره کوي ترڅو دسګریټو پر پاکټونو ولیکي: سګریټ څکول دروغتیا لپاره زیان لرونکي دي، مګر نړیوال روغتیایي سازمان ټول دسګریټو جوړولو شرکتونه مجبوره کړل چي ولیکي: سګریټ څکول دسږو او دساه دنلی دسرطان او دوینې دختې کیدو لامل کیږي!

پوهان وایي په سګریټو کي سته زهري مواد چي په سر کي یې نیکوټین دي دیوه ګرام په اندازه یې کولی سي یو سپی ووژنې او که یو څاڅکی یې دموږک په سترګه کي وڅڅوو دموږک دمړینې لامل کیږي.

که څلور څاڅکي نیکوټین آس ته په پوستکي کي ور ولګوو په څلورو دقیقو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



به يې دپښو وغورځوي، دا ښکاره او ثابتي سوي،تجريبه سوي خبرې دي چي هيڅ شک پکښي نسته.

په سګريټو کي يؤ بل زهر هم شتون لري چي شل برابره يې اندازه دهغې اندازې څخه زياته ده چي نړيوال روغتيايي سازمان او نورو روغتيايي سازمانونو يې په خوړو کي شتون ته اجازه ورکړي ده.

يؤبل ډول زهري ماده هم په سګريټو کي شتون لري چي دوينې دسرو کروياتو کارونه کمزوري کوي، دا ماده کاربن مونو اکسايډ ده چي دسرو کروياتو سره مله کيږي او دانسان دستړيا لامل کيږي،دوه نور سرطان پيښوونکي زهر نور هم په سګريټو کي شتون لري.

دغه دعلمي څيړونو دهغو راپورونو دځينو برخو خبرې وي چي د موثقو سرچينو څخه موږ را اخيستي دي.

په امريکا کي يؤه رسمي څيړنه په ډاګه کوي چي هرورځ دسيګريټو د دود لګبله زر وګړي خپل ژوند دلاسه ورکوي، چي دا شمېر دهغه شمېر وګړو لس برابره دئ چي په ترافيکي پيښو کي خپل ژوند دلاسه ورکوي.

نړيوال روغتيايي سازمان اعلان کړی چي سګريټو څکول د وژنکو ناروغيو لوی لامل دي.

اوس دسګريټ بدې اغېزې دبدن پر يؤه يؤه سيستم باندې در نظر تيروو.

## پرمغزو باندې دسګريټو څکولوبدې اغېزې

مغز دانسان دبدن يؤ اړين غړی دئ چي يؤ سلو څلويښت ميلياردہ بنسټيزې حجري لري چي دراوسه يې دندې په بشپړ ډول نه دي په ډاګه سوي، ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سربيره 14ميلیارده باندنی حجرې لري چي دانسان دبدن فكري ناحيه ده**

**دغه زيرک غړی چي وي نه سوای كولی خپل ځان وپيژني، دانسان دبدن ترټولو پيچلی غړی او دكايناتو يؤ پيچلی سيستم دئ.**

**ښنه نو سګريټ پر مغز كومې منفي اغېزې لري؟**

**په وينه كي حل سوي زهر چي كله مغزو ته رسيږي: مغز هغه په تېزی او آسانی سره جذبوي او په هغه لږ وخت كي انسان ته دسوستی، مړاوي والي،بې حسی او دروغجني خوښی احساس وركوي، په وينه كي حل سوي نيكوټين چي مغزو ته رسيږي،ځيني وخت دخوب،ځيني وخت ددروغجې خوشحالی احساس ځكوونكي ته وركوي.**

**ښنه نو دسګريټو دود چي نيكوټين پكښي شتون لري ديؤه لوري ارام بخښونكی دبل لوري بې حسه كوونكی او فعاله كوونكی دئ.**

**شپيته ګرامه نيكوټين دانسان دمړيني لامل كيږي.**

**ياد زهر دمغزو د غذا روان چار كمزوری كوي،چي پايله يې كيدای سي دمغزو دچرک التهاب لامل سي.**

**پر مغزو دنيكوټينو بله بده اغېزه د انسان دبغلونو دهډكو لړزه ده،همدارنګه پښو او لاسونو هډوكي هم په لړزه راولي، دمغزو التهاب ځكه يؤ سګريټ ځكوونكي ته پيښيږي چي دسګريټو ځكولو له كبله دويني د دوران ستونزو په عصبو كي رامنځته كيږي، همدارنګه ياد هلته دسر دبيلا بيلو دردونو لامل هم كيږي، دسګريټو دود دانسان يادابښت كمزوری كوي، او انسان په يؤه هيرونكي انسان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلوي، بله بده او منفي اغېزه پر عصبو دسګريټو داده چي دانسان د ذهن دسوستۍ، مړوي کيدا لامل کيږي،هغه وګړي چي سګريټ نه څکوي دهغو وګړو څخه با هوښه او حاضر ځوابه وي کوم وګړي چي سګريټ څکوي، همدارنګه ډېرى وختونه دسګريټ څکوونکو دذايقې،خوند حس کمزورى کيږي.

ديؤې علمي څيړنې پايله څرګندوي چي 6600حالتونه دا په ډاګه کوي چي دسګريټو د دود او ذهنې کمزورۍ ترمنځ اړيکه شتون لري.

## پر تنفسي سيستم دسګريټو څکولو بدې اغېزې

پوهان وايې: سيګريټ څکول پر تنفسي سيستم په اوله درجه کي منفي اغېزې لري، ځکه ياد سيستم دانګورو دواښکي په شان دئ، چي هره دانه يې يؤه الويلا يا هوايي کڅوړه ده، يادې کڅوړې خالي دي په هغوئ کي کاربن ډاى اکسايډ داکسيجن سره ځاى پرځاى کيږي، دا يؤه ډېره بنسټيزه يؤځاى کيدنه ده، ښه نو بايد وپوښتو سګريټ څکول په يادو هوايي کڅوړو کي څه وضيعت رامنځته کوي؟ دسږو او تنفسي لارې نسجونو او وريښته ته ورته جوړښتونو،سيلياوو ته زيان رسوي.

هو دساه دنلۍ وريښته ته ورته جوړښتونو سېلياوي کمزوري کوي او دپزې،ستونې، دساه دنلۍ او سږو دچرکي کيدا، التهاب لامل کيږي.

هغه وګړي چي سرګريټ څکوې دسګريټ نه څکوونکو په نسبت 20برابره ډېر دسرطان،کينسر دخطر سره مخ دي.سګريټ څکول دتنفسي يا دساه کښلو دلاري ساتونکي وسايل دستونزو سره مخ کوي،دبيلګې په ډول ترخيا، دساه نلى چي الله جل جلاله په حيرانوونکي ډول جوړ کړي ده، هرشى چي حنجرې ته ننوځي نه سي کولى هلته پاته سي، بلکي دساه دنلۍ وريښته ته ورته جوړښتونه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ لورته را پري وهي او دحنجرې دپاى په برخه کي سره راټوليږي او بيا دانسان په خوښه دمعدې يا دخولې خواته دګروبي په ډول ليږل کيږي.

دسګريټو په دود کي دنيکوټين زهري ماده شتون لري چي يادو سږياوو ياتنفسي وريښتو ته زيان رسوي يا يې کارونه مړوي؛ سست کوي، کله چي ددې تنفسي وريښتو کارونه دستونزو سره مخ سول، تنفسي سيستم ته ننوتلي ذرې، ميکروبونه او چرک په تنفسي لاره کي جمعه کيږي، ځکه هغه سيستم چي هغوئ يې نه پريښول چي په تنفسي سيستم کي پاته سي کار يې دستونزو سره مخ سوى دئ، چي په پايله کي يې دساه نلئ اوسږي د التهابي کيدو دخطر سره مخ کيږي.

ديؤې دقيقې شمېرنې پر بنسټ په هرو زرو سګريټ څکوونکو وګړو کي 60تنه يې دسږو په سرطان اخته کيږي، په داسي حال کي چي دسګريټ نه څکوونکو زرو وګړو لمنځه يؤازي دوه تنه دسږو په سرطان مبتلا کيږي.

ځيني پوهان وايي: دسګريټ په دود،لوګي کي سته زهر د حجرو،ژونکو د پورته،کښته کيدو لامل کيږي، دحجراتو دغه پورته کښته کيدل د حجراتو دتخرش، توږل کيدا لامل کيږي چي همدا دحجراتو دپرلپسي تخرشيدنه، توږل کيدل، ياني زخمي کيدل او جوړيدل دسرطان دلاملونو څخه يؤ لامل دئ.

## پر زړه او رګونو دسګريټو څکولو بدې اغېزې

دزړه او رګونو ډېره برخه ناروغۍ دسګريټ څکولو څخه رامنځته کيږي، دزړه جراح ډاکټران وايي: ډېر دزړه داخلي جراحۍ دهغو زيانونو له کبله دي دي چي په لومړۍ درجه کي دسګريټو پر څکولو پوري اړه لري، کله چي يؤ وګړى

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحنجرې په سرطان اخته سي او لاس پرجيب کښيږدي او پام کيږي يې چي دسګريټو قوطی يې په جيب کي ده، هغه ته ډاکټران وايي: سرطان دي دهمدې قوطی له کبله دئ.

حقيقت دادئ چي الله جل جلاله دانسان داکرام لپاره او دهغه دسلامتئ په پار دنه بربادئ او هلاکت څخه دساتني لپاره دهغه په بدن کي ډېر پيچلي او او اړين سيستمونه ځای پرځای کړي چي دخطر په وخت کي دهغه څخه ساتنه وکړي. که يؤڅوک پر لاره روان وي او ناڅاپه مار ووينې څه به پيښ سي؟ دا کارونه به په لږو خت کي سرته ورسيږي: بيله ځنډه به دمار قيافه،شکل دانسان دسترګو پرشبکيو رسم سي چي دا د احساس پړاو دئ، دليدلو احساس، ياني وګړي خطر وليدئ او هغه يې احساس کړ،ورسته انځور دسترګو دشبکيي څخه دمغز د ادراک برخې ته ليږدول کيږي، مغز دخپلو مالوماتو د کتلو ورسته دهغه پيژندنه کوي ياني د خپلې حافظي دانځورونو سره يې انځور اومالومات ګوري او په اړه يې ټول مالومات ارزوي، ورسته درمالومات راغونډولو مغز دې پايلې ته رسيږي چي داشی مار دئ او دانسان ژوند دخطر سره مخ کوي؛ حافظه دانسان د تجربو او دپوهې ټول مالومات دانسان په واک کي ورکوي ترڅو دليدلي شي په اړه بشپړ پوه سي، ښه نو اوس زه دخطر سره مخ يم، دلته نو ماغزه چي دعصبو اره سيسټم دئ په کار پيل کوي،همدارنګه دپيچلو لارو؛ وسيلو څخه په کاراخيستنې خودکاره عصب خبروي او فوق الکليه غده مستقيمً په دې امر باندي اقدام کوي.

امر لومړی داسي وي چي ټولو دوينې رګونو ته حکم کوي چي دوينې دساتنې په پار خپل ځان تنګ کړي، په چټکۍ سره ټول رګونه تنګيږي په همدې خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دانسان رنګ ژړ کيږي،دويم پيغام زړه ته ليږل کيږي ترڅو خپل ضربان،تپيدل ډېر کړي،په عادي حالتو کي زړه په دقيقه کي 72ځله شاوخوا غورځي مګر ځيني وخت دخطر سره دمخکيدو په وخت کي دزړه تپيدا په يؤه دقيقه کي در180ځلو پوري رسيږي ترڅو په زياته پيمانه وينه عضلاتو ته ورسوي.**

**دريم امر سږو ته کيږي ترڅو خپل کار ډېر کړي، دهمدې کبله بيريدلی کس ساه وهي.**

**څلورم امر اينې ته رسيږي ترڅو څه اندازه خوږه وينې ته پريږدي ترڅو بيريدلی شخص دخطر سره مقابله وکړي.**

**پنځم امر دوينې يؤې برخې پلاتيلتونو ته کيږي،پلاتليتون الله جل جلاله دشريانونو دهرډول خطر،پري کيدنې او درز کيدنې د بندېدا بياجوړيدا لپاره خلق کړي، ښه نو کله چي هغوئ ته امر ورسيږي دهغوئ اندازه په وينه کي ډېريږي.**

**ديادولو وړ ده چي ياد حالت دانسان لپاره طبيعي دئ، کله چي انسان دخطر سره مخ کيږي: دزړه تپيدا يې ډېريږي، سږي خپل فعاليت ډېروي، دوينې دتنګيدا له کبله يې رنګ ژړ کيږي، په وينه کي يې دخوږې اندازه ډېريږي او په وينه کي دلامبو وهونکو،درګونو درزونه بندونکي مادي پلاتليتونو اندازه ډېريږي.**

**مګر دود کوم بلا انسان ته راولي؟**

**زهري ماده نيکوتين په نامه په دود کي شتون لري چي د ادريترنالين ترشح ډېروي، همدا د ادرينالين هورمون دئ چي دزړه تپيدا ډېر او شريانونه تنګوي، ځکه خو د ډېر سګريټ څکوونکو رنګ ژړ وي، ښه نو خطر چيري دئ ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په پرلپسي ډول دشريانونو،پاکه وينه رسوونکو تنګوالی د زړه دشريانونو دبندښت لامل کيږي او د زړه اجينا لامل کيږي، همدارنګه کيدای سي دمغزو په دننه کي دوينې دختِه کيدا يا درګونو دبندېدا لامل سي چي پايله کي يې دمغزي سکته او دبدن فلجيدا پيښيږي، همدارنګه کيدای سي دپونډيو رګونه بند کړي ترڅو پښه تري مړه سي او بيله پري کيدا بله چاره پاته نه سي.**

**دسګريټو دڅکولو بل زيان او خطر دادئ چي رګونه سوست، بند او مړه کوي.**

**دشريانونو او وريدونو تګيدل څه خطر لري؟**

**دوينې فشار لوړ بيايي!**

**هغه څه چي يادونه تري وسول هغه څه دي چي شکه نسته په کښيکي او په ډګه سوي،ثابت سوي دي.**

**په همدې خاطر دسګريټو جوړونکي،توليدونکي شرکتونه اړدي چي دسګريټو پر قطيو وليکي چي: دسګريټ څکول دزړه او وينې درګونو لپاره زيان لري.**

**دوينې په سرو کروياتو کي يؤه اندازه هيمو ګلوبين شتون لري چي د سږو څخه اکسيجن را اخلي او هغه حجرو،ژونکو ته رسوي، ترڅو قندي مواد په مصرف ورسيږي او دبدن قوه پوره کړي.**

**دهغو وګړو هيمو ګلوبين چي سګريټ څکوي په لومړي کاربن ډای اکسايډ چي دسګريټ څکولو له کبله منځته راځي سره يؤځای کيږي، ددغه ترکيب،يؤځای والي له کبله هيمو ګلوبين د اکسيجن د اخيستني او ليږد څخه پاتي کيږي، دسګريټ څکوونکي انسان پنځلس په سلو کي په وينه داکسيجن دليږد څخه پاته کيږي او نه سي کولی خپله دنده په ښه ډول سرته ورسوي، که دسګريټو وخت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او تعداد زيات سي دوينې دسروکرويات‌و يا په هغوئ کي سته هيمو ګلو بين يؤ پر دريمه برخه دسږوڅخه د داکسيجن دليږد،انتقالو څخه ناتوانه کوي، دا د سګريټ څکولو اغېزه پر زړه،شريانونو او وريدونو باندي ده.**

**په نړئ کي اتيا سلنه دزړه ناروغان سګريټ څکوونکي دي.**

**دوينې پر دورانې سيستم دسګريټو څکولو منفي،بدې اغېزې.**

**دسګريټو دود خپل شاوخوا ته يؤ ماده خپروي چي کولی سي دزړه ضربان،تيپدل ډېر کړي، رګونه تنګ او د هغوئ دپيچل کيدا لامل سي،همدارنګه دسګريټو دود دزړه دانجينا لامل کيږي،که دسګريټو هره قوطۍ وګورئ پر هغې به ليکل سوي وي: سګريټ څکول دتنفسي سيستم،رګونو او زړه او رګونو لپاره خطرناکه دي،دغربي نړئ د ډاکټرانو يؤ څېړنېز رپور په 307پاڼو کي د دود او روغتيا په نوم وليکئ چي په هغه کي يې دسګريټ څکولو دخطرونو په اړه مالومات وړاندې کړي وه.**

**مهربانه الله ﷻ هر هغه څه چي ګټور او بې زيانه وي هغه يې زموږ لپاره حلال کړي دي او هر هغه څه چي خطر ناک او زيان رسوونکي دي هغه يې حرام کړي دي، په مسنتدو دليلونو داثابته سوي ده چي سګريټ څکول زړه او رګونو ته زيان لري، رګونه تنګوي، دزړه دنارغيو لامل کيږي، سږو او تنفسي لارو دنارغيو لامل کيږي، دسږو او پوستکي دسرطان لامل کيږي، بنه نو ددې هر څه خطرونو په شتون کي موږ بيا ولي سګريټ څکوو؟**

**ولي په خپلو لاسونو خپل مغز او بدن برباد کړو؟ آيا زموږ ژوند زموږ شتمنې نه ده؟ سګريټ څکول ناروغي او بستري کيدلو سره ورته دي، روغتيا هغه تاج دئ چي يؤازي ناروغان هغه ليدلی سي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سترګي:** دسګريټو دود دسترګو دشاوخوا دپړسوب او وچوالي سبب کيږي، دليدلو دعصبو د التهاب او ويټامين بي 12دکمښت لامل کيږي.

## پر هضمي سيسټم دسګرېټ څکولو بدې اغېزې

سلنه د شونډانو په سرطان اخته وګړي سګريټ څکوونکي وګړې دي، 90 همدارنګه دژبې او مرۍ سرطان، دناوړو دغدو پاړسوب، د خوړو په زحمت تيرونه دسګريټ څکوونکو وګړو په منځ کي ډېر دي، پردې سربيره دسګريټو دود داينې دزهري کيدنې، کوچنۍ کيدنې يا لويدنې او بلاخره داينې دسرطان لامل کيږي.

## پر تناسلي سيسټم دسګريټ څکولو بدې اغېزې

د نارينه دجنسي کمزورۍ يؤ لوی علت دسګريټو څکول دي، دسګريټو دود دنارينه مني خرابوي، سګريټ څکول دنارينه او ښځينه دشنډتوب لامل کيږي، دخواند او ميرمنې ترمنځ اړيکه کمزوري کوي، ډېروخت دسګريټ څکوونکی ښځې ماشوم مړ نړۍ ته راځي، بې وخت لنګون او دماشوم کم وزنه زيږيدل دسګريټ څکولو له کبله دي، ځيني وخت دماشومان ناڅاپي مړينه،بد اخلاق، په ځانګو کي مړينه، دماشومانو نفستنګي او کنوالی د هغوئ دمور او پلار دسګريټو څکولو له کبله وي.

جالبه داده چي شيدې خوړونکي ماشومان دغه زهر دشيدو سره خوري چي دهغوئ د پرلپسي خواګرځئ، دعضلاتو شخوالی،تشنج او دزړه دضربانو ډېريدل دسګريټ څکوونکي مور دشيدو زهري اغېزي دي چي ماشوم ته دشيدو دلارې ليږدول کيږي، همدارنګه ځيني وخت دود دښځو دتيو د چرکي کيدو لامل کيږي چي ځيني وخت يې پايله دتيو په سرطان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله جالبه خبره داده که چیري سل نفره شراب وڅښي په شرابو دمعتاده کیدو سلنه یې 15ده، که په همدې تعداد وګړي سګریټ وڅکوي نو دمعتادۍ سلنه یې 85 ته لوړیږي چي دیاد وګړو د ډلې به 85کسان دسګریټو په زیان رسوونکي نارغۍ باندي اخته سي.

ځیني وګړي اند کوي چي دود دوه ډوله دۍ پاک دود او ناپاکه دود، وګړي پاک دود هغه دود ته وایي چي دسګریټو دفلټر څخه تیرسوی وي، مګر رښتیا دادې چي دسګریټو فلټر یوازي د مښلیدونکي مادې، قطران و سړو ته دننوتلو څخه مخنیوی کوي اوبس، په سګریټو کي سته ټول زهر دفلټر څخه تیریږي، ښه نو دا ګومان کول چي دفلټر څخه تیرسوی دود پاک بې زیانه دۍ دروغتیا پوهنې داړخه ناسم دۍ.

د دود ترټولو زیان رسوونکی اړخ دادۍ چي بده اغېزه یې یوازي دسګریټ څکوونکي پوري نه پاتیږي،بلکي دسګریټ څکوونکي شاوخوا ناست وګړو،میرمنې، ماشومانو، ملګرو ته هم لیږدول کیږي.

کله چي یو کس په داسي یوه کوټه کي دڅلور ساعتونو لپاره وي چي هلته سګریټي وګړی هم وي دا داسي بیلګه لري لکه یا کس چي 10داني سګریټ څکولي وي،په طبي ژبه دي کس ته منفي سګریټي ویل کیږي، یانې خپل سګریټ نه څکوي مګر دبل سګریټي سره اوسیږي، ښو نو څوک چي دخلګو پروړاندې سګریټ څکوي هغوۍ ته روغتیایي زیان رسوي.

شمېرنې ښیې چي په امریکا کي هرکال 350زره کسه دسګریټو څکولو له کبله مري، په بله مانا هره ورځ زر کسه سګریټ څکوونکي او یا هغه کسان چي سګریټ نه څکوي بلکي دکورنۍ کوم غړی یې سګریټ څکوي مري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دامريکا څخه صادريدونکي سګريټ ډېر مضر،زيان رسوونکي دي، ځکه دزهري مودو اندازه يې ډېره لوړه ده دمعمول څخه لس برابره لوړه.**

**ځيني سګريټ څکوونکي وايي: زه هيڅ درد نه لرم، پر لاره ځم، ځغلم،ددې سربيره چي سګريټ څکوم ښه روغتيا لرم،بايد ووايو دوئ ربښتيا هير کړي دي، دسګريټو زيان هتمن بدن ته رسيږي بيله دې چي هغوئ ژر ښکاره سي، که په همدې حالت کي هم ددوئ دبدن دقيق ازمايښت وسي وبه ليدل سي چي بدن ته يې تاوان رسيدلی دئ.**

**ښه نو که کوم وګړی اند کوي چي هيڅ ناروغي او نارحتي نه لري داخبره يې سمه نه ده دسګريټو څکولو بدې اغېزې به يې هرومرو په بدن کي خپرې سوي وي، يؤه سره پوله،ليکه شتون لري: هر کله چي خرابوونکي زيانونه هغه ليکې ته ورسيدل: دخطر نښې به را څرګندې سي او دغه حالت دمقاومت دليکې دماتولو په نامه يادوې،که يؤ څوک دتلې په يؤه پله کي پنځه کيلو وزن ږدي په بله کي يؤه کيلو،ورسته دوې، بيا څلو اوبيا نور وزن هم اضافه کوي ورستی ګرام به د ترازو پلې برابرې کړي،هو همدا اخري يؤه ګرام دترازو پلې برابري کړي.**

**دسګريټو څکولو لپاره هم يؤ سور خط دئ که دهغه څخه پورته سي خپلې زيان رسوونکي نښې به څرګندې کړي، داسي هم نه ده چي لږه موده او يا لږ سګريټ څکول زيان نه لري بلکي لري يې کيدای سي ژر خپلې منفي اغېزې نه کړي څرګندي خو ورسته يې څرګندوي.**

**يؤ غربي پوه وايي: دسګريټو شرکتونه ياني دمرګ شرکتونه.**

**مسلمانو عالمانو هم دسيګريټو دخطرو څخه دلږ خبراوي له کبله ضد او نقيضي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



فتاواوې ورکړي دي،ددې دلې څخه علامه ابن عابدين دسګريټو څکولو په اړه

وايي: ځينو اولنو هغوئ حرام بللي، ځينو مکروه او ځينو مباه بللې دي،ځکه چي خطرونه يې ورته پوره نه وه څرګند،هغو اولنو چي سيګريټ څکول حلال بللې دي هغوئ يې دخطرونو څخه نه وه خبر، که چيري دوی دسګريټو په اړه د نوي څرګندو سو خطرونو څخه خبر وای بېله شکه زموږ څخه ژر به يې هغه حرام بللي وای.

ښه نو دسګريټو څکولو ددې دومره زيانونو دشتونه سره نور دې ته خبره نه پاته کيږي چي سګريټ حرام دي،ځکه رسوالله ﷺ دالله جل جلاله دطرفه راغلی چي زيان رسونکي او ناپاک خورکونه حرام او پاک او ګټور خورکونه حلال کړي.

څنګه به يې ښه ژوند غوښتونکی دا خوښه وګڼې چي دسګريټو ددې ټولو زيانونو او خطرونو سربيره سګريټ وڅکوي.

سګريټ نا پاکه دي ځکه: ډېر خطر ناکه دي، مسلمان ته ښايي چي دهر خورک په پيل کي بسم الله او په اخر کي الحمدلله ووايي او دالله جل جلاله څخه وغواړي چي دهغه نعمتونه نور هم ډېر کړي. الله جلّ جلاله فرمايي: سُوْرَةُ الأعراف : 157

الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِىَّ الْأُمِّىَّ الَّذِى يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِى التَّوْرَىٰةِ وَالْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَىٰهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَٰلَ الَّتِى كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ فَالَّذِينَ ءَامَنُوا بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِىٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ ۙ أُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ

نو نن دا رحمت د هغه چا په برخه دی چيدد ې نبي اُمي پېغمبر پېروي غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، چي د هغه يادونه هغوی په تورات او انجيل کښي خپلي مخي ته ليکلې مومي. هغه دوی ته د نېکی حُکم کوي او له بدیٔ څخه يې منع کوي. د دوی لپاره پاك شيان حلال او ناپاکه شيان حراموي. او له دوی څخه هغه پېټي کوزوي چي پر دوی دروند شوی ؤ او هغه بنديزونه ماتوي چي په هغه کښي دوی کلك تړل شوي ول. نو کوم کسان چي پر ده [محمد (ص)] ايمان راوړي او دده ملاتړ او مرسته وکړي او د هغې روښنايی پيروی غوره کړي چي له ده سره نازله شوېده، هماغوی بری موندونکي دي.

***

هغوئ چي سګريټ څکوي بايد وپوهيږي چي خپل ځان په هلاکت کي اچوي

الله جلاله بيا فرمايي: سُوْرَةُ النِّسَاء : 29

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِالْبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ وَلَا تَقْتُلُوٓا أَنفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا

اې مؤمنانو! په خپلو منځو کښي يو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، مګر (خورئ يې) که راکړه ورکړه د دواړو خواو په خوښیٔ سره (په روا توګه) وي، او خپل ځانونه مه وژنئ. باور ولرئ چي الله پر تاسي مهربان دی.

****

اسلام ځان وژنه حرامه کړي ده، داسي ځان وژنې سته چي په لږ وخت کي سرته رسيږي لکه په چاکو ځان وهل يا په ټوپک ځان ويشتل، مګر بل ډول ځان وژنه سته چي هغه ته تدريجي ځان وژنه وايي لکه سګريټ څکول. دابو هريره (رض)څخه روايت سوی چي رسوالله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**منْ تَردي مِنْ جبلٍ فقتل نفسه فَهو في نارِ جهنّم يتردي فيهِ خالداً مخلَّداً فيها أبداً و منْ تحسي ُسمًّا فقَتَلَ نفسةً فَسمه في يدِهِ يتحساهُ في نارِ جهنم خالِدا مخلَّداً فيها أَبداً و منْ قتل نفسهُ بحديدةٍ، فحديدتُه في يده يجأُ بِها في بطنِهِ في نارِ جهنّم خالداً مخلّداً فيها أَبداً >>بخارې 5442**

**دحديث شريف مفهوم دئ: هرڅوک چي دغره څخه ځان وغورځوي او مړسي: دجهنم په اور کي به وي او تل به هلته وي،هرڅوک چي زهر وخوري او خپل ځا ووژني، هغه زهر به يې په لاس کي وي او دجهنم د اور په منځ کي به هميشه هغه څکي،هر څوک چي په وسپنه ځان مړ کړي وسپنه(چاقو) به يې په لاس کي وي او دجهنم د اور په منځ کي به تل هغه په خپل نس کي وهي.**

***

**هر غريب چي سګريټ څکوي بايد وپوهيږي چي سم کار نه کوي هرشتمن چي سګريټ څکوي اسراف کوي.**

**الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ بنىٓ اسرآئيل/الإسرَاء : 27**

**{ إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓا إِخْوٰنَ الشَّيٰطِينِ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا}**

**بې ځايه لګښت کوونکي د شيطان وروڼه دي او شيطان د خپل رب ناشکره دی.**

***

**که چيري هغه مځکه چي پر هغې تمباکو کرل کيږي، پرهغې کم ارزښته شيان لکه ترکارئ او ميوې وکرل سي دا به دنړيوالو لپاره ډېره لويه ګټه وي، دکار ساحه به ډېره سي، دوګړو دروغتيا ساتنه به سوي وي او انسانيت ته به لوی خير رسيدلی وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعثماني خلافت يؤه پوه د سيګرټو دبندېدا او تحريم لپاره فتوا ورکړل،هم دارنګه نور لوی اسلامي پوهانو لکه: علامه ابراهيم لقاني،شيخ سالم سنبوري او دسعودي عربستان مفتيانو: شيخ بدالدين حسني، شيخ شام،شيخ على دقر او شيخ عبدالحميد هم دې ته ورته فتوا وي ورکړي دي.

دالازهر پوهنتون شيخ، شيخ جادالحق داسي فتوا ورکړي ده:

دا ښکاره ده چي دنشه يې توکو کارول هغه که هرډول وي او په هر لاره چي وکارېږي، اوس يا په راتلونکي وخت کي ډېر لوی زيان دانسان بدن او شتمنۍ ته رسوي،هغه په بيلا بيلو ناروغيو اخته کوي، دغو زيانونو او خطرونو ته په پام او هغه چي يادسول دهغوئ کارول حرام دي، نو په هيڅ وجه د انسان دروغتيا اوشتمنۍ دساتنې او دتاوان څخه دپرهيز او هغو زيانونو ته په کتلو چي روغتيايي پوهې هغه په ډاګه کړي دي دمسلمان لپاره داښه او جايز نه دي چي هغوئ مصرف، وکاروي.

پورته ټول مطالب د منل سو او معتبر علمي څيرونو څخه را اخيستل سوي دي او رښتيا هم همدا دي.

بله ديادولو وړ خبره داده چي پخوا دزړه، رګونو او وينې ناروغۍ دمعمول له مخې په 65او 70کلنۍ کي رامنځته کيدلي مګر اوس يادې ناروغۍ په ځوانانو 25او 30کلنو کي رامنځته کيږي او دځوانانو دمړيني لامل کيږي دا ټول دنشه يي توکو او سيګريټو ناوړه زيانونه دي چي پخوا دومره نه وه.

دژوند دري لويي اړتياوي دي لومړۍ: هدايت دويم: روغتيا او دريم: لياقت او وړتيا، ديادولو وړده چي بېله روغتيا لياقت او وړتيا مانا نه لري، دژوند خوند په ناروغۍ کي بې رنګه وي بلکې ژوند هيڅ خوند نه لري، او بې هدايته ياد سوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ټول بې مانا دي، ښه نو يؤ د ركنونو څخه دمؤمن روغتياده ځكه د روغتيا په شتون كي مؤمن كولى سي خپله اصلي دنده دالله جل جلاله عبادت او بندګي په ښه ډول سره وكړي، كله چي موږ ته دا مالومه سي چي سګريټ زموږ دروغتيا لپاره زيانمن دي موږ ته نه ښايي چي حتا يؤ دود سګريټ هم وڅكوو.**

**الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ الأعرَاف : 157**

**ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِىَّ ٱلۡأُمِّىَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُ ۥ مَكۡتُوبًا عِندَهُمۡ فِى ٱلتَّوۡرَٮٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ يَأۡمُرُهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَٮٰهُمۡ عَنِ ٱلۡمُنڪَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓٮِٕثَ وَيَضَعُ عَنۡهُمۡ إِصۡرَهُمۡ وَٱلۡأَغۡلَٰلَ ٱلَّتِى كَانَتۡ عَلَيۡہِمۡ‌ۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ مَعَهُ ۥۤ‌ۙ أُوْلَٰٓٮِٕكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ**

**نو نن دا رحمت د هغه چا په برخه دى چي ددې نبي اُمي پيغمبر پيروي غوره كړي، چي د هغه يادونه هغوى په تورات او انجيل كښي خپلي مخي ته ليكلې مومي. هغه دوى ته د نيكى حُكم كوي او له بدئ څخه يې منع كوي. د دوى لپاره پاك شيان حلال او ناپاكه شيان حراموي. او له دوى څخه هغه پيټي كوزوي چي پر دوى دروند شوى ؤ او هغه بنديزونه ماتوي چي په هغه كښي دوى كلك تړل شوي ول. نو كوم كسان چي پر ده [محمد (ص)] ايمان راوړي او دده ملاتړ او مرسته وكړي او د هغې روښنايئ پيروئ غوره كړي چي له ده سره نازله شوېده، هماغوى برى موندونكي دي**

*******

**الله جل جلاله پاک او ګټور خواړه زموږ لپاره حلال، ناپاكه او زيان رسوونكي خواړه زموږ لپاره حرام كړي دي،مؤمن بايد هغه شيان چي دهغه لپاره ګټور او هغه چي دهغه لپاره زيان رسوونكي وي ښه وپيژني،مؤمن بايد وپوهيږي چي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ژوند څنګه تيروي،رسوالله صلی الله عليه وسلم موږ دهغو شيانو او کارونو څخه منعه کړي يو چي موږ ته زيان رسوونکي دي، الله جل جلاله موږ ايمان ته تشويق کوي او هغه زموږ په زړونو کي ځای لري، کله چي انسان دخپل خالق جل جلاله داحکامو څخه سرغړونه کوي: ژوند يې دستونزو څخه ډکيږي، په دې نړۍ او اخرت کي ارام،امنيت او خوښۍ ورڅخه اخيستل کيږي.

## دسګريټ څکوونکي منفي اغېزې پر شاوخوا وګړو

يانې دا چي د سګريټو د دود د خطر سره دسګريټ څکوونکي دشاوخواخلګو مخ کول.

دسګريټو دود خپله دسګريټ څکوونکي څخه ډېر دهغه پر شاوخوا په سربسته او رش په ځايونو کي ډېره منفي اغېزه کوي،د يوې علمې څيړنې په راپور کي چي پوهانو سرته رسولي ليکل سوي دي: دسيګرټو دود دهغو کسانو لپاره چي سګريټ نه څکوي مګر دسګريټ څکوونکي دسګريټ دود تنفس کوي ددې لامل کيږي چي دهغوئ دوينې دکلسټرول اندازه لوړه سي،

او دوينې لوړ کلسټرول،غوړ خپله دزړه او رګونو دناروغۍ لامل کيږي، همدارنګه دسګريټ مړ دود تنفس کوونکي کسان کيدای سي د سږو په سرطان،ستونې او پوستکي او نورو اړوند دسګريټو د څکلو څخه رامنځته کيدونکو ناروغيو باندي اخته سي.

همدارنګه بايد ووايو چي دسګريټ مړدود اميندوارې،بلاربې ښځې او جنين ته زيان رسوي، که څه هم خپله سګريټ نه څکوي، کوم څوک چي داميندوارې

ښځې مخته سګريټ څکوي بايد وپوهيږي چي زما سګريټ څه کول دښځې دخيټې ماشوم څه زيانونه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه دنيکوټين زهري ماده جنين ته رسيږي، ښه نو کله چي ښځه خپله هم سګريټ نه کاروي او دورځې دري ساعته دنورو دسګريټ څکوونکو دسګريټو مړ دود تنفس کوي کيدای سي دهغې څخه پيدا کيدونکی ماشوم په خبرو کولو کي ستونزو او ذهني ستونزو باندي اخته سي ،مګر که چيري اميندواره ښځه خپله سګريټ څکوي،کيدای سي پيدا کيدونکی ماشوم يې ذهني او عقلي ستونزې ولري، يا کيدای سي کم وزنه داسي چي د درنيمو کيلو څخه يې وزن کم وي نړۍ ته راسي، دا هم امکان لري چي دسګريټ څکوونکو ښځو ماشومان دطبيعي وخت څخه مخکي پيداسي.

جالبه داده چي يؤازي خبره همدلته په يؤه نسل کي پای نه مومي بلکي هغه ښځې چي خپله سګريټ څکوي يا دنورو دسګريټو دود تنفس کوي دهغې دماشومانو ماشومان به هم دسګريټو دبدو اغيزو څخه خلاص نه وي بلکي پر دويم نسل به يې هم منفي اغيزي ولري.

دا دهغو وګړو په اړه څو خبرې وي چي خپله سګريټ نه څکوي بلکي دنورو سګريټ څکوونکو وګړو دسګريټ دود تنفس کوي او دهغوئ پر بدن منفي اغيزي کوي، سګريټ څکوونکي بايد وپوهيږي چي زما سګريټ څکول يؤازي پرما نه بلکي پر شاوخوا ناستو،ولاړو وګړو هم بده اغېزه کوي او که دوئ ته زيان ورسيږي هغوئ ته دزيان رسيدنې لامل به زه يم

الله جل جلاله فرمايي: سُوۡرَةُ الأعرَاف : 157

ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِىَّ ٱلۡأُمِّىَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُ ۥ مَكۡتُوبًا عِندَهُمۡ فِى ٱلتَّوۡرَٮٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ يَأۡمُرُهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَٮٰهُمۡ عَنِ ٱلۡمُنڪَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَـٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيۡہِمُ ٱلۡخَبَـٰٓٮِٕثَ وَيَضَعُ عَنۡہُمۡ إِصۡرَهُمۡ وَٱلۡأَغۡلَـٰلَ ٱلَّتِى كَانَتۡ عَلَيۡہِمۡ‌ۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ مَعَهُ ۥۤ‌ۙ أُوْلَـٰٓٮِٕكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو نن دا رحمت د هغه چا په برخه دی چي ددې نبي اُمي پېغمبر پېروي غوره کړي، چي د هغه يادونه هغوی په تورات او انجيل کښي خپلي مخي ته ليکلې مومي. هغه دوی ته د نېکی حُکم کوي او له بدیٔ څخه يې منع کوي. د دوی لپاره پاك شيان حلال او ناپاکه شيان حراموي. او له دوی څخه هغه پېټي کوزوي چي پر دوی دروند شوی ؤ او هغه بنديزونه ماتوي چي په هغه کښي دوی کلك تړل شوي ول. نو کوم کسان چي پر ده [محمد (ص)] ايمان راوړي او دده ملاتړ او مرسته وکړي او د هغې روښنايی پيروی غوره کړي چي له ده سره نازله شوېده، هماغوی بری موندونکي دي.**

********

**اوس دعلمې څيرونو ورسته دا په ډاګه سوي ده چي دسګريټو دود چټل او دزيان رسوونکو موادو لرونکی دئ چي دانسان بدن ته لوی زيانونه لري.**

# پر زړه او رګونو دسيګريټ څکولو اغېزې

**الله جل جلاله انسان ته دعزت ورکولو په،وياړ،مقام او ارزښت ورکولو په پار دانسان په بدن کي دپيچلو سيستمونو،ګډکارو سيستمونه ځای پرځای کړي دي،چي دزيان او خطر په وخت کي دانسان سره ملګري پاته سي؛ دبيلګي په ډول: که يؤڅوک پر لاره روان وي او ناڅاپه مار ويني څه به وسي؟ دا کارونه به په لږو خت کي سرته ورسيږي: بيله ځنده به دمار قيافه،شکل دانسان دسترګو پرشبکيو رسم کيږي چي دا داحساس پړاو دئ، دليدلو احساس، يانې وګړي خطر وليدئ او هغه يې احساس کړ،ورسته انځور دسترګو دشبکيي څخه دمغز د ادراک برخې ته ليږل دول کيږي، مغز دخپلو مالوماتو د کتلو ورسته دهغه پيژندنه کوي يانې د خپلې حافظي دانځورونو سره يې انځور اومالومات ګوري او په اړه يې ټول**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالومات ارزوي، ورسته درمالومات راغونډولو مغز دې پايلې ته رسيږي چي دا شی مار دئ او دانسان ژوند دخطر سره مخ کوي، حافظه دانسان د تجربو او دپوهې ټول مالومات دانسان په واک کي ورکوي ترڅو دليدلي شي په اړه بشپړ پوه سي، بڼه نو اوس زه دخطر سره مخ يم، دلته نو ماغزه چي دعصبو اصل سيستم دئ په کار پيل کوي،همدارنګه دپيچلو لارو، وسيلو څخه په کاراخيستنې خودکاره عصب خبروي او فوق الکليه غده مستقيمً په دې امر باندي اقدام کوي.

امر لومړی داسي وي چي ټولو دوينې رګونو ته حکم کوي چي دوينې دساتنې په پار خپل ځان تنګ کړي، په چټکۍ سره ټول رګونه تنګيږي په همدې خاطر دانسان رنګ ژړ کيږي،دويم پيغام زړه ته ليږل کيږي ترڅو خپل ضربان،تپيدل ډېر کړي،په عادي حالتو کي زړه په دقيقه کي 72ځله شاوخوا غورځي مګر ځيني وخت دخطر سره دمخکيدو په وخت کي دزړه تپيدا په يوه دقيقه کي در180ځلو پوري رسيږي ترڅو په زياته پيمانه وينه عضلاتو ته ورسوي.

دريم امر سږو ته کيږي ترڅو خپل کار ډېر کړي، دهمدې کبله بيريدلی کس ساه وهي.

څلورم امر اينې ته رسيږي ترڅو څه اندازه خوږه وينې ته پريږدي ترڅو بيريدلی شخص دخطر سره مقابله وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم امر دويني يؤې برخې پلاتيلټونو ته کيږي،پلاټليټون الله جل جلاله دشرېانونو دهرډول خطر،پري کيدنې او درز کيدنې دبنيدا بياجوړيدا لپاره خلق کړي، ښه نو کله چي هغوئ ته امر ورسيږي دهغوئ اندازه په وينه کي ډېريږي.

ديادولو وړ ده چي ياد حالت دانسان لپاره طبيعي دئ، کله چي انسان دخطر سره مخ کيږي: دزړه ټپيدا يې ډېريږي، سږي خپل يې ډېروي، دوينې دتنګيدا له کبله

يې رنګ ژړ کيږي، په وينه کي يې دخوړې اندازه ډېريږي او په وينه کي دلامبو وهونکو،درګونو درزونه بندونکي مادي پلاتيټونو اندازه ډېريږي.

مګر دود کوم بلا انسان ته راولي؟

زهري ماده نيکوټين په نامه په دود کي شتون لري چي د اډريټرنالين ترشح ډېروي،همدا د اډرينالين هورمون دئ چي دزړه ټپيدا ډېر او شريانونه تنګوي، ځکه خو د ډېر سګريټ ځکوونکو رنګ ژړ وي.

ښه نو خطر چيري دئ؟

په پرلپسي ډول دشريانونو،پاکه وينه رسوونکو تنګوالی د زړه دشريانونو دبندېښت لامل کيږي او داجينا لامل کيږي، همدارنګه کيدای سي دمغزو په دننه کي دوينې دختې کيدا يا درګونو دبندېدا لامل سي چي پايله يې دمغزي سکتي او دبدن دفلجيدا پيښيږي، همدارنګه کيدای سي دپونډيو رګونه بند کړي ترڅو پښه تري مړه سي او بيله پري کيدا بله چاره  پاته نه سي.

دسګريټو دڅکولو بل زيان او خطر دادئ چي رګونه سوست، بند او مړه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشريانونو او وريدونو تګيدل څه خطر لري؟

دوينې فشار لوړ بيايي.

هغه څه چي يادونه تري وسول هغه څه دي چي شکه نسته په کښيکي او په ډګه سوي،ثابت سوي دي.

په همدې خاطر دسګريټو جوړونکي،توليدونکي شرکتونه اړدي چي دسګريټو پر قطيو وليکي چي: دسګريټ څکول دزړه او وينې درګونو لپاره زيان لري.

دوينې په سرو کروياتو کي يؤه اندازه هيمو ګلوبين شتون لري چي د سږو څخه اکسيجن را اخلي او هغه حجرو،ژونکو ته رسوي، ترڅو قندي مواد په مصرف ورسيږي او دبدن قوه پوره کړي.

دهغو وګړو هيمو ګلوبين چي سګريټ څکوي په لومړي کاربن ډای اکسايډ چي دسګريټ څکولو له کبله منځته راځي سره يؤځای کيږي، ددغه ترکيب،يؤځای والي له کبله هيمو ګلوبين د اکسيجن د اخيستنې او ليږد څخه پاتي کيږي، دسګريټ څکوونکي انسان پنځلس په سلو کي په وينه داکسيجن دليږد څخه پاته کيږي او نه سي کولی خپله دنده په ښه ډول سرته ورسوي، که دسګريټو وخت او تعداد زيات سي دوينې دسروکروياتو يا په هغوئ کي سته هيمو ګلو بين يؤ پر دريمه برخه دسږوڅخه د داکسيجن دليږد،انتقالو څخه ناتوانه کوي، دا د سګريټ څکولو اغېزه پر زړه،شريانونو او وريدونو باندي ده

په نړۍ کي اتيا سلنه دزړه ناروغان سګريټ څکوونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دسګريټ جوړل په کارخونو کي دځينوسګريټو تمباکو په لوښو کي اچوې،څه اندازه دانګورو،سيبو يا نورو ميوو اوبه پر پاشي،ورسته يې دموي دري کاله يې محکم همداسي دم ترلي پريږدي،ساتي ترڅو زاړه سي!**

**بيا تمباکو په الکولو اوشربو کي وهي ترڅو دتمباکوو پاڼې نرمې،ريښئي او وچ ميږني سي داسي چي په الکولو کي جوش سوي وي، په همدې خاطر کله چي سګريټ ولګول سي در ورستۍ برخې پوري نه مړ کيږي،ځکه تمباکو په الکولو کي خيشته سوي.**

**وايې خلځ، مهرباني وکړئ،څومره خوږ بوی لري .دا ليکل دسګريټو پر ځينو اعلاني تابلو ګانو ليکل سوي وي چي اره مانا يې همدا ده.**

**پورته خبرې په هغه کتاب کي چي ليکوال يې دامريکا دسګريټو جوړولو خارخونه،فابريکه ليدلي وه ليکل سوي وي.**

**يؤه بله ديادول وړ خبره داده : يؤکس چي نوم يې ماکلاريم وو او جذابه شخصيت يې درلودئ، دسګريټو جوړلو فابريکو او شرکتونو دهغه څخه داعلاناتو لپاره کار اخيستئ،په غالب ګومان ديؤه شپون کالې به يې پر تن کول، هغه به داسي خبرې کولي چي وګړي به يې دسګريټو څکولو ته رابلل، ياد کس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دځوانۍ په وخت کي مړسو؟: ځکه چي دسګريټو دڅکولو له کبله دسږو په سرطان اخته سوی وو، دیاد کس اخرۍ خبرې داسي وي: پر ما باور وکړئ: دسګريټو د دود کشولو یاد سګريټو څکولو زه مړ کړم،زه ښه پوهیږم: چي ما تاسو ته درواغ ویل.

یؤه دمؤمن دځانګړنو څخه داده چي د خپل ځان او روغتیا په ارزښت پوهیږي، روغتیا هغه شی دئ چي د اخرت نیکمرغي په موندل کیږي، هغه نعمتونه چي په روغتیا کي رانغاړل سوي دي انسان د اخرت تل پاتیو نیکمرغیو ته رسوي، ښه نو موږ باید دزړه څخه د خپلې روغتیا لپاره هڅه وکړو ځکه چي: روغتیا دژوند شتمنې ده، لوی الله ﷻ فرمايي: سُوْرَةُ البَقَرَة : 159

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَٰتِ وَالْهُدَىٰ مِنۢ بَعْدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِى الْكِتَٰبِ أُولَٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّٰعِنُونَ

کوم خلك چي زموږ نازل شوي روښانه لارښوونې او هدایات پټوي، په داسي حال کښې چي موږ هغه د ټولو انسانانو د لارښوونې لپاره په خپل کتاب کښې بیان کړيدي، باور ولرئ چي الله هم ورباندې لعنت وايي او ټول لعنت ویونکي هم ورباندې لعنت وايي.

***

باید وپوهیږو چي دسګريټو د دود لومړی کاربن ډای اکسیاډ د وینې دغړو، کلسټرول سره مرسته کوي ترڅو په رګونو کي نفوذ او رسوب وکړي چي د

رګونو پر دېوالونو دکلسټرول د رسوب،مښلیدو سره رګونه تنګیږي، دوینې فشار لوړ، زړه ستړی او ناروغه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سګريټ څکوونکي دهغو وګړو څخه چي سګريټ نه څکوي 15برابره ډېر دزړه او رګونو په نارغۍ اخته کيږي، کيدای سي وپوښتئ آيا هغوئ چي سګريټ څکوونکي نه دي په يادو نارغيو نه اخته کيږي؟**

**په ځواب کي يې بايد ووايو: ولې نه اخته کيږي مګر دهغو وګړو څخه ډېر لږ چي سګريټ څکوي. دا ليکل موځکه وکړل چي لوستونکي د يادو خبرو څخه خبر کړو او سګريټ څکوونکي په دې خبره پوه کړو چي کومه بلا دهغوئ انتظار کوي او کمين يې ورته نيولی دئ، ځکه دين عبارت دئ:**

**دنصحتونو او پريؤبل د ترحم او زړسوي څخه!**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د انسان په بدن کي

## د قرآن کریم علمي معجزې



لیکوال: ډاکټر محمد راتب نابلسی

ژباړه او زیاتونې: محمود حمیدزی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**